ناول: وینه څښونکي

لیکوال: تیم اوروک

#ژباړن_خواجه_زی_لیکوال

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0



ناول:
وینه
ښښونګی
لیکوال:
تیم اوروک
ژباړن:
خواجه زی
یوه تیاره مینه... یو شیطاني راز...
او د وینې هغه تنده چې هیڅکله نه مړېږي!

"بِسمِ اَاْاَللّهِ اَاْاَلرحمٰنْ اَاْاَلرحیم"

د ناول پیل کولو مخکې زما یادښت په پوره توجه سره ووایست، تر څو د ناول په جریان کې د کیسي په سر او بر صحیح پوه شې او ګنګس نه شې.

یادښت: وینه څښونکی یا وایمپایر په اصل کې څه شی دی؟

وایمپایر چې په فارسي کې ورته خون‌آشام او په پښتو کې وینه څښونکی یا د وینو تږی ویل کېږي، یو افسانوي موجود دی. د خلکو په پخوانیو باورونو کې ویل کېدل چې دا موجود د شپې له قبره راپاڅېږي او د انسانانو یا حیواناتو وینه څښي. د افسانو له مخې، وایمپایر نه زړېږي او نه هم په عادي ډول مري. خو په حقیقت کې د داسې موجود د شتون لپاره هېڅ علمي ثبوت نشته.

دا افسانه له کومه راغله؟

د وایمپایر افسانه تر ډېره د ختیځې اروپا له سیمو څخه راپیل شوې ده، په ځانګړې ډول له رومانیا، سربیا او بلغاریا څخه. د دغو سیمو خلکو باور درلود چې ځینې مړي له مرګ وروسته بېرته راژوندي کېږي او د ژوندیو خلکو وینه څښي.

دا باور ولې راپیدا شو؟

په پخوانیو زمانو کې خلکو د طب او ساینس په اړه کافي پوهه نه لرله. کله چې به قبرونه پرانیستل شول، د جسدونو ځینې طبیعي بدلونونه به یې لیدل:
— جسد به پړسېدلی و.

- د خولې شاوخوا به د وینې نښې ښکاره وې.
- نوکان او ویښتان به یې اوږده شوی وه.

نو خلکو به فکر کاوه چې مړی بېرته راژوندی شوی او د خلکو وینه یې څښلې ده، حال دا چې دا ټول د جسد د طبیعي تجزیې عادي پړاوونه وو.
همدارنګه ځینې ناروغۍ لکه پورفیریا او هاري (لیونتوب ناروغي) داسې نښې لرلې چې د وایمپایر له افسانې سره یې ورته والی درلود.

په کوم ناول مشهور شو؟
د وینه څښونکي افسانه په ټوله نړۍ کې د دراکولا ناول له امله ډېره مشهوره شوه.
دا ناول په ۱۸۹۷ کال کې د برام سټوکر له خوا ولیکل شو.
د ناول اصلي کرکټر، دراکولا، یو وینه څښونکی دی چې په یوه زاړه ماڼۍ کې ژوند کوي او د انسانانو وینه څښي. همدغه ناول د نن ورځې د خونآشامانو اصلې بنسټ رامنځته کړې.

د دراکولا د نوم سرچینه:
د دراکولا کرکټر تر یوه حده د ولاد دریېم له تاریخي شخصیت څخه الهام اخیستی و. هغه د رومانیا یو سخت او جنګي واکمن و. که څه هم هغه خونآشام نه و، خو د هغه د سختو کړنو له امله یې نوم په افسانو او کیسو کې مشهور شو.
د خونآشام مشهورې ځانګړتیاوې: د افسانو له مخې، خونآشامان:

- د انسانانو وینه څښي.
- د شپې فعالیت کوي.
- د لمر له وړانګو وېره لري.
- په خفاش(آسمان سرلکۍ) بدلېدای شي (په ځینو افسانو کې).
- اوږده او تېره نیش لرونکي غاښونه لري.
- ډېر اوږد عمر کوي.

په اروپايي ولسي باورونو کې ویل کېدل چې وایمپایر له صلیب، هوږې(سیر)او مقدسو اوبو څخه وېره لري. همدارنګه هغوی باور درلود چې د هغوی د له منځه وړلو یوه لاره دا ده چې د لرګي تېره ستنه یې په زړه کې ننباسل شي.

خلاصه په دوه ټکو کې که تاسو پوه کړم نو خون‌آشام یا وایمپایر یو افسانوي موجود دی، نه حقیقي. دا باور د ختیځې اروپا له ولسي کیسو څخه پیدا شو او د خلکو د ناپوهۍ، ناروغیو او د جسدونو د طبیعي بدلونونو له امله پیاوړی شو. وروسته د «دراکولا» ناول هغه په ټوله نړۍ کې مشهور کړ.

نن ورځ د همدې افسانوي موجود په اړه سلګونه ناولونه، فلمونه او کیسې لیکل شوي او جوړ شوي دي. چې راروان ناول هم د همدی افسانی یو کیسه ده، خلک د وایمپایر کیسی د ساتیرۍ، تخیل او کیسه‌ییزې وېرې لپاره لولي او ګوري. تر اوسه پورې د داسې موجود د حقیقي شتون لپاره هېڅ باوري علمي ثبوت نه دی موندل شوی. د اسلام له نظره هم د دې موجود د شتون لپاره کوم معتبر دلیل نشته، نو دا باید یوازې د افسانې، ناول او ساتیرۍ په توګه وکتل شي، نه د یوه حقیقي موجود په توګه.

#خواجه_زی_لیکوال.

***

زما نوم کیرا هادسون ده. زه شل کلنه یم او له اتلسو میاشتو راهیسې د انګلستان د سوېل لوېدیځ د هونشایر په پولیسو کې افسره یم. کله چې مې روزنه خلاصه کړه نو ساحلي ښار ته ولېږم، ما د هغه ځای د (Ragged Cove) سمدستي یې د رګېډ کوو سختو حالاتو په اړه ډېر خبرې اورېدلې وې. خو زه هلته په زوره نه وم لېږل شوې، دا د مشر له خوا یو وړاندیز و چې ما ته وشو او ما هم رد نشو کړی. ځکه هلته د تلو

شرایط ډېر ګټور وه. لکه ورېیا د اوسېدو ځای، د شپې لخوا کار، د خلکو څخه لرې چاپېریال، او کال کې پنځه زره پونډه اضافي پیسې چې یو ځل به راکول کېدې.

کله چې مې خپلو همکارانو ته وویل چې دا دنده مې منلې ده، او رګډ کوو ته روانه یم، نو ځینو یې په ریشخند خندا وکړه او ویې ویل: هلته کار دومره سخت دی چې ته به تر کال هلته پاتې نه شې او هغه پیسې به هم ترلاسه نه کړې.
زما د کار شرایط هلته داسې و: د شپې د نګهباني نمبر، هره شپه باید له ماښام اووه بجو څخه تر سهار اووه بجو پورې په کار کې واې. د هغه وروسته ټوله ورځ رخصت وم، تر بل ماښام اووه بجو پورې.

اوس چې شاته ګورم، او فکر کوم نو پوهېږم چې ولې ملګرې مې زما د دې کار په منلو دومره حیران شول او خپل وریځې یې پورته واچول. خو هغه وخت زه په جذبه کې راغلې وم او نه مې غوښتل چې دا کار له لاسه ورکړم. فکر مې کاوه که دا کار ونه منم، نو مشر به مې راته غوسه شي، او له بلخوا څه ناڅه حرص مې هم کړې و او فکر مې کاوه دا زما د پرمختګ، مقام او درجې لوړ کېدو لپاره ډېر زرېه راښکونکی فرصت دی، نو ځکه ترې تېرېدای نه شوم.

نور نوي ګمارل شوي کسان هم پوهېدل چې رګډ کوو ډېر لرې او ګوښه ښار دی، دومره ګوښه چې کیلومېټر فاصله د لومړۍ رېل سټېشن او لوی سړک سره لري. هغوی د دې ځای امتیازاتو او ګټو ته ونه کتل، ځکه هغوی نه غوښتل داسې لرې ښار ته لاړ شي او خپل ټولنیز ژوند محدود کړي، خو ما فکر کاوه چې یو کال هلته زحمت باسم او بیا چې کله راشم نو هم به ښه ډېرې پیسې تر لاسه کړم او هم به یو لوړه درجه ترلاسه کړم.

نو په همدې امید او فکرونو باندې خپل لوی بکس مې راواخیست، خپل کالې مې پکې کېښودل، د پولیسو نوی دریشي مې هم ورسره کېښودل. خپل زوړ لپټاپ مې واخیست، له کرایي کوټې ووتمه او د رګډ کوو لیرې ښار پخوا روانه شوم.

هغه ورځ مې ښه په یاد ده، هغه لاره چې د رګېډ کوو ښار ته رسېده ډېره ارامه او خالي وه. څو مایله چې له ښار ووتم، اسمان په وریځو وپوښل شو او باران پیل شو. ورځ نږدې د شپې په شان تیاره شوه. د باران څاڅکي په پوره زور د موټر پر ښیښه لګېدل، دومره سخت باران و چې د ښیښې پاکوونکي یې هم سم ښیښه نه شوای پاکولی. د موټر څراغونو لاره روښانه کړې وه، خو بیا هم ما په احتیاط موټر چلاوه. څو ځله مې موټر د سړک غاړې ته ودرولو او هغه نقشه مې وکتل کوم چې قومندان فیلیپس د پوځي روزنې په وخت کې راکړې وه.

زه پوهېدم چې دا ښار کوچنی او کم نفوسه دی، خو داسې ښکاره کېده لکه له بهر نړۍ څخه چې بیخې جلا وي او رښتیا هم یو کنډواله ځای وي. داسې معلومېده چې رګېډ کوو نه غواړي ځان ما ته ښکاره کړي. سر مې وښوراوه او د خپل ځان وېرول مې بند کړه. موټر مې بیا چالان کړ او په باراني سړک کې مې حرکت وکړ. د خپل مزاج د ښه کولو لپاره مې راډیو روښانه کړه. چینلونه مې بدلول او هیله مې وه چې یو څه ښه پیدا کړم. په یوه چینل تم شوم چې د جنیفر لوپېز سندره" On The Floor" یې غږوله.

څومره چې وړاندې تلم او خلیج ته نږدې کېدم،هغومره د سړک لاره تنګېده. د لاس په شا مې د موټر د ښیښې بخار پاک کړل او سمندر ته مې وکتل، تور او غوسه ناک و، او په زور یې اوبه اخوا دیخوا پاشل.

کله چې ښار ته نږدې شوم نو راډیو په خش‌خش شوه او بیا یې ناڅاپه سیګنال ولاړ او بند شو. دومره توجه مې ورته ونکړل څکه پوهیدم چې رګېډ کوو کې دا شیان ډېر کار نه کوی، نو ځکه پاتې سفر مې په بشپړ چوپتیا کې تېر کړه. د ماښام د پنځه بجو مخکې ښار ته ورسېدم، خو اسمان دومره تیاره و لکه څو ساعته ناوخته چې رسېدلی اوسیږم. د رګېډ کوو د ښار په سړکونو کې مې موټر چلاوه او دواړو غاړو ته مې زاړه، زنګ وهلي او پخواني ودانیو ته کتل. دوکانونه ټول تړلي شوی وو. سړک خالي او خاموش و.

عجیبه وه راته، اخر دلته خلک څنګه ژوند او کاروبار کوي، چې دومره ژر خپل کورونو ته ځي؟ د قومندان فیلیپس خبره رایاد شول چې زما د راتلو مخکې راته ویلې وه چې زما لپاره یې د "هلال میاشت" په نوم یو مېلمستون کې کوټه په کرایه نیولې ده، خو هر څومره چې مې شاوخوا وکتل په دی نوم مې کوم میلمستون پیدا نه کړ.

بار بار مې هغه سړک پورته او ښکته وکت. خو کوم نښه مې د هغه میلمستون پیدا نکړل، تېز باد او باران زما په کوچني موټر لګېدی. چې ناڅاپه مې د سړک په منځ کې په یو تیاره سیوری نظر ولګید چې په ګنګس انداز او ورو ګامونو روان و. د موټر سرعت مې ورو کړ او و دریدم. د موټر انجن خرخر غږ وکړ او د باران څاڅکي زما په سور رنګ موټر راپرېوتل. د موټر ښیښه مې لږ ښکته کړه او هغه سیوري ته مې غږ وکړ. هغه سړی توره خولۍ په سر کړې وه.

په لوړ غږ مې چغه کړل تر څو غږ مې واوری:
- ښاغلیه، بخښنه غوارم.

د ساه ګرمي مې د هوا په یخ کې د سپینو بخارونو په شکل اسمان ته پورته شوه. هغه سړی، چې ملا یې کوږه وه زما په غږ پخپل ځای کې ودرید چې ما بیا ورغږ کړل: سلام.

د سلام په غږ مې دا ځل په ډېر ورو ډول راوګرځېد. اوږد کوټ یې اچولې و چې لمن یې د سړک په ختو او اوبو کې لنده شوی و، او یو غټه توره خولۍ په سر وه، په لومړۍ نظر کې ما یوازی د هغه دوه ځلانده سترګې ولیدل. بیا کله چې مې د هغه ګونځې وهلی مخ د خولۍ تر سیوري لاندې ولید، نو د حیرانتیا له امله مې ساه سینه کې بنده شوه. د هغه مخ بیحد بوډا و او ګونځې دومره ډېر وه چې د عمر اټکل کول یې راته سخت و. د مخ پوست یې سپین خو بیحد ډېر زوړ و، د سترګو لاندې یې پوست راځړېدلی و، او د نریو شونډو په څنډه کې یې یو دردناک او عجیب حالت درلود.

د هغه د دومره بوډا ځېرې باوجود، سترګې يې ډېرې تېزې او هوښيارې وې. او لومړۍ نظر کې د هغه توری خولۍ لاندی چې ما ورته فکر شو همغه شني د الماسو په شان ځلېدونکې سترګی وه. بې له دې چې کومه خبره وکړي راوکتل. چې ما د موټر ښيښه لړه ټيټه کړه خو دومره چې يوازی غږ مې واوری او ومې ويل: و بخښې، زه د "هلال مياشت" مېلمستون پسې ګرځم، هغه ځای راښودلې شي؟

هغه بيا هم پرته له څه ويلو د څو شيبو لپاره راوکتل، بيا يې خپل يوه ګوته پورته کړه، خپل د وچو شونډو مخې ته يې کېښوده: ششششش ...

د هغه په دی کار حيرانه شوم، چې هغه خپل سر ټيټ کړ او په داسې حال کې چې د تور خولۍ له څنډو څخه يې د باران څاڅکي څڅېدل، په لړزېدلو قدمونو مخکې روان شو. ما ژر خپل د موټر ښيښه بنده کړه، د ښيښې په بندولو د موټر فضا راته امن ښکاره شوه، او ځان مې خوندي احساس کړ. په تياره کې مې د هغه سرې تلو ته سترګې ونيول چې ورو ورو راڅخه لری کيدی، کله چې ډاډه شوم چې لاړ، نو موټر مې چالان کړ او روانه شوم.

د سړک تر پايه چې ورسېدم نو د موټر سرعت مې ورو کړ او چپ او ښي خوا مې وکتل، خو هغه سړی مې ونه موند لکه ناڅاپه چې ورک شوی وي. ښي لور ته يو تنګ ډبرين سړک و، هماغه خواته ننوتلم. کورونه او دوکانونه ډېر نږدې، يو بل ته جوړ شوی وو. ناڅاپه مې بيا هغه خولۍ والا سړی وليد چې د يو دوکان مخې ته په تياره کې ولاړ و او دوه سترګې زما خواته نيولې وه. د هغه له نظر مې ټول بدن د ډېر وېرې څخه ولړزېدی، د موټر سرعت مې زيات کړ او مخامخ روانه شوم.

لا د ماښام شپږ بجې نه وه شوی چې يو کوچنی سړک مې وليد کوم چې تر دې د مخه مې نه و ليدلی. د هغه سړک خواته مې موټر وګرځو. موټر مې په ډبرين سړک لړزېده. لږ لری مې د يوې سپينې ودانۍ مخې ته د شين څراغ ځلا وليده. کله چې مې د ودانۍ خواته وکتل نو ټول اضطراب او وېره مې ختمه شوه دا د پوليسو اداره وه، همغه چې زه ورته رالېږل شوې وم.

له ځان سره مې وويل چې اوس به هم د مېلمستون لاره پيدا کړم او هم به خپل د نور همکاراتو سره له کار مخکې آشنا شم. موټر مې د ودانۍ څنګ ته ودراوه. خپل کوټ مې کلک په ځان راتاو کړ او د ودانۍ د لرګينې زړې دروازې په لور مې منډه کړه چې د شين ځراغ لاندې ښکاريده، دروازه مې ټېله کړه او د سخت باد او باران څخه مې د پوليسو اداره کې ځان خوندی کړ. زما حالت ډېر خراب و تور وېښتان مې د باد او باران له سبب ګډوډ او په مخ و تندي نښتي وو، او د ډېر يخ څخه مې رنګ هم تښتېدلی و.

زه لا خپل په حال کې وم چې يو چا وويل: کولای شم مرسته درسره وکړم؟

د هغه غږ په اوريدو مې سر پورته کړ. مخې ته مې يو کوچنی ميز و، چې د هغه شا ته يو پوليس افسر ناست و. هغه شاوخوا د څلوېښت کالو ښکارېدی، لنډ قد يې و، خړ وېښتان يې درلودل او مخ يې صفا خريلی و. د پوليسانو دريشي يې اغوستی و او په خوله کې يې يو زوړ پايپ و چې له هغه څخه شين لوګي پورته تلې.
په ګنګس انداز مې د هغه خواته کتل چې هغه يو ځل بيا وپوښتل: کولای شم کوم مرسته درسره وکړم آغلې؟

د هغه په دويم ځل غږ په خود راغلم، ژر مې خپل ويښتان له مخه شاته واړول. او په خندا مې وويل: هادسون يم .. کيرا هادسون.

هغه داسې راکتل لکه زما په خبره چې نه پوهېږي. يو ګام مخکې لاړم د مېز مخې ته ودرېدم او خپل رېبدونکی لاس مې د هغه خواته وغځاوه بيا مې وويل: زه کيرا هاډسون يم، نوی کارکوونکې.

هغه بيا هم هماغسې راکتل، لکه زه چې په کوم بله ژبه ورسره خبرې کوم. لاس مې راښکته کړ او ومې ويل: د قوماندې مرکز رالېږلې يم. له نن څخه وروسته به دلته کار کوم.

زما په دی خبره ناځاپه د هغه څېره بدله شوه، داسې لکه اوس چې یې تازه زما خبره سمه درک کړې وي. له څوکۍ پورته شو او زما خواته راغی. د هغه په راپورته کېدلو ما تازه د هغه دریشي ته پام شو، هغه بشپړ دریشي نه و اغوستی، تنګ پتلون او د کور څپلۍ یې په پښو وې. د تګ پر مهال به لږ ښي لوري ته ښکته کېدی او ګوډ ګوډ به روان و.

— هاډسون؟
د مېز پر سر پرتې دوسیې یې سره واړولې او بیا یې وویل:کیرا هاډسون؟ هو، همدا ده.

زما دوسیه یې د ډېر نور پرتو دوسیو لمینځه راوویستل، بیا یې زما خواته راوکتل او په خندا یې وویل: کله چې نوی راغلی کارکوونکی ستا له لوښو څخه هم کشره ښکاري، نو سړی ځان زوړ احساسوي.
ما د هغه د اوږو نښانونو ته وکتل او ومې پوښتل: نو تاسې د دې ځای مشر یاست؟
هغه زما راخیستلې دوسیه د میز په سر کیخودل او په موسکا یې وویل: څه ناڅه، خو بشپړ نه. زه ډلګۍ مشر مورفي یم. البته ملګري مې یوازې مورفي راغږ کوی.

د دې خبری سره سم خپل لاس یې راوغځاوه. ما هم لاس ورکړ. هغه دومره په زوره زما لاس وخوځو چې نږدی وو له اوږی څخه مې لاس جلا شې.
— زموږ اصلي مشر ډېر دې خوا نه راځي، کله نا کله راپیدا شي او بېرته لاړ شي. همدا وجه ده چې موږ ټول یې خوښوو، ځکه هېڅوک نه غواړي چې مشر یې هر وخت پر سر ولاړ وي.

د دې خبری سره سترګک یې ووهله او بیا یې له خپل پیپ څخه یو کش واخیست. ما د هغه نکټایي ته پام شو چې د صلیب په شکل یو سنجاق وربانده لګېدلی و. دا راته لږ عجیبه ښکاره شوه، ځکه په نظامي ښوونځي کې موږ ته تل ویل چې له دریشي سره یوازې رسمي مډالونه او نښانونه ترلای شو، نور هېڅ شی نه، په ځانګړې ډول مذهبي نښې.

مورفي زما نظر تعقیب کړ، صلیب ته یې په ګوته اشاره وکړه او ویې ویل: پوهېږم په ذهن کېدی څه ګرځي، په نظامي ښوونځي کې زموږ سرونه د دومره اصولو او مقرراتو څخه ډک کړي چې هوسا ساه لا نشو اخیستلې. خو دلته نظامي ښوونځي نشته نو بیغمه اوسیږه.

سر مې وښوراوه، او کوم څه مې ونه ویل، نه مې غوښتل په لومړۍ لیدنه کې خپل ډلګۍ مشر له ځان خپه کړم. هغه بیرته خپل د څوکې خواته لاړ خو د کښېناستلو مخکې د مېز د شا څخه یې زما خوا ته لږ ځان راښکته کړ او په ټیټ غږ یې وویل: یو مفت مشوره به درکړم ځواني میرمنې، دا کوچني شیان د مرچو د سپرې، مرمۍ، چاقو او ډېر نور وسلو څخه زیات ستا ساتنه کولای شي. دا په رګډ کوو کې احمقانه معنا نه لري.

د شا څخه مې یو غږ واورید چې ویې ویل: د هغه احمق بوډا خبرو ته غوږ مه نیسه.

په تلوار شاته وګرځېدم. یو بل پولیس دفتر ته رانوت. د باران څاڅکي د هغه له باراني کوټ او د خولۍ له څنډو څخه څڅېدل. خولۍ یې له سره پورته کړه او و یې څنډله. د مورفي برعکس، دا ځوان و، داسې ښکارېده چې له ۲۲ کلونو زیات به نه وي. قد یې لنډ و، ویښتان یې تور، سترګې یې نصواریي او مخ یې ښایسته و.

په ګنګس انداز مې وپوښتل: وبخښې څه مو وویل؟

هغه صافه خو کلک زنه لرله، په زنه کې یې یوه کوچنۍ کنده وه، لکه په میخ چې سوري شوې وي. سره له دې چې مخ یې پاک خرییل شوی و، خو د لنډو ویښتیانو سیوری یې لا هم د مخ په ښکته برخه کې ښکاره و. موسکی شو زما شاته د مورفي خواته یې اشاره وکړل او ویې ویل: هغه یادوم، وام د هغه احمق بوډا خبرو ته غوږ مه نیسه.

مورفي- نن مې ډېر درناوی نه کوې!

د هغه غږ کې قهر یا غوسه نه ښکارېده، داسې دا خبره کړې وه لکه ټوکه چې کوی؟
راغلې ځوان هلک خپل تور باراني کوټ وویست، پر مېز یې کېښود، بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: زه لوک بیشاپ یم.
موسکی شو او زیاته یې کړه: هغه کس چې د دې ځای ټول کارونه یې پر اوږو دي.
مورفي په ملنډو وویل: حتی د خپلو خبرو په معنا لا نه پوهېږي.

د دې خبرې سره خپل په څوکۍ کېناست، پښې یې پر مېز واچولې او خپل پیپ ته یې یو کش ورکړ.

لوک وویل: نو ته باید نوی کارمنده اوسېږې کنه؟
لاس مې ورکړ او ومې ویل: هو، زه هاډسون یم.
لوک- د لیدلو څخه دې خوشحاله شوم.

د دې خبرې سره ښه په ځېر نظر یې راوکتل، د هغه دومره اوږد او ځېر نظر زه لږه ناارامه کړم، نو مجبوره شوم نظر ورڅخه واخلم او شاوخوا وګورم، چې پام مې یو لیکنې ته وشو چې د رانوتلو سره سم په غټ تورو لیکل شوی وو «په دې ودانۍ کې د سګرټو څکول په هر ځای کې منع دي.» د هغه لیکنې ویلو وروسته مې د مورفي خواته وکتل. د هغه د پیپ څخه لا هم شین لوګي پورته کېدی، زما د نظر په لیدو هغه سترګک راته ووهله او د مېز له سر څخه یې څو کاغذونه راواخیستل.

د مورفي له غیرحرفه‌یي چلند څخه ډېره حیرانه شوم. د هغه طرزِ چلند له هغه نظامي طریقو سره بالکل مخالف و کوم چې موږ ته په نظامي ښوونځي کې ښودل شوې و، هغه یو قانون هم سم نه مراعات کاوه. لوک زما د فکرونو لړۍ راپرې کړل او ویې ویل: فکر کوم سبا شپه ستا رسمي دنده پیلیږی کنه؟ ته یوه شپه مخکې راغلې یې.

د دې خبرې سره موسکی شو، داسې موسکا چې د هغه ټول مخ یې روښانه کړ.
ما وویل: هو، زه یوه شپه مخکې راغلم تر څو خپل سامان ځای پر ځای کړم، خو ما

خپل د اوسېدو ځای پیدا نه کړو.

لوک- چېرته غواړې اوسیږې؟
- د هلال میاشت میلمستون کې، قومندان صیب هغه ځاې کې راته یوه کوټه کرایه کړې.

زما په دی خبره لوک او مورفي په تیز نظر یو بل ته وکتل، د هغوی د داسی نظر په لیدو په مشکوک توګه مې وپوښتل: کومه ستونزه شته؟
لوک سر وښوراوه د مورفی څخه یې نظر واخیست او ویې ویل: نه، هېڅ ستونزه نشته. زه به درته هغه ځاې وښایم چې چېرته دی.

بیا یې خپل باراني کوټ واغوست او خولۍ یې په سر کړه. زه هم د هغه پسې د اداری څخه ووتلم. کله چې مې دروازه خپل شاته بندوله، نو مورفي مې ولید چې زما خواته یې سترګي نیولې وه ورو وویل: د رګډ کوو خوبجن ښار ته ښه راغلې کیرا هاډسون، سبا شپه اووه بجې به ستا لومړۍ ویمپایر"وینه څښونکی" دنده وی.

د هغه په خبره مې سر خلاص نه شو، دروازه مې بنده کړه او بیا له باران سره مخ شوم. لوک زما کوچني زوړ او خراب موټر خواته وکتل او ویې ویل: دا ستا موټر دی؟
- هو، ولې؟

زما موټر خراب او زوړ و خو ما ورباندی افتخار کاوه ځکه خپل په زحمت مې اخیستی وو. لوک پخند وویل: هېڅ.

بیا د موټر مخکې سیټ خواته لاړ دروازه یې خلاصه کړه او کښېناست، خپله خولۍ یې هم شا څوکۍ ته وغورځوله، د هغه پښې دومره اوږدې وې چې زنګونونه یې نږدې تر زنې رسېدل. د هغه په دی ډول کښېناستو خندا راغلل، موټر مې چالان کړ او په شور ماشور روان شو. موړ پرته د کوم خبری کولو ناست وو، او دا حالت زه ناارامه کولم. هځه مې وکړه یوه خبره وکړم تر څو هغه سکوت مات شي.

- ښه نو، هغه مسافرخانه چېرته ده؟
لوک- شاوخوا یو مایل مخکې ده. د دې سړک تر اخره مخامخ لاړه شه.
ما خپل غږ لږ لوړ کړ، تر څو د موټر په هغه جیر جیر غږ کې یې واوري:
- بډلګۍ مشر د رسمي دریشي سره صلیب تړلی و، او له بلخوا د راتګ وخت کې راته وویل، سبا شپه خپل لومړی د ویمپایر(وینه څښونکي) نمبر ته ښه راغلې، د هغه دا خبرې څه معنا لرې؟

هغه پرته له دی چې زما خواته وګوره مخامخ د موټر د ښیښي څخه یې بیرون ته سترګي نیولې وه، او همغه حال کې وویل: بډلګۍ مشر شوخ انسان دی ټوکي یې درسره کول.
- خو د هغه خبرې ماته ټوکي نه ښکاریدی! هغه داسې خبرې کول لکه په غیر مستقیم ډول چې غواړی ماته د کوم مصیبت په اړه خبرداری راکړی؟!
زما په دې خبره لوک د سترګو له کونج راوکتل او ویې ویل: نغواړم چې ودې ډاره کړم، خو دا څو کاله په رګډ کوو کې عجیبه پېښې روانې دي، نو ځکه بډلګۍ مشر خبرداری درکړ.

که څه هم د هغه په خبره لږ و ډاره شوم، خو پرته له دی چې ښکاره کړم سترګي مې بیرون د سړک خواته ونیول او ومې ویل: عجیبې پېښې؟ لکه څه ډول؟
لوک- لکه د نوي راغلو افسرانو ورک کېدل، هغه کسان چې له نورو ځانګو دې ښار ته رااستول شوی وه، نه یوازی دا بلکې په دې دومره کوچني ښار کې قتلونه هم ډېر تر سره شوی او قبرونه هم سپړل شوي، کوم چې د دی ځای اوسیدونکي یې بیحد وېرولې.

د دې خبرو وروسته هغه بیا د شپې تیارو خواته سترګي ونیول، چې ما په کرار وپوښتل: ورکېدل؟ مطلب دې څه دی؟ نوی راغلې کارمندان او افسران څنګه ورک شوی؟

د وېرې څخه زيات د هغه کس احساس مې درلود چې چل يې خوړلې وی، ګومان مې کاوه قومندان صيب چل راکړی او دلته يې راستولې يم.
لوک- مطلب هغوی کار ته نه دي راغلي. يوه ورځ راغلي، او بله ورځ بيخی غيب شوی، حتی خدای پاماني يې هم نه ده کړې.
- ش ...شايد دنده يې بل ځای ته بدل شوي وي؟
لوک- د بدليدو خبر اداری ته ورکول کيږی، خو هغوی نادرکه شوي، هېڅوک ورڅخه خبر نه دی چې چيرته تللې؟

بيا يې زما وېرېدلې څېرې خواته راوکتل او ويې ويل: زما په خيال هغوی د دندی د ډېر فشار له امله تښتېدلي دي. شايد پوه شوي وي چې د پوليسو کار دومره هم آسانه نه دی څومره چې په فلمونو کې ښکاره کوی. نو ځکه شايد خپل کار يې پرې ايښی وی .

- يعنې پوليسي کار دومره سخت دی؟
د دي خبری سره د موټر سرعت مې ورو کړ تر څو د سړک منځ جمپ څخه په کراره تېره شم.
لوک خپل اوږې پورته واچول او ويې ويل: شايد هغوی په دی دومره کوچني ښار کې د دومره کاغذي او اداري کارونو تمه نه لرله.
- خو دلته خو ډېر اداري کارونه نه وي. ځکه ښار کوچني دی، او له بلخوا پوليس خو بايد تل مصروف اوسيږی!
لوک- ستا ګومان سم دی، موږ په رګډ کوو کې د غلا، جنګ او جنجال دوسيي نه لرو خو دلته (لږ چوپ شو بيا يې زياته کړه: دلته موږ قتلونه لرو. او قتلونه بيا ډېرې دوسيې او اداري کارونه جوړوي.

د موټر سرعت مې بيا زيات کړ او ومې ويل: قتلونه؟ د څو قتلونو په اړه خبری کوی؟
لوک- که مفقود شوي کسان يا هغه کسان چې موږ نه پوهېږو څه ورسره شوي، کوم چې شمېر يې شاوخوا دېرش يا تر دې هم زيات دی، يو طرف ته پرېږدو، نو په تېرو

درې کلونو کې شاوخوا شل قتلونه په رګډ کوو کې ترسره شوي دي.
د حيرت څخه په ډک غږ مې وويل: شـــــل؟

د ډېر حيرت څخه مې خوله خلاصه پاتې شوه، دومره حيرانه وم چې نږدې و د موټر کنټرول مې له لاسه ووځې او د سړک غاړې بوټو ته وغورځو. حتی د انګلستان پر نفوس ښارونه لا په پنځو کلونو کې دومره شمېر قتلونه نه لري، داسې کوچني ښار خو لری پرېږده.
لوک- اول ډېر ورو پيل شول. په لومړي کال کې درې قتلونه او دوه ورکېدنې وې. په دوهم کال کې شپږ قتلونه وو، خو سږ کال بيا شمېر په وحشتناک ډول زيات شوی دی.

داسي حال کې چې لا هم د هغه د خبرو څخه ګنګسه وم او باور مې نه راتلو ومې پوښتل: دا ټول قتلونه ايا سره تړلي دي؟
لوک- که د قتل طريقې ته وګورې، نو هو. ټول کسان يو ډول وژل شوی.
- نو ته غواړې ووايې، چې تاسو په رګډ کوو کې يو زنجيري، سريالي قاتل لری؟

د دې خبرې په اورېدو مې حيرانتيا نوره هم زياته شوه. دا هغه موقع وه چې ډېر پوليسان ورته ټول عمر انتظار کوي، خو زه تازه ځو ورځې مخکې له نظامي ښوونځي څخه فارغه شوی وم، نه پوهېدم داسې شرايطو کې يو تجربه کار پوليس څه کوی؟
لوک راوکتل او ويې ويل: خو زه فکر نه کوم چې دا دی کوم سريالي قاتل اوسيږی.

- خو تا ويل چې د ټولو قتلونو طريقه يو ډول ده. او سريالي قاتلان تل يو ډول طريقه خپل د کار لپاره کاروی.
لوک- هو طريقه يو شان ده، خو قاتل يوازې يو نه دی.
د موټر سټيرنګ مې کلک ونيو، تر دې حده چې د ګوتو بندونه مې سپين شول:
- څنګه پوه شوې چې قاتل يو نه دی؟
لوک- ځکه تل له يو څخه  زياتې نښې د قتل ميدان کې پاتې وی او ..

داسي حال کې چې د ډېر وېرې څخه مې ساه نه وتل ومې پوښتل: او نور څه؟
لوک- د عدلي طب راپور وايي چې د غاښونو نښې د څو بېلابېلو کسانو دي.
چیغه مې کړه:
- د غاښونو نښې؟
لوک په ټيټ خو جدي غږ وويل: هو، د غاښونو نښې. لومړی مو ګومان کاوه چې د حيواناتو د غاښونو نښې دي، ځکه ...

خبره يې د دريشي مخکې جيب کې د کيخودل شوی مخابرې په خش خش، چې له هغه خوا د ډلګۍ مشر مورفی غږ راتلې پرې شوه.
— اکو يو څخه اکو درې ته ... ځواب راکړه.

لوک د مخابرې له لارې وويل: ادامه ورکړه ډلګۍ مشره. غږ دې راځې، څه شوی؟
د مورفي غږ د مخابرې له هغه خوا راغی:
— زړه مې نه غوښتل چې دا خبر درته درکړم، خو بزګر مور (Moore) راپور ورکړی چې د هغه سپي د بليک (Blake) د کورنۍ د ماشوم پاتې شوني موندلي دي، همغه ماشوم چې څو ورځې مخکې ورک شوی و.
لوک سړه ساه واخيسته، ځان يې سم کړ او ويې ويل: سمه ده ډلګۍ مشره، زه همدا اوس مستقيم هلته ځم.

بيا يې زما خواته راوکتل او ويې ويل: غواړې خپل لومړی کار د يوې شپې څخه مخکې پيل کړې؟
- بې له شکه.
زړه مې له هيجان او اضطراب څخه په ټوپونو شو. لوک موسکی شو او ويې ويل:
ښه نو د همدا اوس څخه نوی دندی ته دې ښه راغلاست وايم اغلې هاډسون!

لوک زه د سمندر د غاړې يوې تنګې لارې خواته بوتلم. د باد او باران له شور سره سره مې د لاندې ژورې درې په تيارو کې د اوبو د څپو غږ اورېده چې له ډبرو سره لګېدې. ناڅاپه سخت باد مې په موټر ولګيد او زما د کوچنی موټر شاته ټايرونه ښوی شول

او د درې غاړې ته نږدې لاړ. ژوره ساه مې واخیسته او په کلک مې سټیرنګ ونیو تر څو د درې د څنډې څخه یې لرې کړم او بلاخره وتوانیدم موټر کنټرول کړم.

لوک د دې دومره پیښې په جریان کې پرته له څه ویلو ناست و، خو د مخ رنګ یې تک سپین شوی و او داسې ښکارېده چې له ډېر وېرې څخه سمه ساه لا نه شي اخیستلای. څو شیبې وروسته د هغه تنګ ساحلي سړک څخه ووتلو، لوک یو تیاره او تنګه فرعي لاره وښوده. زه هم هغه لارې ته داخله شوم.
د لارې په پای کې یوه دروازه وه، د یو فارم د ننوتلو دروازه. موټر مې د دراوزې مخې ته ودراوه، خو څراغونه مې بند نه کړل. دواړه له موټر څخه ښکته شوو.

د دروازې مخي ته یو بوډا سړی داسي حال کې چې خپل لکړې ته یې تکیه وهلې وه زموږ په تمه ولاړ و. د هغه په سر د ټوکرانو څخه جوړ یو خولۍ وه چې مخ یې نیم ورڅخه پټ کړی و. او د سترګو لیدل یې سخت کول.
د هغه د پښو ترڅنګ یو تور او سپین سکاټلنډي د رمې د ساتلو سپی هم ولاړ و.

— ماښام په خیر افسر لوک!
لوک- ستا دې هم ماښام پخیر وی، خوشحاله شوم چې وینم دې مورا!

بیا دواړو یو بل ته لاس ورکړ، مور خپل د خولۍ د لاندې څخه زما خواته راوکتل. د هغه بوډا مخ د ګونځو څخه ډک و، او پر زنه یې ببره ږیره پرته وه. پرته له دې چې زما څخه سترګې واړوی ویې ویل: دا نجلۍ څوک ده؟

لوک- دا اغلې هاډسون ده، تازه ګمارل شوې افسره، تازه راغلې ده.
— ډېر مې زړه غواړې چې وګورم دا نجلۍ به څومره دوام راوړی؟

د هغه د خبرو کولو سره سمدستي پوه شوم چې هغه غاښونه نه لري او د غاښونو په ځای یوازې غوښه او لثې(و ورې) ښکاره وې.

لوک د خپل کمربند څخه لاسي ګروپ راواخیست او ویې ویل: جسد چېرته دی؟
بوډا د خپلې لکړې په مرسته د هغو ونو خواته اشاره وکړه چې د هغه د فارم پوله یې جوړوله او ویې ویل: هغه خوا دی، خو ماشوم په ښه حالت کې نه دی. درته مې وویل چې د همدا اوس خبر اوسې.

لوک د لاسی ګروپ رڼا د ونو پر لور واچوله او ویې ویل: ته همدلته تم شه مورا!
بیا یې زما خواته راوکتل او ویې ویل: چمتو یې؟

خپل د کالو ګریوان مې سم کړ او سر مې وښوراوه. راته معلومه نه وه چې واقعاً تیاره یم که نه؟ ما مخکې هم په نظامي ښوونځي کې څو مړي لیدلي وو، د خپل ملګري ټام هینډرسن سره د ځینو پلټنو پر مهال، خو خوشبختانه په هغه مړو کې هېڅکله د کوم ماشوم مړی نه و.

زاړه خاطرات او خبرې مې له ذهنه وویستې او د لوک پسې روانه شوم. د ونو له مېنځه تېرېدو او د فارم بلې خوا ته روان وو. ځمکه لمده وه، بوټونه مې په خټو کې بندېدل او چړپ،چړپ غږ یې جوړاوه. ناڅاپه پښې مې په خټو کې بند شول، داسې چې فکر مې کاوه پرته د بوټو ایستلو نشم کولای پښې مې د هغه خټو څخه راوباسم، چې لوک لاس راوغځاوه د اوږې ونیولم او له خټو یې راویستم او تر فارم پورې یې راسره مرسته وکړه.

د ونو تر سیورې لاندې روان وو. د ونو ګڼ پاڼو د باران مخه نیولې وه، چې پر موږ و وریږي، د لوک د ګروپ رڼا یوازې د پښو مخې ته لاره روښانه کولای شول. دومره عجیب چوپتیا شاوخوا ښوره وه چې ما خپل د زړه درزا لا واضح اوریدلی شول.
لوک ګامونه چټک کړل او نیم نظر یې شاته زما خواته راواچو او ویې ویل: هلته دی، هغه ځای.

ما هم خپل تګ تیز کړ او شاته یې ورسیدم. یو جسم مې ولید چې د ونو لاندې پر شا پروت و. له لرې داسې ښکارېده لکه د جامو یوه ټوټه چې وي، خو چې نږدې شوم،

پوه شوم چې د یو کوچني هلک مړی دی. پتلون او دریشي یې اغوستي وو، د مخ له خوا یې جامې شلېدلې وې. لوک د ګروپ رڼا د هغه پر بدن واچوله. مخ یې سپین او پړسیدلی و، خو تر ټولو بد شی د هغه خلاصې او وېرېدلې سترګې وی، ما له دې مخکې هېڅکله داسې وېره د کوم انسان په سترګو کې نه وه لیدلې. بلخصوص د مرګ وروسته.

د هغه داسی خلاص او وېرېدلې نظر زړه کې وحشت راواچو، اخر دا څنګه موجود دی چې دا ماشوم هلک یې داسې حال ته رسولې چې د مرګ وروسته یې لا سترګو کې ډار او وحشت ښکاری!

لوک ټیټ شو په یوه زنګون د مړې مخ ته کښېناست. د هغه په کښېناستو زما د لیدو لاره بنده شوه، داسې ښکارېده لکه جسد چې معاینه کوي.

لوک- هو، سم خبر یې راکړی دا هنري بلیک دی.
زه هم ورسره څنګ ته کښېناستم او ومې پوښتل: څنګه دی وپیژندی؟
لوک- دا کوچني ښار دی، دومره نفوس نه لری نو پیژندل یې اسانه دی، البته ما یو ځل مخکې هم دا ماشوم لیدلې و ډېر شوخ ماشوم و، ډبرې ویشتل او خلکو ته یې مزاحمت کاوه(بیا یې اوږه پورته واچول او زیاته یې کړه: بس، همدومره یې پیژنم.

زه هم ټیټه شوم. او ښه په توجه مې د هنري خواته وکتل، او تازه هغه وخت مې د هغه د غاړې زخم ته پام شو. د زنې له لاندې تر سینې پورې یې غوښه څېرې شوې وه، او د بدن له هغې برخې څخه یې د غوښې ټوټې ایستل شوې وې.لاسونه مې خولې ته ونیول او یو څو ګامه شاته لاړم. په سختۍ مې هڅه کوله چې کانګې ونه کړم، په ځانګړې ډول د لوک مخې ته.

لوک راوکتل.
— ښه یې؟
د هغه په سترګو کې اندېښنه ښکاره وه.

- ه ..هو ښه یم.
په سختۍ مې د خولې لاړې تېرې کړې. ستوني مې سوځېده.
لوک خپل لاس زما پر ملا کېښود. او په آرامه یې وویل: که غواړې، لږ کېنه او ..

د هغه لاس مې خپل د ملا څخه لرې کړ، سم ودرېدم او هڅه مې وکړه ځان ارام وښیم. بیا مې مړي ته وکتل او ومې ویل: فکر کوم شاوخوا درې ورځې مخکې مړ شوی دی.

هڅه مې وکړل د یوه پولیس افسر په شان خبرې وکړم، نه د یو احساساتي او ډارنې انجلۍ په شان.
لوک راوکتل او ویې ویل: له کومه پوهه شوې؟
د هغه د غږ له انداز داسې معلومېده لکه غواړي چې ووایي: ته له کوم خوا په دې تحقیقاتو پوهیږې؟ ته تازه پرون د نظامي ښوونځي څخه فارغه شوی یې.

ما د هلک پر لاسونو او پښو هغه ژېړو پړسوبونو ته اشاره وکړه او ومې ویل: دا پړسوبونه وینې؟

لوک- هو، نو څه؟
— بدن ته یې وګوره، بدن یې هم پړسېدلی دی.
لوک- هو، ښکاری نو څه؟
د هلک مخ ته مې اشاره وکړه او ومې ویل: او دا مایع چې له خولې، پوزې او غوږونو څخه یې راوتلې، دا وینې؟
لوک- خبره دې وکړه څه ویل غواړې؟

- دا هغه نښې دي چې عموماً د مرګ درې ورځې وروسته ښکاره کېږي. البته زه دلته نوی راغلې یم، خو دا هر څه په دې هم اړه لري چې هوا څومره ګرمه وي.
لوک وپوښتل: د هوا له ګرمۍ سره نو څه کار لری؟
- د مړي پړسېدل او د بدن نور بدلونونه د چاپېریال له تودوخې سره تړاو لري.

څومره چې هوا ګرمه وي، همدومره دا بهیر چټکېږي.
لوک موسکی شو او ویې ویل: دا شیان دې له کومه زده کړي؟

- پلار مې د عدلي طب متخصص وو.
لوک- وو؟
- هو، سرطان یې درلود. څه موده مخکې وفات شو.
زما په دی خبره د هغه له څېرې څخه موسکا ورکه شوه. او په خپه لهجه یې وویل: خواشینی شوم چې دا مې واورېدل.
- زه هم.

یو څو شېبې مو د هلک مړي ته وکتل. بیا مې وویل: پلار مې تل د مړو او جنازو په اړه عجیبې خبرې راته کولې. ځینې یې ویرونکې او د کرکې وړ وې، خو بیا هم ما ته ډېرې په زړه پورې ښکارېدې.

لوک وخندل او ویې ویل: ښه نو نور څه وینې، شرلوک؟

(شرلوک چې بشپړ نوم یې شرلوک هولمز دی، د برتانوي لیکوال آرتر کونن ډویل د ناول یو خیالي کرکټر دی. دا شخصیت د لومړي ځل لپاره په ۱۸۸۷ کال کې د ناول "A Study in Scarlet" کې راڅرګند شو. وروسته دا کرکټر دومره مشهور شو چې په دې باندې سلګونه فلمونه او سریالونه جوړ شول. شرلوک هولمز ډېر تېز ذهن درلود او کولای یې شول ډېر پېچلي جنایي مسایل په اسانۍ حل کړي. نو دلته لوک همغه کس هاډسون ته یادوی)

د هغه له لاسه مې ګروپ واخیست، د پیښې پر ځای مې رڼا واچوله او ومې ویل: دا هلک بل ځای وژل شوی او وروسته دلته راوړل شوی دی.

لوک تندی تریو کړ.
— له کومه پوه شوې؟

ما د هلک بوټونو ته اشاره وکړه.
- بوټونو ته یې وګوره. خټې پرې نشته. که په خپلو پښو تر دې ځایه راغلی وای، بوټونه به یې خامخا له خټو ډک وو، سمه ده؟

هغه سر وخوځاوه.
— هو، ګومان کوم.
ورو مې وویل: خو، یوه شېبه صبر وکړه.
بېرته ټیټه شوم او د مړي شاوخوا ځمکه مې وکتله. په ګوتو مې خاورې او پراته پاڼې لرې وارول. بیا مې مړي ته وکتل.
- دا خو هېڅ معنی نه لري.

لوک په ګنګس انداز وپوښتل: څه؟
- هلک همدلته وژل شوی دی. وینه یې لا هم پر ځمکه شته.
لوک- نو ستونزه څه ده؟

- د هلک تر څنګ درې نور کسان هم دلته موجود وو. ټول هم لویان وو. دوه نارینه او یوه ښځه وه. لومړی سړی لوړ قد لري، شاوخوا شپږ فوټه او دوه انچه. دوهم تر هغه لنډ دی، نږدې پنځه فوټه او لس انچه. او یو له هغوی څخه مارلبورو (Marlboro) سګرټ څکوي. البته لایټ ... او هغه له نورو نه مخکې دلته راغلی او شاوخوا یو یا دوه ساعته یې انتظار ایستلی، د ښځې قد نږدې پنځه فوټه او شپږ انچه دی، تور ویښتان لري خو ژېړ رنګ کړي یې دي.

لوک زما له شا نه وویل: دا ټولې خبرې دې له ځانه جوړې کړې دي کنه؟ ګوره د دې لپاره چې نوې راغلې یې ارتیا نشته ما په دی ډول بیځایه خبرو متاثره کړې.

پرته له دې چې له ځمکې څخه سترګې پورته کړم ومې ویل: هیسسس، یو شئ دلته سم نه ښکاري.
لوک په بې‌حوصلې ډول وویل: څه؟

- هغوي دلته څنګه راغلي دي؟ زه پوهېږم چې ولې یې مړی دې ځای ته راوړی، خو...
لوک په غوسه وویل: خو څه؟
- وګوره، د مړي شاوخوا د څو کسانو د پښو نښې شته.
لوک راښکته شو او زما ښودلې ځایونو ته یې وکتل او ویې ویل: هو، شته نو؟

- خو هیڅ د پښو نښه د مړي خواته نه ده تللې او نه هم له هغه خوا بیرته راغلې.
لوک- ستا مطلب څه دی؟

له دې چې دا واضح نښي نه لیدل او یوازی یوه خبره یې تکرارول غوسه راغلل، او په قهر مې وویل: مطلب مې دا دې که قاتلان په پښو نه دی تللې نو څنګه جسد یې تر هغه ځای وړی؟ او بیرته داسی حال کې چې د پښو نښه یې لا ښکاره شي راغلې!؟ الوتلي خو به نه وي؟

له دې مخکې چې لوک زما د پوښتني کوم ځواب راکړی یا زه کوم څه ووایم، د څو کسانو د راتلو غږ مو واورېد. لوک په وېره وپوښتل: هلته څوک دي؟

د ونو د تیارو لمینځه یو غږ راغی:
— زه او افسر پاټر یو.

د لوک د ګروپ په رڼا کې مې دوه کسان ولیدل چې زموږ خوا ته را روان وو.
چې رانږدې شول، ومې پېژندل، یو یې ډلګۍ مشر مورفي و او بل یې هم شاید افسر پاټر وو؟
پاټر جګ او نری سړی و. تور ویښتان یې درلودل چې شاته یې برس کړي وو. د لوک نه لږ مشر ښکارېده، ښایي شاوخوا څلورویشت کلن به و. دواړو ګروپونه په لاس کې نیولي وو.کله چې راورسېدل، مورفي د مړي خواته ټیټ شو او رڼا یې پرې واچوله.
ژوره ساه یې وایسته او ویې ویل: یا عیسی مسیحه!

بیا یې هغه صلیب مچ کړ کوم چې د هغه د نکټایي پورې ترلی و.
پاټر یو سګرټ په خوله کې کېښود، بل یې کړ او ویې ویل: داسې ښکاري چې یو بل

ورک شوی کس مو هم بلاخره پیدا کړ.

له خولې مې بې اختیاره ورته ووتل: فکر نه کوم دلته دې سګرټ څکول مناسب کار وي.
پاټر، چې سګرټ یې لا هم د خولې په کونج کې ځوړند و، خپل یوه وریځه یې پورته واچول او ویې ویل: ته بیا څوک یې؟

زما د ځواب ورکولو مخکې بېلګۍ مشر مورفي وویل: کیرا هاډسون، نوې ګمارل شوې افسره ده.

پاټر سګرټ له خولې وویست، موسکی شو او ویې ویل: زما د سګرټ څکولو سره کومه ستونزه لرې؟
ما نېغ د هغه سترګو ته سترګي واچول او ومې ویل: نه، خو فکر نه کوم دلته دې سګرټ څکول سم اوسيږي. دا د جرم ځای دی. په نظامي ښوونځي کې ...

لا مې خبره نه وه بشپړه کړې چې هغه مې خبره پرې کړه او ویې ویل: په نظامي ښوونځي کې هغوي ستاسو سرونه د بیځایه او بې‌ګټو خبرو څخه ډک کړي دي. دا ریښتینې دنیا ده، ګرانې ښوونځې نه دی.

غوښتل مې ورته ووایم چې زه د هغه "ګرانه" نه یم، او زما نوم دی صحیح واخلې، خو زما د څه ویلو مخکې لوک وویل: هاډسون وايي قاتلان درې کسان وو او هلک یې درې ورځې مخکې دلته راوستی دی.

د لوک لهجه داسې نه وه چې مثلا وغواړی پر ما ریشخند ووهې، برعکس داسې ښکارېده لکه هغه چې د رښتیا هم زما له خبرو څخه اغېزمن شوی وی.
پاټر د سګرټ لوګی خپل له پوزې وایست او په خندا یې وویل: لکه چې دلته مو یوه کوچنۍ شرلوک پیدا کړې ده!
بېلګۍ مشر مورفي د پاټر خواته وکتل او ویې ویل: شان (پاټر شان د هغه کامل نوم دی) بس دي، پرېږده د دې جنۍ خبره واورو.

چوپه پاتې شوم. وېرېدم چې پاټر به زما په خبرو ریشخند ووهې، که څه هم یوازې څو دقیقې کېدل چې هغه مې پېژندلی و، خو همدا څو دقیقو کې د هغه څخه مې بد راغلې وه او نه مې خوښېدې.

لوک- خبرې وکړه هاډسون، هماغه څه ورته ووایه کوم چې ما ته دې وویل.
د لوک خبری راته د یوه ښه ملګري او ملاتړ کوونکي په څېر ښکاریدل.
مورفي هم وویل: هو، ووایه هاډسون موږ ستا دښمنان نه یو، په آرام خپل خبری وکړه.

د هغوي خبرو راته جرئت راکړ د ګروپ رڼا مې د هنري بلیک د مړي خواته واچوله. ټیټه شوم او هغوی ته مې د پښو نښې، د بدن پړسوبونه او هغه مایع وروښوده چې د مړي له خولې، پوزې او غوږونو راوتلې وه. بیا مې خپل خبرې کوم چې لوک ته مې کړې وه ټول له سره هغوی ته تکرار کړل، خو لا مې خبره نه وه ختمه کړې چې پاټر په خندا شو.

پاټر- دا نو څه بې‌معنا خبرې دي! نه پوهېږم په نظامي ښوونځي کې یې درته څه درښودلي، خو هر څه چې وو، ته د CSI (دا یو جنایي سریال دی چې پکې د پولیسو ځانګړې ډله د جرم ځای ته ځي، شواهد (لکه وینه، ګوتې، وسلې) څېړي او معلوموي چې جرم چا کړی دی) د کوم تلویزیوني سریال په منځ کې نه یې، چې داسې بې ځایه اپلتې وایې.

له ځمکې راپاڅېدم په وېره او شرمندګۍ مې د لوک خواته وکتل. له ځانه سره مې وویل، چې ای کاش کومه خبره مې نه وای کړې. د پاټر ریشخندي خندا چې کله ختمه شوه، نو خپل سګرټ یې د ونو خواته وغورځاوه. مورفي هم په دې وخت کې زما خواته راغی او په ارام غږ یې وویل: هاډسون! زه ستا هڅه او لېوالتیا ستایم، خو په دې برخه کې د شان خبره سمه ده. دا کوم تلویزیوني پروګرام نه دی، دا حقیقي ژوند دی. د پولیسو کار په ریښتیني ژوند کې هغسې نه وي لکه په فلمونو کې چې یې وینې.

که څه هم مورفي غوښتل ماته دلدارۍ راکړي، خو د هغه خبرو زه خجالت زده کړم، هغوي ټولو گومان کاوه ما دا خبرې خپل د ځان څخه جوړ کړې دي، تر څو هغوی ته ځان هوښیاره وښایم. په نامیده هڅه کې مې کرار وویل: خو زه هېڅکله هغه ډول فلمونه نه گورم ..

مورفي- هاډسون، دا یوه عمومي لاره ده. په دی لاره د ورځې سلگونه کسان مزل کوی، دا د پښو نښې د هر چا کېدای شي. نو څه اهمیت لري که د مړي خواته دا نښې تللې وی او کنه؟ تر کومه چې موږ پوهېږو، نن بغیر د دي دوه ساعتونو څخه هوا ډېره گرمه وه او ځمکه وچه وه، نو ښایي هېڅ د پښو نښې نه وي پاتې شوې.

ما غوښتل ورته ووایم چې د ونو د سیوري او یخوالي له امله د ځنگل دا برخه دومره وچه نه شي پاتي کیدلې. خو په یوه خبره ښه صحیح پوهه شوم، او هغه دا چې هغوي نه غوښتل چې یو نوی راغلې پولیسه هغوي ته وښیي چې خپل کار څنگه وکړي. له همدې امله، که څه هم راته سخته وه، خو چوپه پاتې شوم.

د باران او یخنۍ له امله مې جامې لمدې شوې وې او بدن مې رپېده.
لوک رانږدې شو، لاس یې زما پر اوږه کېښود او ویې ویل: راځه، د نن لپاره بس دی، زه به دې تر میلمستون ورسوم.

د لوک په خبره مې کوم مخالفت ونه کړ. اجازه مې ورکړه چې هغه مې د هغه بېچاره هلک د مړي له ځایه لرې بوځي. کله چې روان وو، یو ځل مې شاته وکتل. پام مې شو چې پاټر یو بل سگرټ هم بل کړ، ماته یې وکتل، موسکی شو او لوگی یې هوا ته خوشې کړ. زما سترگې د هغه د سگریټ د لوگي پسې پورته ولاړې. کله چې لوگی خپور شو، یو شی مې ولید. سمدستي مې د لوک د گروپ رڼا د ونو پر لور ونیوه. د مړي د سر له پاسه د ونې څو څانگې ماتې شوې وې، داسې لکه یو څوک یا یو شئ چې له پاسه راپرېوتي وي.

بیا مې مخ واړاوه او د لوک سره د موټر خواته روانه شوم، شاوخوا لس دقیقې وروسته د «هلال میاشت» مسافرخانې ته ورسېدو. د موټر له کړکۍ مې د ودانۍ خواته وکتل او ومې ویل: همدا ده؟

ودانۍ داسې ښکارېده لکه یوې خوا ته چې کږه شوې وي او هره شېبه د نړېدو امکان ولري. چت یې زوړ و، کړکۍ یې په جالیو پوښلې وې او وحشي پیچکونه د جولاګې د ځالې په شان ټول هوټل رانغاړلې و، د دننه رڼا له سبب کړکۍ ځلېدې. او هغه تخته چې پرې لیکل شوي وو" د هلال میاشت مسافرخانه" د باد له امله مخکې او شاته خوځېده او جیر جیر غږ یې کاوه. لوک د موټر دروازه خلاصه کړه غوښتل یې چې ښکته شي، خو ناڅاپه ودرېد. زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: تا خو هغه خبرې له ځان څخه جوړې کړې نه وه کنه؟

- نه.
لوک- نو څنګه په هغه خبرو پوهه شوې؟
هغه یو ځل بیا راته ځیر شو. د هغه ځېر او دروند نظر ناارامه کړم.
لوک- تا د قاتلانو قدونه څنګه معلوم کړل؟ له کومه پوهه شوې چې یو یې له نورو مخکې راغلی و؟ د سګرټ بوټ دي څنګه وپېژاندې؟ او څنګه پوهه شوې چې د ښځې اصلي ویښتان تور دي خو رنګ کړي یې دي؟ دا ټول معلومات دې هسې اټکلې وویل؟

- نه، ما اټکلي کومه خبره نه ده کړې.
لوک- نو بیا څنګه پوهه شوې؟ غیب وینې؟
هغه دا خبره پخندا وکړل، چې ما خپل اوږې پورته واچول او ومې ویل: مهمه نه ده. له موټره ښکته شوو.لوک خپله خولۍ پر سر کړه، د کوټ ګریوان یې پورته کړ او ویې ویل: خدای پامان، هاډسون. سبا ماښام اووه بجې به دې ووینم.

د مسافرخانې خوا ته مې مخ واړاوه، غوښتل مې ژر له باران څخه ځان وژغورم او دننه لاړه شم، خو ناڅاپه ودرېدم. اوس چې مې د مسافرخانې آدرس زده کړی و، نو

باید لوک مې بېرته د پولیسو تر مرکز رسولې واې، په دی باران کې هغه پیاده نه شو تللې. په دی فکر شاته وګرځېدم، خو په حیرانتیا مې ولیدل چې لوک نشته او تللې دی.

که څه هم د لوک په داسې ناڅاپه تلو حیرانه وم، خو خپل لږ سامان چې له ځان سره مې راوړی و، راواخیست او مسافرخانې ته ننوتم. د هوټل کونج کې د دېوال ترڅنګ د هلال په شکل یو میز کیخودل شوی و. چې ښکاریدل د حساب کتاب ځای هملته دی. مسافرخانه ډېره ګڼه ګوڼه نه لرله، خو چې دننه شوم، ټول هغه کسان چې د اور ځای ته نږدې پر مېزونو ناست وو، چوپ شول او زما خواته یې راکتل پیل کړل. داسې حال کې چې د میز پر لور روانه وم، د هغوی نظرونه مې پر ځان احساس کولای شول.

چوپتیا دومره زیاته وه چې د اور په لمبو کې د لرګیو د سوځېدو او چرق،چرق غږ مې لا واضح اورېدلې شو. شاوخوا مې وکتل. د اور ځای له پاسه پر دېوال یوه پنځه کونجه ستوری کښل شوی و. د مسافرخانې په یوه کونج کې یو سړی یوازې ناست و. د هغه مېز یوازې د یوې شمعې په رڼا روښانه و. په لاس کې یې د ویسکي ګیلاس نیولی و. خولۍ یې دومره مخ ته راښکته کړې وه چې مخ یې بشپړ پټ و. که څه هم سترګې یې نه ښکارېدې، خو زه پوهېدم چې ما ته ګوري. د هغه د نظر دروندوالی مې احساس کولای شول. لومړی مې فکر وکړ هماغه نااشنا سړی به وي چې د رګډ کوو ښار ته د ننوتلو پر مهال مې لیدلی و.

خو لاسونه یې د هغه سړي په څېر ګونځې او زاړه نه وو. ګوتې یې اوږدې او سمې وې، نه کږې وږې او د ګونځو ډکې. هڅه مې وکړل چې له هیچا سره سترګې په سترګو نه شم. د میز پر لور روانه شوم. په خپل ټول ژوند کې مې دومره ناارامي او پردیتوب نه و احساس کړی. حیرانه وم چې اخر قومندان فیلیپس ولې زما لپاره په داسې ځای کې کوټه نیولې ده.

د هغوی څېر نظر دومره دروند و چې زړه مې غوښتل خپل بکس راواخلم او له کوم لاری چې راغلې یم په همغه وتښتم. همدا چې د میز تر څنګ ورسیدم یوه بوډۍ ښځه له هغه کوچني دفتره راووتله کوم چې د میز شاته و. سپین، تاو تاو ویښتان یې پر تندي راځړېدلي وو. مخ یې نری او له ژورو ګونځو ډک و. داسې ښکارېده لکه تازه له قبره راوتلې مړه ښځه وي.

هغې په کمزوري او مات غږ وویل: څه مرسته درسره کولی شم؟
- ما دلته یوه کوټه کرایه کړې ده.
هغې خپله ګوته د دوړو نیولي ثبت کتاب پر غاړه تېره کړه او ویې پوښتل: په کوم نوم؟
- کیرا هاډسون په نامه.
هغې پوزه کش کړه، د لړ کتلو وروسته یې سر وخوځاوه او د ګڼ کلیانو له منځه یې یوه کیلې راویسته د مېز پر سر یې کېښوده او ویې ویل: دویم نمبر کوټه.

کیلې مې واخیسته او ومې ویل: مننه...
خو هغې زما خبره پرې کړه:
— پورته منزل، ښي لاس خواته. دویم نمبر کوټه، د سهار نارې له شپږو تر اوو بجو ورکول کېږي. او ماښامنۍ هم د شپې له اتو تر لسو.
خپل لاسې ساعت ته مې وکتل. له لسو څو دقیقې اوښتی و. ومې پوښتل: یعنې اوس څه نه شم خوړلی؟

هغې پرته له کتلو وویل: ماښامنۍ د اتو او لسو ترمنځ ورکول کېږي.
- پوهېږم، خو اوس یوازې څو دقیقې له لسو اوښتي دي. که امکان وي ...
هغې بیا هماغه خبره تکرار کړه:
— د اتو او لسو ترمنځ.
دا ځل یې راته وکتل.د هغې سترګې دومره کمرنګ شني وه چې ما ګومان کاوه

سپيني شوی دی، او د اوبو هم ډکې وی، ما خپل اوږې پورته واچول او ومې ویل: ښه سمه ده، مهمه نه ده.

بکس مې راواخیست، تر څو خپل د کرایه شوی کوټې خواته لاړه شم، خو همغه وخت یو عجیب شئ ته مې پام شو. د میز ټول لرګي ستنې د هوږو(سیر) له ګېډیو ډکې وې. هوږې په تارونو سره تړل شوې وې او د حلقو په ښه ځوړندې وې. سلګونه .. نه، زرګونه هوږې نه یوازې د میز شاوخوا بلکې د چت نه، د شا دروازې نه او تقریباً د ټولو دېوالونو نه هوږې ځوړندې وې. په حیرانتیا مې وویل: د دې دومره هوږو کیسه څه ده؟

د میز خواته مې وکتل خو بوږۍ ښځه لا له مخکې خپل کوچنې دفتر ته ننوتې وه. ما هم نور شاوخوا ونه کتل هغه ټولو خلکو ته مې شا واړوله کوم چې لا هم درونډ او ځېر نظر مې خپل د ځان پسې احساس کاوه او پر زینو وختم.

د بکس له امله مې په آساني دروازه نه شو خلاصولې. څو ځله مې کیلې په تیاره کې د قلف شاوخوا وګرځوله، تر دې چې بالاخره مې ځای ورڅخه پیدا کړ. کله چې د قلف د خلاصېدو «کلیک» غږ مې واورېد نو دروازه مې شاته ټېله کړه، کوټې ته ننوتم او دروازه مې تر شا بنده کړه. کوټه تیاره وه. لاسونه مې پر دېوال کش کړل تر څو د څراغ بټنه پیدا کړم. لږ وروسته مې پیدا کړل او چې کېکاږل مې نو د کوټې د چت د منځ څخه یو کمزور رڼا روښانه شوه.

شاوخوا مې وکتل او تازه هغه وخت پوه شوم چې ولې هېڅ نوی ګمارل شوی افسر دلته تر یو کال زیات دوام نشي راوړلې. په کوټه کې یوازې یو تقریبا مات شوی کټ، یو زوړ او له فېشن لوېدلی الماری، یو کوچنی مېز او د مطالعې څراغ وو. غالۍ زړې او شلېدلې وه، او دېوالونه د ډېر دوړو او خیرنوالي له امله خړ ښکارېدل. یو کوچنی حمام هم کوټه کې وو، چې یوازې یو تشناب او یو د اوبو ټب(فارسي کې ورته وان واې انګلیسي کې ورته Bathtub او پښتو کې ګومان کوم همدا ټب واې، خلاصه که ووایم شاید فلمونو کې مو لیدلی وی، یو اوږد د لګن په شان وسیله ده د اوبو څخه

یې ډکوی او بیا پکې لمبېږی، خدای دی وکړی چې زما د خبری مفهوم مو اخیستی وی)

ټول موجود وسایل همدا وه، نه پوهېدم چې مرکز به لاندې هغې بوډۍ ښځې ته د دې کوټې لپاره څومره پیسې ورکړې وي، خو هر څومره چې وې، ښکاره درغلي وه. بکس مې پر کټ کېښود، تشناب ته ننوتم او د ټب نل مې خلاص کړ چې له ګرمو اوبو ډک شي.بیا مې بکس تش کړ او جامې مې په الماری کې کېښودې. کله چې هر څه سم شول، جامې مې بدلې کړې او د ګرمو اوبو ټب ته ورښکته شوم. سترګې مې پټې کړې، سر مې د ټب پر غاړه کېښود او د نن ورځې پېښو ته مې فکر کول پیل کړل.

له هغه وخته چې رګډ کوو ته راغلې وم، ډېر عجیبه شیان پېښ شوي وو. خو ډېر ژر مې فکر د لوک بیشاپ خواته لاړ. د ټولو هغو خلکو له منځه چې ما نن په ښار کې لیدلي وو، لوک تر ټولو مهربان او ښه انسان راته ښکارېدی. هغه صادق او خواخوږی و، او زه ځکه ترې مننداویه وم چې د پاټر په وړاندې یې زما ملاتړ کړی و. وروسته مې پاټر رایاد شو.هغه ځان خوښوونکی او مغرور سړی و. بیا مې د ګروپ ډلګۍ مشر مورفي په اړه فکر وکړ.

داسې معلومېده چې په خپلو خبرو کلک ولاړ وي او نه غواړي یو ځوان پولیس ورته ووایي چې کار څنګه وکړي.که څه هم ما هم داسې نیت نه درلود. خو بیا هم زما په نظر د جرم صحنه کې داسي بې پروا یې نه وه پکار، ماته مهمه نه وه چې هغه ټوله شپه او ورځ د پولیسو په اداره کې پیپ ووهې او سګریټ وڅکوي. خو د جرم د ځای په اړه د هغه دا ډول بې‌پروایي راته د منلو نه وه. هلته د اته کلن هلک مړی مخې ته پروت و، او هغه پاټر ته اجازه ورکوله چې د جرم په ځای کې سګرټ وڅکوي او په بې پروا ګرځېدو سره هلته موجود احتمالي شواهد هم له منځه یوسي.

که هغوی لږ هوښیار او زیرک واې نو هغه څه به یې لیدلي واې کوم چې ما د مړي د جسد سره ولیدل، دا کوم جادو نه و. که یو څوک په دقت وګوري نو نښې او شواهد

تل پخپل ښکاره وي. زه له کوچنیوالي همداسې وم. پلار مې زما دې کار ته د خدای د ډالۍ یا نعمت نوم ورکاوه، خو زه له دې نوم سره موافقه نه وم. زما په اند دا کومه جادویي ډالۍ نه وه.

ما به ورته ویل: د هغو شیانو د لیدلو وړتیا کوم چې نور خلک ورته پام نه کوي.
ما یوازې هغه څه لیدلی شول کوم چې نور کسانو ورته چندان توجه نه کول. او له پامه یې غورځول. دا نه جادو و او نه کوم فوق العاده ځواک.زه ورته یوازې یو نوم ورکولای شم "لیدل"

خو د لوک په اړه څه؟ زه د هغه په اړه څه لیدلی شم؟ هېڅ .. لوک د سپین کاغذ د یوې پاڼې په څېر و. د هغه له ښکلي مخ او زړه راښکونکې موسکا پرته، همدا د هغه مرموز او پټ شخصیت و چې زه یې د هغه خواته جذبولم. ناڅاپه مې خپل ملګری، ټام هینډرسن، رایاد شو او د ګناه احساس مې ټول وجود ونیو. ملګری؟ ایا هغه ماته یوازی یو ساده ملګری و؟ هر څه چې وو، اوس هغه خبری ختم شوي دی، موږ مجبور وو چې هغه اړیکه هملته پای ته ورسوو. دا زموږ د دواړو په ګټه وه.

د ټام په اړه فکر کول او دا چې اوس به څه کوي، زړه مې ناارامه کاوه.
ایا هغه به هم زما په اړه فکر کوي؟ یا که له بلې نجلۍ سره اشنا شوی او زه یې هېره کړې یم؟ زما د زړه یوه کوچنۍ برخه هیله لرله چې هغه له بل چا سره اشنا شوی وی او خوشحاله وی، ما د ټام خوشحالي غوښتل، لکه څنګه چې پوهېدم هغه هم زما لپاره همدا غواړي. اوس مهال موږ باید له یو بل څخه لرې پاتې شوي وای.
شاید یوه ورځ، په یو بل ځای او بل وخت کې بیا سره ووینو. خو اوس زما مخ ته ډېر لاره پرته وه، د دې خبرو په اړه فکر کولو عذاب راکاوه، نو ځکه مې ځان لا ډېر د ګرمو اوبو په ټب کې ډوبه کړل او هڅه مې وکړه ذهن مې د هنر د مړې او د هغه د څېړې شوې غاړې پر لور بوځم.

بیا مې ټول پام د جرم پر ځای ورټول کړ. دوه خبرې وې چې زما ذهن پرې بوخت و.
پلار مې څو څو ځله راته ویلي وو چې د جرم په ځای کې د وینې له بېې او داغونو

څخه ډېر څه معلومېدای شي. خو د جرم په ځای کې د وینې اندازه، د هلک د غاړې د دومره ژور زخم په پرتله، ډېره کمه وه. د هلک شاه رګ پرې شوی و. تر کومه چې مې په یاد وو، پلار مې یو ځل راته ویلي وو چې د هغو مړو په معاینه کې یې کار کړی چې ستوني یې پرې شوي وو. کله چې شاه رګ پرې شي، نو د بدن ډېره وینه له هماغه ځایه بهر وځي.

نو بیا د جرم په ځای کې یوازې دومره لږه وینه ولې وه؟ پاتې وینه چېرته تللې وه؟ داسې معلومېده لکه هېڅ وینه چې د مړي له بدن څخه نه وي وتلې. له دې سره یوه بله پوښتنه هم وه. د جرم په ځای کې د پښو نښې ولې نه وې؟ زه د مورفي له دې خبرې سره موافقه نه وم چې ځمکه وچه وه. که د بوټونو نښې پر غالۍ او د کوټې پر فرش پاتې کېږي، نو پر خاوره هم پاتې کېدای شي، که هر څومره وچه هم وي. نو قاتلان د جرم ځای ته څنګه راغلي وو؟ یوازینۍ نښه چې لیدل کېده، د مړي د سر له پاسه د ونې ماتې څانګې وې. داسې ښکارېده لکه یو څوک، یا کوم شی، له پاسه د جرم صحنې ته راکوز شوی وي. خو دا خو ناشونې وه کنه؟

په همدې فکرونو کې ډوبه وم چې ناڅاپه مې د خپلې کوټې له دباندې څخه یو غږ واورېد. له وېرې سمدستي له تېبه راووتلم، ځان مې په جان پاک کې ونغاړه او له تشنابه ووتم. د پښو پر ګوتو ورو ورو د دروازې خواته ورغلم. له دباندې څخه د خش خش غږ راتلو. د دروازې د لاندې څخه مې د یوه کس سیوری ولید. کیلي مې په قلف کې تاوه کړه او په لوړ غږ مې وویل: هلته څوک دی؟

هېڅ غږ رانغې، بیا مې وویل: څه غواړې؟

ناڅاپه مې د پښو غږ واورېد. داسې ښکارېدل چې یو څوک په بیړه لرې روان دی. جان پاک مې لا کلک پر ځان راتاو کړ او دروازه مې په بیړه خلاصه کړه، خو مخ ته مې تش دهلیز پروت وو. خو هماغه شېبه مې د سترګو له کونج د یوه کس سیوری ولید چې په منډه د زینو له لارې ښکته روان و. زړه مې ویل چې ورپسې منډه کړم، خو د منډه کولو پر ځان جان پاک مې لا کلک پر ځان راتاو کړ او د کوټې خواته

وګرځیدم، خو د ننوتلو مخکې یو کوچني سپین پاکټ مې ولید چې د کوټې پر دروازه نښلول شوې و.

پاکټ مې له دروازې راجلا کړ کوټې ته ننوتم او دروازه مې بنده کړل، د پاکټ په سر په خراب او ګډوډ خط لیکل شوي وو: کیرا هاډسون ...
پر کټ کېښناستم او پاکټ مې خلاص کړ. همدا چې خلاص مې کړ نو یو کوچنی صلیب مې په لاس کې راولوېد. صلیب مې د کټ ترڅنګ پر کوچني مېز کېښود او بیا مې پاکټ ته وکتل. زړه مې په تېزۍ درزېده، په دویم ځل کتلو پوهه شوم چې دا صلیب راته همغه سړی راوړی کوم چې د مسافرخانې په اخرې کونج کې ناست و او د خولۍ په واسطه یې خپل ټول مخ پوښلې و، خو ولې صلیب راکړ؟!

سبا سهار، لا شپږ بجې نه وې شوې چې له خوبه راویښه شوم. نه مې غوښتل لکه د تېرې شپې په شان چې د ماښام ډوډۍ مې له لاسه ورکړل د سهار ډوډۍ هم له لاسه ورکړم. داسې ښکارېده چې د مسافرخانې بوډۍ ښځه د خوړو د وخت په اړه ډېر سخت اصول لري. کالي مې واغوستل کله چې مې تڼۍ تړلې او بوټان مې په پښو کول، نو د ډېر لوړې له امله مې خپل د نس غړونه اوریدل. هماغه وخت رایاد شول چې له پرون راهیسې، له هغه وخته چې مې په هونشایر کې خپل کور پرېیښی و، هېڅ مې نه وو خوړلي.

د زینو څخه د راکښته کېدو په حال کې مې موبایل چالان کړ. د اړیکو لېست مې خلاص کړ او د قومندان فیلیپس شمېره مې پیدا کړه. د زنګ تڼۍ مې کېکاږله، خو یوازینی غږ چې راتلو د اړیکې د نه ټینګېدو غږ وو. کله چې د ډوډۍ خوړلو کوټې ته ننوتم نو تازه مې پام شو چې د موبایل د شبکې نښه سره شوې ده. یعنې هېڅ انټېن نه و او اړیکه نه جوړېده. د قومندان فیلیپس سره د اړیکې له نه جوړېدو ناهیلې شوم او موبایل مې بېرته جیب ته واچاوه.

ما غوښتل هغه ته زنګ ووهم او ورته ووایم چې زما د اوسېدو لپاره کوم بل ځای پیدا کړي، دا ځای مې هېڅ خوښ نه شو. همدغه وخت کې هماغه بوډۍ ښځه، چې

تېره شپه مې ورسره خبرې کړې وې، زما د مېز خوا ته راغله، د مېز پر سر يوکاسه او يو لاستی لرونکی ګيلاس ايښي وو. زما پرته بل هېڅوک د ډوډۍ خوړلو په سالون کې نه وو.

ډوډۍ ښځه، پرته له دې چې سر له هغه کتابچې کوم چې خپل د ګونځو څخه ډک لاسونو کې نيولې وه، پورته کړي په کلک غږ وپوښتل: چای که قهوه؟

- سهار مو پخير.

موسکۍ شوم ورته او هېله مې لرله چې نن راسره لږ نرم چلند وکړي د تېرې شپې په پرتله، خو هغې پرته له کوم خاص حس څخه راکتل، خو زه بيا هم ناميد نه شوم په موسکا او نرمه لهجه مې وويل: مهرباني، يوه قهوه.
هغې خپل قلم د کتابچې پر سر ودرولو او بيا يې وپوښتل: ډوډۍ او هګۍ؟ که يوازی ډوډۍ او قهوه؟
- يوه قهوه او يوه ډوډۍ مننه.

که څه هم ډېره وږې وم، خو اراده مې لرله چې د ډوډۍ خوړلو وروسته لږ منډه ووهم، نو نه مې غوښتل غوړې هګۍ وخورم او ورزش کول ځانته سخت کړم. ډوډۍ ښځې زما فرمايش وليکه، بيا ورو ورو د پخلنځي خوا ته روانه شوه. د خوړو سالون هم د مسافرخانې د سالون په شان په هوړو سينګار شوی و، خو يو توپير يې درلود. د سالون د مقابل دېوال ترڅنګ يو کوچنی د چای مېز ايښی و، چې سپينه ټوکر پرې غوړول شوی و. او د مېز پر سر څو صليبونه او څو واړه بوتلونه پراته وو.

پر بوتلونو باندی په تور توش ليکل شوي وو: مقدس اوبه.
(مقدس اوبه هغه اوبه دي چې د کشيش لخوا پرې دعا او برکت شوی وي، او په مذهبي مراسمو کې د برکت او روحاني پاکوالي لپاره کارول کېږي) د هغه اوبو په ليدو له ځانه سره مې وخندل. زما په نظر دا ټول خرافات وه ما هېڅ په دې شيانو باور نه درلود.

د ځوکۍ پورته شوم او د هغه مېز خواته ورغلم. د دې ټول صلیبونو شکل د هغه صلیب په شان وه کوم چې تېره شپه ما خپل د کوټې د دروازې مخې ته موندلی و. یو بوتل مې راواخیست. چې د بوډۍ ښځې غږ مې واورېد، داسې حال کې چې زما راغوښتل شوی شیان یې د میز پر سر کیخودل ویې ویل: دا د خرڅلاو لپاره دي. که غواړې نو اخیستلې شې.

بیا یې ډوډۍ پر میز کېښوده. ما بوتل پر میز کېښود او خپل د ځوکۍ خواته راوګرځېدم او کښېناستم. له ډوډۍ څخه مې یوه مړۍ وخوړه او ومې پوښتل: ولې باید د مقدسو اوبو یو بوتل واخلم؟
هغې زما په ګیلاس کې قهوه واچوله او ویې ویل: د ځان د ساتنې لپاره.
بې اختیاره مې موسکا پر شونډو خپره شوه او ومې پوښتل: له څه شي څخه د ځان ساتنې لپاره مقدې اوبه په کار راځي؟

هغې خپل شاته وکتل، لکه وېرېده چې څوک یې خبرې وا نه وري. بیا لږ رانږدې شوه او په ورو غږ یې وویل: له وینه‌څښونکو څخه ...

مخامخ مې ورته وکتل او ومې ویل: زه پر وینه‌څښونکو او داسې خیالې او خرافاتې خبرو باور نه لرم.
هغې بیا شاته وکتل، لکه څوک یې چې خبرې اوري. بیا یې په ټیټ او پټ غږ وویل: همدا خبره هغه نورو هم کوله، کله چې ما غوښتل خبرداری ورکړم.
له قهوې مې یو غوړپ وکړ او ومې پوښتل: کوم نورو؟ څوک یادوی؟
هغې په سترې ساه وویل: هغو نورو .. هغو پولیسو چې تر تا مخکې دلته راغلي وو.
د هغې سترګو ته مې وکتل او ومې ویل: ته پوهېږې چې پر هغوی څه وشول؟

هغې غوښتل څه ووایي، خو ناڅاپه د کوټې له یوه کونجه یو دروند او تریخ غږ پورته شو.

— بس دی، مورې!

سر مې پورته کړ، يو چاغ او ګنجې سړی سالون ته رانوت. سور رنګه بې لستوڼو څلورخانې کميس يې اغوستی و او سپين (apron فارسي کې ورته پيش بند وايي پښتو کې کومان کوم مخ بند وايې، آشپزان او ګارسونان يې د کار کولو وخت کې خپل د کالو په سر اغوندې تر څو کالې خيرن نشې) مخ بند يې تړلې وو، چې د خوړو او شرابو له داغونو ډک و. مخ يې سور و او تندی يې له خولو لوند و.

بوډۍ په غوسه ورته وويل: دا نجلۍ حق لري چې په حقيقت وپوهېږي!
زوی يې په توندۍ ځواب ورکړ:
— د دې نجلۍ لپاره د پوهېدو هېڅ شئ نشته.
بيا د هغه مېز خواته ولاړ، پر کوم چې صليبونه او د مقدسو اوبو بوتلونه ايښي وو، او ويې ويل: څو ځله مې درته ويلي چې دا بې‌معنا شيان لرې کړه هان؟
بوډۍ په غوسه وويل: خپل خبرې او امرونه له ځان سره وساته، رونالډ! دا مسافرخانه زما ده، لا تراوسه ستا نه ده شوې.

د رونالډ ژامه له غوسې ورپېده او ويې ويل: خو ته په دې خبرو مېلمانه وېروې.
بوډۍ په کلکه وويل: زه يې نه وېروم، هغوی يې وېروي، هماغه موجودات.
رونالډ، چې وليدل زه د دوی خبرو ته ګورم، مصنوعي موسکا يې وکړه، خپل غوښين لاسونه يې په په مخ بند پاک کړ، زما خواته راغی او ويې ويل: زما خپل د مور د خبرو له امله بښنه غواړم. د هغې خبرو ته پام مه کوئ.
د بوډۍ وروستۍ مړۍ مې وخوړه، موسکۍ شوم او ومې ويل: زما غم مه کوئ، زه دومره ژر نه وېرېږم.

بوډۍ چې دا خبره واورېده، نو په ګوډه، ګوډه پښه زما خواته راغله، ځان يې راښکته کړ او په ستمي وويل: وېره به خامخا درشي.

رونالډ د خپلې مور لاس ونيو او پخلنځي ته يې بوتله. بيا څو شېبې وروسته بېرته راغی، تر څو زما د مېز لوښي ټول کړي چې ما ورڅخه وپوښتل: د وينه‌څښونکو موضوع څه ده؟

رونالډ پرته له دې چې ماته وګوري وویل: یوازې کیسې دي. البته دلته کله ناکله عجیبې پېښې هم کېږي، خو زه دا نه خوښوم چې خلک په داسې بې‌بنسټه خبرو ووېرول شي. په پیل کې دا خبرې د کاروبار لپاره ښې وې. خلک به د نړۍ له بېلابېلو ځایونو څخه رګډ کوو ته راتلل تر څو د وینه‌څښونکو ښار ووینې. لکه څنګه چې وینې، موږ دا مسافرخانه د همدغو سېلانیانو لپاره جوړه کړې وه.

موږ آن د سیلانیانو د راجذب کولو لپاره دا صلیبونو او مقدس اوبه هم راوړې وې او پلورل مو، کار مو ښه په کش کې روان و او ښه ګټه مو هم کول تر دې چې ..
- تر دې چې څه؟ بیا څه وشول؟
رونالډ خپل لاسونه سره کلک ونیول او ویې ویل: تر دې چې پرله‌پسې وژنې پیل شوې. خلک ورکېدل، او وروسته بیا د قبرونو سپړل هم پیل شول.
- د قبرونو سپړل؟
د رونالډ غږ نور هم ټیټ شو او په ورو یې وویل: هو، خو خبره یوازې همدومره نه وه. بلکې د هغه بېچاره خلکو مړي یې هم له قبرونو راایستل او غلا کول.

- دا کار چا کاوه؟
رونالډ- حریصو او طمعه‌کارو خلکو. ورو ورو هر څه زموږ له لاسه ووتل. تر هغه مخکې د رګډ کوو خلکو د وینه‌څښونکو د کیسو له برکته ډېرې پیسې ګټلې وه، زه هم یو له هغو وم. خو وروسته سېلانیان ستړي شول، یا ښایي وېرېدلي وو. هر څه چې لامل و، نور یې ښار ته راتګ بند کړ.

هغه کورونه چې د روح اوسیدلو په نوم زرګونه سیلانیان ورته راتلل تش پاتې شول، رستورانتونه نور نه ډکېدل، لویه لاره هم خاموشه او تشه شوه. خو اوازې لا زیاتې شوې. زما په اند دا ټول د رګډ کوو د ځینو ځایي خلکو کار و. هغوی غوښتل د همدې کیسو او ډارونکو کارونو په وسیله خلک بېرته دې ښار ته راجلب کړي.
بیا یې زما خواته وکتل او ویې ویل: خلک خو له ډارونکو شیانو سره مینه لري، کنه؟

- هو، شاید همداسې وي، خو د قبرونو سپړل او د مړو راایستل د وېرولو لپاره بیخي زیاتي ته.
رونالډ- نه، کله چې د ډوډۍ پیدا کولو او د ژوند د چلولو خبره وي، خلک هر ډول کار ته لاس اچوي. انسان د ژوندي پاتې کېدو لپاره ډېر عجیب کارونه کوي. په ځانګړې ډول د رګډ کوو خلک چې په همدی وېرولو پیسې ګټې او خپل ژوند مخ ته وړی.

- نو ته د دې قتلونو په اړه څه فکر لری؟

غوښتل مې د دې موضوع په اړه د هغه نظر واورم، ځکه هغه هم زما په شان د وینه‌څښونکو په کیسو باور نه درلود. او امکان یې و د اصل قاتل یوه نښه راکړی کوم چې د وینه څښونکې په نوم یې خلک وژل او ښار یې په وېره او وحشت کې اچولې وو.

رونالډ په ډاډه غږ وویل: وینه څښونکې په نوم کوم موجود نشته، زه سل په سل ډاډه یم چې دا د یو رواني انسان کار دی او غواړی په دی ډول د ښار اوسیدونکې و وېروي، او بدبختانه چې زموږ د خلکو دا شور ماشور او تبلیغات هغه نور هم زړور او هېجاني کوی تر څو لا ډېر بېګناه خلک ووژني.

ما هغه ته د هنري بلیک د مړي شاوخوا د هغو درېیو پښو نښو په اړه څه ونه ویل چې ما لیدلې وې. پرې مېښود چې هغه فکر وکړي ګواکې دا ټولې وژنې د یوه کس کار دی.

- له هېجان څخه ستا مطلب څه دی؟
رونالډ- رواني او سریالې قاتلان خوښوي چې رسنۍ د هغوی په اړه خبرې وکړي، همداسې نه ده؟
دا یې د پوښتنې په شان نه، بلکې د یوه حقیقت په شان وویل.
بیا یې خبرې ته دوام ورکړ:
— هغوی دا هم خوښوي چې په تلویزیون کې یې وښیي او ورځپاڼې ورته داسې

نومونه ورکړي لکه "وحشي" یا "تور پړانګ" دا کار هغوی ته د اهمیت احساس ورکوي، حال دا چې په حقیقت کې هغوی د ټولنې له یوه بې‌ارزښته چټلې څخه زیات څه نه دي.

- نو ته کوم پلان لرې؟
رونالډ- د څه په اړه؟
- ستا په خیال دا رواني او سریالي قاتل څوک کېدای شي؟
هغه نیغ زما سترګو ته سترګې راواچول او ویې ویل: ګومان کوم دا پوښتنه زه باید ستاسو څخه وکړم؟ څکه تاسو پولیسه یاست کنه؟
له خپلې څوکۍ پورته شوم، د دروازې پر لور روانه شوم او ومې ویل: پر همدې موضوع کار کوم.

رونالډ- ډاډه شه چې همداسې وکړې، ښکلې مېرمنې. څکه ستا ډلګۍ مشر د دوه لاسونه او یوه ګروپ په لرو لا هم نه شي کولای خپل شا لا وګوری، قاتل پیدا کول خو لېرې خبره.

د تلو څخه و دریدم مخ مې وروګرځو او ومې ویل: ډاډه یم چې ډلګۍ مشر مورفي خپله ټوله هڅه کوي، تر څو قاتل پیدا کړي.

که څه هم د زړه څخه خپل په دی خبره مې شک درلود، خو بیا هم ما نه باید چا ته دا اجازه ورکړې واې چې زما و مشر ته سپکاوی وکړي.

د مسافر خانې څخه چې ووتلم نو هوا وریځ وه او اسمان پټ و، خو لږ تر لږه د تېرې شپې باران نه و او بند شوی و. لا مې ښار ښه نه پېژانده، نو پرېکړه مې وکړه چې په ښار کې وګرځم او لارې او کوڅې وپېژنم. زما لومړۍ رسمي دنده د ماښام په اوو بجو پیلېده، او غوښتل مې تر هغه مخکې له ښار او خلکو سره لږ اشنا شم. د بریالي توب لومړۍ راز خپل د شاوخوا ماحول پیژندل دی. په دې فکر په هغه لارې روانه شوم کوم چې تېره شپه لوک وربانډي راوستې وم.

ورو ورو مې منډه پیل کړه. هلته د پلي تګ لپاره ځانګړې لاره نه وه، نو د سړک پر غاړه مې منډه وهله. لږ وړاندې د سړک غاړه په ځنګلي واښو پوښل شوې وه

نو مجبوره شوم نږدې د سړک په منځ کې منډه وهل پیل کړم. سړک ډېر تش و، نو داسې نه ښکارېده چې د کوم خطر سره دې مخ شم. له شل دقیقو راهیسې نه کوم موټر پرې تېر شوی و او نه کوم انسان. سرعت مې لږ ورو کړ، چپ او بیا ښي لور ته مې وکتل چې کومه لاره واخلم. د اوږې له شا مې شاته هم وکتل چې ناڅاپه مې هماغه خولۍ‌واله سړی ولید کوم چې پرون مې هم لیدلی و.

د هغه په لیدو د زړه درزا مې تېزه شوه، هغه په بایسکل باندې سپور و او زما خوا ته راتلو. مخ یې همغه د پرون شپې د خولۍ لاندې پټ و. مخ مې ورڅخه وګرځو او چپ خواته لاړم. غوښتل مې وګورم چې ایا د رښتیا زما پسې دی او کنه؟ لږ مخکې چې لاړم، بیا مې شاته وکتل، هغه هم زما پسې هماغه لارې باندې راغی په کوم چې ما منډه وهله. ځان سره مې وویل چې ښایي هسې تصادف وي، او هغه زما پسې نه دی که څه هم زړه مې ویل هغه ستا پسې دی خو په خبرو مې غوښتل ځانته دلدارۍ ورکړم، پوهېدم چې دا همغه سړی دی کوم چې پرون شپه زما د کوټې مخې ته یې صلیب ایښی و. خو ولې؟

منډه وهل مې ورو کړل، د سړک په مېنځ کې ودرېدم او بیا مې شا ته مخ وکرځو لږ ټیټه شوم، لاسونه مې په زنګونو کېښودل او څو ژورې ساه ګانې مې واخیستل، داسې مې وښودل لکه ستړې شوې چې یم او غوارم دمه وکړم. هغه هم ودرېد. د څو شیبو لپاره دواړو یو بل ته وکتل، ما هغه ته او هغه د خولۍ لاندې ما ته سترګې نیولې وه. بیا مې شا ورواړوله او په تېزۍ مې منډه وهل پیل کړل. لږ وروسته مې بیا شاته وکتل هغه هم خپل سرعت تېز کړی و، د هغه د تیز سرعت په لیدو د منډې وهلو لځایه خپل سرعت مې ورو کړ، هغه هم ورو شو.

هغه داسې زما پسې و چې نه ډېر رانږدې کېدی او نه هم ډېر لرې پاتې کېدی، په یو مناسب واټن کې څارلم. د تلو حال کې ناڅاپه ودرېدم او د هغه خواته مې مخ

وګرځو، زما په درید هغه هم ودرید او کتل یې راته پیل کړل چې ما وویل: څه غواړې زما څخه؟ زما نوم دې له کوم زړه کړی؟

هغه هېڅ ځواب رانکړ یوازې د خولې لاندې دوه سترګي زما خواته نیولې وه، چې ناڅاپه مې ورمنډه کړل تر څو ویې نیسم. زما په منډه کولو هغه هم په تلوار خپل د بایسکل مخ تاو کړ، پښو ته یې زور ورکړ او له ما لرې وتښتېد. د لږ ځغاستلو وروسته پوهه شوم چې نه شم وررسېدای، نو ودرېدم. هغه هم ودرېد، د بایسکل مخ یې بېرته زما خواته راواړاوه او بیا یې راته کتل پیل کړل.

ژوره ساه مې واخیسته او په لوړ آواز مې ورته چیغه کړه: ولې دې زما د کوټې د دروازې شا ته صلیب ایښی و؟
هغه هېڅ ونه ویل، یوازې خاموش ناست و.

- زه پوهېږم چې هغه ستا کار و، خو ولې؟ ولې دی دا کار وکړ؟

هغه بیا هم پرته له څه ویلو راوکتل، د هغه د ځواب ورکولو څخه چې نامیده شوم نو مخ مې ورڅخه وګرځو او له ځان سره مې وویل: سمه ده اوس چې ستا زړه لوبې کول غواړي نو زه هم درسره لوبه کوم.

لږ مخکې د سړک په غاړه یو کوچني لار تللې وه، په ډېر سرعت هغې خوا ته مې منډه کړه او ورننوتم. هلته یوه پراخه او هواره سیمه وه چې شګې او وحشي واښه پرې خپاره وو، او تر هغو ډبرو رسېده چې د درې په ښکته برخه کې پرتې وې. زما ښي لوري ته د ډبرو ترمنځ یوه تنګ د غار په شان ځای و، هملته ننوتلم خو ځای دومره کوچني و چې دریدلې نه شوم نو پر ځمکه وغځېدم. له هغه ځایه چې پټ وم، د سمندر د څپو غږ مې اورېده چې له ساحل سره لګېدې، او د سمندري مرغانو چیغې هم د سمندر له پاسه تر غوږ کېدې.

د ډبرو له شا مې بلې خوا ته وکتل. بایسکل سپور هم همدغه کوچني نرۍ لارې ته راننوت. چپ او ښي خواته یې وکتل. خولۍ یې دومره ټیټه وه چې د مخ یوه

کوچنۍ برخه يې هم نه ښکارېده. څو شېبې وروسته يې بايسکل روان کړ او د همدی غار خواته راغلو هر څومره چې رانږدې کېده، هغومره مې ښه ليدلی شو. دست کښې په لاس وه، پتلون او سپورتي بوټان يې اغوستي وو. د دست کښو اغوستل يې لږ عجيب راته ښکاره شول. که څه هم هوا سړه وه، خو دومره نه وه چې دست کښو ته اړتيا وي. داسې معلومېده چې هغه نه غواړي د خپل بدن يوه کوچنۍ برخه هم ښکاره کړي.

د غځېدلې حالت راپاڅېدم کښېناستم او انتظار مې وکړ چې ښه رانږدې شي. کله چې نږدې راورسېد، د غار له خولې څخه مې ناڅاپه ټوپ واچو او د هغه د بايسکل لاستی مې په کلکه ونيو. غوښتل مې مخکې له دې چې لاستی واړوي او وتښتي، هغه ونيسم. په ټول زور مې لاستی نيولی و. بايسکل وخوځېد او سپور يې د دې لپاره چې خپل توازن وساتي، پښې يې په زور په شګو باندې کښښوولې.

په لوړ غږ مې ورته وويل: ته څوک يې؟

هغه خپل سر ټيټ نيولی و، د خولۍ لاندې يې مخ نه ښکارېده. بيا مې ورته غږ وکړ: ته څوک يې؟

هغه هېڅ ځواب را نه کړ. يوازې يې بايسکل تاو کړ. زما لاس هم د بايسکل له لاستي سره کش شو. توازن مې له لاسه ورکړ، پر ځمکه ولوېدم او لاستی مې له لاسه خلاص شو. همدا چې ولوېدم د لاس مړوند مې د بايسکل له پېډل سره ولګېد او پوستکی يې ژور پرې شو. له سخت درد څخه مې چيغه کړه، پر شګو ولوېدم او له لاسه مې وينه روانه شوه.

خپل په وينو لړلی لاس مې په کلکه ونيو. سر مې واړاوه، ومې ليدل چې بايسکل سپور په ټول زور بايسکل چلوي او له ما لرې کېږي او هغې تنګې لارې ته روان دی چې خليج ته تلله. په لوړ غږ مې نارې کړل ورپسې: بېرته راشه!

خو هغه له وخت د ډېرو ترمنځ ورک شوی و او نور نه ښکارېده.
پر شا د شګو پر سر وغځېدم او خپل ټېپي لاس مې په کلکه ونیو، تر څو وینه یې ودرېږي. سره او غلیظه وینه مې د ګوتو له منځه راوتله. سر مې تاوېده او هر څه راته تیاره ښکاره کېدل. چې ناڅاپه د یوه چا غږ راغی: ښه يې؟

سترګې مې خلاصې کړې. او لوک مې خپل سر ته ولاړ ولید چې په اندېښمنو سترګو یې راته کتل.

لوک- څه شوي دي؟
- ولوېدم.
غوښتل مې پاڅېږم لوک هم د مرستي لپاره خپل لاس راوغځاوه او ویې ویل: لاس راکړه، زه دې پورته کوم.

خو هماغه شېبه زما د لاس وینو ته یې فکر شو، د مخ رنګ یې تک سپین شو او وارخطا راته معلوم شو.

کله چې خپل پر پښو ودرېدم نو ومې پوښتل: څه شوي؟

ښه مې چې ورته وکتل، پوه شوم زما زخم ته ځیر دی. هغه وینې ته یې کتل چې د مړوند له زخم څخه تر څنګلې روانه وه. رنګ یې الوتی و او داسې ښکارېده لکه هره شېبه چې امکان لرې کانګې وکړې.

- لوکه ته ښه يې؟

هغه یو ګام شاته شو، خو لا یې هم سترګې زما پر لاس وې او ویې ویل: ما له وینو څخه بد راځي، کله چې وینه ووینم نو زړه مې خرابېږي.
زه چې له درده لړزېدم ومې ویل: خو ته خو پولیس یې، نه باید د دی شیانو سره حساسیت ولری!
لوک- هو، همداسې ده، خو څه وکړم له وینو څخه مې سخت بد راځي.

د دی خبرو حال کې زما د لاس زخم ته ځیر و، چې ما وویل: ښه سمه ده، خو اوس هلته همداسې مه دربېږه راشه لږ مرسته راسره وکړه.

زما په دی خبره هغه لکه د کوم ژور فکر څخه چې راویښ شوی وي، سر یې وخوځاوه او ویې ویل: وبښه، سمه ده.

بیا یې خپل جمپر وایست او زما د لاس شاوخوا یې کلک وتاړه. ډېر پام یې کاوه چې زما پر وینو یې لاس ونه لګېږي. د جمپر لستوڼي یې د بنداژ پر ځای زما د لاس شاوخوا وتړو چې ما ترې وپوښتل: ته دلته د څه لپاره راغلی وې؟
لوک- همدا پوښتنه ما هم غوښتل له تا وکړم.
- ما غوښتل لږ منډه ووهم، خو له هماغه پیله یو سړی تعقیبولم.
هغه په حیرانتیا وپوښتل: ته یې تعقیب کولای؟ څوک وو؟

اوږې مې پورته واچول او ومې ویل: نه پوهېږم. مخ یې پټ کړی و. بېګاه یې هم زما د کوټې د دروازې مخې ته یو صلیب ایښی و.
هغه په حیرانتیا وپوښتل: صلیب؟ د څه لپاره؟
- په دې هم نه پوهېږم.
لوک- اوس چېرته لاړ؟
- کله چې زه یې وغورځولم، په خپل بایسکل سپور شو او هغه لوري ته ولاړ.
هغه ناهموارې لارې ته مې اشاره وکړه چې بایسکل سپور پرې تللی و، بیا مې د لوک څخه وپوښتل: ته له کومې لارې راغلې؟

هغه هم هماغه لوري ته اشاره وکړه او ویې ویل: زه هم له هماغې خوا راغلم.
- نو باید په لاره کې دې لیدلی وای. هغه په بایسکل سپور و.
هغه سر وخوځاوه او ویې ویل: نه، هېڅ بایسکل سپور ما په لاره ونه لید.
په حیرانتیا مې وپوښتل: ډاډه یې؟
لوک- هو، پوره ډاډه یم. راځه، مخکې له دې چې ډېره وینه دې لاړه شي، ببرته دې مسافرخانې ته ورسوم.

- سمه ده، خو تا ونه ویل چې دلته د څه لپاره راغلی وې؟
لوک موسکی شو او ویې ویل: اوه... زه کله ناکله په موټر کې دې سیمې ته راځم، موټر مې یو ځای دروم او راځم د سمندر ننداره کوم.
- ډېر ښه، نو موټر دې چېرته ولاړ دی؟
هغه د ډېرو هغې غاړې ته اشاره وکړه او ویې ویل: هلته یوه هواره ټوټه ځمکه ده، موټر مې هماغلته درولی دی. یوه ډېره تنګه لاره ورغلې، خو که احتیاط وکړې، موټر پرې تېرېدای شي.

خبرې یې چې پای ته ورسېدې، خپل لاس یې زما پر اوږه کېښود او ورو ورو یې د سړک پر لور بوتلم.
کله چې بېرته مسافرخانې ته ورسېدو، لوک مې خپلې کوټې ته دعوت کړ، هغه هم دننه راغې دروازه یې وتړله او د مېز ترڅنګ پر څوکۍ کښېناست. زه هم تشناب ته لاړم. که څه هم لوک مې ډېر نه پېژندي، خو بیا هم نه ورڅخه وېرېدم ځکه هغه هم زما په څېر پولیس و، او همدا خبره راته د ډاډ لپاره بس وه.

تشناب ته چې ننوتم، لومړی مې د لوک جمپر له خپل لاسه خلاص کړ. بیا مې خپل جمپر هم وایست او ټپي لاس مې د یخو اوبو لاندې ونیو. یخې اوبه چې مې په زخم ولګېدل نو لاس یې راته سخت وسوځاوه او له ډېر درده مې ټول بدن ولړزېد.

چې هماغه وخت لوک د تشناب په دروازه کې راښکاره شو او ویې پوښتل: هر څه سم دي؟

کله چې سترګې یې پر ما ولګېدې او زه یې یوازې په یو نری دریشې کې د تشناب په منځ کې ولیدم، سمدستي یې مخ د شرم څخه سور شو. که څه هم ډېر شرمېدلی ښکارېده، خو سترګې یې راڅخه وا نهړولې. هماغسې په خپل ځای ولاړ و او راته یې کتل.(د خارجی ناولونو یوه ستونزه همدا ده چې محرم نامحرم پکې نشته، صبر دا برخه ښه سم سانسور او فلټر کړم لوک جووو داسي کوفته مفته منظرو ته ګوری شیطان واې ښه جوړ یې😝)

زه که څه هم پوهېدم چې ځان باید ورڅخه پټه کړم، خو بدن مې حرکت نه کاوه. داسې لکه کوم ناڅرګند ځواک چې په خپل ځای ټینګه درولې وم. څو شېبې دواړه بې‌حرکته یو بل ته کتل، خو بیا زه ځان ته متوجه شوم. خپل روغ لاس مې د سینې مخې ته ونیو او ومې ویل: کولای شې له الماری ښخه راته پاکې جامې راوړې؟
زما په غږ لوک تازه لکه چې په ښود راغې ځکه ژر یې مخ واړاوه، دومره وارخطا و چې د دروازې له چوکاټ سره یې سر ولګېد. خو ویې ویل: هو، هو یوه شېبه صبر وکړه.

ما بیا خپل ټپي لاس د اوبو لاندې ونیو او زخم مې په کاغذي دستمال ورو پاک کړ. چې ښه مې ورته وکتل، نو پوه شوم زخم دومره ژور نه دی او شکر کوک کولو ته اړتیا نه لري. زړه مې لږ ارام شو. څو شېبې وروسته لوک غږ کړل: دا واخله.

ومې کتل، هغه د تشناب په دروازه کې ولاړ و او یو پاک کمیس یې په لاس کې نیولې وه. دا ځل یې سترګې زما پر لور نه وې. اوبه مې بندې کړې، زخم مې په احتیاط وچ کړ، کمیس مې ترې واخیست او واغوسته مې.
کله چې بېرته کوټې ته راغلم، نو لوک بیا د مېز ترڅنګ پر هماغه څوکۍ ناست و.

لوک- اوس ښه یې؟
- ژوندی یم.
هغه بیا هماغه همېشنی موسکا وکړه او ویې ویل: خوشحاله شوم.
خپل د سینګار بکس څخه مې د زخم پلسټر راوویست، پر زخم مې ولګاوه. کله چې مې کار خلاص شو، لوک وپوښتل: له دې مخکې دې هم هغه بایسکل سپور لیدلی و؟
- هو، پرون شپه مې د مسافرخانې په سالون کې لیدلی و.

لوک- همدغه کس بیا ستا د کوټې مخې ته صلیب کېښود؟
- نه، ما مخامخ ونه لید چې هغه اوسیږی.
لوک- نو بیا څنګه ډاډه یې چې همدا کس پرون شپی ستا د کوټې مخی ته صلیب کیخودلې او همدا کس ته نن تعقیب کولای؟

ما د هغه پاکټ خواته اشاره وکړه چې پر مېز پروت و او ومې ویل: دا هماغه پاکټ دی چې هغه راته پرېښی و. لږ ورته وګوره، څه پکې وینې؟
لوک پاکټ راواخیست، مخ او شا یې وکتل. څو شېبې وروسته یې سترګې راواړولې او ویې ویل: ستا نوم پرې لیکل شوی دی بس.

په ټینګار مې وویل: ښه ورته وګوره بل څه پکې نه وینې؟
هغه په حیرانۍ پاکټ ته وکتل او ویې ویل: نه، بل هېڅ شئ پکې نه وینم.
لاس مې ور وغځاوه او ومې ویل: ماته یې راکړه.
هغه را نږدې شو، زما تر څنګ پر تخت کښېناست او پاکټ یې راکړ.
- هغه سړی چې پرون ماښام ما د مسافرخانې په سالون کې ولید خولۍ یې پر سر وه. خولۍ یې دومره پر مخ راکښته کړې وه چې مخ یې د ماسک په څېر پټ کړی و.

لوک- نو چې مخ دې نه و لیدلی، څنګه پوه شوې چې همدا د نن ورځې بایسکل سپور و؟
- صبر درته وایم. هغه خولۍوال سړی د مسافرخانې په یوه تیاره کونج کې ناست و، له نورو خلکو جلا. پر مېز یې یوه شمع بلېدله او هماغې د هغه مېز روښانه کړی و. په چپ لاس کې یې د ویسکي ګیلاس هم نیولی و.

لوک- ښه، بیا؟
پاکټ مې پورته کړ او ومې ویل: دې پاکټ ته لږ په غور وګوره. دا لیکدود د یوه چپلاسي سړي دی. ګوره، توري ټول ښي لوري ته مایل دي. دا عموماً د چپلاسو کسانو د لیکلو نښه وي.
لوک لږ رانږدې شو او ویې ویل: خو دا لا هم نه ثابتوي چې...
ما د پاکټ پورتنۍ ښۍ برخې ته اشاره وکړه او ومې ویل: دلته وګوره، دا واړه داغونه وینې؟ هماغه شمع چې پر مېز یې بلوله، د دې پاکټ د لیکلو پر مهال یې څو څاڅکي موم پرې څڅېدلي دي.

لږ موسکۍ شوم او ومې ویل: په پوځي ښوونځي کې له همدې ډول یوې ورېې نښې څخه ما او زما ملګري ټام یوه مهمه معما حل کړې وه. یوازې د شمعې څو ځاځکي ..
لوک غوښتل څه ووایي، خو ما خبره پرې کړه.
- اوس دیته وګوره.
د پاکټ یوه څنډه مې پورته کړه، کاغذ مې خپلې پوزې ته ونیوه او بوی مې کړ.
- د ویسکي بوی ترې راځي. ګومان کوم هغه لومړی د ویسکي څخه یو غړپ کړې، بیا یې خپله ژبه لمده کړې او د پاکټ د بندولو لپاره یې پر کاغذ وهلې.

لوک په حیرانتیا وویل: نو د صلیب خبره څه ده؟
موسکۍ شوم او ومې ویل: هغه خو تر ټولو اسانه برخه ده. دا ډول صلیبونه دلته په مسافرخانه کې پلورل کیږي.
لوک په سوچ کې لاړ او ورو وویل: خو ..
ومې ویل: پوهېږم، دا ټول لا یوازې اټکلونه کېدای شي. خو نن سهار چې مې هغه بایسکل سپور ولید، نو سل په سل ډاډمنه شوم چې هماغه سړی و.

لوک- څنګه؟ څنګه ډاډه شوی؟

- کله چې مې د بایسکل لاستی ونیو، د هغه د تورې خولۍ پر څنډه مې د شمعې د موم څو سپین ځاځکي ولیدل. که دا نښې څوک ونه ویني نو خامخا ړوند به وي.
لوک څو شېبې چوپ پاتې شو. بیا یې وویل: هاېسون، دا خو رښتیا هم حیرانوونکې ده! ډېره حیرانوونکې ده.

ما په شرمېدلې موسکا وویل: و دې لېد! درته مې ویلي وو دا کوم جادو نه دی زه یوازې هغه ورې نښې وینم کوم چې نور خلک ورته پام نه کوي.

لوک- نو پرون ماښام دې هم د جرم په ځای کې همداسې هر څه معلوم کړي وو؟
- هو.
هغه سر وخوځاوه او ویې ویل: خو زه لا هم فکر کوم دا ټول یوازې ستا اټکلونه وو.

- نه، ما اټکل او ګومان نه دی کړی.

لوک- نو څنګه پوهه شوی. چې قاتلان درې کسان وو؟ څنګه دې معلومه کړه چې یوه ښځه او دوه نارینه پکې وو؟ او دا چې یو یې تر نورو مخکې راغلی و او نږدې یو نیم ساعت یې انتظار ایستلی و؟ آن دا چې یو یې خپل ویښتان رنګ کړي وو، دا دې څنګه معلوم کړل؟

هغه چې خبرې کولې، ټول وخت یې سترګې راته نیولې وې. ما خپلې سترګې ترې واړولې او ومې ویل: لومړی، د جسد شاوخوا درې بېلابېل د پښو نښې وې. له هغو څخه دوه دومره لویې وې چې د ښځې کېدای نه شوې. درېیمه نښه نه دومره کوچنۍ وه چې د ماشوم وي او نه دومره لویه چې د سړي وي. نو پوهه شوم چې د یوې ښځې ده. د قدمونو ترمنځ له واټنه مې د هغوی د بدن وزن هم اټکل کړ.

هغه سړی چې قد یې شاوخوا پنځه فوټه او لس اینچه و، هماغه و چې سګرټ یې څکول. د هغه د پښو نښې د هغې ونې تر څنګ روښانه ښکارېدې چې جسد لاندې پروت و. د هماغو نښو ترمنځ د مارلبرو د سګرټو څو پاتې شوني پراته وو. دا ښیي چې سګرټ هماغه سړي څکولي وو. د سګرټو د پاتې شونو له شمېر څخه هم معلومېږي چې هغه ډېر وخت هلته ولاړ و او د وخت تېرولو لپاره یې سګرټ څکول. که په منځنۍ کچه حساب وکړو او فرض کړو چې په یوه ساعت کې یې څلور یا پنځه سګرټه څکولي وي، نو نږدې یو نیم ساعت یې هلته د نورو انتظار ایستلی و.

بله نښه دا وه چې د مړي د یوې ګوتې پر شاوخوا طلاي رنګ یو اوږد ویښته تاو شوی و. په لومړي سر کې کېدای شول د سړي هم وي، خو کله چې مې د ځراغ په رڼا کې ښه ورته وکتل، ومې لیدل چې د ویښتې ریښه نږدې نیم اینچ توره ده او یوازې پاتې برخه یې رنګ شوې ده. نو پوهه شوم چې دا د یوې ښځې ویښته دي، ځکه نارینه معمولاً خپل ویښتان په داسې روښانه طلایي رنګ نه رنګوي. بس همدومره وو.

لوک په حیرانتیا شېبلۍ ووهله او ویې ویل: بس همدومره؟ تا دا ټول معلومات په دومره لږ وخت کې ولیدل؟
- هو، ما دا هر څه ولیدل.

لوک- ستا دومره هوښ وېرووونکې دی.
- نه، دې ته د یوه ښه پولیس کار وایي. ما هېڅ داسې خبره ونه کړه چې عدلي ډاکټر یې ونه شي ویلای.
هغه په ورو غږ وویل: عدلي ډاکټر؟
- پوهېږم چې دا ښار د نړۍ له نور ښارونو څخه ډېر لرې دی او کلي و دهات په حساب راځي، خو لږ تر لږه یو عدلي ډاکټر خو تاسو لرئ، که نه؟

لوک- هو، یو لرو ...
داسې مې احساس کړه لکه هغه چې غواړي کوم څه رانه پټ کړي، نو ځکه مې وپوښتل: ستاسو عدلي او د جرم د صحنې لټونکې ډاکټر څوک دی؟
لوک په شرمېدلي ډول بلې خوا ته وکتل او ویې ویل:پاټر.
د ډېر حیرت څخه مې چغه کړل:
- هغه ریشخندي بیعقل ښايي؟ هغه دومره نالایق دی چې خپل سیده لار لا نشي تللی.

لوک په داسې انداز چې غوښتل یې ماته دلداری راکړې وویل: هغه یوه جلسه د دی کار کورس ویلې.
په ناباورۍ مې وویل: یوازې یو کورس؟ نو بیا د حیرانتیا خبره نه ده چې قاتلان نه نیول کېږي، ځکه د جرم ځای داسې یو کس څېړی.

لوک- هغه خپل کار په دقت کوي. ما په خپلو سترګو لیدلي چې شواهد راټولوي، نښه پرې لګوي او د ازمویني لپاره یې لېږي.
- ایا تا کله لیدلي چې د جرم د صحنې متخصصین دلته راشي او شواهد وڅېړي؟
هیله مې درلود چې هغه "هو" ووایي، خو هغه وویل: نه. پاټر شواهد راټولوي او د

پولیسو د مرکز تر شا یې په یخچال کې ساتي. وروسته یا متخصصین راځي او وړي، یا هم پاتې یې په پوست لېږي.
- تر اوسه یې کومه ګټه کړې ده؟

لوک- سم نه پوهېږم، خو لږ تر لږه موږ اوس یو بندی خانه لرو چې قاتلان پکې وساتو.
- د هغو غاښونو د نښو په اړه چې مخکې دې راته وویل، څه معلوم شول؟
لوک- لا ډاډه نه یو چې د کوم حیوان دي. داسې نه ښکاري چې د انسان د غاښونو نښې وي. ډېر احتمال لري چې د کوم وحشي سپي یا هغه ته ورته د کوم بل حیوان وي.

- نه، هېڅ وحشي سپی یا بل حیوان د هنري بلیک په وژنه کې لاس نه شي لرلای.
لوک- نو ته خپل د دې تیز نظر په مرسته نه شې معلوملای چې قاتلان د جرم ځای ته څنګه راننوتلې وه؟

ورته ومې کتل. سمدستي مې د هغې ماتې شوې ونې څانګې په ذهن کې راژوندۍ شوې چې د وژل شوي هلک د جسد له پاسه پرتې وې. لوک په بې‌صبرۍ وپوښتل: ښه؟ د دې په اړه کوم شئ دی ولید؟

- نه پوهېږم.

کله چې مې د ونې ماتې څانګې په ذهن کې راګرځولې، یوازینۍ خبره چې راته ممکنه ښکارېده دا وه چې قاتلان له پورته خوا د جرم ځای ته ننوتي وو. خو دا خبره مې لوک ته ونه کړه، ځکه دا ناشونې برېښېده.

لوک د تخت له غاړې پورته شو او ویې ویل: هاډسون ګوره څو کاله کېږي چې موږ له دې وژنو سره لاس او ګرېوان یو. سمه ده، کېدای شي موږ د مرکزي ادارې تر ټولو غوره پولیس ونه اوسیږو، خو موږ له همدې کم امکاناتو سره چې لرو، خپله ټوله هڅه کوو.

لاس مې ور وغځاوه او ومې ویل: لوک، زما موخه دا نه وه چې پر تا یا ستا پر ډلې نیوکه وکړم.
لوک- نو موخه دې څه وه؟
څو شېبې چوپ پاتې شو، بیا یې وویل: دا چې موږ ستا په شان ځیرک او هوښیار نه یو؟ همدا دې ویل غوښتل؟

په چوپتیا مې سر ښکته واچو او بلې خوا ته مې وکتل. چې هغه وویل: پرون ماښام لا پنځه دقیقې هم نه وې تېر شوی چې ته رګډ کوو ته راغلې وې، خو داسې دې خبرې کولې لکه له موږ ټولو څخه چې ډېر څه د دې ښار او دې قضیو په اړه درته معلوم دی، خو یوه خبره درته کوم دا کوم عادي ښار نه دی، او دلته کېدونکې وژنې هم عادي نه دي. خو هر څوک، یا هر څه چې د دې پېښو تر شا وي، یوه ورځ به یې خامخا ونیسو.

په ارام غږ مې وویل: ښښنه غواړم. ما نغوښتل خپل په خبرو کوم څوک خپه کړم.
لوک- مخکې له دې چې هر ډول پرېکړه وکړې، لږ وخت ورکړه. دا ښار او خلک یې وپېژنه، بیا قضاوت وکړه.

غږ یې بیا نرم شو. رانږدې شو زما دواړه لاسونه یې خپل په لاسونو کې ونیول. لاسونه یې یخ وو، لکه هماغه وخت چې په تشناب کې ولاړ و. څو شېبې یې زما سترګو ته راوکتل، بیا یې وویل: هیله لرم ته د هغو نورو پولیسو په څېر ونه اوسیږې چې دلته به راتلل او ژر به تلل. غواړم ته دلته ډېر وخت پاتې شې.
ما د هغه شنو، روښانو سترګو ته وکتل او ومې پوښتل: ولې؟
لوک موسکی شو او ویې ویل: ځکه خوښېږي مې تا تل خپل شاوخوا ووینم.

د هغه ګوتې ورو ورو زما له ګوتو وښوېدې. خپل لاس یې بېرته واخیست او د دروازې پر لور روان شو. چې ما ترې وپوښتل: یوازې همدا لامل دی؟

نه پوهېدم ولې راته دومره مهمه وه چې پوه شم لوک غواړي زه په راګډ کوو کې پاتې شم که نه. هغه بېرته راوګرځېد، موسکی شو او ویې ویل: او ځکه هم چې ته یوه ښه پولیسه یې.
ما په خندا وویل: یوازې ښه؟
هغه هم وخندل او ویې ویل: که رښتیا غواړې حیران مې کړې، نو د هغه سړي نوم راپیدا کړه چې ستا په تعقیب و. او دا هم معلومه کړه چې قاتلان د جرم ځای ته څنګه ننوتي؟ که دا دې وکړل، بیا به نه یوازې ښه، بلکې یو بې‌ساری پولیسه یې.

لوک خپل جمپر چې زما د لاس په وینو لړلی و، په کلکه ونیو، له کوټې ووت او دروازه یې تر شا وتړله. زه د کړکۍ خواته ورغلم او دباندې مې وکتل. لږ وروسته مې ولیدل چې لوک د ودانۍ مخې ته د خپل موټر پر لور روان شو. هغه نه پوهېده چې زه ورته ګورم. د موټر دروازه یې خلاصه کړه او کېناست. خو ناڅاپه داسې یو کار یې وکړ چې زما ساه یې د وحشت څخه سینه کې بنده کړل.

زما په وینو ککړ جمپر یې خپل د پوزې مخې ته ونیو او بوی کړ، یو ځل هم نه څو ځله یې ژور بوی کړ، بیا یې موټر چالان کړ په چټکۍ روان شو او زما له سترګو د وړاندی څخه ورک شو.

د ماښام تر شپږو بجو پورې ویده وم. کله چې راویښه شوم نو ټوله کوټه په تیاره کې ډوبه وه. د جامو د اغوستلو پر مهال مې راياد شول چې د لوک له تلو وروسته څنګه ځان مې پر تخت وغورځاوه. غوښتل مې یوازې لږه شېبه سترګې پټې کړم، خو اوس خوشحاله وم چې ښه خوب مې کړی و، ځکه نږدې یو ساعت وروسته به مې لومړۍ کاري وخت پیل کېده.

کړکۍ ته ورغلم او د دسمبر سړې ماښامنۍ ته مې وکتل. یو ځل بیا باران ورېده.
له ځانه سره مې وویل: لکه چې په دې ښار کې باران هېڅکله نه درېږي؟
ژر مې حمام وکړ، د پولیسو دریشي مې واغوستل او لاندې منزل ته ښکته شوم. له کوټې د وتلو مخکې مې هغه کوچنی سپین زرین صلیب له مېزه راواخیست، د کمیس

په جېب کې مې کېښود او له ځانه سره مې وویل: هسې، د نېکمرغۍ لپاره یې وړم. همدا چې پښه مې زینو ته ورسیده د لاندې منزل څخه د پخې شوې غوښې خوږ بوی راغی. خېټه مې له لوږې شور جوړ کړ، خو د درېدو او ډوډۍ خوړلو وخت نه و. له ځان سره مې وویل چې د ګزمې کولو په وخت کې به په موټر کې یو څه وخورم.

کله چې لاندې ورسېدم، موبایل مې له جېبه راویست. د شبکې نښه لا هم سره وه، یعنې هېڅ سیګنال نه و او زنګ وهل ناشوني وو.لا هم غوښتل مې له قوماندان فلیپس سره اړیکه ونیسم او د خپل وضعیت په اړه یې خبر کړم. کله چې د سالون له منځه تېرېدم، هغه بوډۍ ښځه مې ولیده چې د مېز تر شا په ورو ورو، او ګوډه توګه ګرځېده. ورته مې وویل: دلته ټیلیفون شته چې ترې استفاده وکړم؟
هغې په حیرانتیا وویل: ټیلیفون؟

- هو، باید یو زنګ ووهم، خو موبایل مې سیګنال نه لري.
بوډۍ ښځه- هو، البته چې ټیلیفون لرو.
- نو کولای شم ورڅخه استفاده وکړم او یو زنګ ووهم؟
بوډۍ ښځې په هغه ځلېدونکو سترګو راوکتل او ویې ویل: هو، البته که کار یې وکړ.
- ستاسو مطلب څه دی؟ ایا ټیلیفون خراب شوی؟
هغې وخندل او ویې ویل: نه خراب نه دی، خو دا لعنتي هوا د ټولې سیمې د اړیکو کرښې خرابې کړې. او هېڅ زنګ نه ځي، نه پوهېږم دا خلک ولې بیا هم خپل پیسې بیځایه مصرفوی او ټیلفون کاروی داسي حال کې چې هېڅکله سم کار نه کوی.

د هغې سترګو ته ځېر شوم او ومې ویل: اندېښنه مه کوئ، زه به د ادارې له ټیلیفونه څخه استفاده وکړم.
هغې نیمه موسکا وکړه او ویې ویل: ښه پریکړه ده، بریا درته غواړم، ګرانې.

خپل خولې او کمربند مې د موټر شاته څوکۍ خواته وغورځول او د ادارې پر لور روانه شوم. بیا هم لکه د تېرې شپې په څېر باد او باران زما کوچني موټر ته سخت ټکانونه ورکول. ما په کلک سټیرنګ نیولی و او دعا مې کوله چې موټر په کنټرول کې

وساتم او له سرېکه ونه وځم. مخ ته لږ ورتېيته شوم او راډيو مې چالانه کړه، خو له هغې څخه يوازې د شور او خش خش غږ راتلو، سمدستي مې راډيو بنده کړه او سم ځوکۍ کې کښېناستم.

احساس مې کاوه چې د رګډ کوو له ښار څخه نرۍ هره شېبه لرې کېږي او ورو ورو ورکېږي. ادارې ته ورسېدم، موټر مې پارک کړ، کيلي مې واخيسته او په چټکۍ دننه لاړم. ډلګۍ مشر مورفي لکه د تېرې شپې په څېر د ميز تر شا په چپلکو کې ناست و، پښې يې پر مېز ايښې وې او پايپ يې د خولې له کونج څخه ځړېده. پاټر بلې خوا ته ناست و او خپل مخ ته پراته کاغذونو باندې يې يو څه ليکل. په سګريټ دانې کې يو سګريټ سوځېده. بيا مې ديوال په سر ليکنې ته وکتل چې پرې ليکل شوي وو: سګريټ څکول منع دي. پاټر زما د کتو لورى تعقيب کړ او په ريشخند موسکا وکړه.

د مخامخ دفتر دروازه خلاصه شوه او لوک بهر راووت. زما په ليدو موسکى شو او ويې ويل: ماښام مو پخير، هاډسون.
- سلام لوک.

بيا مې هغه شېبه رایاده شوه چې هغه په وينو لړلى جمپر خپل د پوزې مخې ته نيولى و او بوى کاوه يې.

لوک- ښه يې؟
- هو.
لوک- خو ماته لږ وېرېدلې او اندېښمنه ښکارې!

- نه، يوازې د لومړۍ کارې وخت له امله لږ اندېښمنه يم.
ډلګۍ مشر مورفي په ډاډه غږ وويل: د اندېښنې هېڅ اړتيا نشته، هاډسون موږ دلته ټول د يوې کورنۍ په شان يو.

لوک- زه به يې له دې ځاى سره اشنا کړم.
خو مورفي سمدستي وويل: نه، پاټر به دا کار وکړي. ما يو راپور ترلاسه کړى او

غوارم له تا سره يې په اړه خبرې وکړم.

پاټر له خپلې څوکۍ پورته شو. ما هېڅ نه خوښېده چې له هغه سره وخت تېر کړم، خو له ځان سره مې وويل: د لوک څخه خو ډېر عجيب او بد نه ښکاري. که څه هم لوک ډېر مهربان او خوش‌اخلاقه و، خو بيا هم هغه صحنه مې هېره نه وه چې زما په وينو لړلی جمپر يې بوی کاوه.

پاټر په تريو تندي د دفتر يو بلې دروازې خواته اشاره وکړه او ويې ويل: راځه. هغه مخکې روان شو او زه ورپسې شوم. دهلېز تنګ و او د هغه د سګرټ لوګی د شا له خوا په هوا کې خپرېده. لومړی يې د ښځو تشناب، بيا د جامو بدلولو کوټه، د ډوډۍ خوړلو کوټه او د دوسيو خونه راته وښودله. د دهلېز په پای کې څو الماري ولاړې وې. له جېبه يې يوه کيلي راوويسته او ويې ويل: دا کيلي ستا ده، ارتيا به ورته ولرې.

زما لاس يې ونيو او کيلي يې په ورغوي کې راته راکېښوده. لاس يې ډېر يخ و، لکه همدا اوس چې يې له يخو اوبو راايستلی وي. ما ژر خپل لاس ترې خلاص کړ. هغه په ريشخند موسکا وخندل او په شيطنت يې راته وکتل. ما کيلي په مټ کې ټينګه ونيوله او سترګې مې ترې واړولې.

پاټر- په دې الماريو کې د مرچو سپرې او نور وسلې ساتل کېږي. ستا الماري څلورم نمبر ده.

عجيب وه د کوټې مينځ کې د ځمکې په سر يو فلزي دروازه وه چې غټ قلف ورباندې لګول شوی و، هغه خواته مې اشاره وکړه او ومې پوښتل: هلته لاندې څه دي؟

هغه د سګرټ پاتې شونی پر ځمکه وغورځاوه، په پښه يې مړ کړ، بل سګرټ يې بل کړ او ويې ويل: د هغه په اړه فکر مه کوه. هغه يوازې زيرزمينی ده. د ادارې زاړه وسايل او نور بې‌کاره شيان مو هلته ايښي دي.

بیا یې له اوږې ونیولم او له هغې دروازې څخه یې لرې کړم. خو ما په تلوار خپل اوږه د هغه له لاس څخه کش کړل، د سترګو له کونجه مې ولیدل چې هغه له ځان سره موسکی و، لکه کومه ټوکه چې کړې وي. د دهلېز په پای کې یوه غټه اوسپنیزه دروازه وه. قلف یې خلاص کړ، دروازه یې پرانیسته او ویې ویل: دا د بندیانو کوټې دي. درې کوټې لرو. ډېر وخت تشې وي، خو کله ناکله مو کار پرې کېږي.

بیا یې څراغ مړ کړ، دروازه یې وتړله او ویې ویل: وسایل دې واخله، ځو ګزمې ته. ما په حیرانتیا وپوښتل: خو ما فکر کاوه چې نن به له لوک سره ګزمې ته ځم؟

له شا نه غږ راغی:
— داسې ښکاري چې زموږ د شپې لومړۍ ګزمه به ډېره سترې کوونکي وی؟
شاته مې وکتل، لوک ولاړ و. خوشحاله شوم چې نور به له پاټر سره وخت نه تېرووم.
- ولې؟ څه شوي؟

لوک- ډلګۍ مشر مورفي راته وویل چې د سېنټ ماري کلیسا پادري، فادر ټېلر، د یو بل قبر د سپړل کېدو راپور ورکړی دی.
- د چا قبر؟
لوک- د یوې پنځلس کلنې نجلۍ. نږدې یوه میاشت مخکې وژل شوې وه. نوم یې کرسټې هال و.

که څه هم اټکل مې کاوه، بیا هم ومې پوښتل: څنګه وژل شوې وه؟
لوک په ارام غږ وویل: لکه د نورو قربانیانو په شان د هغې هم ستونی پرې شوی و. بیا مخ یې وګرځو او تلو حال کې وویل: پنځه دقیقې وروسته به دې بهر ووینم.

په تلوار خپل د الماری خواته لاړم، وسایل مې راواخیستل. مخابره مې واخیست، کوټ مې واغوست او د تېیو په تړلو بوخته وم، خو احساس مې کاوه چې پاټر په ځیر ځیر راته ګوري. هڅه مې کوله ښخې ورته پام ونه کړم، ځکه هغه راته تل بد احساس زړه کې راپیدا کوو.

ډلګۍ مشر مورفي له خپلو کاغذونو څخه سر پورته کړ او ويې پوښتل: هادسون، هر څه دې واخيستل؟

د کوټې وروستۍ تبۍ مې وتړله او ومې ويل: هو، فکر کوم هر څه مې واخيستل.
پاټر خپل د سګرټ څخه وروستی کش واخيست بيا يې په تمسخر وخندل او ويې ويل: بهر ځان ته پام کوه.
مورفي- د هغه خبرو ته غوږ مه نيسه. زه ډاډه يم چې لوک به دې ښه ساتنه وکړي. هغه ښه هلک دی. لږ ساده او بې‌تجربې دی، خو زړه يې پاک دی.
پاټر بيا موسکی شو او ويې ويل: لوک تا وړی هديرې ته کنه؟
- هو، نو؟

پاټر په شيطاني موسکا وويل: نو د وينه څښونکو څخه ځان ساته!
په حيرانۍ مې وپوښتل: وينه څښونکي؟
هغه ځان ناپوهه وښود او ويې ويل:
پاټر په دروغجن حيرت وويل: ولې؟ تر اوسه دې د هغوی په اړه کوم څه نه دي اورېدلي؟

ما هم ځان ناکاره واچو او ومې پوښتل: د څه په اړه؟
ډلګۍ مشر مورفي په غوسه پاټر ته وويل: خوله دې بنده کړه.
بيا يې زما خواته راوکتل او ويې ويل: هاډسون، يوازې احتياط کوه. هېڅ خبره نشته.

څه مې ونه ويل، شا مې ورواړوله او له ادارې ووتم. لوک د پوليسو د ګزمې په موټر کې راته منتظر و. د موټر دروازه مې خلاصه کړه، کښېناستم او خپله خولۍ مې شاته پر څوکۍ وغورځوله.
لوک راوکتل او ويې پوښتل: هر څه سم دي؟

د پاتړ او مورفي خبرې مې له ذهن وویستل او خپل ځان مې په دې خوشحاله کړو چې بلاخره د دومره وخت وروسته مې خپل د پولیسي دریشي اغوستي او خپل لومړۍ رسمي دندې ته ځم، په دې فکر په خوشحالۍ مې وویل: هو، هر څه سم دي.
لوک موسکی شو او ویې ویل: نو راځه، چې لاړ شو.

موټر یې چالان کړ او په چټکۍ یې د سېنټ ماري د کلیسا د هدیرې پر لور روان کړ.
تر ډېره وخته دواړه غلي وو. زما ذهن یو ځل بیا د هغه ورځ صحني خواته تللې وو، هغه شېبه مې له یاده نه وتله چې لوک زما په وینو لړلی جمپر بوی کاوه.
غوښتل مې چوپتیا ماته کړم او د هغه په اړه لږ څه پوه شم، نو ومې پوښتل: ښه نو ستا د ژوند کیسه څه ده؟

لوک پرته له دې چې له سړک څخه سترګې واړوي په موسکا یې وویل: ته خو ځان ډېر تکړه پلټونکی بولې، خپله یې معلومه کړه.
- همدا خو ستونزه ده، ته د خپل ځان په اړه ډېر څه نه ښکاره کوې.
هغه خپل غږ لږ لوړ کړ، تر څو د باران او د ښیښو پاکوونکو د غږ لمینځه یې واوریدلې شم او ویې ویل: نو خپل د هغه جادوی استعداد څخه کار واخله، شاید کوم شئ ووینې؟

د هغه په دې خبره څو شیبې ورته ځېر شوم بیا مې وویل: تا واده نه دی کړی، نه هم کوم انجلۍ ملګرې لرې او یوازې ژوند کوې.
هغه په حیرانتیا وپوښتل: څنګه دومره ډاډه یې؟
- ځکه تا د واده ګوتمې نه ده په ګوته کړې.
لوک- شاید واده مې نه وی کړی، خو انجلۍ ملګرې به لرم او د هغې سره به ژوند کوم!

- نه، ګومان نه کوم داسې نه ښکاري.
لوک- له کوم ځایه دومره ډاډمنه یې؟
- ته یو ارزانه صابون کاروې او د ږیرې له خریلو وروسته عطر هم نه وهې. دا ښیي

چې د کوم جنۍ د اغېزمنولو هڅه نه کوې. بېګاه، مخکې له دې چې کار ته راشې، په بیړه دې د هګۍ یو ساده سینډویچ خوړلی و. له دې ښکاري چې په پخلي نه پوهېږې او داسې څوک هم نه لرې چې درته خواړه تیار کړي. نو یوازې ژوند کوې. او هغه جمپر چې پرون دې ماته راکړ، له هغه وخت راهیسې نه و مینځل شوی چې وروستی ځل دې ویښتان لنډ کړي وو. زما په اټکل شاوخوا څلور اوونۍ کېږي.

دا ټول ښیي چې ته هغه سړی یې چې خپل کارونه پخپله کوې او د داسې کارونو لپاره پر چا، په ځانګړې ډول پر ښځو، تکیه نه کوې. جامې هم یوازې هغه وخت وینځې چې بېخي اړتیا ورته پیدا شي. او بله خبره... په تېرو شاوخوا شپږو میاشتو کې ستا په موټر کې هېڅ ښځه نه ده سپره شوې البته، زما له راتلو مخکې. که دا ټولې نښې سره یو ځای کړو، پایله دا ده چې ته مجرد یې او یوازې ژوند کوې.

لوک موسکی شو او ویې ویل: ښه تحلیل دې وکړ. د ځینو خبرو دلیل دې هم منطقي او د منلو وړ وو، خو په دې څنګه پوهه شوی چې پرون ماښام ما څه خوړلي وو؟ څنګه پوه شوی چې جمپر مې د ویښتانو له لنډولو وروسته نه دی مینځلی؟ او دا چې په تېرو شپږو میاشتو کې هېڅ ښځه زما موټر ته نه ده ختلې؟ البته متاسفانه په حقیقت کې له شپږو میاشتو هم ډېر وخت تېر شوی، خو دا هر څه تا څنګه معلوم کړل؟

د موټر له کړکۍ څخه مې دباندې تیارو ته وکتل، بیا له ځان سره موسکۍ شوم او ومې ویل: ستا د نیکټای پر سر او د پتلون مخې ته د کیچپ ساس او د هګۍ داغونه وو، چې پرون نه وو. له دې پوه شوم چې نن کار ته له راتلو مخکې د هګۍ سینډویچ خوړلی و. بله خبره دا چې کله دې پرون جمپر راکړ، د غاړې پر برخه یې د لنډ شویو ویښتو ورې ټوټې نښتې وې. دا ښیي چې هماغه جمپر دې هغه ورځ اغوستی و چې ویښتان دې لنډ کړي وو. ځکه چې هغه ویښتان لا هم پرې وو، نو معلومه ده چې له هغه وروسته دې نه دی مینځلی.

او د موټر خبره، د مسافر د څوکۍ مخې ته پر هندارې د غوږ لاس یوه نښه وه. ګومان کوم دا د هغه موټر جوړونکي مستری د لاس نښه ده چې ستا موټر یې جوړ کړی و. که په دې موده کې کومه ښځه ستا په موټر کې سپره شوې وای، خامخا به یې هغه هنداره پاکه کړې وه، ځکه ښځې عادت لري چې په هنداره کې خپل ځان ته وګوري او ځان سینګار کړي. بله نښه دا وه چې د موټر په مخکینۍ برخه کې، د نورو کاغذونو ترمنځ، د یوه ورکشاپ رسید پروت و. پر رسید لیکل شوې نېټه د شپږو میاشتو پخوانۍ وه.

لوک په حیرانتیا وویل: یا عیسی مسیح! ته راورسیږې داسې ښکاري چې له سترګو دې هېڅ شی نه پټېږي. فکر کوم چې کله ستا ترڅنګ یم، باید ډېر احتیاط وکړم.
- ولې؟ داسې کوم راز لرې چې غواړې له ما یې پټ کړې؟
د کوم ځواب راکولو مخکې موټر ورو کړ او ویې ویل: راورسېدو.

له کړکۍ مې بهر وکتل. د هدیرې په منځ کې د کلیسا لوړې منارې له لرې ښکاره کېدې. لوړې، بې‌پاڼې ونې د باد په زور ښورېدې او تورې څانګې یې داسې ښکارېدې لکه د چا لاسونه چې یو له بل سره تاو شوي وي. همدا ساده منظره د شپې په تیاره کې دومره ډارونکې وه چې زما بدن یې له وېرې ولړزاوه.

خپله خولۍ مې له شا څوکۍ راواخیسته، له موټره ښکته شوم او د باران او توپان یخې هوا ته ووتم. هدیره د ډبرینو دېوالونو تر منځ جوړه شوې وه. د سخت باد له امله سرونه مو ټیټ کړل د دېوال له څنګ تېر شو او ځانونه مو تر هغه زړې لرګینې دروازې ورسو کوم چې کلسیا او هدیرو ته ننوتل. لوک دروازه خلاصه کړه او دواړه دننه لاړو.د قبرونو ترمنځ د کلیسا پر لور روان شو. هوا ډېره سړه وه. باد داسې پر مخ لګېده، لکه د ستنې څوکه چې پوستکی سوری کوي.

ناڅاپه د کلیسا له سیورې یو سړی راووت او ویې ویل: دا تر ټولو خراب موسم دی چې ما خپل عمر کې لیدلی.
د هغه ناڅاپي راتلو دومره ووېرولم چې بې‌اختیاره مې چیغه کړه.

هغه په نرم غږ وویل: وبښه، لورې! نه مې غوښتل وویروم دې.
پر سر یې یوه توره، پراخه خولۍ وه او د باران اوبه یې له څنډو په څاڅکو راڅڅېدې.

مخ یې دومره نری و چې هډوکي یې راوتلي وو، خو سترګې یې ډېرې تېزې او ځلېدونکې وې. دومره تېزې چې په تیاره کې داسې ښکارېدې لکه رڼا ترې خېژي.
د هغه نرۍ شونډې په یوې سرې او بې‌احساسه موسکا لږ پورته خواته تللې وه او د اوږده تور کوټ له جګې غاړې لاندې یې د کشیشانو سپین نښه نیکتایی ښکاریده، دا ډول نیکتایی یوازې کشیشانو تړل.
لوک په ډېر درناوي، چې لږه وېره هم پکې وه، وویل: ماښام مو پخیر،
پلاره(عیساویان خپل مذهبي مشرانو ته پلار وایې)

کشیش وویل: ماښام مو پخیر، افسر لوک! خوشحاله یم چې تا او ..
بیا یې سترګې زما خواته راواړولې، او هماغه سړه موسکا یې وکړه، د دې لپاره چې زما غږ د باد د شور لمینځه واورې په وړ غږ مې وویل: کیرا هاډسون مې نوم دی.
هغه سر تر پښو پورې ښه راوکتل، بیا یې سترګې لږې نرۍ کړې او ویې ویل: ښه ده.

د لوک په غږ زما څخه یې نظر واخیست.
لوک- ډلګۍ مشر مورفي وویل چې تاسو د یو بل قبر د سپړلو خبر ورکړی؟
کشیش سر وخوځاوه او موږ یې د هدیرې شاته بوتلو او په خواشینۍ یې وویل: هو، له بده مرغه. خدای دې د هغې پر روح رحم وکړي. بېچاره کرسټې یوازې پنځلس کلنه وه. داسې احساس کوم لکه پرون چې ماشومه وه او ما ورته د تعمید مراسم ترسره کړل.
( تعمید هغه مراسم دی چې عیساویان د مذهبی مشرانو لخوا په هغه اوبو کې کوم چې مثلا دوی مقدسي کړی غسل کوی او د عیساویت نړۍ ته داخلېږی، لکه اسلام کې د مسلمان کیدلو لپاره کلمه شهادت ویل شرط دی. هغوی ته غسل کول شرط دی.)

له کليسا لږ نور هم لرې شوو او د هديرې تر ټولو تياره کونج ته ولاړو.
ما خپل د کمربند څخه څراغ راويست، روښانه مې کړ او د خپلو پښو مخې ته مې رڼا اچوله. په رڼا کې مې د قبرونو اوږده کتارونه وليدل. ځينې کږه شوي وو، ځينې مات شوي او ځينې نور بيحد زړه وه، د ډېرو قبرونو ليکنې يا له منځه تللې وې او يا هم پرې شين چمن راغلې و او ليکنه يې پوښلې و او لوستل يې ناشوني وو.

کشيش- له دې خوا.

هغه موږ يوې سترې ونې خواته بوتلو. ونه دومره لويه وه چې په تياره کې د يوه لوی ديو( بلا) په شان اسمان خواته پورته شوی وه. کله چې ورنږدې شو نو لوک هم خپل څراغ بل کړ. د دواړو څراغونو په رڼا کې مې د تازه ايستل شوې خاورې يوه غونډۍ وليده. زړه مې په زور درزېده او معده مې له وېرې څخه راټولېده. ورو ورو د قبر پر لور ورنږدې شوو. لا څو ګام د قبر خواته پاتې وه چې کشيش ودرېد.

لوک وپوښتل: څه خبره ده، پلاره؟

هغه پر خپله سينه د صليب نښه وکښله، د خولۍ له سيوري يې موږ ته وکتل او په ټيټ غږ يې وويل: زه نور مخکې نه شم تلای، نن شپه شيطان دلته حاضر دی.
بيا يې پر خپله سينه د صليب نښه وکښله.
ما په حيرانتيا وپوښتل: شيطان؟

خو هغه زما پوښتنه هېڅ وا نهورېده، يا يې قصداً ځواب رانکړ، او لوک ته يې وويل: غوره به دا واې چې زه بېرته کليسا ته ولاړ شم او د دې بېچاره نجلۍ د روح لپاره دعا وکړم.

بيا يې موږ دواړو ته وکتل او ويې ويل: ستاسو دواړو لپاره به هم دعا وکړم.

له دې پرته يې نور هېڅ څه ونه ويل. وګرځېد او په چټکو ګامونو د شپې په تياره کې د کليسا پر لور روان شو. لوک ماته وکتل او ويې ويل: داسي ښکاري چې نور بايد

يوازې خپل کار ته دوام ورکړو.

د هغه خواته مې وکتل، چې هغه وپوښتل: غواړې دوام ورکړو؟
هغه مې وکړه خپله ویره پټه وساتم او ومې ویل: هو، بلکل زما غم مه کوه، زه ښه یم.

بیایې له خنګ تېره شوم او د قبر خنګ ته لاړم. د څراغ رڼا مې دننه واچول لوک هم راغی او زما تر خنګ ودرېد. د باران څاڅکي د تابوت په ماتو لرګیو لګېدل او داسې غږ یې کاوه لکه څوک چې پر ډول وهي. زه لږ ښکته ټیټه شوم چې ښه یې وګورم. تابوت تش و د کرسټي هال جسد یې وړی و. له قبره خراب بوی راپورته شو، ژر مې پوزه او خوله په لاس پټه کړل.

لوک زما تر خنګ په ګونډو شو او ویې پوښتل: څه وینې؟
- تر اوسه کوم مهم شی نه ښکاري.
د څراغ رڼا مې د قبر پر دېوالونو او شاوخوا ځمکه وګرځوله. بیا مې څراغ په غاښونو کې ونیو او یوه پښه مې د قبر دننه ښکته کړه. لوک مې پر اوږه لاس کېښود او ویې ویل: دا څه کوې؟
څراغ مې له خولې وایست او ومې ویل: غواړم له نږدې یې وګورم.
هغه په حیرانتیا وویل: لېونی شوې یې؟ غواړې دننه قبر ته ښکته شې؟

د باران څاڅکي د هغه پر مخ داسې روان وو. لکه اوښکې!
لوک- تر سبا سهار صبر نشې کولای؟
- په دې باران کې نه. باران هره دقیقه هغه نښې له منځه وړي چې ښایي پاتې وي.
د دې خبرې وروسته څراغ مې بېرته په غاښونو کې ونیو او قبر ته مې ورټوپ کړ.
لوک چیغه کړه:
— ودرېږه!
خو ناوخته شوې وه. زه له وخت قبر ته ښکته شوې وم. د تابوت پر ماتو لرګیو راولوېدم. سترګې مې ومومښلې او د تابوت مات شوی سرپوش مې یوې خوا ته کړ.

د سپین وریښمین ټوکر دننه د باران او خټو له امله ټول لوند او چټل شوی و. جولاګي او چینجي د څراغ له رڼا ووېرېدل او په بیړه یې د کوم تیاره ځای په لټه کې هرې خوا ته منډې وهلې.

د تابوت دننه مې یو کوچنی د اېږ نانځکه وموندل. ښایي د نجلۍ مور او پلار له هغې سره یو ځای ایښی و، تر څو د هغوی د لور په وروستي سفر کې ورسره ملګری وي. د دې لپاره چې په خټو کې ونه ښویېږم، لاس مې د قبر دېوال ته ونیو او لږ مخکې ټیټه شوم. د تابوت په یوه کونج کې مې یو ځلاند شی ولید. ښکته شوم را وامې خیست او د څراغ رڼا ته مې ونیو. د تسبیح یوه دانه وه.

نانځکه او د تسبیح دانه مې بېرته خپل ځای کې کېښودل. بیا مې د تابوت مات شوی سرپوش نور هم یوې خوا ته کش کړ، چې هماغه شېبه مې داسې یو څه ولیدل چې زړه مې له وېرې، حیرت او وحشت څخه ودرېد او ټول بدن مې یخ شو ....

د تابوت د سرپوش لاندې له نوکانو ډک ژور خراشونه وو. دا خراشونه د دباندې څخه نه وو، چې ووایم مثلا چا غوښتل تابوت له بهر مات کړي. نــه ټول خراشونه د تابوت د سرپوش له دننه خوا وو. سره له دې چې باور پرې سخت و، خو یوازې یوه پایله د دې کار څخه اخیستل کېدي شول هغه دا چې کرسټي هال ژوندۍ خاورو ته سپارل شوې وه او هغې هڅه کړې وه چې د تابوت سرپوش په نوکانو خلاص کړي او ځان وژغوري. د لړګیو ماتې ټوټې مې لرې کړې او د څراغ رڼا مې د قبر پر دېوالونو واچوله.هلته هم هماغه د نوکانو خراشونه وو.

داسې ښکارېده چې کرسټي له خاورو لاندې د راوتلو هڅه کړې وه. په دې خبره د پوهېدو وروسته د وېرې او وحشت څخه مې سخت ټکان وخوړ، څنګه؟ څنګه امکان لری چې یوه ژوندۍ جنۍ خاور کې ښخ کړی وی؟ په لوړ غږ مې چیغه کړه: لوک باور به دی ونه شي.

خو هېڅ ځواب له هغه خوا رانغی. یوازې د باران د څاڅکو ټک ټک او د باد غږ اورېدل کېده. بیا مې په لوړ غږ ناره کړل: لوک! لوک هلته یې؟
خو بیا هم یوازی چوپتیا تر غوږ کېدل.

- لوک!

دا ځل مې په خپل غږ کې د وېرې رپ احساس کړ او پر ځان غوسه شوم. له ځان سره مې وویل: چېرته لاړ؟ ښايي موټر ته تللی وي چې د شواهدو د ساتلو لپاره پلاستیکان راوړي، تر څو د لومړۍ ځل لپاره په جدی توګه خپل کار تر سره کړو.
په دی فکر مې ځانته ډاډ ورکړ، او پرېکړه مې وکړه چې له قبره ووځم.
څراغ مې مړ کړ، بېرته مې په کمربند وځړاوه او هڅه مې وکړه ځان پورته کړم. ځمکه د باران له امله لنده او ښوییدونکې وه. څو ځله وښوېدم او بېرته د تابوت پر سر ولوېدم.

په غوسه مې وویل: لوک، لعنت دې وي پر تا..

یو ځل بیا مې هڅه وکړه تر څو د قبر څخه ووځم، کله چې د قبر تر سر ورسېدم، ناڅاپه مې ولیدل چې د قبر له پاسه د یوه کس سیوری په چټکۍ تېر شو. په لوړ غږ مې وویل: بالاخره بېرته راغلې.

له قبره په سختۍ راووتلم. له سره تر پښو پورې په خټو او چټلیو ککړه شوې وم. لاسونه، د کوټ او پتلون مخ، ټول په خټو لړلي وو. بوټان مې هم د ډبرو او خاورو له امله خراب شوي وو. راوګرځېدم. فکر مې کاوه لوک به مې مخې ته ولاړ وي، خو د مخامخ صحنې په لیدو دومره حیرانه او و ډاره شوم چې نږدې و بېرته قبر ته ننوځم.

زما څخه څو قدمه وړاندې یوه ځوانه نجلۍ ولاړه وه. په بیړه مې خپل څراغ ولټاوه، له کمربنده مې راویست، روښانه مې کړ او رڼا مې پرې واچوله. هغې سمدستي دواړه لاسونه د مخ مخې ته ونیول او په درد یې یوه زوروره چیغه وکړه.

- وښېه.

خپل په کار غوسه راغلل، د څراغ رڼا مې لږ ورڅخه لرې کړل، خو ښه په ځېر مې ورته وکتل، د جنۍ اغوستي کالي ډېر چټل وو. داسې ښکارېدل چې پخوا سپين وو، خو اوس دومره په خاورو او خټو ککړ شوي وو. چې خړ ښکاريدل. اوږده، ګډوډ او له خټو ډک ويښتان يې پر سپين مخ خپاره وو. د نوکانو لاندې يې خټې نښتې وې، او لوڅې پښې يې تر ګوتو پورې په خټو پوښلې وې.

په احتياط مې وپوښتل: ښه يې؟

نه پوهېدم څه ووايم. لا هم د هغې ناڅاپي راڅرګندېدو حيرانه کړې وم.
هغې په ورو غږ وويل: مور مې ..
بيا يې په يوه ژور او بې‌احساسه زياته کړه: مور مې چېرته ده؟

د هغې غږ عجيب و، دومره چې څو ګامه بې اختياره ورڅخه شاته ولاړم او لاس مې د مخابرې پر لور يوور، غوښتل مې لوک راوغوارم. خو نجلۍ ورو ورو زما پر لور را روانه شوه.ګامونه يې ورو، خو اوږده وو. په داسې حال کې چې مخابره مې لټاوه، ومې پوښتل: کرستې ... ته کرستې هال يې کنه؟ سمه ده؟
هغې په ارام غږ وويل: زه خپل مور غوارم، وږې يم.
بيا يې هوا بوی کړه او په خپلې وچې ژبې يې شونډې تېرې کړې.

- زه ستا مور پيدا کوم ګرانی.

سر مې د مخابرې پر لور ټيټ کړ، غوښتل مې مرسته وغوارم. هغه هم پوهه شوه چې مرسته غوښتل غوارم، نو ځکه خپل چټل لاس يې زما د مخابرې پر لور اوږد کړ. کله چې يې لاس راوغځاوه، نو د هغې ګوتو ته مې پام شو. ګوتې يې غيرعادي اوږدې وې، د انسان د ګوتو په څېر نه وه، بلکې د کوم ځناور د پنجو غوندې ښکارېدل.

ورو ورو شاته شوم او په مخابره کې مې چيغه کړه:
- لوک! که مې غږ اورې، زه سمدستي مرستې ته اړتیا لرم.

له مخابرې یوازې د خش خش او شور غږ راتله. نجلۍ خپل غوږونه ونیول. داسې چیغې یې وهلې لکه د مخابرې غږ چې ورته د زغملو نه وي. د باد او باران تر منځ مې د څه شی د څېرې کېدو غږ واورېد. هغه غږ لوند او دروند و، لکه د غوښې د هډوکي نه د جلا کېدو غږ. ناڅاپه نجلۍ خپل بدن راکش کړ او شاته یې تاو کړ. سر یې تر شا واړاوه، خوله یې خلاصه کړه او د درد نه یې چیغه ووهل.

زما مخې ته یې بدن په لړزېدو او بدل کېدو پیل وکړ، داسې لکه د انسان څخه چې په بل څه بدلېږي. بیا مې په مخابره کې چیغه کړه:
- لوک! عاجل مرستې ته اړتیا لرم.

خو بیا هم یوازې د خش، خش غږ مې تر غوږ شو. نجلۍ خپل سر راښکته کړ او ماته یې وکتل. سترګې یې د سور اور په شان ځلیدې. خوله یې خلاصه کړه، دوه مخکیني غاښونه یې اوږده او تېره شوي وو. را نږدې شوه له ځایه نه شوم خوځېدلای، د هغې څیرې او سترګو هر ډول حرکت کول زما څخه اخیستې وه. هغې د قبرونو تر منځ حرکت کاوه او ما ته را نږدې کېده. ویښتان یې د باد له امله لکه د اوبو څپې ښورېدل.

ناڅاپه یې اوږې شاته واړولې. د هډوکو د ځرځېدو او کش کېدو غږ یې د پوست لاندېچ راغې او د هغه غږ په اوریدو په ښود راغلو او پوه شوم چې زما مخې ته یو خطرناک مخلوق ولاړ دی. کوم چې هېڅ د انسان په شان نه دی، ټول وجود مې یوازې یوه خبره راته کوله.

- وتښته ...

په دې فکر مخ مې واړاوه او په ټول قوت مې منډه وهل پېل کړل. پښې مې رېږدې، زارۍ مې خپل پښو ته کول چې ونه غورځېږي او ما په نیمه لاره کې پاتې نه کړي. له

خولې مې سپین بخار راوتلو او په یخ او تیاره شپه کې ورک کېده. د هغې د منډې وهلو غږ مې له شا څخه اورېدی چې شیبه په شېبه رانږدې کېده. کله چې مې شاته وکتل نو نجلۍ مې ولېده چې د ټوپ اچولو لپاره یې ځان چمتو کړی و.

د هغې د دی حال په لیدو په ځمکه مې ځان واچو، چې د هغې ټوپ بې ځایه لاړ او زما د نیولو لځایه زما د سر له پاسه تېره شوه او پر ځمکه وغورځیدل، خو ډېر ژر بېرته راپاڅید او زما پر خوا راروانه شوه، په بیحد یو حیرانوونکي سرعت را نږدې کېده، ویښتان یې د اس د لکۍ په شان په هوا کې رقصېدل. د حیواناتو د پنجو په شان لاسونه یې زما لور ته راغځول.

ژوره ساه مې واخیسته او په یو جست لځایه پورته شوم او د هدیرې د دروازې په لور مې منډه کړه.

له هدیرې نه په منډه راووتلم. داسې مې احساس کاوه لکه هره شېبه چې به زړه مې له سینې راووزي. خپل د تعادل ساتلو لپاره مې دواړه لاسونه خلاص نیولې وه او یوازې د خپل ځان د ژغورلو لپاره مې منډې وهلې. دروازې ته ورسېدم، په بیړه مې خلاصه کړه او د پولیسو د موټر پر لور ورمنډه شوم. له بونټ نه مې ټوپ وکړ، د موټر دروازه مې خلاصه کړه او پر څوکۍ کښېناستم.

په بېړه مې د دروازو د قلف تڼۍ کېکاږله او وروستی ځل مې په مخابره کې په لوړ غږ ناري کړې: لوک! لوک! ژر مرسته راولېږه، خیر دی زه مرستې ته اړتیا لرم.

خو هېڅ ځواب رانغی، د موټر کیلي ښه وه د موټر په ځای کې وه پیدا مې کړل او تاو مې کړل، موټر په لوړ غږ چالانده شو، سټیرنګ مې ټینګ ونیو او مخ ته مې وکتل. هماغه شېبه نجلۍ په هوا کې راټوپ کړه او نېغه د موټر د مخ ښیښې ته راغله. ما موټر ژر تاو کړ او تنګې لارې ته وخوځېدم، خو هغه له ما ډېره تېزه وه. په زور یې ځان د موټر په ښیښه وواهه. ښیښه سمدستي درز وکړ او د جولاګي د ځالې په شان خطونه پکې پیدا شول.

خپل اوږده پنجې د موټر په بونټ کې ښخې کړې او اوسپنه یې داسې څیرله لکه کاغذ. سر یې شاته یووړ او څو ځله یې پرلهپسې خپل مخ په ښیښه وواهه. په پای کې ښیښه ماته شوه او د ښیښې وړې ټوټې زما پر مخ او کالو راوولېدل.
په چیغه مې وویل: لرې شه زما څخه پدرلعنتي ..

سمدستي مې موټر ګیر ته واچاوه. هغه عجیب مخلوق نور هم را نږدې شوه او خپل سر یې د ماتې ښیښې له سوري موټر ته دننه کړ. د هغې تېره غاښونه زما له مخه یوازې څو ګوتې لرې وو. لاړې یې زما پر مخ وشیندل شول. ما بې له ځنډه په بریک پښه ټینګه کېښوده. د موټر په ناڅاپه درېدو هغه په زوره شاته وغورځېده او د هدیرې له ډبرین دېوال سره په درز ولګېده. زه هم مخ ته وغورځېدم او مخ مې په سټېرنګ ولګېد.

له پوزې مې ګرمه وینه راوبهیدل او پر شونډو او زنې مې روانه شول، سر مې سخت درد کاوه. مخ ته مې وکتل. نجلۍ د دېوال مخې ته پر ځمکه پرته وه او داسې ښکارېده چې لا هم د ټکر له امله ګنګسه ده. ما سمدستي پر ایکسلټر پښه کېښوده او موټر مې نېغ د هغې پر لور روان کړ. غوښتل مې په موټر یې ووهم. خو لا نه وم وررسېدلی چې هغې سر پورته کړ، موټر یې ولید او په یوه ټوپ له مخې نه لرې شوه او د شپې په تیاره کې ورکه شوه.

دومره ژر دا کار وشو چې ما حتا د موټر درلود وخت لا ونه موند او موټر په زور د ډبرین دېوال سره وجنګېد. د موټر مخکینې برخه یو دم لمینځه لاړل، زه هم له څوکۍ په زور مخ ته وغورځېدم. لاسونه مې د مخ مخې ته ونیول چې لږ ځان وساتم، خو بیا هم له درده مې یوه زوروره چیغه وکړه.

څو شیبې لا زما د ټکر څخه نه وه تېر شوی چې د درز غږ مې واورېد، داسې لکه څوک چې د موټر پر چت رالوېدلي وي. ژر مې سر پورته کړ. د موټر په چت کې یوه لویه کنده جوړه شوې وه. هغې په خپلو پنجو چت وهه او هر ځل یې کنده نوره هم ژوره کوله. سرګردانه شوم او په بیړه مې د هغې تنې لټول پیل کړل چې د پولیسو د

موټر څراغونه پرې چالانېدل. تېر چې مې وموندله، په سوک مې ووهله او سمدستي د پولیسو د موټر شین او سور څراغونه ولګېدل او ټوله شپه یې روښانه کړه.

د څراغو د چالانده کیدو سره د پولیسو د موټر غږ هم پورته شو، او ما د هغه غږونو تر منځ د نجلۍ دردناکې چیغې هم اورېدې. پر څوکۍ لږ ټیټه شوم، سر مې له کړکۍ بهر وایست او د موټر چت ته مې وکتل. نجلۍ دواړه لاسونه پر غوږونو ایښي وو او په زوره زوره یې چیغې وهلې. له دې فرصته مې ګټه واخیسته او کیلې مې تاو کړل. کله چې مې ولیدل موټر، سره له دومره ټکرونو، بیا هم په درز چالان شو، له خوشحالۍ مې چیغه کړه. یو لاس مې پر سټیرنګ کېښود، له اوږې مې شاته وکتل او موټر مې په شا روان کړ.

بیا مې په مخابره کې په لوړ غږ وویل: لوک! لوک! که غږ مې اورې، هیله کوم زه مرستې ته اړتیا لرم راشه ..

خو بیا هم هېڅ ځواب رانغی. د پولیسو د شنو او سرو څراغونو رڼا او غږ ټوله سیمه روښانه کړې وه، موټر مې تاو کړ او د ښار پر لور روانه شوم. هغه عجیب مخلوق تراوسه د موټر پر چت ناسته وه، چیغې یې وهلې او ځان یې پر چت واهه. په لاره کې یوه ژوره کنده وه، له هغې نه مې ځان تېر کړ، له کلیسا لرې شوم او د ښار پر لور مې تېز موټر وچلاوه.

د پوزې وینه مې لا هم نه وه دربدلې. وینه په زور راوتله او خولې ته مې راتله. خوند یې د اوسپنې غوندې و. د لستوڼي په شا مې وینه پاکه کړه. خو هماغه شېبه کریسټي له چت نه د موټر پر بونټ راټوپ کړه. سترګې یې د اور د لمبو په شان سرې بلېدې.خوله یې خلاصه وه او په زوره زوره یې چیغې وهلې. بیا یې یو لوی ټوپ وکړ او د موټر د ماتې ښیښې له لارې یې ځان زما پر لور راوغورځاوه. ما د موټر کنټرول له لاسه ورکړ.

موټر له سړکه ووت او یوې کندې ته ولوېد. زه له څوکۍ پورته وغورځېدم او سر مې د موټر له چت سره ولګېد. او هر څه مې د سترګو وړاندې تیاره شول خو هڅه مې کوله بې‌هوښه نه شم. ځکه پوهېدم که بې‌هوښه شم، ژوندی به له دې ځایه ونه وځم.
کریسټي د موټر له کړوپ شوي بونټ څخه ورو پورته شوه او په دواړو لاسونو او پښو زما پر لور راروانه شوه.

په چیغه مې وویل: ما ته مه رانږدې کېږه بدبختي ...

خو هغه همداسې ورو، ورو رانږدې کېده، کله چې ومې لیدل بل چاره نه شته نو ژر مې خپل ټېزر (شاید فلمونو کې مو لیدلې وی لنډ کوچني اوسپنه ده، د هر پولیس افسر سره وی بریښنایي وسله ده، هغه ته ټېزر وایې.) ته لاس کړ، خو په وروستۍ شېبه کې مې فکر بدل شو. لاس مې د ټېزر راخیستلو له ځایه خپل د کوټ جیب ته دننه کړ.

هغې په یو مردار چغیدونکې غږ وویل: وږې یم ..
بیا د موټر د ماتې ښیښې له لارې دننه راغله. په خپل شونډو یې سره ژبه تېره کړل او لاړې یې د تېرو غاښونو له منځه راوبهېدې. د هغې سترګو ته مې وکتل. داسې ښکارېده لکه ټول وجود یې اور اخیستی وي او سترګې یې د اور په لمبو کې بلېږي.
بیا یې په ډارونکي غږ وویل: وږې یم ..

د دې لفظ سره یې خوله خلاصه کړه او پر ما یې برید وکړ، خو له دې مخکې چې هغه مردار تېز غاښونه یې پر ما ولګي ژر مې هغه کوچنی د سپینو زرو صلیب د هغې پر ژبه کېښود او په لوړ غږ مې وویل: دا وخوره، خیرني ..

هماغه شېبه د کریسټي سترګې غټې شوې او د سترګو سره لمبه یې مړه شوه. لاس یې خولې ته یووړ او داسې یې کانګې کولې لکه ساه یې بنده شوې وي. سپین ځګ لړونکې اوبه یې د ګوتو له منځه راوتلې. خوله یې لکه د لېوني سپي په شان ځګ

ونیوله. ورو ورو شاته شوه او د موټر له بونټه لاندې وښوېده، داسې لکه چا چې له پښو نیولې وي او راکاږي یې. یوه زوروره چیغه یې کړه. بیا یې له خولې سپین رنګه مایع راووتله. هغه مایع چې د موټر پر بونټ ولوېده، د موټر رنګ یې وسوځاوه او له اوسپني څخه یې بخار پورته شوه، ته وا تیزاب چې پرې توی شوی وی.

ما ژر خپل مخ په لاسونو پټ کړ. او د ګوتو لمینځه مې ورته وکتل چې د هغې بدن ورو ورو هوا ته پورته شو او بیا ناڅاپه په یوه زوروره چاودنه سره ټوټې ټوټې شوه او یوازې ایرې ترې پاتې شوې. کله چې پوهه شوم خطر ختم شوی، ځان مې پر څوکۍ وغورځاوه. سینه مې په زور پورته او ښکته کېده. ټول بدن مې رپېده او لا هم وېره راسره وه. هماغه وخت چې فکر مې کاوه هر څه خلاص شوی، د یو چا د منډو غږ مې واورېد.

د موټر له هېندارې مې شاته وکتل. د هغه کس مخ نه ښکاریدی یوازې بوټان مې ورڅخه لیدل چې په منډه زما پر لور راتلل. په رپېدونکو ګوتو مې ټېزر ته لاس وغځاوه، خو یځ سترګو مې ورو ورو تیاره خپره شوه او نور مې هېڅ شئ نه شو لېدلې او بې‌هوښه شوم. خو د کامل بې هوښه کېدلو مخکې مې د لوک وېرېدلی څېره ولیده چې د موټر د ښیښې څخه یې زما خواته په اندیښمن نظر راکتل.

کله چې راویښه شوم، هوا تیاره وه، پر یوه نرم ځای پرته وم. سر مې دروند و او نه پوهېدم چېرته یم. د چا د رانږدې کېدو غږ مې واورېد.په کمزورې غږ مې وپوښتل: څوک یې؟

— زه یم .. لوک!
- زه چېرته یم؟
لوک- په خپل کوټه کې یې.

سر مې سخت درد کاوه او ټول مخ مې خوږېده. خپل ځان مې نه شو لیدلې سترګې مې هم سم نه شو خلاصولې، نو ځکه په ستړې او خوبولې غږ مې وپوښتل: زه ښه

یم؟

د تیارو لمینځه د هغه غږ راغی: ښه به شې. یوازې لږ تپي شوې یې او بدن دې هم درد نیولی. ما ته په هغه ټکر شوي او خراب موټر کې پیدا کړې.
ورو مې وویل: ټکر...؟
بیا مې سترګې درنې شوې او هوښیارتیا مې ورو ورو له لاسه ورکړل، خو له دې مخکې چې کامل بې هوښه شم په کمزوري غږ مې وویل: ما ټکر نه دی کړې ... هلته... هلته یو وینه څښ ...

لوک مې خبره پرې کړل او ویې وویل: سبا به په دې اړه خبرې وکړو.
- مه ځه.
لوک- څه دې وویل؟

په کمزوری او مات غږ مې وویل: همدلته راسره پاتې شه، نه غواړم یوازې پاتې شم. ما په خپل ژوند کې ډېر عجیب شیان لیدلي وو، خو دا پیښه هېڅ د باور وړ نه وه راته، هر ځل چې مې سترګې پټولې، هماغه وېرونکی وینه‌څښوونکی مې سترګو ته درېده چې په تیاره کې یې چیغې وهلې. لوک زما د تخت خواته راغی او ویې پوښتل: ولې؟
- نه غواړم یوازې پاتې شم.

ما تل فکر کاوه چې کله له خپل ملګري ټام څخه بېله شوم، نو یوازې شوم. خو کوم یوازیتوب چې ما اوس احساساوه، هغه تر هر وخت ډېر سخت او دردونکی و.
بیا مې وویل: لوک... مه ځه.

هغه هېڅ ونه ویل، خو څو شیبې وروسته تخت وخوځید او هغه پر تخت زما څنګ ته کښېناست، دومره وېرېدلې وم چې همغه زخمي او بد حالت کې د هغه خواته مې ځان نږدی کړ او لاس مې ورڅخه ونیو، غوښتل مې ډاډمنه شم چې دا ځل مې

یوازې نه پرېږدي، د هغه لاس یخ و، د یخوالي څخه یې ولړزیدم خو شتون یې د امنیت احساس راکړ او سترګي مې وتړل.

کله چې راویښه شوم، سهار شوی و. د لمر رڼا له کړکۍ څخه دننه راتله او ټوله کوټه یې روښانه کړې وه. سر مې لا هم درد کاوه، پوزه مې هم خوږېدله او خوله کې مې بد خوند درلود. پر خپل تخت پرته وم. جمپر او د خوب پتلون مې اغوستی و. له ځانه سره مې وویل: زه دلته څنګه راغلم؟ او جامې مې چا بدلې کړې؟

تازه مغزو مې کار پیل کړل او د تېرې شپې پېښې راپه یاد شوې. یاد مې شول چې لوک زه خپلې کوټې ته راوستلې وم. هغه شېبه هم راپه یاد شوه چې ما نه غوښتل هغه لاړ شي او له لاسه مې کلک نیولی و. له شرمه مې مخ تک سور شو. کمپل مې تر زنې پورې راکش کړ او غږ مې وکړ: لوک!

خو هېڅ ځواب رانغی، د تشناب دروازه بنده وه، نو فکر مې وکړ چې ښایي تشناب کې وي.

خو د څو شیبو وروسته چې بیا هم کوم ځواب رانغی. نو پښې مې د کټ له څنډې راښکته کړې. ټول بدن مې د سر درد له امله ورپېده. په اصل کې ټول بدن مې درد کاوه او داسې احساس مې کاوه لکه یو خطرناک ټکر مې چې کړی وي او بدن مې تراوسه د کړوپ شوی موټر په لاې کې بند پاتې وي. ناڅاپه د تېرې شپې ټولې پېښې مې ذهن ته په زور راغلې، لکه چا چې سوک راکړی وي.

دا هر څه داسې وه لکه په ویښه چې بد خوب وینم. له قبره راوتل، د تابوت لاندې د پنجو نښې، د لوک ناڅاپي ورک کېدل او زما د مرستې غوښتنو ته ځواب نه راکول او هغه نجلۍ کریسټي هال چې په وینه‌څښوونکې بدله شوې وه او د پولیس تر موټر زما پسي وه او موټر یې واهه، حتی هغه وېرونکې شېبه مې هم راپه یاد شوه چې صلیب مې د هغې خولې ته ورواچاوه او هغه په یوه چاودنه کې په ایرو بدله شوه.

له وېرې مې ټول بدن ولړزېد. ایا دا ټول رښتیا وو؟ عقل مې ویل نه، دا حقیقت نه لری. خو زړه مې ویل چې دا هر څه رښتیا وه، ناڅاپه د ډېر وېرې او فکرونو څخه زړه مې بد شو او د تشناب خواته لاړم. د کیموډ (فارسي کې ورته توالت واې نه پوهېږم تاسو ورته څه وایست) ترڅنګ مې زنګونونه ولګول او قی مې وواهه. د قی وهلو وروسته بې حاله ټب ته مې تکیه ووهل کښېناستم او له ځانه سره مې وویل: پر ما څه شوی؟ په رګډ کوو کې څه روان دي؟

ټول بدن مې درد کاوه شاور مې خلاص کړ او ټب مې د ګرمو اوبو لپاره ډک کړ. بیا په ورو او لړزېدلو ګامونو کوټې ته لاړم او خپل د موبایل پسي په ګرځیدو شوم کله چې مې پیدا کړ نو د لمر په رڼا کې مې سکرین ته وکتل، خو د انتن په ځای کې سور خط و.

له خولې مې آه ووت.
- په دې ښار څه شوي؟ ولې داسې ښکاری لکه له ټولې نړۍ چې جلا وي!
بیحد ډېر مې زړه غوښتل له قومندان فیلیپس سره اړیکه ونیسم او ټولې پېښې ورته ووایم. نه پوهېدم چې باور به راباندی وکړي که نه، خو باید مې ورته ویلي وای.
دلته په دې خاموش او پرېښودل شوي ښار کې هېڅ شی سم روان نه وو. رګډ کوو داسې ښکارېده لکه خپله جلا نړۍ چې لری. د ټول نړۍ څخه جلا او بیل. نه ټیلیفون پکې کار کاوه، نه د پولیسو مخابره، نه هېڅ سیګنال د ښار په کوم کونج کې کار کاوه، حتی د موټر راډیو هم خاموشه وه.

په یاد مې شول چې له دوو ورځو راهیسې مې هېڅ سندره نه ده اورېدلی. آی‌پډ مې له خپل بکس راواخیست او له ځان سره مې حمام ته یووړ. د ګرمو اوبو څخه ډک ټب کې کېناستم، سترګې مې پټې کړې، ګوشکې مې په غوږونو کې کېښودل او آی‌پډ مې چالان کړ. د ریحانا په غږ کې د "Only Girl In The World" د سندری نوم دی یوه جنۍ په نړۍ کې" سندره چالانده شوه. د هغه سندری په چالانده کیدو ما داسې

احساس وکړو لکه واقعاً چې په دې نړۍ کې یوازینۍ نجلۍ زه یم چې پاتې یم. هغه هم بنده پاتې یم، په دې منحوس ښار کې.

سترګې مې پټې کړې، د سندرې غږ مې لوړ کړ او سر مې د تېر د څنډې سره ولګاوه. د تېرې شپې پېښې مې بیا بیا په ذهن کې راګرځېدې. ایا ممکنه وه چې یو وینه‌څښوونکې دا قتلونه کړي وي؟ خو دا خو یوازې د کتابونو او فلمونو خبرې دي که نه؟ البته تر هغه وخت د کتابونو او فلمونو خبرې وه چې یوه یې پر ما حمله نه وای کړې، خو اوس باورمنه نه وم.

ایا هغه هلک هنري بلیک هم د همدې له لاسه وژل شوی و؟ خو دا بول شیان خو په حقیقت کې نه پېښېږي. ما هم خپل د پلار په شان یوازې په حقیقتونو باور درلود،

خو د پلار یوه خبره مې راپه یاد شوه هغه راته ویلې وه: کله چې شواهد وګورې او اوازې او ګمانونه پرېږدې، هغه څه چې پاتې کېږي که څومره هم ناممکن ښکاري خو هماغه حقیقت دی.

نو که فرض کړو چې دا قتلونه او ورک کېدل واقعاً د وینه‌څښوونکو له خوا شوي دي، نو بیا هغوی څوک دي؟ د ورځې په وخت د خلکو تر منځ ګرځي او د شپې لخوا وژني کوی؟ د هغوی پټ ځای چېرته دی؟ او څو کسان دي؟ له ډېر فکره مې سر بیا په درد شو، خو یوه پوښتنه مې هېڅ له ذهنه نه وتله: لوک تېره شپه چیرته ورک شو؟ کله چې ما ورته اړتیا لرله، هغه چېرته لاړ؟

له تېر څخه راووتم، ځان مې وچ کړ، غاښونه مې برش کړل. پتلون او یو پراخ بلوز مې واغوست. ویښتان مې پورته وتړل او د تشناب په هېنداره کې مې خپل مخ ته وکتل. په تندي مې شین رنګه ټپ و، شونډه مې پړسېدلې وه او د زنې لاندې مې خراش و. که د لاس ټپ مې هم حساب کړم نو په دومره کم وخت کې ډېره زخمي شوې وم، هېڅکله عمر کې تر دې حد نه وم ټپي شوې.

درد یو خوا او لوړی بلخوا راباندی فشار راوړی و، نو له همدې امله اراده مې وکړه چې نن هګۍ او ډوډۍ وخورم. یوازې ډوډۍ د نن سهار لپاره بس نه و. د خپل کوټې دروازه مې خلاصه کړه، خو هلته مې یو بل پاکټ ولید هماغه د لومړۍ شپې په شان پټ دروازې پورې نښلول شوی و. بیا هم یو لفظ پرې لیکل شوي وو: هاډسون.

پاکټ مې راواخیست، خلاص مې کړ دننه یې یو صلیب و، د همغه لومړۍ صلیب په شان. د پاکټ پورتني برخی ته مې وکتل، داسې ښکاریدل لکه دا پاکټ چې څو دقیقې مخکې دلته ایښودل شوی وي. په بیړه مې دروازه خلاصه کړه او لاندې د سالون خواته مې منډه کړه ...

د مسافرخانې څخه د سړک خواته ووتلم. چپ او بیا ښي لور ته مې وکتل، خو سړک تش و. زه پوهېدم چې څو دقیقې مخکې دلته یو څوک و او دا صلیب یې زما د کوټې د دروازې شاته ایښی. خو دا خبره مې نه شو درک کولای چې هغه کس له کومه پوه شوی و چې ما یو بل صلیب ته اړتیا ده؟!

بیرته مسافرخانې ته ننوتلم او د ډوډۍ خوړلو سالون کې د یو مېز تر شا کېناستم. بوډۍ ښځه د مېزونو او څوکیو تر منځ وګرځېده او زما خواته راغله. زما د مخ زخمونو او شین شو ځایونو ته یې وکتل او ویې ویل: لکه له جنګه چې راغلې یې! ما په زور موسکا وکړه او ومې ویل: زه ښه یم، کومه خبره نشته.
هغې راته یوه پیاله قهوه واچوله او ویې ویل: دا سمه نه ده.
ومې پوښتل: څه سمه نه ده؟

بوډۍ- دا چې ستا په شان ښکلې نجلۍ پولیسه وي.
د هغې دې اشارې ته چې ماته یې ښکلې وویله خوشحاله شوم او ومې ویل: ولې؟
هغې شاته وکتل تر څو څوک یې خبره وا نه وري، بیا ما ته را نږدې شوه او ویې ویل: که پام دې ونه ساتې، ژوند به دې له لاسه ورکړې، یا لا هغه څخه بدتر څه به درباندی وشي.
ما د قهوې یو غوړپ وڅښه او ومې ویل: تر مرګه بدتر څه کېدای شي؟

هغې په ټيټ خو سړه لهجه وويل: بدتره يې دا ده چې ظاهره ژوندی اوسيږی خو روح دی بدن کې ونه اوسيږی، او يو متحرک مړی درځخه جوړ شي.

ما د هغې خړ او تياره سترګو ته وکتل، غوښتل مې نور وضاحت ترې واخلم، خو په همدې وخت کې رونالډ د سالون له دروازې راښکاره شو او په لوړ غږ يې وويل:
مورې!

بوډۍ ښځه د خپل زوی له غږه وډاره شوه او له ځايه پورته شوه.
رونالډ- ما څو ځله درته ويلي چې دا احمقانه کيسې دې له مېلمنو سره مه شريکوه!

بوډۍ ښځې مخکې له دې چې زوی ته مخ واړوي، لاس يې خپل د جيب خواته ويوړ يو څه يې راوويستل په پټه يې ما ته راکړل. بيا يې سترګکه ووهله او ويې ويل: د ساتنې لپاره.

ما لا ځواب نه و کړی چې هغه لاړه. خپل په لاس کې هغه بوتل ته مې وکتل په کوم کې چې مقدسې اوبه وه، دا بوتل ما پرون هم په سالون کې ليدلی و. په بيړه مې لاس د مېز لاندې پټ کړ او رونالډ ته مې وکتل چې راته رانږدې کېده. د هغه مخ غوښن، سور او ستړی و، کله چې رانږدی شو نو په بخښنې سره يې وويل: د دې لپاره بخښنه غواړم.

بيا يې لږ په غوسه او تنده لهجه کې وويل: زما مور نه پوهېږي چې کله بايد خوله بنده کړي.
- هيڅ خبره نه ده.
هغه خپل غوړ لاسونه خپل د کالو مخکې ترلې مخ بند باندی پاک کړل او ويې ويل: څه درته تيار کړم؟

رښتيا که ووايم، نو لږ مې زړه نه کېده چې د هغه له لاسه جوړ شوی خواړه وخورم، ځکه نه يې لاسونه پاک ښکارېدل او نه هم ډېر د صفايۍ خيال يې ساته. خو دومره

وړې وم چې نس مې شور کاوه. نو ومې ویل: ډوډۍ او هګۍ ښه دي.
هغه موسکی شو او ویې ویل: سمه ده، ډوډۍ او هګۍ.

کله چې ورو ورو د پخلنځې خوا ته روان شو، نو ما غږ پرې وکړ او ومې پوښتل: نن سهار دې دلته کوم نااشنا سړی لیدلی؟
هغه راوګرځېد او ویې پوښتل: نه، فکر نه کوم. څنګه سړی و؟
- سم نه پوهېږم. خو خولۍ یې پر سر وه او مخ یې ښه نه ښکارېده.
بیا مې پاکټ له جیبه راوویست، پورته مې ونیو او ومې ویل: شاوخوا پنځه دقیقې مخکې یو چا دا پاکټ زما د کوټې په دروازه نښلولی و.

هغه سر وخوځاوه او ویې ویل: نه، داسې څوک مې نه دي لیدلي. او که تا خپل نه وې لیدلی نو څنګه پوهه شوې چې همدا پنځه دقیقې مخکې یې کاغذ ایښی؟ کېدای شي کوم بل وخت یې ایښی وي.
- ځکه د پاکټ مهر لا هم لوند دی. چا چې تړلی، لا یې د ژبې لندوالی پرې پاتې دی.
هغه خپل اوږې پورته واچول او ویې ویل: اوه، څومره جالب.
- دلته د امنیتي کامرو (CCTV) سیستم نه لرئ؟
هغه په حیرانۍ وویل: سي سي څه؟

ما وخندل او ومې ویل: پرېږده، هېڅ خبره نه ده.

سره له دې چې د رونالډ لاسونه او مخ بند غوږ وو، خو ډوډۍ او هګۍ یې ډېرې خوندورې وې. ډوډۍ ښه ګرمه او کوکرک شوې وه، او د هګۍ خاګینه ګرمه، نرمه او پړسیدلې وه. له ډوډۍ خوړلو وروسته مې په مینه ترې مننه وکړه، بیا خپل موټر ته وختم او ښار ته روانه شوم. غوښتل مې هم ښار لږ وپېژنم او هم د پولیسو مرکز ته ولاړه شم، تر څو د تېرې شپې د پېښو په اړه له ډلګۍ مشر مورفي سره خبرې وکړم.

هوا ډېر سړه وه، خو لږ تر لږه باران بند شوی و. شین وربځو لمر پټ کړی و او اسمان داسې ښکارېده لکه شین شوی پوستکی. د موټر بخارۍ مې چالانه کړه، ځان مې لږ

ګرم کړ او په تنګه او تاو راتاو سړک روانه شوم. کله چې ښار ته ورسېدم، ومې لیدل چې کوڅې او دوکانونه تقریباً تش وو. یوازې څو کسان مې ولیدل چې سرونه یې ټیټ نیولي وو، لکه له خلکو سره د سترګو له لګېدو وېرېږي.

موټر مې د کوچني پوستتېخانې مخې ته ودراوه. بیا د ښار په اصلي کوڅه کې روانه شوم او د پولیسو د مرکز پر لور لاړم. د لارې په غاړه یو کوچنی چای‌ځای و، څو سپین‌ږیري د یوه مېز شاوخوا ناست وو.

د یوه دوکان مخې ته تېره شوم چې د غر ختلو او چکر وسایل یې خرڅول. د دوکان پر دروازه د «بند دی» لوحه ځوړنده وه او څراغونه یې هم مړه وو. د کبانو دوکان، قصابي او د ترکارۍ دوکان هم ول، خو هېڅ یو پکې ګڼه ګوڼه نه وه.
له ځان سره مې بیا وویل: اخر دا دوکانونه څنګه ګټه کوي، کله چې تل بند دی؟
له سړکه واوښتم، د ډبرو پر فرش شوې پلې لارې روانه شوم او د پولیسو مرکز ته ورسېدم.

دروازه مې وټکوله، خو بنده وه. په ګوتو ودرېدم او له مخکینۍ ښیښې مې دننه وکتل. اداره تیاره وه.
پورته شونډه مې وچیچله او له ځانه مې وپوښتل: ولې د پولیسو مرکز بند دی؟ دوی د ورځې کار نه لري؟

هماغه وخت چا زما له شا څخه غږ کړل او ویې ویل: په دې وخت کې دلته هېڅوک نه پیدا کېږي.

شا ته مې وکتل. یو سپین‌ږیری مې شاته ولاړ و چې خپل سپی یې د چکر لپاره بیرون راایستلی و. تور د لابرادور د نسل سپی یې د څراغ د ستنې ترڅنګ ولاړ و او متیازې یې کولې.

- څه مو وویل؟
سپین ږیری- دوی یوازې د شپې لخوا کار کوي.

سرې د شپېتو کالو شاوخوا ښکارېده. ډنګر و، مخ یې له ګونځو ډک و، لنډه سپینه ږیره یې لرله او شنې سترګې یې ډېرې تېزې ښکارېدې. پر سر یې پراخه خولۍ وه، په لاس کې یې د سپینو زرو لاستی لرونکې لکړه نیولې وه. شین ختبه کوټ، ورېن پتلون او د ورزش بوټان یې اغوستي وو. بې له دې چې ډېر فکر وکړم، یو څو خبرې مې ترې درک کړې. ښکاره وه چې ډېر سګریټ څکوي، ښه شراب خوښوي او د کتاب لوستلو پر وخت عینکې کاروي. داسې هم ښکارېده چې پخوا پوځی و او د فراشوټ بازانو په قطعه کې یې دنده ترسره کړې وه.

اوس هم د پلې قدم وهلو د اوږد مزل څخه کوم چې لاره یې د ساحل لاره وه نه د ځنګل دیخوا راغلې و. د ماښام ډوډۍ یې ساسیج خوړلی و او یوه برخه یې خپل سپي ته هم ورکړې وه. داسې معلومېده چې مېرمن یې تازه مړه شوې وي.

هغه په تنده لهجه وویل: نه پوهېږې چې خلکو ته داسې ځیر ځیر کتل بې‌ادبي ده اغلې؟
- بښنه غواړم.

خو بیا هم ومې نه شو کړی نظر ورڅخه واړوم، د هغه د ښي لاس د دوو ګوتو پر سر نسواري داغونه وو. پر مخ یې د شرابو له امله سره رګونه ښکاره وو. د عینکو نښه یې پر پوزه پاتې وه. د فراشوټ بازانو د قطعې نښان یې د کوټ په یخن کې لګېدلی و. او د سپي او د لکړې پر سرونو شګه نښتې وه. د ساسیج پاکټ یې له جیبه راوتلی و، او پر چپ مټ یې د غم تور پټۍ تړلې وه. کله کله مې له زړه هیله کوله چې کاش دا هر څه مې نه لیدل. ولې زه خلکو ته د عادي انسان په شان نه شم کتلای؟

پلار مې دې ورتیا ته ډالۍ ویله، خو زه کله کله فکر کوم دا یو لعنت دی. ځینې وخت داسې احساس کوم چې یوه ورځ به مې سر د دومره معلوماتو له لیدو له امله وچوي.

سپین‌ږیري بیا وویل: خپل وخت دلته په درېدو مه ضایع کوه لورې! په دې وخت کې دلته هېڅ پولیس نه پیدا کېږي. که غواړې کوم جرم راپور کړې، وروسته راشه.
- سمه ده، مننه.
هغه په شک راوکتل او ویې پوښتل: ته دلته د چکر لپاره راغلې یې کنه؟ خبریاله خو نه یې؟
په حیرانۍ مې وپوښتل: ولې مو فکر وکړ چې زه باید خبریاله اوسېږم؟

سپین ږیری- ځکه بیکاره خلک راځي او د دې ځای د پېښو په اړه دروغ لیکې او اوازې خپرې کوي.
- لکه څنګه اوازې؟ دلته څه پېښېږي؟
هغه خپل اوږې پورته واچول او ویې ویل: که د رښتیا هم له کوم پیښې څخه خبره نه یې، نو غوره به دا وي چې زه هم کوم څه درته ونه وایم.

بیا یې خپل سپي ته شپېلۍ ووهله او راته یې وویل: کله چې څوک په څه نه پوهېږي، نو موږ ته هم تاوان نه شي رسولی.

هغه بیا سپي ته شپېلۍ ووهله، خو سپی رانږدې نه شو.
سپین‌ږیري په غوسه ورته وویل: راشه دلته، تنبل سپیه.

خو سپی د څراغ د ستنې ترڅنګ راټول شوی و او له ستوني یې د وېرې غوندې نری غږ راوت. سپین‌ږیري بیا ورته وویل: ما درته وویل دلته راشه.

خو سپي بیا هم نری غږ وکړ. داسې ښکارېده لکه له کوم شي څخه چې سخت وېرېدلی وي.

سپین ږیری د خپل سپي خواته ورغی او ویې ویل: څه مرګ درباندی شوي؟

د سپي پړی یې ونیو او د پولیسو د دفتر خواته یې راکش کړ، خو چې دفتر ته نږدې شول، سپي بیا په لوړ غږ غپا پیل کړه. ودرېدم او د سپین ږیری او سپي کشمکش ته

مې سترګې ونیول. سپی خپلې پنجې په ځمکه کې ټینګولې او هېڅ یې نه غوښتل چې د پولیسو د دفتر خواته ورننوځي شي.

سپین ږیری په شا یو څپېړه ورکړه او په قهر یې وویل: دومره مې اعصاب مه خرابوه، احمقه!

کله چې یو څه نور هم د دفتر خواته ورننوځي شول نو سپي په زور د ګواښ لیدلو په انداز غپېدل شروع کړل. کله چې سپین ږیری په ډېر زحمت سپی زما تر څنګ راورسوه نو سپي ناڅاپه ماته غپېدل پیل کړه. حیرانه شوم، دا ولې ماته غپېږي؟

شونډې یې شاته تللې وې او تېره غاښونه یې راښکاره کړي وو. داسې ښکارېدل چې یا له ما وېرېږي او یا په ما شک لري. داسې احساس مې وکړ چې ګوندې هغه زما دننه داسې څه احساس کړي چې نه یې خوښېږي، یا ترې ډارېږي. شاته وګرځېدم، د پولیسو تشه ودانۍ ته مې وکتل او له ځان سره مې وویل: دلته څه شی دی چې دا سپی دومره ډارولې؟

له ډېرې خوارۍ وروسته سپین ږیری بالاخره خپل سپی د پولیسو د دفتر له مخې تېر کړ. همدا چې له دفتره واوښت، سپی هم آرام شو. بوډا شاته راوکتل او ویې ویل: خدای دې مل شه، ځوانې مېرمنې. هر کار چې په رګډ کوو کې لرې، ژر یې خلاص کړه او هر څومره چې ژر کولای شې له دې ښاره ووځه.

د دې خبرې وروسته وګرځېد، خپل د سپي پړی یې کش کړ او دواړه روان شول.
ما یو ځل بیا د پولیسو د دفتر د دروازې لاستی وښوراوه، خو لا هم بند و.
خپل د موټر خواته لاړم، په څوکۍ کښېناستم او د سپین ږیری د خبرو په اړه مې فکر کول پیل کړل: ولې په رګډ کوو کې د ورځې هېڅ پولیس کار نه کوي؟

ناڅاپه مې دا موضوع درک کړل چې زه د خپلو همکارانو په اړه په هېڅ نه پوهېږم. نه پوهېدم چې چېرته اوسېږي، چېرته ژوند کوي او کله چې دندی ته نه راځې نو په دې کوچني ښار کې څه کوي؟

د اداري څنګ کې د زنګ وهلو سره غرفه وه، د هغه په لیدو یو فکر مې ذهن ته راغې. له موټره ښکته شوم، د ټیلیفون کوټې دروازه مې خلاصه کړه او ټیلیفون مې راپورته کړه. خو ټیلفون د تل په شان کار نه کوو، حیرانه نه شوم، دا یو منحوس ښار و چې هې شئ پکې کار نه کوو، زما د ښه بخت څخه دا کوم عادی د زنګ وهلو غرفه نه وه دلته ښار کې موجود د ټول کسانو نمبرونه شتون درلود، په دی فکر چې شاید د هغه نمبر څنګ کې د هغه کسانو ادرس هم شاید وې کتابچه مې راواخیستل، او د "م" توري پسې په ګرځېدوم شوم.

له ځان سره مې وویل: په دومره کوچني ښار کې به څو مورفیان ژوند کوی؟
په لېست کې مې د مورفي نوم ولټاوه، خو پیدا مې نکړ. بیا مې د «پ» توري ته وکتل چې د پاټر نوم پیدا کړم، خو د پاټر په تخلص هم په ټول ښار کې د هېچا نوم نه و ثبت شوی.

ژوره ساه مې واخیسته، او د "ل" توری پاڼه مې خلاصه کړه، خو بیا هم لکه د نورو نومونو، په شان په ټول ښار کې د لوک په نوم هېڅوک نه اوسېدی. د ټیلیفون د کوټې راووتم او د خط استولو دفتر ته لاړم. د دروازې ترڅنګ ورقي کیخودل شوی وه یو ورقه مې راواخیستل او دا پیغام مې پرې ولیکه:

ښاغلې قومندان فلیپس صیب!

زه فکر کوم چې په رګډ کوو کې له یوه ډېر لوی خطر سره مخ یم. نه غواړم خپله دنده پرېږدم، نو مهرباني وکړئ خپله دلته راشئ. زه ستاسې مرستې او مشوری ته سخته اړتیا لرم. په احترام پولیس افسره کیرا هاډسون.

په بیړه مې د مرکزي دفتر آدرس هم پرې ولیکله او د پوستې له مسؤل څخه مې یو ټاپه واخیسته. هغه ورقه رانه واخیست او هغه کڅوړه کې یې واچاوه چې د ده تر شا په دېوال راځړېدلې وه. له پوسټ خاني ووتلم، خپل موټر ته وختم او روانه شوم.

لا د ورځې پیل و، نو پریکړه مې وکړه چې بېرته کلیسا ته ولاړه شم. غوښتل مې د ورځې په رڼا کې هغه تش قبر یو ځل بیا ښه وګورم.

شاید کوم مهمه نښه مې دشپې له سترګو پټ پاتې شوی وي. همدارنګه غوښتل مې داسې څه پیدا کړم چې ما د هغه وینو څښونکو موجوداتو تر ځایه ورسوی، البته که هغه څه چې کریستبې هال پرې بدله شوې وه، د رښتیا هم وینه څښونکی وې او کوم بل عجیب مخلوق نه وی.

له دې سره اراده مې درلود چې د شپې د ګزمې د پیل کېدو مخکې، د دې قضیې په اړه نور معلومات هم راټول کړم. زما په اند ډلګۍ مشر مورفي باید د تېرې شپې د پېښې پع بشپړ حقیقت خبر شوی واې. په تاو راتاو سړک مې موټر وچلاوه، له ښاره ووتم او د کلیسا لاره مې ونیوله. د هدیرې د دروازې مخې ته مې موټر ودرولو او ښکته شوم.

هوا ډېره سړه وه. دواړه لاسونه مې د کوټ جیبونو ته ننه ایستل. ګوتې مې د مقدسو اوبو په کوچنۍ بوتل او د سپینو زرو په صلیب ولګید، په زړه کې مې دعا وکړل چې بیا دومره ژر د هغو کارولو ته اړتیا پیدا نه کړم. کله چې د هدیرې دېوال ته ورنږدې شوم، هماغه ځای کې چې تېره شپه مې ټکر کړی و، سپینې نښې مې ولیدې.

د هدیرې زوړ اوسپنیز دروازه مې خلاصه کړه. د زنګ وهلو اوسپنو داسې غږ وکړ لکه څوک چې د ډېر درد څخه زګیروی کوی.

د قبرونو ترمنځ روانه شوم. که څه هم ورځ وه او هوا روښانه وه، خو بیا هم هدیره هماغسې وېرونکې ښکارېده.کله چې د هدیرې هغه لرې برخې ته ورسېدم، چې د ونو سیوری پرې غوړېدلي وو، دوه کسان مې ولیدل چې د هماغه قبر ترڅنګ ولاړ وو چې تېره شپه ما ور ټوپ کړې وه. ژر ټیټه شوم او د یوه قبر ډبرې شاته پټه شوم. له

هماغه ځایه مې هغوی ته کتل. یو یې پلار ټېلر و(د پرون شپې کشیش) خو بل سړی مې ښه نه شو پېژندلای.

ورو ورو له خپل پټ ځایه راووتلم او د بل قبر ډبرې شاته پټه شوم. له هغه ځایه مې ښه لیدل. چې ښه مې ورته وکتل، زړه مې ودرېد او خوله مې وچه شوه. پلار ټېلر له هماغه خولۍوال سړي سره خبرې کولې، هماغه سړی چې زه یې تعقیب کولم او زما د کوټې د دروازې تر شا یې د سپینو زرو صلیب کیخودلې وو. له ډبرې لږ مخکې ورټېټه شوم او هڅه مې وکړه چې د خولۍ تر سیوري لاندې د هغه مخ ووینم، خو هر څومره چې مې هڅه وکړه، د وریځو ډک اسمان او د ونو د سیوري له امله د هغه څېره راته ښکارېده نه شوه.

زه ترې دومره لرې وم چې د هغوی خبرې مې هم نه شو اورېدلې، یوازې مې لیدل چې خبرې کوي. خولۍوال سړي څو ځل تش قبر ته اشاره وکړه. څو دقیقې مې پټه پټه وڅارل. وروسته دواړو یو بل ته د خدای پاماني اشاره وکړه او پلار ټېلر روان شو. ما پام شو چې د تګ پر مهال لږ ګوډ تلو، خو تېره شپه خو ګوډ نه تلو؟ په دې خبره پوره ډاډه وم، ځکه ما خپله لیدلی و. تر خپلې وسې مې ځان د قبر د ډبرې شاته نور هم ټیټ کړ.

کشیش زما د پټ ځای له څنګ څخه تېر شو او د کلیسا پر لور روان شو. تر هغه وروسته مې بېرته خولۍوال سړي ته پام شو.هغه د قبر تر څنګ په ګونډو شو او د تش قبر شاوخوا خاوره یې په غور وکتل.بیا یې له جېبه یو پاکټ راوایسته او د قبر له غاړې یې لږه خاوره پکې واچوله.چې ورته مې کتل، زړه مې غوښتل ورو ورو ورنږدې شم، خولۍ یې له سره لرې کړم او معلومه کړم چې دا سړی څوک دی؟
خو بیا مې له ځانه سره وویل: که تر رسېدو مخکې هغه زه ولیدم بیا؟

ما یو ځل مخکې هم د هغه سره د مخامخ کېدلو تاوان لیدلی وو. نو پرېکړه مې وکړه چې همداسې انتظار وباسم، تر څو خپل کار خلاص کړي. بیا به یې په پټه تعقیب

کړم. په هر حال، هغه خو پوهېده چې زه چېرته اوسېږم، نو ښه به دا وه چې زه هم پوه شم چې هغه چېرته ځي.

ډېر انتظار مې ونه باسلو، هغه له تش قبره راپورته شو او د هديرې په منځ کې روان شو. ما د قبر د ډېرې له شا ورته کتل. هغه د کليسا مخې ته لاړ او زما له سترګو ورک شو. سمدستي پاڅېدم او د قبرونو ترمنځ په منډه روانه شوم. هڅه مې کوله چې له سترګو مې ورک نه شي. کله چې د کليسا مخې ته ورسېدم، ومې ليدل چې پر خپل بايسکل سپور دی او د هديرې د دروازې په لور روان دی. دروازې ته چې ورسېد، لږ مخکې ټيټ شو، دروازه يې خلاصه کړه او په مهارت سره پرې ووت او ولاړ.

ناڅاپه يو فکر مې ذهن ته راغې او بدن مې يخ شو. که هغه سړک ته وتلی وي، نو خامخا به زما د موټر له څنګ څخه تېر شوی وي. هغه به حتماً پوه شوی واې چې دا زما موټر دی. آخر په دې کوچني ښار کې د بل چا داسې زوړ، کوچنی او سور موټر دی پرته زما؟!

ورو ورو روانه شوم او د هديرې دېوال ته ورسېدم.له دېواله مې سر راويست او بهر مې وکتل. خپل موټر مې وليد چې لږ لرې، د سړک غاړې ته د بوټو تر څنګ ولاړ و. خو بايسکل سپور شاوخوا نه ښکارېده.له دروازې ووتم او د خپل موټر په لور روانه شوم. کله چې ډاډه شوم چې هغه نږدې نشته، په منډه موټر ته ورغلم. غوښتل مې ژر سپره شم او هغه تعقيب کړم، څو پوه شم چې چېرته ځي؟ موټر مې چالان کړ او سړک ته ووتم. سرعت مې ورکړ او د ښار په لور روانه شوم. سترګې مې ټول وخت سړک ته وې. دعا، دعا مې کوله چې د هغه بايسکل همدلته شاوخوا چيرته ووينم، خو داسې ښکارېده لکه هغه چې په هوا کې ورک شوی وي.

د هغه د پيدا کولو څخه نااميده شوم او د موټر په ښيښه کې مې شاته وکتل. چې د ډېر حيرت څخه مې بې اختياره پښه په بريک لاړل او موټر مې ودرو، هغه زما تر شا و ...

پر خپل بایسکل سپور و او زه یې تعقیب کولم، هېڅ مې باور نه راتله. موټر مې د سړک غاړې ته ودرولو، خو انجن مې بند نه کړ. د شاتنۍ ښیښي له لارې مې ورته کتل او انتظار مې کاوه چې رانږدې شي. خو هغه رانږدې نه شو. شاوخوا د څو مترو په واټن کې د سړک په منځ کې ودرېد.په غوسه او وارخطایۍ له موټره ښکته شوم، سوک مې کلک ونیو او په لوړ غږ مې ورته وویل: له ما څه غواړې؟

هغه هېڅ ځواب را نه کړ، یوازې پر خپل بایسکل ناست و او د خولۍ له سیوري لاندې یې راکتل. د ډېر غوسې څخه په ستمي کولو مې وویل: بس دی! ته یو ډارن او بې‌غیرته انسان یې. نور خپل له دې لوبو او ریشخند کارونو څخه لاس واخله.

د هغه د ځواب راکولو څخه چې نامیده شوم نو بیا بېرته خپل موټر ته وختم. ستېرنګ مې تاو کړ او په چټکۍ د هغه په لور تاو شوم، کله چې هغه ولیدل زه ورپسې روانه یم، د خپل د کوټ له جېبه یې یو سپین شی راوویست، پر بایسکل لږ ټیټ شو او هغه یې د سړک غاړې د بوټو په یوه ځانګه وځړاوه. بیا یې بایسکل ته زور ورکړ او په تېزۍ روان شو او هغه تنګې کوڅې ته ننوت چې دواړو غاړو ته یې کروندې او ډاګونه وو.

ما هم موټر هغې کوڅې ته برابر کړ، خو چې ورننوتم، پوه شوم کوڅه دومره تنګه ده چې موټر پکې نه ځاییږي. په غوسه مې په ستېرنګ سوک وواهه او په لوړ غږ مې چیغه کړه، په داسې حال کې چې هغه ورو ورو زما له سترګو ورکېده. بیا مې ښي لور ته وکتل، غوښتل مې وګورم چې هغه سپین شی څه و چې په ځانګه یې ځوړند کړی و؟

له موټره ښکته شوم او د بوټي خواته ورغلم. هغه د کاغذ یوه ټوټه په ځانګه پورې تړلې وه. د باد په چلېدو د کاغذ کونجونه ښورېدل.کاغذ مې راواخیست، خلاص مې کړ او ومې لوست:

"ښښه غوارم، پرون مې نیت نه و چې تا ته زیان ورسوم. لا ستر خطرونه په لاره دي، ځان ته پام کوه."

کاغذ ته مې چې بیا وکتل، نو پوه شوم چې هغه خولۍوال سړی له هماغه پیله خبر و چې زه په هدیره کې یم، هغه د لوی کاغذ یوه ټوټه شلولې وه او په هماغه کوچنۍ ټوټه یې راته دا پیغام لیکلی و. د کاغذ په یوه کونج کې د «ماري» کلمه ښکارېده. دا مانا یې لرله چې کاغذ د سېنټ ماري کلیسا له رسمي پاڼو څخه و. یوازینی وخت چې هغه دا پیغام لیکلی شو، هماغه وخت و چې له هدیرې راووت، خپل بایسکل یې واخیست او کلیسا ته لاړ.

که هماغلته یې دا پیغام لیکلی وي، نو معنا یې دا ده چې هغه پوهېده زه په هدیره کې یم. او هغه ته ګورم، نو ځکه هغه د سړک په کوم ځای کې ځان پټ کړی وي او انتظار یې ایستلی وي چې زه په خپل موټر تېر شم. تر څو هغه مې تعقیب کړی. هر څوک چې و، زه ډاډه وم چې د زیان رسولو نیت یې نه درلود. که یې غوښتل، ډېر فرصتونه یې لرل.

خو بیا هم یوه پوښتنه راسره وه: هغه څوک دی؟ او ولې داسې چلند کوی لکه زما پټ ساتونکی یا ساتندوی فرښته چې ده؟

کاغذ مې د پتلون جېب ته واچاوه، موټر ته وختم او د مېلمستون پر لور روانه شوم. کله چې د مېلمستون مخې ته ورسېدم، واوره ورېدل پیل شوي وو او د باد له چلېدو سره د واورې دانې په هوا کې تاوېدې. ژر خپلې کوټې ته ننوتم، پر تخت وغځېدم، کمپله مې تر سره راکش کړه او هڅه مې وکړه چې تر ماښام او د شپې د بلې دندې له پیل کیدو مخکې لږ خوب وکړم.

---

له اوو بجو مخکې د پولیسو دفتر ته ورسېدم. څومره وخت چې زه ویده وم، هغومره وخت کې واوره ورېدلې وه، حتا اوس هم په غټو غټو ذرو باندې ورېده او د

رګډ کوو تنګې کوڅې يې ټولې په واورو پوښلې وې، همدارنګه د ښار اصلي سړک هم چې زه هره ورځ پرې کار ته تلم د واور له امله سپین شوی و. څو ځله د موټر شاته ټايرونه په واوره وښوېدل. ډېر احتياط مې کاوه چې موټر کندې ته وانه وړي. کله چې د ادارې مخ ته ورسيدم نو په خوشحالۍ مې وخندل، ښه و چې دويم ځل مې ټکر ونکړ.

د سختې واورې له امله په بيړه د پوليسو دفتر ته ننوتم. ډلګۍ مشر مورفي، پاټر او لوک درې واړه د مخکينې مېز تر شا ناست وو. داسې معلومېده لکه زما انتظار يې چې کاوه. د مېز بلې غاړې ته ورغلم او لوک ته مې وکتل. هغه هم په خپلو شنو ځليدونکو سترګو راوکتل. وروستی ځل چې مې لوک ليدلی و، هغه وخت و چې زما د کوټې پر تخت ناست و او زما لاس يې نيولی وو. غوښتل مې پوهه شم چې هغه د هغې شپې په اړه څه احساس لري؟

لوک موسکۍ شو چې ما ژر خپلې سترګې ترې واړولې او بل لوري ته مې وکتل. ځينې وختونه ورته کتل راته اسانه نه وو. احساس مې کاوه چې زموږ ترمنځ يو څه شته، خو نه پوهېدم هغه څه دي؟ که رښتيا ووايم نو د لوک څېره مې خوښېده، خو يو بل احساس هم راسره و. يو داسې احساس چې تل يې راته ويل، له هغه څخه لږ فاصله وساته.

مورفي- اغلې پلټونکې، نن شپه مو طبعيت څنګه دی؟

پام مې شو چې هغه نور ماته په نوم غږ نه کوی، خپل د پوليسي دريشي او کمربند مې پر مېز کېښود او ومې ويل: يو څه بدن مې درد کوي، نور ښه يم.
پاټر خپل سګرټ بل کړ، زموږ خبرې يې پرې کړې او په ملنډو يې وويل: ستا له بدن څخه د هغه موټر بدن ډېر پر بد حال دې کوم چې تا پرون شپه ټکر کړی وو.

د لوک خواته مې وکتل، هغه هم ما ته سترګې نيولې وه، د پاټر خبرو ته مې کوم ارزښت ورنکړ او ډلګۍ مورفي ته مې وويل: نه پوهېږم لوک درته هر څه ويلي که نه،

خو پرون شپه په هديره کې يوه عجيبه پېښه وشوه.

ډلګۍ مشر مورفي خپل پايپ خولې ته يوړه، نبغ يې راوکتل او ويې ويل: غواړم ستا له خولې واورم چې پرون شپه څه پېښ شوي وو؟
- ستونزه دا ده چې که هر څه درته ووايم، نو داسې به ښکاره شې لکه لېونۍ شوې چې يم!
پاټر زما خبره پرې کړه او ويې ويل: لکه څه؟
- داسې څه چې تاسو به فکر وکړې چې ګواکې ما خپل عقل له لاسه ورکړی دی!
لوک- هر څه چې شوي، ورته ووايه. موږ ټول ستا ملګري يو.

د هغه په خبره مې د پاټر خواته وکتل. رښتيا که ووايم نو د لوک دا خبره چندان د باور وړ نه راته ښکاريده. د پاټر څخه مې سترګې واړولې، ډلګۍ مشر مورفي ته مې وکتل او د تېرې شپې کيسه مې ورته پيل کړل.

ـ کله چې قبر ته ښکته شوم، د تابوت د سر يوه تخته مې پورته کړه. لاندې مې د نوکانو او پنجو ژورې نښې وليدې.
پاټر سګرټ له خولې وايست، بل سګرټ يې بل کړ او ويې ويل: نو؟
ـ د هغه په ليدو يوازې يوه خبره مې ذهن ته راغله. پوهېږم چې باور کول يې سخت دي، خو زما په فکر کريسټې هال ژوندۍ خاورو ته سپارل شوې وه.

پاټر په ملنډو وخندل او ويې ويل: ژوندۍ خاورو ته سپارل شوې؟
د هغه پخندا د سګرټ لوګی يې له پزې راووت.
ډلګۍ مشر مورفي لاس پورته کړ او پاټر يې غلی کړ. بيا يې وويل: پرېږده، لومړی د پلټونکې هاډسون ټولې خبرې واورو، بيا به نظر ورکوو.
بيا يې ماته وکتل، په سر يې اشاره وکړه او ويې ويل: ښه نو ادامه ورکړه.

ـ ما د قبر په دېوالونو هم د پنجو نښې وليدې. دا نښې داسې ښکارېدې چې يو څوک له قبره راوتلی وي، نه دا چې قبر ته ننوتی وي. ما څو ځله په مخابره کې لوک ته غږ

وکړ، خو یا یې زما غږ نه اورېده او یا ېښځي مخابره یې کار نه کاوه، کله چې له قبره راووتلم، کریستېي هال د قبر تر څنګ ولاړه وه.

پاټر بیا زما خبره پرې کړه او ویې ویل: دا نو څه اپلاتي واې؟
مورفي په غوسه وویل: پاټر، غلی شه!

دا ځل رښتیا هم غوسه ښکارېده.بیا یې ماته وکتل او ویې ویل: ته ادامه ورکړه، پلټونکې.
ـ د هغې رنګ الوتی و، داسې ښکارېده لکه ناروغه چې وي. ټول بدن یې هم په خاورو او خټو ککړ و. له ما یې د خپلې مور پوښتنه کوله. ما ورته وویل چې که وکولای شم، مرسته به درسره وکړم. خو هغې یوازې یو څه ویل ... ویل یې: "زه وږې یم."

همدلته لږ غلې شوم او لوک ته مې وکتل. هغه لا هم راکتل. سترګې یې ډېرې ژورې او تېزې ښکارېدې.نه پوهېدم چې زما خبرې یې باور کړې که نه. غوښتل مې کیسه نوره هم ادامه ورکړم، خو دومره عجیبه وه چې حتی زما خپله هم په سختۍ باور پرې کېده.

د پرون شپې پېښه دومره عجیبه وه چې وېرېدم، د کار پیل کولو مخکې خلک مې د لیونۍ په نوم ونه شړي، په نظامي ښوونځي کې هم څو ځله په همدې ډول ستونزو کې راګیره شوې وم. لکه د هغه وخت په څېر، دا ځل هم ملامت زه نه وم، خو نه پوهېدم څنګه هغوی خپل په خبرو قانع کړم!

مورفي په بې‌صبرۍ وویل: نور هم وایه.
په سختۍ مې د خولې لاړې تېرې کړې او ومې ویل: بیا یې د بدن بدلول شروع شول.
پاټر په خندا وویل: بدل؟ مطلب دې څه دي د بدل څخه؟
مورفي په غوسه ورته وویل: پاټر! دا وروستی ځل دی چې درته وایم، یا خوله بنده وساته یا له اداری ووځه.

پاټر یو بل سګرټ ځانته ولګاوه، لاس په سینه کښېناست او په مسخره موسکا یې راوکتل. ما ځان د هغه د دې ډول ریشخندی نظر څخه ناګاره واچاوه او خپل خبرو ته مې دوام ورکړ: نجلۍ په چیغو او کړاو شوه، داسې ښکارېده لکه سخت درد چې لري. بیا مې یو ډېر وېرونکی غږ واورېد، لکه د غوښې د څېرېدو غږ. غاښونه یې اوږده شول.

سترګې مې پټې کړې نه مې غوښتل هغوی ته وګورم. په پټو سترګو مې وویل: بیا یې نیشونه راووتل.

د کوټې له یوه کونجه د چا ورو، ورو خندا مې واورېدل، سترګې مې نه وې خلاصې کړې، خو پوهېدم چې پاټر راباندې خاندي.
مورفي وپوښتل: بیا څه وشول؟
سترګې مې خلاصې کړې، نېغ مې ورته وکتل او ومې ویل: د خپل ځان د ژغورلو لپاره وتښتېدم. نه پوهېدم نور څه وکړم. بیا بیا مې په مخابره کې لوک ته غږ کاوه او مرسته مې غوښتله، خو هغه مې غږ نه اوریدی، نو پرېکړه مې وکړه چې د پولیسو موټر ته ځان ورسوم.

خو هغه بلا... یا هر څه چې وو... زما پسې راغله، خپل سر یې د موټر د مخ ښیښې سره داسې وواهه چې ښیښه ماته شوه. بیا مې موټر ورباندې برابر کړ، هغه د قبرستان له دېوال سره ولګېده. ورپسې ورغلم خو...

همدلته غلې شوم.
مورفي ټینګار وکړ:
— خو بیا څه؟
- وتښتېده ..

همدا چې دا خبره مې وکړه، پاټر له خندا شین شو.
خو ما د هغه خندا ته کومه توجه ونکړل او دوام مې ورکړ:

- هغه په داسې چټکۍ له ځمکې پورته ټوپ کړل چې باور پرې نه کېدي، ما غوښتل موټر واړوم او وتښتم، خو کله چې له کليسا لرې کېدم، هماغه وينې‌څښونکی بيا راباندې حمله وکړه. ډېر تېز او ډېر زورور و. په خپلو سوکونو يې د موټر پر بونټ داسې ګوزارونه کول، لکه د کاغذ نه چې جوړ شوی وي.

پاټر په مسخره موسکا وويل: که هغه نجلۍ دومره زوروره وه، نو ته څنګه ژوندۍ ورڅخه پاتې شوې؟

- ما له ځان سره يو صليب درلود. کله چې هغې غوښتل خپل په تېز غاښونو پر ما حمله واچوي، ما صليب د هغې خولې ته ور دننه کړ. داسې شوه لکه زهر يې چې خوړلي وي. د موټر پر بونټ ولوېده او بدن يې په ريږدو شو. له خولې يې ځګونه راووتل. هغه ځګونه چې د موټر پر بونټ توی شول، د موټر رنګ يې د تېزابو په شان وخوړ. بيا مخکې له دې چې زه پوهه شم څه وشول، وچاودېده او په ايرو بدله شوه. کله چې ډاډه شوم چې خطر ختم شوی، نو ورو ورو بې‌هوښه شوم. خو تر بې‌هوښۍ مخکې مې وروستی شی چې وليد، لوک و. هغه د موټر له ماتې ښيښې راته کتل.

ډلګۍ مشر مورفي وپوښتل: بيا؟
- بس، همدومره خبره وه ډلګۍ مشره!
بيا مې ژر د لوک خواته وکتل او ومې ويل: البته له هغې وروسته چې څه مې په ياد دي، هغه دا دي چې سبا سهار په خپله کوټه کې له خوبه راويښه شوم.

ډلګۍ مشر مورفي بې له دې چې څه ووايي، له خپل پايپ څخه يې يو کش واخيست او همداسې يې راته کتل. څو شېبې تېرې شوې، خو ماته داسې ښکارېدې لکه يو عمر چې تېرېږي. د هغه وروسته ډلګۍ مشر ورو وويل: نو همدا دې رسمي بيان دی افسرې!
- هو، ډلګۍ مشره.

زه په خپله پوهېدم چې زما هره خبره رښتيا وه.

هغه بیا وپوښتل: نه غواړې د خپلو خبرو کومه برخه بدله کړې؟
ما په ډاډه غږ وویل: نه، ډلګۍ مشره.

مورفي له خپل ځایه راپورته شو. لکه د تل په شان یې پتلون او د کور څپلۍ په پښو کړې وې. زما خواته راغی د تګ پر مهال یې ښۍ اړخ لږ کوږ کېده او بدن یې هم هماغې خوا ته کږېده، داسې ښکارېده لکه د ورون بند یې کومه ستونزه لري.

په خواشینۍ یې وویل: هاډسون، ستا په اړه ما ډېرې ښې خبرې اورېدلې وې، بلکې ډېرې زیاتې ښې. هو، ویل کېدل کله ناکله لږ سرسخته یې، خو ما دا هر څه منلي وو. ویل کېدل چې ته د پولیسو د اکاډمۍ تر ټولو تکړه زده‌کوونکې یې. همدا وجه وه چې د دې سختې دندې لپاره دې نوم وړاندیز شوی و. ما فکر کاوه ته به زموږ لپاره ډېره ګټوره اوسیږې او د رګډ کوو د دې مرموزو مرګونو په معلوملو کې به راسره مرسته وکړې.

- خو ...

ما غوښتل څه ووایم، خو مورفي مې خبره پرې کړه او په قهر باندې چغه کړل:
— خو ماته یې د یو تکړه افسري پر ځای یو بې‌تجربې خیال‌پاله افسره راستولې.

- خو ...

مورفي بیا خبرو ته پرېنښودم او په غوسه یې وویل: لا څلورویشت ساعته هم ستا د رسمي دندې څخه نه دي تېر شوي چې تا د جرم په دوو ځایونو کې ستونزې جوړې کړې. شواهد دې خراب کړې، او د خپلې بې‌احتیاطۍ او بې‌مسؤولیتۍ له امله دې زموږ د پولیسو یو موټر هم په بشپړه توګه تباه کړې. په بل عبارت، زموږ له دوو یوازینو پولیسو موټرانو څخه دې یو له منځه وړې، او اوس بیا د خپلې بې‌پروا چلند د پټولو لپاره داسې دروغ جوړوې چې خپله رښتینولي او اعتبار دې هم تر پوښتنې لاندې راوستی.

کوم خبری چې مې اورېدل هېڅ باور مې ورباندی نه راتلو، ما خو هېڅ کوم غلط کار نه و کړی. هره خبره چې مې کړې وه، رښتیا وه. بې له دې چې ځان ورته چمتو کړم، ومې پوښتل: ته خپله قبر ته ورغلی وې او په خپله دې پلټنه کړې وه؟
مورفي- نه. نن مې خپل د عدلي متخصص هلته لېږلی و چې هر څه په سمه توګه وڅېړي.

دا يې وويل او پاټر ته يې وکتل، چې ما په حيرانتيا وويل: څه؟ دا؟ دا دې استولې وو؟

دا ځل نو زما وار و چې په ريشخند وخاندم.
پاټر چې زما خندا وليده نو په تېز لهجه يې وويل: هو، زه کومه ستونزه لرې کلمبو؟ (کلمبو: اصل کامل نوم يې کريسټېف کلمب دې د امريکا قارې کشف کوونکي، ځکه چې هاډسون هر شئ کشف کوی نو پاټر ورته په ريشخند کلمبو وويل، خدای دې دا کلمبو ته هغه تاترينه او بترينه دوزخ ورکړی چې د ده له لاسه دا ټول نړۍ په غضب اخته ده، که دا منحوس امريکا هغه نه واې کشف کړی اوس به کراره کرارې واې.)

- که تا د رښتيا سم پلټلی وي، نو هغه څه به دې هم ليدلي وي چې ما ليدلي وو.
پاټر په تنده لهجه وويل: معلوم داره ده چې ومې ليدل، د تابوت مات شوی سرپوش مې پيدا کړ. البته هغه څه چې ترې پاتې وو، وروسته له دې چې تا ورباندې ټوپ وهلی و او مات کړی دې و.

- د نوکانو نښې څه؟
پاټر- هو، د نوکانو نښې هم وې، خو امکان لري د ګيدړې، مورک يا شغال وي، وروسته له هغه چې د نجلۍ جسد له قبره ايستل شوی و.
کوم څه چې مې اوريدل باور مې نه راتلو:
- ته د رښتيا دا خبره کوې که ټوکې کوی؟ اصلاً د قدمونو نښې څه شوې؟
پاټر وخندل او ويې ويل: رښتيا ووايم، وروسته له هغه ګډوډۍ چې تا د هنري بليک د جسد شاوخوا جوړه کړه، نو دا ځل مې ښه په توجه وکتل ډېر څه نه ښکارېدل.

خو چې ښه مې وکتل، یوازې ستا او د لوک د بوټانو نښې مې پیدا کړې. او د هغې خبرې په اړه چې وایي هغه نجلۍ، یا ستا په خبره وینېڅښونکې، ستا پسې شوې وه نو د هغې هېڅ نښه نه وه. یوازې ستا د قدمونو نښې وې.

- ښه نو د پولیسو د موټر خرابوالی څنګه ارزوې؟
پاټر- د موټر خرابوالی؟
- د موټر ماتې ښیښې یادوم، د هغه لپاره څه دلیل لرې؟
پاټر زما مخ ته راوکتل او ویې ویل: ستا د مخ حالت ته په کتو، داسې ښکاري چې ستا مخ د موټر پر ښیښې وهل شوی او ښیښه ماته شوې، د موټر پر بونټ چې هم کوم کربښې او خراشونه دي زما په نظر ستا د بې‌احتیاطه موټر چلولو له امله جوړ شوي. ځکه موټر دې د قبرستان له ډېرو، دېوالونو او د کټارو له څانګو سره ټکر کړې وو.

- د تېزابو داغونه څنګه؟ هغه له کومه شول؟
پاټر په شیطانه خندا وویل: تا خپله وویل چې موټر دې د قبرستان له دېوال سره ټکر کړی و. نو هماغه وخت د موټر بیټرۍ ماته شوې وه او تېزاب یې پر بونټ توی شوي دي.

په نامیدۍ مې وویل: باور مې نه راځي.
ډلګۍ مشر مورفي وویل: باور خو زموږ هم نه راځي، چې ته دې داسې بې منطق خبرې وکړې.
د لوک خواته مې مخ ورواړاوه او ومې ویل: ته هلته وې لوک، خامخا دې کوم څه لیدلي.
هغه راکتل، سترګې یې نور شنه رڼا نه کول نږدې خړې ښکارېدې. سر یې وخوځاوه او ویې ویل: بښنه غواړم هاډسون، خو ما یوازې دومره ولیدل چې ته په ډېر سرعت له کلیسا ووتې او بیا دې موټر ټکر کړ.

تقریباً په زاریو مې ورځخه وپوښتل: یعني تا هغه نجلۍ ونه لیده؟
لوک- ښښنه غوارم هاډسون خو نه، ما هېڅ نجلۍ ونه لیده. ما یوازې ولیدل چې تا په ډېر سرعت د پولیسو موټر روان کړ، د هغه په لیدو سمدستي ستا پسې په منډه شون.

د هغه پتلون ته مې وکتل او پوه شوم چې هغه دروغ وايي. کله چې پوه شوم هېڅوک زما خبره نه مني، نو د مورفي خواته مې وکتل او ومې ویل: نو اوس به څه کېږي؟

مورفی- بېرته به مرکزي قوماندانۍ ته ستنېږې. زما په اداره کې د دروغجن کس لپاره ځای نشته.

- خو ..

غوښتل مې څه ووایم، خو هغه زما خبره پرې کړه او ویې ویل: خپل د ښو سابقو غم مه کوه. زه هغوي ته نه وایم چې تا دلته څه ګلان کرلي، هغوي ته ووایم چې خپل خپل ښار دې یادېدي او د دې ځای سره هوا هم دربانده ښه نه لګېده، نو ځکه لاړې. زه دومره ظالم انسان نه یم چې تا د قومندان فیلیپس سره په جنګ وارېوم.

د هغه خبرې دومره راباندې بدې ولګېدې چې وینه مې په جوش راغله او سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. دوی هېڅ حق نه درلود چې داسې چلند راسره وکړي. لاسونه مې کلک موټ کړل، ژوره ساه مې واخیسته او په غوسه مې وویل:

- ستاسې خبرې راته د خندا وړ ښکاري، تاسې دومره نالایق یاست چې حتا نه شې کولای د کلوډو لوبه وکړي.(Cluedo کلوډو دا یوه معمایي لوبه ده کوم کې چې، یو کس وژل شوی دې، او لوبغاړي باید معلومه کړي چې قاتل څوک دی؟ د کومې وسلې په وسیله قتل تر سره شوی؟ او قتل په کومه کوټه کې شوی؟ لوبغاړي د کور په بېلابېلو ځایونو کې ګرځي، له یو بل څخه پوښتنې کوي، نښې راټولوي، ورو ورور شکمن کسان، وسلې او ځایونه له لېسته باسي. او قاتل پیدا کوي، په دې لوبه کې

ګټونکې هغه لوبغاړی دې چې تر ټولو مخکې درې سم نښې پیدا کړي او تر قاتل ورسیږي.)

- او نه هم کولای شې د دې وحشیانه قتلونو راز وموميې، په تېرو څو کلونو کې ډېر خلک ورک شوي، قبرونه سپړل شوي، له شلو څخه زیات وحشیانه قتلونه شوي او ډېر پولیس هم داسې ورک شوي چې هېڅ درک یې نه شته. اوس تاسې په دومره سپین سترګۍ زما مخې ته ولاړ یاست او راته وایئ چې زه خپل کار سم نه ترسره کوم؟!

پاټر یو ګام مخې ته راغی او ویې ویل: لږ صبر وکړه.
مورفي وویل: نه، پرېږده چې خپل خبرې خلاصې کړي. ځکه چې کله یې خبرې ختمې شي، باید له دې ځایه ووځي.
په غوسه مې وویل: ته ما ملامتوې چې د جرم ځای مې خراب کړی(د پاټر خواته مې اشاره وکړه) خو همدغه احمق ته دې اجازه ورکړې وه چې د اته کلن ماشوم د ټوټه ټوټه شوي جسد تر څنګ ودرېږي او سګرټ وڅکوي.

بیا مې مورفي ته له سره تر پښو وکتل او ومې ویل: او ته ... ته تر ټولو بې‌مسلکه ډلګۍ مشر یې چې ما تر اوسه لیدلی. ته یوازې ځان په کار بوخت ښیې، خو په اصل کې په غیر نظامي تنګ پتلون او د کور په څپلیو او پایپ په خوله، ټوله ورځ په اداره کې ګرځې. غواړې له مرکزي قوماندانۍ سره اړیکه ونیسې؟ ډېر ښه، ونیسه. ښایي ته لا تر اوسه نه یې خبر چې ستاسو په دې منحوس ښار کې هېڅ ټیلیفون کار نه کوي. په حقیقت کې دلته هېڅ شی سم کار نه کوي.

دوکانونه ډېر کم خلاص وي، کوڅې تشې پرتې وي، او له پولیسو سره هم یوازې د شپې خبرې کولی شې. زه نه پوهېږم ستاسې نظر څه دی، خو زما په نظر دا ښار یو خراب، منحوس او لعنتي ځای دی.

پاټر زما خبره پرې کړه او ویې ویل: ولې د ورځې کار ته راشو؟ کله چې زیاتره جرمونه د شپې کېږي؟ موږ یو ښه پولیس یو د جرم په وخت کار ته راځو.
په ریشخند مې وخندل او ومې ویل: ښه پولیس؟ له کومې ورځې چې زه دلته راغلې یم، تا یو ځل هم یو مسکلې کار نه دی کړی. که ستا په فکر ښه پولیس کار دا وي چې په دفتر کې کښېني او دومره سګرټ وڅکوي چې آخر مړ شي، نو هو، ته ډېر ښه پولیس یې!

غلې شوم چې ساه واخلم، خو ناڅاپه د شالخوا د یو چا غږ راغی:
— خبرې دې ختمې شوې افسرې!؟

ور واوښتم چې وګورم څوک دی؟ چې یو جګ او نری سړی د هغه دهلېز په سر کې ولاړ و چې زندان ته یې لاره تلله، په لیدو یې حیرانه شوم. ځکه هغه د ادارې له اصلي دروازې له لارې نه و راغلی زه په دې ښه پوهېدم، ځکه تېره شپه له پاټر سره ټولې ودانۍ ته ګرځېدلی وم او پوهېدم چې دا اداره بله دروازه نه لري. قد یې شاوخوا یو متر او درې نوي سانتي متره و، سپین او بر ویښتان یې له لنډ تندي شاته اړولي وو. داسې ښکارېده چې عمر به یې د پنځوسو کلونو په شاوخوا کې وي، خو لا هم پیاوړی او غښتلې معلومېدې پوستکی یې صاف او لږ لمرسوځېدلی و.

له څېرې ښکاریدل چې تازه له رخصتۍ راغلی. او رخصتي یې په داسې یو ځای کې تېره کړې چې هوا یې ګرمه وه. لاسونه یې قوي او عضلاتي وو. دواړه غټې ګوتې یې د پتلون په کمربند کې ننویستې وې. د پولیسو دریشي یې اغوستی و، او د اوږو پر سرونو یې د درېیو سپینو ستورو د نښانو له مخې پوه شوم چې لوړپوړی افسر دی. په خپل روښانو شنو سترګو یې راوکتل او ویې ویل: ما وپوښتل خبرې دې خلاصې شوې، افسرې!؟

- ه ... هو صاحب.

هغه په ارام خو سخت غږ وویل: نو راځه، ځان در وپېژنم. زه د دې ځای قوماندان رام(Rom) یم. دا اداره او د دې ځای ټول پولیس زما تر امر لاندې دي. که زما د افسرانو له کاره شکایت لرې نو مستقیم ماته یې ووایه.
بیا پرته له دې چې ده یوې شېبې لپاره هم راځخه سترګې واړوي زما خواته راغی. زما تر شا ودرېد او په ټیټ غږ یې وویل: خو یو شی ښه په ذهن کې وساته زما بیحد بد راځي چې یوه مغروره، تازه کاره پولیسه راشي او ماته وښیي چې خپله دنده څنګه ترسره کړم پوه شوې؟

سر مې پورته کړ، ورته مې وکتل او ومې ویل: هو، صاحب، پوه شوم.
رام- نو اوس مهربانې وکړه، خپل دریشي راواخله او له دې ځایه ووځه. او بیا هېڅکله دیخوا رانشې، سبا سهار به مرکزي قوماندانۍ ته ستنېږې او هلته به دې بل ځای ته ولېږي، باور وکړه کله چې درته وایم ستا په اړه راپور لېږم نو داسې راپور لېږم چې خوند درکړي، زه د مورفي په شان نرم سړی نه یم. اوس هم له سترګو مې ورکه شه.

داسې مې احساس کاوه لکه چا چې په خیټه باندې په لغته وهلی یم. خپل کوټ مې راواخیست، له مېز څخه راچاپېره شوم او له ادارې ووتم. د وتلو پر مهال مې ولیدل چې ټول حتی لوک هم راته ګوري.له ودانۍ ووتم هوا سړه وه او د واورې غټې، غټې دانې مې پر مخ، وېښتانو او اوږو رالوېدې. موټر ته وختم، دروازه مې په زوره وتړل او هغه اوښکې چې ټوله موده مې په اداره کې په زوره بندې کړې وې، نورې مې له کنټرول ووتل او له سترګو مې راوبهېدې.

خو د یو چا په ناڅاپه راتلو چې د موټر د ښیښې سره ودرید، له وېرې مې اوړی وپریدی لوک و. تور وېښتان یې د واورې له امله سپین ښکاره کېدل. د موټر په ښیښه یې ټک وواهه او غږ یې کړل: هاډسون!
نه مې غوښتل اوښکې مې وویني. په لاس مې خپل سترګې پاکې کړې او کړکۍ مې لږه خلاصه کړه او ومې ویل: څه غواړې؟

لوک- اوس غواړې څه وکړې؟
- کور ته ځم.
لوک- سمه ده، خو مخکې له دې چې ولاړه شې زه به مسافرخانې ته راشم او وبه دې وینم.
- زحمت مه باسه، زه به هلته نه یم.
هغه حیران شو.
— یعنې څه؟

- یعنې زه همدا اوس کور ته روانه یم. پوهېږې لوک؟ ما فکر کاوه چې موږ ملګري یو. حتی داسې مې ګومان کاوه چې زموږ ترمنځ څه ځانګړې اړیکه هم شته. مطلب مې دا دی چې ته تېره شپه زما ترڅنګ پاتې شوې وې.

هغه له سترګو واوره پاکه کړه او ویې ویل: موږ اوس هم ملګري یو هاډسون!
په غوسه مې ورته وویل: خو هلته داسې نه ښکارېدل.
لوک- نو ما باید څه ویلي وای؟
- تا باید رښتیا ویلي وای.
لوک- خو ما هم هماغه وویل.
مستقیم مې د هغه شنو سترګو ته وکتل او ومې ویل: ته دروغجن یې، لوک بیشاپ!
بیا مې کړکۍ وتړله او ومې ویل: خدای پامان.

پرته له دې چې بېرته شاته وګورم او هغه په واوره او یخه هوا کې ولاړ ووینم، پښه مې په اکسلټر ټینګه کېښوده او موټر مې روان کړ، تر څو د رګډ کوو د منحوس ښار څخه ووځم.

هغه تنګه او جګه لاره چې په واورو پوښلې وه، زما د کوچني موټر انجن یې سخت زوراوه. له ښار څخه ورو ورو لرې کېدم. زورور باد موټر ښوراوه او د ښیښې پاکوونکي په سختۍ واوره له مخکینۍ ښیښې پاکوله. د موټر بخاري مې تر پایه لوړه کړه، خو د یخنۍ مخه یې نه شوه نیولای. ان د موټر دننه هم زما د ساه بخار په

ورو ورو وربځو بدلېده او د مخکينۍ ښيښې پر سر کېناسته او د ښيښې پر مخ يې د دوړې او لوګي غوندې نرۍ پرده جوړه کړې وه، تر دې چې لاره مې په سختۍ ليدله.

مخ ته مې ځان لږ ورټيټ کړ او په غور مې سړک ته کتل، تر څو موټر له لارې ونه وځي او کومې کندې ته ونه لوېږي. پوهېدم که ځان اصلي سړک ته ورسوم، هغه سړک چې مالګه او شګه پرې شيندل شوې ده، نو ډېر امکان به وي چې بې له کومې پېښې خپل کور ته په هونشاير کې ورسېږم.

حتی که ټوله شپه هم موټر چلول راپاتې وای، بيا به مې هم دا کار کاوه. هرومرو بايد کور ته رسېدلې وای. ان د خپلو شيانو د اخيستو لپاره هم مسافرخانې ته ونه ګرځېدم. يو بل وخت په کراره هر کله چې مې خپل د حساب تصفيه کاوه نو همغه وخت به خپل د سامان راخيستلو پسی لاړه شم خو اوس نه. اوس مې يوازې غوښتل له رګډ کوو څخه څومره چې کېږي لرې شم. خو تر دې هم ډېر مې غوښتل له لوک څخه ځان لرې وساتم.

راته هېڅ مهمه نه وه چې بيا به يې ووينم که نه، ځکه په اداره کې يې چې زما سره کوم چلند وکړ او د هديرې د هغې شپې په اړه يې چې دروغ وويل، زما زړه يې رامات کړی و. زه ډاډه وم چې هغه نجلۍ يې ليدلې وه، پوره ډاډه وم.

که زما ملګری ټام له ما سره رګډ کوو ته راغلی وای، نو موږ به په ډېر لږ وخت کې د دې ښار راز حل کړی وای. هغه به زما په خبرې باور کړی وای او هېڅکله به يې زما خبری ته دروغ نه وای ويلې. ټام پوهېده چې يو ښه پوليس بايد څنګه وي. حتی زما بل همکار، پلټونکی جان مايلز، چې دومره ښه سابقه يې هم نه لرله، او څه ناڅه ټنبل هم و هغه هم به د رګډ کوو خراب حالت درک کړی وای. نو ولې ډلګۍ مشر مورفي او د هغه ډلې دا هر څه نه ليدل؟ که څه هم، پوهېدم چې هغوی هم په حقيقت خبر دي، خو د کوم دليل له امله يې ځانونه ناپوه اچولي وو؟

د لاس په شا مې د موټر ښیښه پاکه کړه، تر څو د سړک غاړې ته ولاړه لوحه ښه ووینم. کله چې موټر ورو ورو د لوحې خواته ورنږدې شو، نو زړه مې له خوښۍ ډک شو. پر لوحه لیکلي وو: تاسو له رګډ کوو څخه ووتلې، مهرباني وکړئ په احتیاط موټر وچلوئ.

داسې مې احساس کاوه لکه بېرته عادي نړۍ ته چې راګرځېدلې یم، هغې نړۍ ته چې موبایل پکې آنتن لري، راډیو کار کوي، دوکانونه خلاص دي، او نیمه شپه وینه څښونکې په هدیره کې ستاسو پسې نه کیږي چې وینه مو وڅښي، د خوښۍ احساس مې ان په هوا کې هم حس کولای شو.

یو لاس مې د موټر له سټیرینګ څخه پورته کړ او راډیو مې چالانه کړه. کله چې د شور او غژ،غژ غږونه مې واورېدل نو زړه مې راولوېد. خو لږ وروسته کله چې لوحې ته نور هم نږدې شوم، یو کمزوری غږ مې واورېد چې د شور تر منځ یې ځان ښکاره کاوه. داسې ښکارېده لکه د موسیقۍ غږ وي. د راډیو تڼۍ مې وځرخوله، مخ ته مې ځان ورټیټ کړ او په خوشحالۍ سره مې د اَډِل(Adele) غږ واورېد چې د(Someone Like You) سندره یې ویله.

په لوړ غږ مې وویل: ووایه، غواړم ستا غږ واورم.

د هغې غږ ډېر کمزوری و او د رادیو د شور ماشور تر منځ ورک و، خو هر څومره چې موټر مې د لوحې خواته نږدې کېده، د اډل غږ هم روښانه کېده. په هیله مې د راډیو تڼۍ وځرخوله، غوښتل مې چې روښانه سیګنال پیدا کړم. یوازې د یوې شېبې لپاره مې سترګې له سړکه واوښتې، خو هماغه یوه شېبه هم بس وه چې د سړک تور رنګه یخ ونه وینم، موټر شا خوا لومړی ښي لوري ته، بیا چپ لوري ته وښوېده. سټیرینګ مې کلک ونیو او چیغه مې کړه: نه!

د کوچني موټر کنټرول مې له لاسه ووت. موټر د واورې د یوې لویې غونډۍ خواته روان شو. د موټر بدنه د سړک غاړې له زوړ تېرې سره ولګېده او موټر ښي لوري ته

کوږ شو. یوه شېبه مې فکر وکړ چې موټر به چپه شي. د ځان د ټېنګ ساتلو لپاره مې لاسونه د موټر پر مخکینۍ تخته کېښودل. د موټر مخ په یوه کنده کې ننوت او شا ټایرونه له ځمکې پورته شول. مخ ته ټېټه شوې وم، سټېرینګ مې پر سینه فشار راوړو. د اډل غږ ورو ورو کم شو او بېرته د شور او غژ،غژ غږونه ډېر شول.

د موټر دروازه مې ټېله کړه. په خاپوړو له موټره بهر راووتم او پر واوره ولوېدم. پوزه، غوږونه او لاسونه مې د سختې یخنۍ له امله سوځېدل او بې حسه کېدل. لاسونه مې د واورې او سخت باد د مخنیوي لپاره د سترګو مخې ته ونیول. شاوخوا مې وکتل او هڅه مې وکړه پوهه شم چې چیرته یم. هغه لوحې راته ویل چې د رګډ کوو څخه د وتلو لپاره ډېر نږدې وم، خو اوس یې داسې احساس راکاوه لکه ملنډې چې راباندې وهي.

شا مې لوحې ته کړه او هغه لارې ته مې وکتل چې له هغې راغلې وم. څو میله وړاندې مې د ښار رپېدونکې رڼاګانې لیدلې. د کلیسا لوړې منارې د تیارې شپې په منځ کې داسې ښکارېدې لکه یو د بل سره تړل شوې ګوتې.لاسونه مې چې له یخنۍ بې حسه شوي وو، خولې ته مې نږدې کړل او پو مې کړل تر څو لږ ګرم شي. بیا وګرځېدم او خپل موټر ته مې وکتل چې نیم په کنده کې بند پاتې و. خپل وزن مې د موټر پر شا صندوق واچاوه، تر څو د موټر شا ټایرونه بېرته ځمکې ته راښکته کړم.

- خېر دې سم شه ...

دا مې په ناهیلۍ وویل، بیا مې د تیاره آسمان خواته مخ واړو او په لوړ غږ مې چغه کړه: زه یوازې غواړم له دې هېر شوي منحوس ښار څخه ووځم. آیا دا ډېره لویه غوښتنه ده؟

موټر د زانګو په شان پورته او ښکته کېده، خو هر څومره مې چې زور واهه، له کندې څخه نه راوت. څو دقیقې تېرې شوې، واوره لا ډېره شوه او تر پښو مې راورسېده. مجبوره وم پرېکړه وکړم چې څه وکړم. له ځان سره مې فکر وکړ. یا به په موټر کې

پاتې کېدم او هیله به مې لرله چې څوک راشي او مرسته راسره وکړي. خو په داسې شپه کې دا ډېر کم امکان درلود چې څوک له کوره ووځي. ژر به سړک هم د تګ راتګ وړ نه وای، نو د دې هیله هم کمه وه چې کوم مسافر مې پیدا کړي.

بله لاره دا وه چې په موټر کې پاتې شم او بخاري چالانه کړم، خو شک مې درلود چې بخاري به دومره زور ولري چې د دې یخنۍ مقابله وکړي. ښایي له ډېر یخه همدلته مړه شم. د موټر په صندوق کې نه کمپله وه او نه هم ګرمې جامې. په دې واورې سره به څو ساعتونو کې ټول موټر د واورې لاندې پټ شوی وای. هیڅ مې زړه نه غوښتل چې د خپل زوړ، د ۱۹۶۰ کال موټر دننه بند پاتې شم او د واورو لاندې ښخه شم.

ناڅاپه مې موبایل را په یاد شو. جیبونه مې وپلټل، موبایل مې راوویست او د شبکې نښه مې ورته وکتله.لا هم سره وه. موبایل مې پورته ونیو او هڅه مې وکړه چې آنتن پیدا کړي.

- خیر دې ... یوازې همدا یو ځل. له دومره بدبختیو وروسته، لږ تر لږه د همدې یو چانس خو مستحقه یم.

خو هر څومره چې مې موبایل تاو کړ، پورته او ښکته مې کړو هغه سره نښه بدله نه شوه. په ناهیلۍ مې موبایل ښکته کړ او د ښار خواته مې وکتل، که د کروندو او ځنګله له لارې تللې وای، تر ښار پورې به ډېر واټن نه و. د سړک له لارې هم بېرته تللی شوم، خو د سړک د ډېرو تاوونو او کږو وږو لارو له امله به لاره دوه برابره اوږده شوې واې.خو هېڅ مې زړه نه غوښتل بېرته هغه ښار ته ولاړه شم، حتی که ژوند مې هم پرې ترلی وای.

که بېرته تللې وای، معلومه نه وه چې څو ورځې به هلته بند پاتې شم، تر څو واوره ویلې شي، بیا خپل موټر له کندې راوباسم او بېرته یې سړک ته وخېژوم. له

مسافرخانې هم بېزاره شوې وم، او اوس چې له دندې هم شړل شوې وم، نور مې د بېرته تګ لپاره هېڅ دلیل نه درلود.

نه مې غوښتل د ادارې د هېڅ کوم کس سره مخامخ شم، په ځانګړي ډول له لوک سره. خو په سړک کې هم نه شوم پاتې کېدای، په دې یخه او کنګل هوا کې، او نه هم په داسې حال کې چې وینه څښونکي زما په لټه کې دي، لاسې ګروپ مې له موټره راواخیسته، د کوټ ګریوان مې پورته کړ او د کروندو له لارې د رګډ کوو په لور روانه شوم. د واورې او یخ باد څخه د ځان د ساتلو لپاره مې ځان لږ مخ ته ټیټ کړی و او په سختۍ مې قدمونه اخیستل.

واوره په ډېر زور اورېده. کله چې مې شاته وکتل او خپل موټر ته مې وکتل، په سختۍ مې د هغه سور رنګ ولید. واورې زما د پښو نښې هم پټې کړې وې. لږ وړاندې، ښي لوري ته مې یو ځنګل ولید. لاره مې هماغې خوا ته واړوله، په دې هیله چې د ونو تر منځ به له باد او واورې پناه ومومم. واوره او سخت باد مې پر بدن داسې لګېده لکه په قمچینه چې مې وهي، د باد زور هر لور ته خپور و.

د باد د زور تر منځ مې د چا د چیغو غږ واورېد. هغه لوري ته مې وکتل چې غږ ترې راتله، داسې مې ولیدل لکه څو سیورې چې مخ ته او شا ته خوځېږي. هڅه مې وکړه چې د چغو خواته لاړه شم، خو ډېر ژر مې خپله لاره ورکه کړه. شاوخوا مې وکتل او په لرې کې مې څو تورې نښې ولیدې. ګومان مې وکړ چې د ونو سیورې دي، نو همغه خوا ته روانه شوم. خو چې لږ ورنږدې شوم، پوهه شوم چې هغه سیورې د کوم موجود په شان دی نه د ونې په شان.

له ځان سره مې وویل: دا نو څه دي؟

لاسونه مې د سترګو د پاځه ونیول تر څو ښه په غور خپل مخ ته وکتلې شم، او پوه شم چې څه دي هغه سیورې؟ هره شېبه هغه سیورې رانږدې کېدل. لومړی مې فکر وکړ چې ښایي درې کسان وي، خو سمدستي پوه شوم چې داسې نه ده. هغوی په

دومره چټکۍ راروان وو چې هېڅ عادي انسان په داسې واوره او سختې هوا کې دومره تېزه منډه نه شو وهلی. زړه مې له وېرې ودرېد، کله چې پوه شوم هغه سیورې په رښتیا درې انسانان دي، خو روان نه دي، بلکې په نه باورېدونکې چټکۍ زما پر لور منډې وهي، داسې چې ښکاره کېدل لکه له ځمکې څو انچه پورته په هوا کې الوزی.

کله چې مې خطر درک کړ، نو په ټول زور مې منډه وهل پېل کړل، یوازینۍ هیله مې دا وه چې ځان ځنګل ته ورسوم او هلته پناه واخلم. د تیارو له امله مې منډه نوره هم ورو شوه، ځکه اوس واوره تر زنګنو رارسېدلې وه. شاته مې وکتل، هغه درې سیوري راته ډېر رانږدې شوي وو، دومره چې د هغوې د چټک حرکت له امله مې د باد شور هم اورېده. واوره یې تر پښو لاندې پورته کېده او هر لوري ته شړقېدله.

ناڅاپه مې پښه وښوېده او پر ځمکه ولوېدم. په چیغه مې وویل: نه! خدایه مه کوه!

په وارخطایۍ مې لاسونه پر واوره ولګول او بېرته پاڅېدم. ټول بدن مې لړزېده، خو د یخنۍ له امله نه، بلکې د سختې وېرې له کبله. داسې احساس مې کاوه چې هره شېبه به مې پښې بېوسه شي. د ډېر وېرې څخه تشناب ته مې سخته اړتیا پیدا شوې وه داسې چې ځان مې نه شو کنټرولولای. نه پوهېدم کوم لوري ته منډه کړم، یوازې په لړزېدلو او ګنګس، ګنګس ګامونو ځان مې مخکې بېوه. له وېرې مې اوښکې پر مخ رابهېدې.

ژوره ساه مې واخیسته یخه هوا مې سږو ته ښکته کړه، تر څو ځان لږ ارامه کړم بیا مې شاته وکتل. درې واړه وینې‌څښوونکي په ډېر تېز رفتار زما په لور را روان وو. د هغوی سپین غاښونه په تیاره کې د چړو غوندې ځلېدل. په لوړ غږ مې چیغه کړه. هماغه شېبه، یو یې زما چپ لوري ته او بل یې ښي لوري ته راټوپ کړل او زه یې په منځ کې راګیره کړم.

چیغه مې کړه او ومې ویل: ماته مه رانږدې کېږئ!
خو هغوي پر ما حلقه وهلې وه او زما شاوخوا تاوېدل، کله مخکې او کله شاته راتلل، لکه خپل ښکار چې له هرې خوا څېرې. درېیم وینې‌څښوونکی په چټکۍ راودانګل. سرې سترګې یې د شپې په تیاره کې ځلېدل او لاړې یې له خولې روانې وې. د یو حیوان په شان یې ستمي وکړ او خپل تېرې پنجې یې زما پر لور راکش کړل. پنجې یې زما د مخ څخه په څو ګوتو واټن کې تېرې شوې.

ما ژر ځان شاته وغورځاوه او پر واورو ولوېدم. سر مې پورته کړ. کله چې مې د هغه جامو ته وکتل،نو زړه مې نږدې و چې ودرېږي. هغه زړې، شلېدلې او خیرنې جامې اغوستې وې چې د پولیسو دریشي ته ورته وې. لا مې وخت نه و موندلی چې پوه شم څه روان دي، چې هغه وینې‌څښوونکی ناڅاپه هوا ته ټوپ کړ، په هوا کې یې څرخ ووهه، بیا پر ځمکه راولوېد او په زور زما پر لور راودانګل.

هغه د دې لځایه چې پر ځمکه روان شي، د ځمکې له سطحې لږ پورته لکه په هوا کې چې الوتنه کوله. پوهه شوم چې نور نه د تېښتې لاره شته او نه هم د پټېدو ځای. نو لاسونه مې پر مخ کېښودل او له زړه مې دعا وکړل چې که مرګ راځي، نو لږ تر لږه ژر دې راشي او بې درد مرګ دې راشې. د وینې‌څښوونکي د چیغې غږ مې واورېد چې له تیارو څخه رانږدې کېده. سترګې مې پټې کړې او د خپل مرګ انتظار مې کاوه خو ناڅاپه د هغوي په چغو کې یو بل غږ هم پورته شو.

دومره زورور غږ و چې نږدی و غوږونه مې کاڼه کړې، د یو خطرناک تندر په شان غږ و داسې تندر چې ما خپل په ټول عمر کې نه وه اورېدلې.

په حیرانتیا مې چیغه کړه: دا نو د څه شي غږ و؟

سمدستي مې سترګې خلاصې کړې. یوازې مې دومره ولیدل چې یو وزر لرونکی موجود زما له مخې پورته شو، خپلې پنجې یې وغځولې او هغه وینې‌څښوونکی یې ونیوه چې پر ما یې د برید کولو هڅه کوله.

له واورو مې ځان را وایست او پورته مې وکتل، غوږونو مې ووینم چې هغه وزر لرونکی موجود څه و، خو هغه دومره په تېزۍ او چالاکۍ الوتنه کوله چې یوازې د تیارو سیورو په څېر ښکارېده.هغه وینې‌څښوونکی چې د پولیسو یونیفورم یې اغوستی و، زما د سر له پاسه په هوا کې چیغې وهلې.

هڅه یې کوله له هغه شي سره مقابله وکړي چې نیولی یې و. د واورو د راتلو د مخنیوي لپاره مې لاسونه د سترګو مخې ته ونیول او پوه شوم چې هغه وزر لرونکی مخلوق، هر څه چې و، له ملا پورته بربنډ و.

پوستکی یې د شاوخوا واورې په شان تک سپین و. ویښتان یې تور وو، بالکل د هغو تورو وزرو په شان چې له شا یې راوتلي وو.د هغه د حرکت سرعت دومره زیات و چې ما په سمه توګه لیدلی نه شو. نه پوهېدم چې دا موجود زما ژغورونکی دی او که خپله زما لپاره کومه بله نقشه لري؟ له همدې امله مې مخ واړاوه او په تېښته شوم.

زړه مې د مرغې په شان په سینه کې درزېدي. پښه مې وښوېده، ولوېدم، بېرته پاڅېدم، بیا وښوېدم. دا حالت دومره تکرار شو چې ستړې شوم. له اوږې مې شاته وکتل، نه مې غوښتل هغه دوه نور وینې‌څښوونکي له سترګو ورک کړم او ناڅاپه د هغوي د برید سره مخ شم. سترګې مې پر هغه وینې‌څښوونکي ولګېدې چې د پولیسو یونیفورم یې اغوستی و. ملا یې شاته کړه کړې وه او لاسونه یې خلاص کړي وو، داسې ښکارېده لکه هغه وزر لرونکي موجود چې انرژي اخیستې وي.

له هغو دوو نورو وینې‌څښوونکو څخه یوه ناڅاپه یوه ډېره زوروره او وېرونکې چیغه وکړه او زما پسې را روان شو. ما هم په زوره چیغه کړه او ومې ویل: ماته مه رانږدې کېږه.

شاته، شاته تللم چې پښه مې وښوېده او پر شا په واورو کې ولوېدم. له سختې وېرې مې ساه بنده شوه. لاسونه مې پر غوږونو کېښودل او سترګې مې خلاصې کړې

چې ووینم هغه وینېځښوونکی څومره رانږدې شوی دی. خو نظر مې پر هغه تور وزر لرونکي موجود ولګېدې. هغه د پولیسو یونیفورم لرونکي وینېځښوونکي د ستونی څخه ونیو او غاړه یې ورته څېرې کړه، د هغه وینه زما شاوخوا پر واورو وشیندل شوه او د واورې پر سپینه پاڼه یې سرې کرښې جوړې کړې.

وروسته زما ژغورونکی، که رښتیا هم ژغورونکی و، د لنډې الوتنې په وسیله پورته شو. او هغه دویم وینېځښوونکی چې زما پر لور راروانه و ونیوه او لکه د ټوکرانو څخه د جوړ نانځکې په شان یې هوا ته وغورځوله. دا وینه ځښونکې یوه ښځه وه. ځکه چې پر واورو پرته وم، نو ښه مې لیدلای شول چې ګلداره جامې یې اغوستې وې او روښانه نسواري سور رنګ ویښتان یې په هوا کې خپره شوي وو.

ښي لوري ته مې د یوې چیغې غږ واورید، داسې چیغه چې زړه مې خولې ته راغی. دا درېیم وینېځښوونکي و، غوښتل یې خپل بخت وازمويي او زما پر لور منډه یې راخیستې وه. مخ مې وروااړاوه او هڅه مې وکړه وتښتم، خو هغه له ما ډېر تېز و په یوه شېبه کې د هغه ګرمه ساه مې خپل پر غاړه احساس کړه، او د هغه سره سم د هغه تېزو پنجو په شان لاسونو زما اوږه ونیوله او زه یې په زوره هلته موجود نږدې ونې باندې ووهلم. لا د هغه ټک څخه په خود راغلې نه وم چې وینه ځښونکې یو ځل بیا خپل پنجې زما په اوږه کې ښخې کړل او د ونې څخه په پورته تلو شو او زه یې له ځان سره پورته کړم.

کله چې مې ولیدل ځمکه مې د پښو لاندې په ډېرې چټکۍ ورکېږي نو زړه مې تاو شو او د لیونیانو په شان لغتې وهل مې پیل کړل تر څو ځان د هغه له پنجو وژغورم، خو وینېځښوونکي زه په خپلو پنجو کې کلکه نیولې وم، څو شېبې وروسته د ونې اخرې سر ته پورته شو. چپ او ښي لوري ته مې وکتل او پوهه شوم چې هغه د خپلو پنجو په وسیله زما کورتۍ نیولې او زه یې ځوړنده ساتلی یم. چیغه مې کړه: لاس دې لرې کړه لعنتي، پرې مې ږده.

سر مې پورته کړ او د هغه مخ ته مې وکتل. سپین مخ یې عجیب بېه درلوده، داسې ښکارېده لکه د یو دایمي درد سره چې مخ وي. د نورو په شان د ده هم سرې سترګې وې داسې لکه د هغه بدشکله سر دننه مغز یې په اور کې سوځي. لوړ تندی یې داسې ښکارېده لکه د سترګو له پاسه ایښودل شوی طاق. پوزه یې د حیوان د پوزې په شان وه او خوله یې د خلاص شوي ټپ غوندې ښکاره کېده. غوښې لرونکي شونډې یې شاته تللي وې او د وینې ډک ورۍ او تېره غاښونه یې ښکاره وه.

هغه زه لا پورته کش کړم چې چیغه مې کړه. ناڅاپه مې مخې ته یو تور او سپین شی ولید چې په هوا کې الوتنه کوله. هغه وزر لرونکي موجود ښځینه وینېڅښوونکی له منځه دوه ټوټې کړل او هره ټوټه یې یوې خواته وغورځوله. چې ما چیغه کړه: پرې مې ږده.

په وحشت سره مې لغتې وهلې او ځان مې خلاصول غوښتل. چې هغه وزر لرونکي موجود زما چیغه واورېده، زموږ پر لور یې الوتنه وکړه. بیا یو ځل د تندر په شان زورور غږ د شپې چوپتیا ماته کړه. هغه په یوه ټوپ ځان زموږ سر ته راورسو. د هغه د ځلېدونکي بدن له امله راته سخته وه چې په ښه توګه یې مخ ووینم چې څوک یا څه شی دی؟ کله چې هغه موجود پر هغه وینېڅښوونکي برید وکړ چې زه یې نیولی وم، د وینېڅښوونکي پنجې زما په کورتۍ او غوښه کې لا ډېرې ښخې شوې.

درد یې دومره سخت و چې زغمل یې ناشوني وو، لاس مې جیب ته کړ. ګوتې مې له هغه مقدس د اوبو بوتل سره ولګېد کوم چې زړې ښځې د سهار د ډوډۍ پر وخت راکړی و. په درد سره مې د بوتل سر خلاص کړ. ځان مې وګرځاوه او لږ مقدسه اوبه مې د وینېڅښوونکي پر پنجو وشیندلې. هماغه شېبه د هغه غوښه په جوشېدو او پړسېدو پیل کړه او له سپین رنګه بدن څخه یې لوګی پورته شو.

وینېڅښوونکي د درد له امله یوه لوړه چیغه کړه، او زه یې خوشې کړم، همدا چې خوشې کړم نو د ونې له سر څخه په ډېر چټکې د ځمکې خواته په راوغورځېدو شوم. د باد د شور په غږ کې چې د شپېلۍ وهلو په شان زما په غوږونو کې انګازې

کول، د هغه وینېڅښوونکی چغه مې هم واورېده چې هغه وزر لرونکي موجود له منځه دوه ټوټې کړل.

لاندې هغه واورېنې ځمکه ته مې وکتل چې په چټکۍ زما خواته رانږدې کېده. په وېره مې چیغه کړه: مرسته وکړه.

سترګې مې پټې کړې او په هغه شپه د دویم ځل لپاره مې دعا وکړه چې مرګ مې ژر او بې له درده وي. خو ناڅاپه مې احساس کړه چې له ځمکې څخه لرې کېږم او پورته روانه یم. یوه سترګه مې خلاصه کړه، شاوخوا مې وکتل او پوهه شوم چې د هماغه وزر لرونکې موجود د منګو تر منځ یم چې زه یې د وینېڅښوونکو له لاسه ژغورلی وم. مخ مې د هغه له لوڅې سینې سره نښتی و. د هغه سینه د شپې د یخې هوا په شان سړه وه.

پورته مې وکتل او کوښښ مې وکړ چې مخ یې ووینم، خو هغه خپل وزرونه داسې تاو کړې وه چې مخ ته یې سیوری جوړ کړی و او څېره یې نه ښکارېده. په یو سخت او ژور غږ چې بیحد ډېر درونډ و وویل: ځان کلکه ونیسه.

د هغه د قوي او عضلاتي منګو تر منځ بنده وم او په ډېر سرعت د شپې په اسمان کې الوتو او د رګډ کوو پر لور روان وو. لاندې مې وکتل ځمکه او ونې په واورو پوښل شوې وه، کله چې موږ ترې تېرېدو، نو د باد د فشار له امله یې شور کاوه. ښي لورې ته مې وکتل او په نااميدۍ مې هڅه وکړه چې د هغه مخ ووینم. وزرونه یې شلېدلي او ټیي شوي وو او د شپې په یخه هوا کې د اوبو د څپو په شان خوځېدل.

هغه په ډېر سرعت د شپې په اسمان کې الوتنه کوله، دومره چې زما ویښتان پر مخ باندې مې لکه د څپېړو په شان وهل کیدل. د وېرې او د ژوندي پاتې کېدو په هڅه مې د هغه لاسونه ونیول کوم چې زما پر ملا راچاپېر کړې وه. خو هغه لاسونه نه وو ... نه، په حقیقت کې هغه اوږدې او زوروړې پنجې وې. هره ګوته یې د تورې د تیغ په اندازه اوږده وه.

د باد د شور تر منځ مې وویل: ما چېرته وړې؟

خو د دې پر ځای چې زما پوښتنې ته کوم ځواب راکړي، ناڅاپه په ډېر سرعت د ځمکې پر لور راښکته شو، زړه مې تاو شو او سر مې وګرځېد. بیا هماغه د تندر په شان غږ مې غوږونو کې انګازه وکړل او وروسته هر څه زما د سترګو مخې ته تیاره او ګډوډ شول. او بې هوښه شوم ..

***

سترګې مې خلاصې کړې. څو شېبې وخت یې ونیو چې پوه شم زه د هلال میاشتې په مسافرخانه کې پر خپلې بسترې پرته یم. د مېز څراغ بل و او کوټه یې په تودې نارنجي رنګ رڼا روښانه کړې وه. نه پوهېدم څومره وخت بې‌هوښه وم. اوږې مې درد کاوه

خپل بدن مې لمس کړ او را په یاد شول چې وینې‌ځښوونکي خپلې پنجې زما په اوږه کې ښخې کړې وې. دا هم را په یاد شول چې هغه وزر لرونکي موجود زه ژغورلې وم او له ځان سره یې اسمان ته یووړم. کله چې مې دا ټول خبرې را په یاد شول نو پوه شوم چې د کوټې په یوه تیاره کونج کې یو څوک ناست دي.

- هلته څوک دی؟

د ډېر چیغو وهلو له امله مې ستونی خوږ شوی و. هغه سیوری له خپل ځایه پورته شو، د رڼا خواته راغی او ویې ویل: زه یم.

کله چې مې لوک ولید چې د کوټې له تیاره کونجه زما پر لور را روان دې، نو په غوسه مې وویل: ته دلته څه غواړې؟

لا هم د پولیسو په اداره کې د هغه له چلند څخه پرېشانه او غوسه وم.
هغه رانږدې شو او ویې ویل: یوازې راغلی وم چې وګورم حالت دې ښه دی که نه؟
بېرته خپل په ځای کې څملېدم، شا مې ورته واړوله او ومې ویل: ښه، اوس چې دې ولیدل ښه یم، نو تللی شې. زه له تا سره هېڅ خبرې نه لرم.
لوک- فکر مې کاوه چې ته به ښار پرېږدې او لاړه به شې.

په داسې حال کې چې لا مې شا ورته اړولې وه ومې ویل: یو څه پېښ شول او ونه توانېدم چې لاړه شم، په هر حال ته څنګه پوه شوې چې زه لا هم دلته یم او نه یم تللې؟
لوک- له دې ځایه تېرېدم، ومې لیدل چې ستا د کوټې څراغ بل دی، نو فکر مې وکړ چې ...
مخ مې ورواړاوه او ژر مې وپوښتل: څنګه دننه راغلې؟
لوک- د کوټې دروازه دې خلاصه وه.

- ښه، که نور کار نه لرې، نو تللی شې او دروازه هم د ځان پسې وتړه.
لوک راوکتل او ویې ویل: پر تا څه شوي دي؟
په خپل ځای کېناستم او په غوسه مې وویل: پر ما څه شوي دي؟ دا راته ووایه چې پر تا څه شوی چې په اداره کې دې دروغ وویل هان؟ که تا رښتیا ویلې وای نو اوس به زه د دې ستونزو سره نه وای مخامخ شوی.

لوک- څنګه رښتیا؟
- تا وویل چې هېڅ شئ دې نه دي لیدلي. تا وویل چې یوازې دې لیدلي چې زه د پولیسو په موټر کې په تېزۍ روانه یم او تا هم زما پسې منډه کړې تر دې چې ما ټکر وکړ.
هغه په ځېر نظر راوکتل او ویې ویل: هو، سمه ده ما همدا وویل.
- خو تا هغه شپه اصلاً زما پسې منډه نه وه وهلې لوک، کله چې ټکر مې وکړ، ته سم

زما د سر له پاسه ولاړ وې. دا ښيي چې تا بايد هغه وينې‌څښوونکې نجلۍ ليدلې وای.

هغه د نه منلو په ډول سر وخوځاوه.چې ما ژر ورته يادونه وکړه او ومې ويل: هغه شپه باران ورېده لوک. ټول ځای له ختې او لمدې خاورې څخه ډک و. که رښتيا هم لکه څنګه چې ته وايې په هغه لاره کې دې زما پسې منډه وهلې وای، نو د پتلون لاندې برخه دې بايد حتماً په ختې لړل شوی وای.

سترګې مې ښکته کړې د هغه د پتلون پايسو ته مې وکتل او ومې ويل: وينې؟ حتی د ختې يوه نښه هم پرې نشته.
هغه ژر وويل: دا بل پتلون دی.
په غوسه مې وويل: دروغجن، دروغ مه وايه. همدا هغه پتلون دی چې هغه شپه دې په هديره کې اغوستی و.
هغه حيران شو او ويې پوښتل: ته څنګه پوهه شوې؟

د هغه د پتلون ښې لورې ته مې اشاره وکړه او ومې ويل: د هګۍ او کيچپ له لارې!
په ګنګس انداز يې وويل: څه؟
- هغه شپه د پوليسو په موټر کې مې درته وويل چې پوهېږم د ماښام په ډوډۍ کېدې هګۍ او سنډويچ خوړلی دې، ځکه هګۍ او کيچپ دې پر نيکټايي او پتلون توی شوي وو. هغه داغونه اوس هم ستا په پتلون شته مطلب دا همغه پتلون دی، خو ستا د پتلون په ښکته برخه کې د ختې هېڅ نښه نه وينم.

هغه راوکتل، بيا يې سر ښکته کړ او داغونو ته يې وکتل. وروسته يې بيا سترګې راباندې ولګولې او ويې ويل: هېڅ شی ستا له سترګو پټ نه پاتې کېږي، کنه هاډسون؟

يوه شېبه مې فکر وکړ بيا مې وويل: ښايي ځينې شيان پټ پاتې شي.
لوک- مطلب دې څه دی؟

- مطلب دا چې که تا هغه شپه په هغه سړک کې زما پسې منډه نه يې وهلې، نو بيا څنګه دومره ژر دې ځان تر ما راورسولو؟ دا هغه څه دي چې زه پرې نه پوهېږم.
هغه خپل په شنو سترګو راته ځېر شو او ويې ويل: هاډسون، نور نه شم کولای چې دروغ درته ووايم.

د دې خبرې سره سم خپل کورتۍ وويستل، د کميس تڼۍ يې خلاصې کړې او کميس يې هم وباسلو د هغه په دې کار ما لاسونه پورته کړل او ومې ويل: بس دې لوک، ګومان کوم ما د حده ډېر خبرې وکړل ضرورت نشته ته خپل کالې وباسي، زما مطلب دا نه وو.

هغه په ډېر جدي او ژور نظر راوکتل. داسې احساس مې کاوه چې د هغه نظر زما د وجود تر تل پورې رسېږي.

لوک- نه، هاډسون ته لا تر اوسه په اصل خبره نه يې پوهه شوې.
په داسې حال کې چې هڅه مې کوله د هغه لوڅ بدن ته ونه ګورم، ومې پوښتل: په څه نه يم پوه شوې؟
لوک ماته شا کړل او ويې ويل: په دې.

د هغه پراخو اوږو ته مې وکتل. د هغه د سپين او رنګ تښتېدلي پوستکي لاندې عضلې ريپېدې. د شا عضلې يې وخوځېدې او وغځېدې تر دې چې له ملا او اوږو څخه يې تور رنګه د هډوکو په شان يو څه راوتل پيل شول. لوک د سخت درد له امله مخې ته کوږ شوی و.

هغه تور هډوکي نور هم د هغه له شا څخه راووت. بيا د هغو تر منځ نرۍ، څرمن‌ته ورته پرده پيدا شوه. هماغه وخت پوه شوم چې لوک وزرونه را ايستلي دی. وزرونه يې ماته هغه وخت راپه ياد کړ چې کوچنۍ وم او پلار مې راته په يو انځوريز کتاب کې د پټروډاکټيل(Pterodactyl) ډايناسور انځور راښودلی و.(پټروډاکټيل ۱۵۰ ميليونه کال مخکې په ځمکه ژوند کاوه او دا کامل ډايناسور نه دی دا يو خزنده دی،

خو ځکه چې د ډایناسورانو وخت کې ژوند کاوه نو ډیناسور ورته ویل کیږي کنه دا الوتنه کوی او د باز او مرغي په شان وزرې لرې)

هر وزر یې د هډوکي اوږه او لاس درلود چې نږدې یونیم متر اوږد و. د هغه هډوکین لاس لاندې یوه نرۍ، شفافه او انعطاف منونکې پرده غځېدلې وه. د هر لاس په پای کې مړوند او درې هډوکین ګوتې وې. لاسونه مې پر خوله کېښودل او په حیرانتیا مې لوک ته کتل، چې له سره تر پښو لړزېده.

کله چې د هغه بدلون بشپړ شو، لوی تور وزرونه یې دواړو خواوو ته وغځېدل.
لاسونه یې د بدن دواړو غاړو ته ځوړند وو. مخ یې راواړاوه، راوکتل یې او په ارام غږ یې وویل: خیر دې زما څخه مه وېرېږه.
د حیرت څخه په ډک غږ مې وویل: واو ...
لوک ورو وخندل او ویې ویل: بس همدا؟

کله چې یې خبرې کولې، پام مې شو چې دواړه مخکیني غاښونه یې په اوږدو او تېرو نیشونو بدل شوي دي. په حیرانتیا مې ورو وویل: نو څه دې غوښتل چې وې وایم؟

که څه هم باید له هغه موجوده وېرېدلې وای کوم چې زما مخې ته ولاړ و، خو زه نه وېرېدم ځکه هغه لوک وو! سترګې یې تر پخوا لا ډېرې شنې شوې وې. پوستکی یې د مرمر د ډبرې په شان سپین او نرم و. شونډې یې د وینې په شان سرې او تیاره ښکارېدې، او تور ځلاند ویښتان یې د اونیکس ډبرې په شان ځلېدل.

- دا... دا وزرونه له کوم وخت راهیسې لرې؟
هغه په ارامۍ ځواب راکړ: له همېشه څخه، د پیداښت څخه راسره دی.

دواړه څو شېبې چوپ پاتې شو. نه زه پوهېدم چې څه ووایم، او نه هم هغه.
لوک یوه وارخطا موسکا وکړل، هغه ګنګس و زما د ریکشن څخه او نه پوهېدی چې څه وکړي؟ ورو یې وپوښتل: خنګه ښکاره کېږم؟

- حيرانوونکی ښکارېږي.
په موسکا يې وويل: حيرانوونکی؟ يعنې نه باید ووايې ښکلې او جذاب؟
په داسې احساس چې ټول وجود يې راته ګرم کړې و ومې ويل: نه، له ښکلا هم ډېر. ته ببخي عجيبه او زړه راښکونکی ښکارې. هغه ته وې؟

لوک- څوک؟
- هماغه چې نن شپه يې زه د هغه وينو څښونکو له منګولو وژغورلم؟
لوک- هو، زه وم.
کنجکاوه وم او غوښتل مې پوهه شم چې هغه ولې په دی شکل بدل شوی؟
- نو ته هم د هغوی په شان يې؟ يعنې وينې څښونکی يې؟
زما خواته راغی د تخت پر غاړه کښېناست. د ناستې پر مهال يې وزرونه لږ ورپېدل.
زما سترګو ته يې راوکتل او ويې ويل: ځينې خلک ما هم وينې څښونکی ومپاير(Vampire) بولي، خو زه ومپايرس يم(Vampyrus) نه ومپاير.

- ومپايرس؟
لوک- هو، تاسو انسانان ورته وينه څښونکې آسمان سرلکۍ واياست.
په داسې حال کې چې هڅه مې کوله د هغه خبرې درک کړم، ومې پوښتل: نو ته يو اسمان سرلکۍ يې؟ يعنې د هغه په شان وزرې لرې او وينه څښې؟ نو ته چېرته اوسېږې؟ يعنې ځان چېرته راځړوې؟ له کومه ځايه راځې؟
لوک- له غارونو څخه ..

د هغه غږ داسې و، لکه له ډېر لرې ځايه را روان وي. داسې ښکارېده لکه په ذهن کې بېرته خپل کور ته تللی وي. بيا يې وويل: له غارونو او هغو سمڅو او سوريو څخه چې زموږ تر پښو لاندې د ځمکې په تل کې دي.
په حيرانتيا مې وويل: يعنې ته د ځمکې لاندې اوسېږې؟ نو ستا په شان نور هم هلته شته؟

هغه وضاحت راکړ:
— هو. هغوی تل موجود وو، آن د انسانانو له پیدا کېدو هم مخکې. ومپایرس د ځمکې لاندې په غارونو، تونلونو او سمڅو کې ژوند کوي.
- نو بیا ولې له ځانو څخه مو پولیس جوړ کړي؟ ولې خلکو ته ځان پولیس معرفي کوې؟

که زما مخې ته پر تخت ناست دا وزر لرونکی سړی نه وای، نو ما پخپله لا خپل په خبرو باور نه راتلو نور خلک خو لرې. د هغه سترګې تیاره شوې او پخوانۍ ځلا یې ورکه شوه بیایې ورو وویل: موږ دلته راغلي یو چې خپل د یو کس لټه وکړو.
- ولې؟ هغه ومپایرس چیرته تللې؟ څه یې کړي؟

لوک- ګوره هاېسون زموږ نسل له سلګونو کلونو راهیسې د ځمکې پر سر تګ راتګ کوي. زموږ ځینې کسان په پټه ستاسو په ټولنه کې لوړې دندې او مقامونه ترلاسه کړي دي. موږ ټول ومپایرس تل ستاسو قانون او نړۍ ته درناوی کړی، موږ د انسانانو وینه څښل منع کړې هر کله چې د انسانانو وینو ته مو زړه راشې نو غارونو ته ننوځو او خپل دا لوږه او اشتها لمینځه وړو د هغه وروسته بیرته بیرون راځو او د عام انسانانو په شان ستاسو په ټولنه کې ژوند کوو.

خو زموږ له ډلې یو کس دا قانون مات کړ. د دې پر ځای چې بېرته غارونو ته ستون شي او خپله لوږه هلته ماته کړي، د خپلې غوښتنې غلام شو او د انسانانو وینه یې وڅښله. او په دې کار سره یې یو نوی بدل شوی نسل پیدا کړ، کوم چې نیم انسان او نیم ومپایرس دی، هماغه موجودات چې تاسو یې وینې څښونکي بولئ. هغوی روحاً مړه دي خو جسماً ژوندی دی او نه مري.

- هغه ومپایرس څوک و چې داسې کار یې وکړ؟
لوک- نه پوهېږم، موږ له نږدی نه دي لیدلې خو نښو یې موږ تر رګډ کوو پورې راوستلو هغه همدلته، د ښار په کوم ځای کې پټ شوی دی.

- پیژندل یې ستاسو لپاره باید سخت ونه اوسیږي، ځکه هغه ستاسو خپل د نسل څخه دی ولې مو تر اوسه نه دې راګیر کړی؟

لوک- نه هاېسون، دومره اسانه هم نه ده هغه ومپایرس دی. مطلب د یو عادی انسان په شان ګرځې ځوک شک نشې پرې کولای، همدا زه که ما خپل وزری تاته نه وای ښکاره کړی ایا ته پوهېدی چې زه ومپایرس یم؟
سر مې وخوځاوه او ومې ویل: نه، فکر نه کوم چې پوهه شوی وای.
لوک- نو اوس پوه شوې چې زموږ ستونزه څه ده. او موږ د څه لپاره راغلې یو، هر څومره چې هغه ناوخته پیدا کړو، همغومره به ډېر انسانان ووژني او نور وینې څښونکي به جوړ کړي، تر دې چې یوه ورځ به ټوله ستاسو نړۍ د وینې څښونکو په لاس کې ولوېږي.

- نو هغه ومپایرس ولې دا کار نه پرېږدي؟ کله چې پوهېږي د هغه په دې کار ټولو ته زیان رسیږي؟ ولې بېرته د ځمکې لاندې نه ځي او خپله لوږه هلته نه ختموي؟
لوک- څوک چې د انسانانو وینه یو ځل وڅکي، بیا داسې روږدی کېږي ورباندی چې بېرته ترې نه شي راګرځېدای. هغه لوږه، هغه هوس هېڅکله نه ختمېږي. اورېدلي مې دي چې دا د انسان په روح کې د اور په شان بلېږي او هېڅکله نه مړه کېږي.

- نو د دې تندې هېڅ درملنه نشته؟
هغه په ټیټ غږ وویل: د تاریخ په اوږدو کې نور ومپایرس هم وه، چې د ځمکې سر ته راغلې او د انسانانو وینه یې څښلې.
- بیا یې دا تنده ختمه شوې؟
لوک- هو.
- څنګه؟

سترګې یې تیاره شوې او ویې ویل: بیا زموږ په شان ومپایرس ورپسې استول کېږی تر څو راګیر یې کړی، د ځمکې لاندې یې ویسي او ختم یې کړی.
- نو ته د عادي وینې څښونکو په شان نه یې؟ یعنې د لمر په رڼا کې هم ګرځېدای

شي؟
لوک- زموږ اصلي ځای تیاره ده، خو زموږ له ډلې ځینې د لمر رڼا زغملای شي. زه خپله د لمر رڼا نه خوښوم، خو څو ورځې یې زغملای شم. یوازې پوستکی مې خارښت کوي، سوځي او کله ناکله دانې پرې راخېژي. خو ځینې نور یوازې څو دقیقې د لمر رڼا زغملای شي، له هغې وروسته یې پوستکی سوځېږي او لوګی ترې پورته کېږي.

هغه ورځ رایاد شوه چې لوک زما د لاس پرې شوې مرېوند ولید، او بیا هغه شېبه چې زما پر وینو لړلې جمپر یې بوی کاوه.
- نو ته هم د هغو وینې څښونکو په شان یې؟ یعنې، ته هم د ژوندي پاتې کېدو لپاره د انسان وینې ته اړتیا لرې؟
لوک- اړه لري.
خپل لاس مې د هغه له لاسه خوشې کړ او ومې پوښتل: په څه پورې اړه لری؟

لوک زما اندېښنه احساس کړه او ویې ویل: اړتیا نشته چې له ما ووېرېږې. لکه د لمر د رڼا په شان، دا هم په هر ومپایرس کې توپیر لري. زموږ ځینې کسان چې د ځمکې سر ته راووځي نو سمدستي د انسانانو وینو ته تږي کیږی، خو ځینې نور کولای شي ساعتونه، ورځې، او حتی اوونۍ د انسانانو وینې ته له تندې پرته د ځمکې پر سر پاتې شي. خو کله چې دا تنده راپیدا شي، باید بېرته د ځمکې لاندې لاړ شو، تر څو دا تنده ارامه شي. وروسته بیا بېرته د ځمکې سر ته راځو.

- نو ته تر څومره وخته ځان ساتلای شې؟
لوک- شاوخوا شپږ اوونۍ.
- او بېرته د ځمکې لاندې څومره وخت پاتې کېږې؟
لوک په موسکا وویل: نږدې یوه اوونۍ، تر څو د انسان د وینو نشه مو له سر لاړ شي.
نو اوس ته زما لخوا په امن کې یې مه وېرېږه، البته هغه ورځ چې ستا مرېوند پرې

شوی و، زه بیحد سخت د وینو تږی شوم، ستا د وینې بوی د یوې شېبې لپاره ربښتیا هم لېونی کړی وم. ځکه مې نه غوښتل درته نږدې شم.

- ما ولیدلې چې زما وینه دې بویوله.
لوک په شرم باندی بلې خوا ته وکتل او ویې ویل: وبخښه، ځان مې کنټرول نه شو کړې. ستا د وینې بوې ډېر خوندور او نشه کوونکی و.

غوښتل مې د هغه او د هغه د ژوند په اړه چې د ځمکې لاندې کوي ډېر څه پوهه شم، نو ومې پوښتل: ته د ځمکې سر ته څنګه راځې؟ دلته څنګه ځان رارسوې؟
لوک- د هغو څاګانو، ژورو غارونو او کندو له لارې چې انسانانو ایستلي دي.
نېکمرغي دا ده چې تاسو انسانان د ځمکې لاندې د غارونو، تونلونو او زرګونو میلو لاندی لارو ته لاسرسی نه لرئ. خو ډېری وخت مورې پخپله هم تونلونه کیندو او بیرون نړۍ ته لاره جوړوو. بیا دغه لاره په یوه پټه دروازه پټو، او کله چې بېرته لاندې ځو، هغه دروازه قلفوو. دا کار مورې تل کوو.

زه لږ شېبه چوپه کښېناستم او هڅه مې وکړه چې د هغه ټولې خبرې په ذهن کې سره وترم. بیا مې ورته وکتل او ومې پوښتل: مورې؟ څوک یادوی؟
لوک لکه زما د خبری په معنا چې پوه شوی نه وې وویل: څه دې وویل؟
بیا مې خپله پوښتنه تکرار کړه:
- تا وویل: مورې یې قلفوو. دا «مورې» څوک دی

هغه نېغ زما سترګو ته راوکتل، بیا موسکۍ شو او ویې ویل: مورفي، پاتر او رام.
په حیرانتیا مې وویل: څه؟ ته وایې چې ډلګۍ مشر مورفي، قومندان رام او هغه احمق پاتر هم ټول ستا په شان آسمان‌سرلکي دي؟
لوک وخندل او ویې ویل: پوهېږم باور کول پری سخت کار دي، خو هغوی دومره هم بد خلک نه دي.

- خو نن هغوی زما سره ډېر بد چلند وکړ.
لوک- باور کوی او کنه خو هغوی یوازې غوښتل ستا ساتنه وکړي.
په ریشخند مې وویل: که دا ساتنه وي، نو هغوی په ډېر عجیبه طریقه غوښتل زما ساتنه وکړی.
لوک زما دواړه لاسونه په خپلو لاسونو کې ونیول او ویې ویل: موږ پوهېدو چې کله تا تېره شپه هغه وینې څښونکې ووژله، نو د هغه نور ملګری ستا پسې راځي. نو ځکه غوښتل مو ستا د خوندیتوب لپاره تا له رګبې کوو څخه وباسو. موږ مجبور وو چې تا له دې ځایه لیرې کړو.

- خو زه ستاسو ساتنې ته اړتیا نه لرم. خپله د ځان ساتنه کولای شم.
هغه راوکتل او ویې ویل: نو د نن شپې په اړه څه وایې؟ که زه پر وخت نه وای راغلې ته به اوس مړه وې، یا به هم د هغوی په شان شوې وای.
څو شیبې چوپه پاتې شوم، بیا مې ورته وکتل او ومې ویل: خو زه غواړم همدلته پاتې شم. اوس نه شم تلای.
لوک- خوښه دې ده، خو پوهه شه چې له دې وروسته به له ډېر خطرونو سره مخ شې. نه یوازې ته، بلکې د دې ښار ټول خلک هم.

له دې خبرو وروسته یې لاس راوغځاوه، زما د مخ ویښتان یې یوې خواته واړول او په نرم غږ یې وویل: ته پوهېږې چې مجبوره نه یې دلته پاتې شې. که له دې ځایه تلل غواړې نو زه کولای شم تا له دې ځایه وباسم.
د هغه لاس مې کلک ونیو، موسکۍ شوم او ومې ویل: زه اوس نه شم تللې، ځکه تاسو ټول ماته اړتیا لرئ.

لوک په حیرانتیا وپوښتل: ولې داسې فکر کوی چې موږ درته اړتیا لرو؟
په خندا مې وویل: نن مې په اداره کې چې کوم خبری وکړل هغه زما د زړه خبری وه، مورفي او پاتر د ربښتیا هم دومره ټنبلان دي چې حتا نشي کولای د کلوډو د لوبې

معما حل کړي، د يو داسی زيرک کس پيدا کول خو لرې خبره، زه بايد پاتې شم او مرسته وکړم.

لوک څو شيبې داسې راوکتل، لکه غوښتل يې چې کوم څه ووايي، خو ناڅاپه يې زما لاس خوشې کړ او له خپل ځايه پورته شو. چې ما په اندېښنه وپوښتل: څه دې ويل غوښتل؟
لوک- نه، هېڅ ... کومه مهمه خبره نه وه.

د دې خبرې سره سم ماته يې شا کړل، غوښتل مې د هغه پر اوږه لاس کېږدم، خو نه پوهېدم دا کار وکړم که نه. ځکه که مې لاس غځولې واې نو د اوږې پر ځای د هغه وزرونه به مې په لاس کې راغلې واې. نو ځکه پرته له دې چې لاس ورته نږدې کړم ومې ويل: خو زه ګومان کوم چې مهمه خبره ده.

زما په دې خبره لوک راوګرځېد او رانږدې شو. لوڅه سينه يې له ما يوازې څو ګوتې لرې وه. ويې ويل: فکر کوم، ښايي ستا د دلته پاتې کېدو بل دليل هم وي؟
سمه پوهه شوم چې څه مطلب لري، خو لږ خواته يې ورنږدې شوم او په دروغو مې وويل: ستا د خبرې په مطلب نه پوهېږم.
لوک- هغه ما هيله لرله چې ..
خبره يې نيمګړې پرېښوده، چې ما په ټينګار وپوښتل: د څه هيله دې لرله؟
لوک په موسکا خپل مخ زما مخ ته رانږدې کړ او ويې ويل: ته رېږدېږې.

- زه؟
لوک په ټيټ غږ وويل: هو، ته وېرېدلې يې.
موسکې شوم او ومې ويل: نه، خو ته بايد له ما ووېرېږې.
لوک- ولې بايد ستا څخه ووېرېږم؟
په ورو غږ مې وويل: ځکه زما په جيب کې د مقدسو اوبو بوتل او يو صليب شته.
لوک پخندا وويل: هغه يوازې پر وينېڅښونکو اغېزه کوي، خو زه وينېڅښونکی نه يم، زه يو آسمانسرلکی يم.

د دې خبرې سره سم رانږدې شو او زه يې د خپلو وزرونو په منځ کې ونيولم، چې د برق او باد په شان د نن شپې صحنه مې د سترګو وړاندې ودريدل چې لوک په خپلو تېرو پنجو هغه وينې‌څښونکي ټوټې ټوټې کول. او وينه يې پر سپينې واورې هرې خواته شيندل کېده او واوره يې سره کوله. که څه هم لوک په مينه مخ ته راغلې و خو هغه صحنو زما فکر خراب کړ، ځان مې د هغه له غېږې لرې کړ او ومې ويل: وبخښه.

زما په غږ لوک ژر په خود راغې څو ګام راځخه لرې شو او ويې ويل: نه، زه بايد بخښنه وغواړم. ما نه بايد ته په غېږ کې نيولې واې.
- نه، زما مطلب دا نه و.

هڅه مې وکړه مناسبې خبرې پيدا کړم. او همغه حال کې سترګې مې د هغه له ځير ځېر کتلو څخه واړولې، کله ناکله نظر يې بيحد دروند کېدې او کتل ورته سخت وه. هغه ورو وپوښتل: د يو چا له امله دې زه رد کړم، ايا کوم بل څوک دې ژوند کې شته؟

هڅه مې وکړه وضاحت ورکړم:
- نه ... ګوره (نه پوهيدم چې څه ورته ووايم، البته منم چې زما ژوند کې ټام و، خو هغه د پخوا وخت خبره وه، زما د رد کولو دليل هغه صحنې وه، خو د دې خبرې ويل هغه ته مناسب نه وه نو ځکه مې وويل: زما يو ملګرې و نوم يې ټام و، خو اوس هر څه پای ته رسېدلي دي.
لوک- ولې پای ته ورسيد؟ څه پېښ شول؟
غږ يې نرم او ډاډ راکوونکی و. ومې ويل: يو چاته مې ژمنه ورکړې نه شم کولای کيسه يې وکړم.

بيا مې ورته وکتل او ومې پوښتل: ته څنګه؟ ستا په ژوند کې هم څوک و؟
هغه لږ غلی شو، بيا يې وويل: يو وخت، ډېر پخوا، يوه نجلۍ وه، خو هڅه کوم هيره

یې کړم.
- بریالی شوې یې؟

زه خو سل په سل ډاډه وم چې نه شم کولای د ټام خاطرې هېرې کړم، خو امید مې درلود چې لوک هغه جنۍ هیره کړې وی، لوک یو ځل بیا خپل د تور وزرونو په منځ کې ونیولم او ویې ویل: زه به درسره مرسته وکړم چې هغه هېر کړې.
د هغه سترګو ته مې وکتل او ومې پوښتل: څنګه؟

***

لوک له لمر ختلو مخکې زما څخه لاړ، خو د هغه مخکې ما خپل معلومات ورڅخه حاصل کړل او ترې ومې پوښتل: ته چېرته اوسېږې؟
هغه راته وویل چې د ورځې له خوا له نورو آسمان‌سرلکو، مورفي او پاټر سره د پولیسو د دفتر په زندانخونو کې ویده کېږي. ویې ویل، هغه زندانخونه هغې دروازې ته نږدې ده چې د ځمکې لاندې غارونو ته لاره لري، او کله چې اړتیا شي، له هماغې لارې ژر ېېرته لاندې ځي.

کله چې مې د قومندان رام په اړه وپوښتل، نو ویې ویل چې هغه خپل ډېر وخت د ځمکې لاندې تېروي، خو لامل یې راته ونه ښود. بیا مې ترې وپوښتل چې غارونو ته د تللو پټه لاره چېرته ده؟ هغه د پولیسو د دفتر شاته، د زندانخونو تر څنګ په دهلېز کې یوې زړې اوسپنیزې الماری ته اشاره وکړه. حیرانه شوم، نه د هغه د ځای له امله، بلکې د هغه د عادي بڼې له امله. یوه توره اوسپنیزه الماری وه، چې زنګ وهلی قلف یې درلود او هېچا ورباندی شک نه راتلو چې کوم عجیب شئ به د هغه تر شا اوسیږی.

هغه زه ګنګسه او خوبولې تر بل هر وخت چې رګډ کوو ته راغلې وم پرېښودم. خو د تلو مخکې وویل: د ماښام په اوو بجو به دې د پولیسو په دفتر کې ووینم.
په نیمه ویده حالت کې مې وویل: خو ما ګومان کاوه چې زه یې له دندې ایستلې

یم.
هغه په ډاډه غږ وويل: زه به له نورو سره خبرې وکړم.

د دې خبرې وروسته لوک یو ځل بیا په غیږ کې ونیولم او تندی راته ښکل کړو، د هغه په غېږ کې مې ځان خوندي احساساوه. د بدن پوستکی مې د هغه له پوستکي سره لګېدلی و، او داسې راته ښکارېده لکه له دې غېږې بهر نور هېڅ شی وجود نه لري. په هماغه شېبه کې یوازې د هغه غېږ راته ارزښت درلود، نور هر څه مې هېر شوي وو.

هغه احساسات چې د هغه په اړه مې لرل، ناڅاپي او ډېر ژور وو، خو نه پوهېدم چې ولې؟ ولې ناڅاپه دومره هغه راباندی ګران شوی؟ یوازې دومره پوهېدم چې دا نوې احساسات عجیبه او زړه راښکونکي دي. نه مې غوښتل چې لاړ شي. لاس مې ورڅخه کلک ونیوه او ورو مې وویل: پاتې شه.
لوک- نه شم پاتې کېدای هاډسون، باید ولاړ شم.

خوشې مې کړ، چې هغه هم لرې شو او خپل د پولیسي دریشي په اغوستو شوم، زه هم کښېناستم او کتل مې چې څنګه یې اوږې بېرته خپلې عادي بڼې ته راوګرځېدې او وزرونه یې د اوږو د هډوکو تر منځ ورو ورو ورک شول. وروسته یې د پولیسو دریشي واغوسته او تڼۍ یې له پاسه تر پایه وتړلې. باور کول ګران وو چې د هغه ساده دریشي لاندې داسې یو راز پټ دی. کله چې یې کالي واغوستل، یو ځل بیا د عادي پولیس په څېر ښکارېده.

دروازې خواته ولاړ، لږه یې خلاصه کړه، خو د تلو مخکې راوګرځېد زما سترګو ته یې راوکتل او ویې ویل: اوس د خپل ملګري ټام په اړه څه احساس لرې؟
په حیرانتیا مې تندی تریو کړ او ومې ویل: ټام؟ ټام څوک؟
لوک سمدستي وویل: هماغه چې پرون شپه دې وویل یو وخت دې خوښېده.
نه پوهېدم چې هغه د چا په اړه خبره کوي؟ په حیرانۍ مې وویل: زه خو هېڅکله په چا نه یم مئینه شوی، او د ټام په نوم هم کوم ملګری نه لرم.
د لوک پر شونډو موسکا خپره شوه او ویې ویل: نو ښایي زه غلط شوی یم.

بیا یې زیاته کړه:
— نن شپه به دې په اداره کې ووینم ښکلې نجلۍ.

دا یې وویل، ووت او دروازه یې تر شا ورو وتړله. زه هم بېرته خپل تخت ته ولاړم، پرې وغځېدم، کمپله مې پر ځان راکش کړه او ویده شوم. د خوب په غېږ کې مې داسې انګېرله لکه د هغه نرم او ځواکمن وزرونه چې مې لا هم چاپېره وي، زما پوستکی نازوي او د خوندیتوب احساس راکوي.

ځان مې داسې حال کې پیدا کړ چې د خلیج د ساحل په اوږدو کې منډې وهم. ساه مې بنده شوې وه. سمندر خپل لویې تورې او مستې څپې په زوره د ساحل پر غاړه وهلې، او هر ځل به چې څپه لګېده، د یخو اوبو ستر څاڅکي به هوا ته شیندل کېدل. لږ وړاندې دوه سترې ډېرینې څوکې د بدرنګو بلاوو په څېر تر اسمانه جګې ولاړې وې. له شا مې یو غږ راتله، د زړه د شدید درزا په شان. ژوره ساه مې واخیسته او شاته مې وکتل. یو توره وریځه په ډېر چټکۍ د شپې په اسمان کې روانه و، او هماغه د زړه په شان درزا ترې اورېدل کېده. بېرته راوګرځېدم او لا تېزه مې منډه کړه.

په خاپوړو د هغو تیږو له پاسه اوښتم چې د قبر د ډبرو په شان له شګو راوتلې وې. تور سمندري بوټي پرې داسې خپاره وو لکه تور رګونه. ناڅاپه مې تعادل له لاسه ورکړ، وښوېدم او پر مخ په شګو ولوېدم. د اوبو یوه څپه راغله او پر ما ولګېده. جامې، مخ او ویښتان مې ټول لمده شول. د زړه د درزا غږ لا پسې لوړ شو. له اوږې مې شاته وکتل. هغه تور وریځي نور هم رانږدې شوی و، داسې ښکارېده لکه زما په تعقیب چې وي.

بېرته پر پښو ودرېدم او بیا مې منډه کړه. په اړخ کې مې داسې درد و لکه چا چې په چاړه وهلی یم. د اوبو څپو بیا پر ما ځانونه ووهل، داسې بریښېدل لکه غوارې سمندر ته مې کش کړي او ډوبه مې کړي. یوه لویه هواره ډبره مخې ته راغله. ورباندې وختم. لرې مې د دوو لوړو ډبرو ترمنځ یو غار ولید. اوس د زړه د درزا غږ

دومره لوړ شوی و چې نړدې غوړونه یې راته کاږه کړل. شاته مې وکتل او په لیدلو یې چیغه مې کړه. هغه تور سیوری اصل کې کوم وربځ نه وه. هغه زرګونه وزر لرونکي موجودات، آسمان سرلکۍ وه چې زما د سر د پاڅه الوتل او زما پر لور راتلل. هغه د زړه په شان غړ هم په اصل کې د دهغوي د وزرونو د پرله‌پسې رپېدو غږ و.

له ډېرې راښکته شوم او په ټول توان د غار پر لور مې منډه کړه. شګې او ریګ مې د بوټونو لاندې هوا ته پورته کېدل. لوند پتلون مې پر پښو دروند شوی و او منډه وهل یې راته ورو کړې وه. خو بیا هم نه درېدم او ځغاستم، د ډېر ځغاستلو څخه سږي مې سوځېدل، شاته مې وکتل. آسمان‌سرلکي له اسمانه ښکته راکوزېدل. خو دا کوم عادي آسمان‌سرلکي نه وو، بلکې ښځې او سړي وو چې لوی تور، د څرمن په شان وزرونه یې لرل. هغوی دومره رانږدې شوي وو چې د هغوی شنې سترګې او هغه لاړې مې لیدلې چې د تېرو نیشونو له سرونو څخه یې څڅېدل.

هغوی ته مې شا واړوله او په بیړه د غار پر لور روانه شوم. زړه مې داسې په تېزه درزېده، چې هره شېبه امکان یې و له سینې څخه مې راووځي، خو بیا هم لا تېزه منډه مې وهله. تر غاره ډېر واټن نه و پاتې. چې ورسېدم، ومې لیدل د غار خوله په یوې فلزي دروازې تړل شوې ده. دروازه مې ټېله کړه، خو کلکه بنده وه او نه خلاصېدله. په زارۍ مې وویل: خیر دې ... خیر دې پرېږدئ چې دننه شم.

په داسې سترګو چې د ډېر وېرې او ډار څخه راوتې وه د اوږې له پاڅه مې شاته وکتل، آسمان‌سرلکي مې ولیدل چې د ځمکې له سطحې یوازې څو ګوتې پورته په ډېر چټکۍ زما پر لور را روان وو. بېرته مې مخ د دروازې خواته کړ او په پاتې ټول ځواک مې ټېله ورکړه او په چیغه مې وویل: خیر دې دروازه خلاصه کړئ!

د هغوی د وزرونو د سخت رپېدو له امله شګې او د سمندر اوبه پر ما شیندل کېدې. یو ځل بیا مې په ټول زور دروازه ټېله کړه. دا ځل دروازه خلاصه شوه. په لړزېدلو ګامونو غار ته ننوتلم، او هماغه شېبه د چا په خلاصه غېږه کې ولوېدم په چیغه مې وویل: مورې...!

ناڅاپه له خوبه راویښه شوم او په خپل تخت کښېناستم.

زړه مې په زوره درزېدې او ساه مې لنډه،لنډه کېده. د خولو ورې ورې څاڅکي مې پر تندي راټول شوي وو، او لمده ویښتان مې پر مخ نښتي وو.کمپله مې لرې کړه، پښې مې د تخت له غاړې راځوړندې کړې او ودرېدم. پښې مې رپېدې.تشناب ته ننوتم، له نل څخه مې یو ګیلاس له اوبو ډک کړ او په یوه ساه مې وڅښه. هغه خوب چې د خپلې مور په اړه مې لیدلی و، سخت خپه کړی وم. د حمام په دیوال راځوړندې هندارې ته مې وکتل او هغه اوښکې مې پاکې کړې چې پر مخ مې روانې وې.

ډېر وخت شوی و چې د مور خوب مې نه و لیدلی، البته تل مې هڅه کوله چې ډېره یې یاده نه کړم. دا د دې لپاره نه چې ترې کرکه لرم، برعکس ما خپل د مور سره مینه درلوده هغه هم بیحد ډېر، خو هر څومره چې یاد ته راوړم زړه مې درد کوی.
وروستی ځل چې مې خپله مور ولیده، درې کاله مخکې و. له کوره ووتله چې زما د اوولسمې کلیزې لپاره کیک واخلي.

خپل د خوښې جامې یې اغوستې وه، او باد یې تور ویښتان پر اوږو خوځول. د مخه ښه لپاره یې لاس راته وښوراوه او د باغ له دروازې ووتله.
په موسکا یې وویل: لږ وروسته به دې ووینم پیشو.
ما هم پخندا ورته وویل: تر څو دقیقو وروسته به دې ووینم د پیشو موری.
بیا مې ورزیاته کړه: مینه درسره لرم.
هغې هم له لرې په هوا کې راته مچ راولېږه او ویې ویل: زه لا تا ډېره ستا سره مینه لرم.

خو له هغې ورځې وروسته مې مور بیا هېڅکله ونه لیده. د هماغې شپې شاوخوا لس بجې، کله چې پلار مې په وارخطایي او بې‌قرارۍ څو ځله د مور ملګرو او خپلوانو ته زنګونه ووهل او هېڅ درک یې پیدا نه کړ، نو بالاخره یې پولیسو ته خبر ورکړ. په لومړیو کې پولیسو دا پېښه د یوه ورکېدلي کس په توګه وڅېړله، خو چې وخت تېر شو او مور مې بیا هم پیدا نه شوه، شکونه ورو ورو زما د پلار پخوا ورټول

شول. مور مې خپله هم پولیسه وه، نو طبیعي خبره وه چې همکارانو یې د هغې د موندلو لپاره هره هڅه کوله.

پلار مې د پوښتنو لپاره د پولیسو مرکز ته یوړل شو او نږدې درې ورځې یې هلته وساته. کله چې هغه یې ویوړو نو سپین کالي اغوستي پولیس زموږ کور ته راغلل او د کور هر کونج یې په ډېر دقت وکوت. بیا تور کالي اغوستي نور پولیس، چې د مستریانو په شان ښکارېدل، شاته باغچه یې وکیندله، څاګانې یې وکتلې، کثافات یې وپلټل، خو هېڅ داسې څه یې ونه موندل چې کومه نښه ترې ترلاسه کړي.

درې ورځې وروسته چې پلار مې کور ته راستون شو، ډېر ستړی او مات ښکارېده. سپین او خړ رنګه ږیری یې پر زنې راټوکېدلی و. زه ورسره کښېناستم، لاس مې د هغه پر اوږه کېښود، خو هغه دواړه لاسونه پر مخ کېښودل او داسې په زوره یې ژړا پیل کړل چې هغه صحنه مې تر اوسه له یاده نه ده وتلې.

زما پلار له یو خوا د خپلې مېرمنې د ورکیدو د درد سره مخ و، له بلخوا د پولیسو دا شک خلک زما په پلار شکمن کړې وه، او هغوی ګومان کاوه زما پلار زما د مور پر سر کومه بلا راوړې، داسې حال کې چې پلار مې په مور بیحد ډېر مئین وو، پلار مې په دی خبره هم ځورېدې چې پولیسو دومره ژر پر هغه شک کړی، پرته له دی چې ښه معلومات وکړې، د پولیسو دا شک زما د پلار زړه مات کړو، هغه کلونه له همدې پولیسو سره کار کړی و او د وژنو په ډېرو دوسیو کې یې د لابراتوار له لارې ورسره مرسته کړې وه.

له همدې پېښې وروسته پلار مې نور د پخوا په شان پاتې نه شو. اکثره به خاموش او غلی و، او داسې به ښکارېده چې له خپل کاره یې زړه تور شوی وي. البته کله به چې ما د کوم دوسیې په اړه ترې څه پوښتل نو ځواب به یې راکاوه، خو پوهېدم چې نور هغه پخوانی لېوالتیا پکې نشته. یوه ورځ دواړه د تلویزیون مخې ته ناست وو. ما د هغه ستړی مخ ته وکتل او ومې ویل: بابا... تا به هغه څه ته چې زه یې کله

ناکله وینم، څه ویل؟
هغه لږ موسکی شو او ویې ویل: د خدای پیرزوینه او ستا ډالۍ، ولې؟

- نه پوهېږم، خو شرم راته راځي چې له دې ډالۍ څخه د کوم ګټور کار لپاره ګټه نه شم اخیستلای.
هغه وویل: هو، دا خبره خو دې سمه ده. نو څه فکر لرې؟ غواړې له دې ډالۍ سره څه وکړې؟
ما پرته له ځنډه ځواب ورکړ: غواړم پولیسه شم.

زه په خپل ټول ژوند کې هېڅکله دومره جدي شوی نه وم په کوم موضوع کې.
پلار مې یوه وریځه پورته واچول او ویې ویل: پولیسه؟ لکه خپل د مور په شان؟
هغه به خامخا پر تا افتخار وکړي، خو ولې غواړې پولیسه شې؟
- ځکه چې کله پولیسه شم، د مور دوسیه به بیا پرانیزم او پیدا به یې کړم.

پلار مې یوه یا دوې دقیقې همداسې راته وکتل، لکه نه پوهېده څه ووایي. لومړی لږ غوسه شو، خو وروسته یې څېره نرمه شوه او بیا غمجنه بیا یې ورو وویل: دا ښېر ښه فکر دی لوری خو که...
لږ چوپ شو، بیا یې وویل: که دومره پولیسو ستا مور ونه شوای موندلای، له هغه وخت راهیسې چې ... څومره موده د هغې له ورکیدو تېره شوې؟

ژر مې وویل: یوولس میاشتې او شپږ ورځې.
هغه وپوښتل: ښه نو فکر دې کړی چې ته به یې څنګه پیدا کوې؟
هغه نه غوښتل زما سپکاوی وکړي، هغه یوازې هڅه کوله چې ماته ښځایه هیله را نه کړي، او ښایي خپل ځانته هم.
ومې ویل: کېدای شي پولیسو کومه نښه له پامه غورځولې وي. هغوی هره نښه نه شي لیدلای.

بابا- کومه نښه؟ هېڅ نښه نشته.

څنګ ته یې پر صوفه کښېناستم او ومې ویل: تل یوه نښه وی هېڅ جرم بې نقص نه وي، یوازې د هغه پیدا کول پکار دی. دا خبره تاسو ماته کول.

پلار- پوهېږم، خو دا قضیه فرق کوی.

ما یې خبره پرې کړه او ومې ویل: زه پوهېږم چې مور مې هغه ورځ لا زموږ د کوڅې تر پایه هم نه وه رسېدلې چې ورکه شوه.

هغه لږ شاته کېناست، تر څو ما ښه ووینې او ویې ویل: ته څنګه په دې خبره ډاډه یې لوری؟

نېغ مې د هغه سترګو ته وکتل او ومې ویل: مور مې هغه ورځ د اوړې په ګرمو جامو کې له کوره ووتله.

پلار- ښه نو؟

- ما هغه ورځ داسې په یاد ده، لکه همدا پرون چې وه. یوازې یوه دقیقه، یا لږ تر هغې زیات تېر شوی وه د مور له وتلو څخه چې ناڅاپه سخت توپان پیل شو. نږدې یو ساعت، یا تر هغه هم ډېر، باران او توپان روان و. ما تر هغه مخکې هېڅکله دومره سخت باران نه و لیدلی. وروسته یوه ډېره زوروره تندر وځلېده. غږ یې دومره سخت و چې د مور لپاره اندېښمنه شوم، ځکه پوهېدم هغه له تندر او برېښنا وېرېږي او نه خوښوي چې په داسې وخت کې له کوره بهر وي.

خو مور یوازې یوه دقیقه مخکې له کوره وتلې وه. نو ناشونې ده چې د کوڅې تر پایه رسېدلې وي. ما فکر کاوه، په داسې سخت توپان کې به خامخا هغه بیرته ژر کور ته راوګرځي، خپلې جامې به بدلې کړې، او په تمه به شې تر څو باران ودرېږي. خو هغه بېرته رانغله. مور مې د خپلو وېښتانو په ښکلا ډېر حساسه وه. لږ تر لږه مې دا تمه لرله چې بېرته راشي، یوه خولۍ یا بل څه له ځان سره یوسي، خو بیا هم هغه رانغله. هېڅ امکان نه لري چې مور مې په داسې سخت تندر او برېښنا کې له کوره بهر پاتې شوې وي هغه باید بېرته کور ته راغلې وای.

پلار مې په ځير ځير راته وکتل. بيا ناځاپه ځيره يې داسې شول لکه يو مهم حقيقت چې يې درک کړی وي. ورو يې وويل: اه زما لويه خدايه! لوری ته سم وايې. نو که ستا پر مور څه شوي وي، هغه به د توپان له پيل کېدو مخکې شوي وي.
- هو پلاره، همدا وجه ده چې پوه شوم مور مې زموږ د کوڅې په هماغه سر کې، د کور له دروازې يوازې څو متره لرې ورکه شوې ده.
پلار- خو په دومره لږ وخت کې به څه شوي وي؟ او چېرته به تللې وي؟

په ټينګار مې وويل: همدا هغه څه دي چې زه يې معلومول غواړم. کله چې پوليسه شم، د مور دوسيه به له سره وګورم. د ټولو ګاونډيانو بيانونه به ولولم. وروسته به ورشم او يو ځل بيا به ورسره خبرې وکړم. زه ډاډه يم چې کومه کوچنۍ نښه به پيدا کړم، کومه وړه خبره، يا کوم تناقض، هغه څه چې نورو پوليسو نه وي ليدلي. که څوک په رښتيا د زړه له کومې د يوه حقيقت پسې وګرځي، بالاخره يې پيدا کوي.

پلار مې زما خبره تکرار کړه: که څوک په رښتيا د زړه له کومې د يوه حقيقت پسې وګرځي، بالاخره يې پيدا کوي
بيا يې په حيرانۍ وپوښتل: دا خبره ما درته کړې وه؟
- نه، مور مې راته کړې وه.
بيا مې غېږه ورکړه او ومې ويل: ژمنه کوم پلاره مور به درته پيدا کوم.

خو پلار مې هېڅکله زما د پوليسې کېدو ورځ ونه ليده. د پوځي اکاډمۍ له شاملېدو يوازې دوه مياشتې مخکې، د سرطان له امله وفات شو. دا زما لپاره تر ټولو سخت درد و، داسې مې احساس کاوه لکه زړه مې چې په سينه کې ټوټې ټوټې شوی وي. خو ما غوښتل خپله ژمنه پوره کړم. که هر څومره وخت يې نيولی وای، بيا هم مې غوښتل معلومه کړم چې پر مور مې څه تېر شوي وو.

زه باور لرم چې هغه د همدې نړۍ په کوم ځای کې ده، او د دې شاهد هغه خوبونه دي چې هر ځل يې وينم. له مخه مې اوښکې پاکې کړې، له تشنابه راووتلم او ځان مې تيار کړ. يوازې دوه ساعته وروسته بايد د پوليسو ادارې ته تللې وای. نه پوهېدم

چې مورفي، پاټر او رام به زما بېرته ستنېدو ته څه غبرګون وښيي، خو زړه مې غوښتل چې پر لوک باور وکړم.

ناڅاپه مې خپل موټر را په یاد شو چې لا هم په کندې کې بند پاتې و. کړکۍ ته ورغلم چې وګورم واوره درېدلې ده که نه. واوره درېدلې وه، خو د واورې یوې غټې برخې سړک او د مسافرخانې مخې ته کروندې ټولې سپینې کړې وې. هغه د پولیسو دریشي چې د څوکۍ شا ته مې ځوړند کړې و، هماغسې مې پرېښود. نه پوهېدم، اوس چې له دندې ایستل شوې وم، باید هغه واغوندم که نه.

یو ګرم جمپر، پټلون او بوټان مې واغوستل. د جمپر کشک مې پورته کړ، له کوټې ووتم، خو لا مې څو قدمه نه وو اخیستي چې پام مې شو د کوټې پر دروازه یو ټوکر نښتې ده. ټوکر مې راواخیست خلاص مې کړ‌ل دننه یې یو کاغذ و په هماغه پخواني لاسلیک پرې لیکل شوي وو: هاډسون، پر لوک باور مه کوه.

کاغذ مې له منځه وشکاوه، بېرته مې ټوکر ته واچاوه او د زینو له لارې لاندې لاړم. کله چې د زینو پای ته ورسېدم او د بوډۍ خوړلو له تالاره تېرېدم، نو د میز تر شا له کوچنې کوټې څخه د خبرو غږ راتلې د دروازې شاته پټه شوم او غوږ مې ونیو چې څه وايي.

د بوډۍ او د هغې د زوی، رونالډ، ترمنځ سخت بحث روان و.
بوډۍ په سترې او ناهیلي غږ وویل: رونالډه، نور مې وس نه رسېږي. ډېر مې وزغمل، نور یې نه شم زغملای.
رونالډ په غوسه ځواب ورکړ:
— مورې! مخکې مې هم درته ویلي، زه هر څه تر کنټرول لاندې لرم، سمه ده؟
بوډۍ په زارۍ وویل: مور باید له دې ځایه ولاړ شو.
رونالډ په لوړ غږ وویل: څو ځله درته ووایم، مورې؟ هر څه تر کنټرول لاندې دي!
بوډۍ په وېره وویل: خو که هغوی زموږ پسې راشي نو؟ که راتلونکي قربانیان موږ شو نو؟

رونالډ- نه راځي. مور دلته خوندي یو.
بوډۍ ورو وویل: زه خو یوازې دومره کولی شم چې هوډې دلته او هلته کېږدم، د سپینو زرو صلیبونه او د مقدسو اوبو بوتلونه وپلورم، مخکې له دې چې ..
رونالډ یې خبره پرې کړه او ویې ویل: مخکې له دې چې څه؟
بوډۍ په ټیټ او لړزېدلي غږ وویل: مخکې له دې چې په دې ښار کې دومره خلک هم پاتې نه شي چې ساتنه یې وکړو.
رونالډ بیا په قهر شو او چیغه یې کړه: ما مخکې هم درسره د دې موضوع په اړه خبرې کړې، زه پوهېږم چې څه کوم اندیښنې ته ضرورت نشته.

د دفتر د دروازې د خلاصیدو څو شیبې مخکې مې دومره وکړې شول چې ځان د دروازې د شا څخه د زینو لاندې برخې ته ورسوم، همدا چې هلته پټه شوم، د دفتر دروازه ناځاپه خلاصه شوه. رونالډ له مېزه تاو شو او په بیړه د هغه ځای پر لور راغی چې زه پکې پټه وم. ژر مې ځان تر وسه نور هم ډېر ښکته کړ. هغه زما له څنګ څخه په دومره لږ واټن تېر شو چې د بدن د خولو بوی مې هم احساساوه.

کله چې ډاډه شوم چې لاړ، ورو ورو له خپل پټنځای څخه راووتلم او د مسافرخانې د دروازې پر لور روانه شوم. لا مې دروازه خلاصه کړې نه وه چې د بوډۍ غږ مې تر شا واورېد.

– دا مه هېروه!

هغې د مقدسو اوبو یو بوتل زما پر لور راوغورځاوه. ما په هوا کې ونیو. نه پوهېدم چې زما د پټو خبرو اورېدو ته یې پام شوی و که نه. ومې ویل: مننه.
هغې بې له موسکا په ارام غږ وویل: هېڅوک نه پوهېږي چې کله به ورته اړتیا پیدا شي.

بیا مې د وتلو په لور مخ کړ. خو لا څو قدمه تللې نه وم چې بیا یې غږ راپسې وکړ.
– که دومره هوښیاره یې لکه څومره چې زه دې ګڼم، نو له دې ښاره ووځه او بیا

هېڅکله بېرته مه راګرځه.

پرته له دې چې شاته ورته وګورم، دروازه مې ټېله کړه او پر واورو روانه شوم. د بوډۍ خبرې لا هم زما په غوږونو کې انګازې کولې. هغې رښتیا ویل. باید تښتېدلې وای، له دې ښاره تللې وای او بیا مې هېڅکله شاته نه وای کتلي. خو نه مې شوای کولی، ځکه لوک و. هغه څه چې تېره شپه یې راته ویلي وو، زما ټوله نړۍ یې بدله کړې وه. هر څه چې تر اوسه مې زده کړي وو، او هر څه چې فکر مې کاوه پرې پوهېږم، ټول راته بې‌مانا ښکارېدل. داسې احساس مې کاوه لکه تر اوسه چې مې هر څه ناسم زده کړي.

هغه څه چې تېره شپه مې لیدلي وو، د وېرونکو فلمونو او د شیطانانو د کیسو په شان ښکارېدل، خو اوس پوهېدم چې دا هر څه رښتیا دي. او زه هم د هماغې نړۍ برخه وم یا ښایي د هغې نړۍ برخه کېدونکې وم. لوک یو وینې څښوونکی آسمان سرلکی، و، یا خپل په وینا یې ومپایرس و، خو کوم توپیر هم د دوي په مینځ کې و؟ دواړو د انسانانو وینه څښله.

لا ډېر څه وو چې باید د لوک په اړه پرې پوهه شوې واې. یو دلیل چې شاید د لوک خواته ته مې ډېره توجه کول همدا و، چې هغه ډېر ناشنا رازونه درلودل. تېره شپه چې لوک خپل اصلي حقیقت راته ښکاره کړ او د خپلې نړۍ په اړه یې خبرې وکړې، داسې احساس مې کاوه لکه د هغه خبرو پر ما جادو کړی وي. هره خبره مې یې منلې وه، خو اوس چې یوازې وم او هغه هم رانه لرې و، هغه جادو لږ څه مات شوی و.

په سختۍ مې پر واورو قدمونه اخیستل. سلګونه پوښتنې مې په ذهن کې تاوېدې، خو د یوې هم ځواب راسره نه و. ایا لوک تل ژوندی پاتې کېده که نه؟ یا که د یو عادی انسان اندازه عمر یې کاوه؟ ایا زه به له هغه سره خوندي اوسم؟ او تر ټولو مهمه پوښتنه، چې له ټولو مخکې مې په ذهن کې ولاړه وه، دا وه: ایا په رښتیا هم پر لوک باور کولی شم؟

د هېڅ یوې پوښتنې ځواب مې نه درلود. ورو ورو د ښار پر لور روانه وم. د ژمي کمزورې لمر وړانګې د لوېدو په حال کې وې. غوښتل مې تر لمر لوېدو مخکې د پولیسو دفتر ته ورسېږم، نو ګامونه مې چټک کړل. شاوخوا یو میل، یا ښایي تر هغه هم لږ ډېر، تللې وم چې له لرې مې یو تور شی ولید. چې په منډه زما پر لور راتله. ودرېدم. لږه ټیټه شوم او ځان مې د هر څه لپاره چمتو کړ. زړه مې دومره په تېزه درزېده چې غږ یې ما خپل لا اورېدلې شو.

په یو ناڅاپه حرکت کې ځان مې د لارې غاړې ته په واورو پوښلو بوټو تر شا واچول او پټه شوم. هغه شی چې هر څه و، سخت ساه یې اخیست. داسې ښکارېده لکه ډېر ستړی شوی چې وي. له کنجکاوۍ څخه مې ورو سر د هغه ځایه چې پټه شوی وم راویست او کله چې ښه مې هغه موجود ته وکتل نو د ارام ساه مې واخیسته.

له بوټو راووتلم او غږ مې کړ:
- دلته راشه ..

سپي چې زه ولیدم، په یوه ټوپ زما خواته راغی، لویه ګلابي ژبه یې له خولې راوتلې وه. سمدستي مې وپېژانده. هماغه د بوډا سړي سپی و، همغه سپین ږیرې سړی چې پرون مې د پولیسو د دفتر مخې ته خبرې ورسره کړې وې. سپی مې د غاړې له ځنځیر ونیو او په مینه مې لاس پرې راکش کړ، خو هغه یو دردناک غپا ته ورته غږ وکړ او لږ شاته شو.

ومې پوښتل: څه شوي؟

هغه بیا هماغه غږ وکړ او د هغې لارې پر لور یې ځان کش کړ په کومه چې راغلی و. بیا یې ځان زما له لاسه خلاص کړ او د سړک په اوږدو کې په منډه روان شو. زه هم ورپسې روانه شوم. هر قدم مې په احتیاط اخېست. نه مې غوښتل پر واورو وښویېږم او لاس یا، تر هغه هم بد، پښه مې ماته شي. نه مې غوښتل د ماتې پښې سره پر واورو پرته واوسم، په داسې حال کې چې شپه هم رارسېده. هماغه شېبه بیا

هغه وینې څښوونکي راپه یاد شول او د وېرې له لاسه مې د بدن وېښتان زیغ ودرېدل.

د یوې کروندې د دروازې مخې ته سپي ته ورسېدم. هغه ولاړ و او پرله‌پسې یې راته غپل. چې ورنږدې شوم، بېرته په منډه مخکې لاړ، لکه غوښتل یې زه هم ورپسې ولاړه شم.زه هم ورپسې روانه شوم. له کروندې تېر شوم او ومې لیدل چې سپی د هغه څه تر څنګ ودرېد چې پر واورو پروت و.کله چې ورنږدې شوم، سپي په پوزه هغه شی وښکوه، بیا یې ما ته وکتل او یو ځل بیا یې دردناک غړ وکړ. سپي ته ورنږدې شوم. او د هغه مالک هغه سپین ږېرې سړی مې پر واورو پروت ولید چې مخ یې د اسمان خواته و.

لومړی مې ګومان وکړ، ښايي د ګرځېدو پر مهال لوېدلی وي، خو چې لږ نور ورنږدې شوم، نو ومې لیدل چې د هغه شاوخوا واورې په وینو سرې شوې دي. سترګې مې د وینو پر څاڅکو ولګېدې. د هغو لاره مې تعقیب کړه او د مړي تر څنګ ودرېدم. د هغه شاوخوا د پښو نښې ښکارېدې. ډېر احتیاط مې کاوه چې خرابې یې نه کړم.

لاس مې پر خوله کېښود او مړي ته مې وکتل. سمدستي پوه شوم چې پر دې بوډا شوی برید د هنري بلیک تر برید هم ډېر وحشیانه و. د هغه هلک حالت هم بد و، خو دا... دا له هغه هم ډېر دردونکی و. لږ تر لږه د هغه هلک مخ خو سم پاتې و.

بوډا دواړه لاسونه غځولي پر واورو پروت و. د مخ او غاړې ډېره برخه یې څېرې شوې وه. د مخ غوښې، رګونه او عضلې یې ښکارېدې. سترګې یې نه وې. د هغو پر ځای یوازې دوه تور او تش کندې پاتې وې. غاښونه یې روغ وو، خو چې شونډې یې نه وې، داسې ښکارېده لکه راته موسکی چې وي.

کوټ او کمیس یې له منځه څېرې شوي وو او ټوټه ټوټه سینه یې ښکاره وه. د سینې هډوکی مات شوي وې او د سپینو ګوتو په شان له سینې راوتلې وې. د یوې سږې ډېره برخه یې خوړل شوې وه. هغه لږ څه چې پاتې وو، د ګلابي جېلي په شان

ښکارېدل.سپي ماته وکتل، یو دردناک غړ یې وکړ، بیا د خپل څښتن مړي خواته ورغی او د هغه د مخ پاتې برخه یې وڅټله. وروسته په منډه روان شو او له سترګو پناه شو.

زه په ګونډو شوم. د ګوتو سرونه مې ورو پر مړي وګرځول. سترګې مې هرې خوا ته ګرځېدې او ذهن مې هره کوچنۍ نښه په یاد ساتله.

لومړی مې د اصلي ټپ وینه لمس کړه، بیا مې د نورو ټپونو وینه وکتله او وروسته هغه وینه چې پر واورو خپره شوې وه. بېرته ودرېدم او د مړي شاوخوا ورو ورو وګرځېدم. بې له دې چې پام مې وي، هر لوري ته مې کتل. نه مې غوښتل یوه کوچنۍ نښه هم له سترګو وغورځېږي. څو شېبې وروسته پوهه شوم چې دا وژنه څه وخت شوې ده.دا هم راته څرګنده شوه چې په دې برید کې څلور کسان وو. درې تنه یې هماغه پخواني قاتلان وو، خو څلورم کس نوی و.

د مړي شاوخوا د پښو نښې له نورو سره فرق درلود او یو څه عجیبې هم وې. خو یوازې همدا نه وو، یو څه کم وو. داسې احساس مې کاوه چې کومه مهمه نښه مې لا نه ده موندلې.

څکه چې لمر د لوېدو په حال کې و، نور هلته ونه درېدم. له کروندې راووتلم او د ښار پر لور روانه شوم. د پولیسو د دفتر دروازه مې په بیړه خلاصه کړه او دننه ننوتم. پښې مې پر ځمکه ووهلې چې واورې ترې ولویږي. بیا مې لاس په ویښتو او اوږه راکش کړ، سر مې پورته کړ او بلګۍ مشر مورفي او پلټونکي پاټر ته مې وکتل چې د مېز بلې غاړې ته ولاړ وو.

پاټر- لوک ویل کېدای شي چې ته بېرته راشې. حتی دا یې هم وویل چې ته زموږ په اړه پوهه شوې یې.
له ډېر منډو وهلو له امله مې ساه اخیستل سخت شوی وه، په زحمت مې وویل:
اوس د دې خبرو وخت نه دې.

مورفي، چې ګوډ، ګوډ روان و، رانږدې شو او ويې ويل: هغه پر تا کوم احسان نه دی کړی چې خپل اصلي حقيقت يې درته ښودلی. برعکس، ته يې لا په لوی خطر کې اچولې يې.

هڅه مې وکړه چې ساه برابره کړم او ومې ويل: وروسته به د دې موضوع په اړه فکر وکړم، ما يو بل قرباني پيدا کړی دی.
پاټر يو ګام راواخيست او په تنده لهجه يې وپوښتل: بل قرباني؟
په ستمې مې وويل: هوچ، خو دا ځل حالت ډېر خراب دی. له پخواني قربانۍ سره هېڅ ورته والی نه لري.
مرفي په انديښمن غږ وپوښتل: څنګه؟

- مخ يې بشپړ خراب شوی و. ما تر اوسه داسې څه نه وو ليدلي. برید ډېر وحشيانه او بې‌رحمانه و.

همدا چې مې دا خبره وکړه، د بوډا د مړي انځور بيا سترګو ته ودرېد. ناڅاپه مې احساس کړل چې پښې مې نور د درېدو توان نه لري.
مورفي ژر يوه څوکۍ راوايسته زما خواته يې کيخودل او ويې ويل: کښېنه، ځان ارام کړه.

پاټر هم راته يو ګيلاس اوبه راکړل، هماغه وخت مې پام شو، له هغې ورځې راهيسې چې په رګډ کوو کې مې دنده پيل کړې وه، دا لومړی ځل و چې پاټر راسره مهربان چلند کاوه. ژوره ساه مې واخيسته، او دواړو ته مې وکتل.
- څلور کسان وو. د ټولو د پښو نښې پر واورو پاتې دي. که يوازې څو دقيقې مخکې رسېدلې وای، نيولی مې شول.

پاټر- څو دقيقې؟
ورته مې وکتل او ومې ويل: پنځه دقيقې.

هغه په داسې نظر راوکتل، لکه زما خبره چې نه مني.
ومې ویل: وینه هم د نورو مایعاتو په شان ده. کله چې هوا له دوو یا درېیو سانتيګرادو سړوخه ټیټه شي، وینه یخېږي او کلکېږي.
نه مې غوښتل ځان لوی وښیم، یا ځان د هغوی څخه پوهه ونیسم او هغوی ته بد احساس ورکړم په نرمه لهجه مې وویل: که وینه له بدن څخه ووځي، تر لسو دقیقو کم وخت کې کلکېدل پیلوي. حتی که ډېره وینه هم توی شوې وي، د وینې له غاړو یې لومړی کلکېدل پیلېږي. د هوا تودوخه هم پکې مهمه ده. هوا چې ګرمه وي، وینه ورو کلکېږي، او چې سړه وي، ژر کلکېږي.

مورفي او پاټر دواړه راته همداسې کتل. داسې ښکارېدل لکه زما په خبرو نه پوهېږي.
لږ په غوسه شوم او ومې ویل: بهر هوا ډېره سړه ده، سمه ده؟ موږ پوهېږو چې وینه تر لسو دقیقو کم وخت کې کلکېږي، او په داسې سړه هوا کې لا ژر کلکېږي. خو د هغه بوډا مړي پر ټېونو وینه لا هم لنده او سریښناکه وه. نو زما په اند، له هغه وخته چې ما مړی پیدا کړ، تر پنځو دقیقو ډېر نه وو تېر شوي.

پاټر په شکمنه لهجه وویل: دا خبرې دې له کومه زده کړې؟
ورته مې وکتل او ومې ویل: دا خبرې بېځایه نه دي.

مورفي پاټر ته داسې وکتل، لکه ورته چې وایي: «نور غلی شه.» بیا یې مخ راواړاوه او له ما یې وپوښتل: نور دې څه ولیدل؟
- لکه مخکې مې چې وویل، د څلورو کسانو د پښو نښې وې. خو د یوه په اړه یو عجیب شی و. داسې ښکاري چې هغه ټپي دی، یا کومه پښه یې سمه نه ده. البته په بشپړ ډول ډاډه نه یم.

پاټر خپل کوټ واغوست او ویې ویل: پوه شوې چې د پښو نښې له کومه راغلې او کوم لور ته تللې؟ که ژر ورسېږو، ښايي تعقیب یې وکړو.

سر مې وخوځاوه.
- نه. لکه د تېر ځل په شان، د پښو نښې یوازې د مړي شاوخوا وې. داسې ښکارېدل لکه هماغلته راښکاره شوي وي او بیا هماغلته ورک شوي وي.
مورفي په وارخطا او غوسه غږ وویل: وینې څښوونکي ..
دوارو ته مې وکتل او ومې ویل: چا د وینې څښوونکو نوم واخیست؟

پاټر خپل زوږ کمربند کلک وتاړه او ویې ویل: نو که هغه نه دې څوک دی؟
- نه، هغه سړی وینې څښوونکو نه دی وژلی.
مورفي، چې لا هم نه پوهېده زما مطلب څه دی، په تنده لهجه یې وپوښتل: نو چا وژلی؟
- ومپایرس.
بیا مې ورو ورزیاته کړه: هغه سړی د اسمان سرلکۍ وینې څښوونکې له خوا وژل شوی.

پاټر په ریشخند وخندل او ویې ویل: دا څه بې‌معنا خبره کوی؟

که څه هم پاټر زما خبره رد کړل، خو د هغه او د ډلګۍ مشر مورفي تر منځ اندېښمن نظرونه رد او بدل شول. چې مورفي وپوښتل: ته له کومه ډاډه یې؟
ما د هغه په غږ کې لړزه احساس کړه.
- لکه څنګه چې مې وویل، هغه سړی باید ډېر وخت مخکې نه وي وژل شوی، له هغه وخته چې ما وموند.

پاټر- ښه، نو؟

کښېناستم او د ډېر بې وسۍ له امله مې خپل لاسونه پر تندي راکش کړل او ومې ویل: اې خدایه، یعنې تاسو د رښتیا هم نه پوهېږئ؟
داسې ښکارېده چې مورفي بیا راباندې غوسه شوی و. چیغه یې کړه: په څه نه پوهېږو؟

ما هم نږدې په چیغه وویل: کله چې قتل شوی و، لا ورځ وه! وینه څښونکې د ورځې بهر نه شي راوتلی، خو آسمان سرلکیان تر یو محدود وخت راتللی شي. یوازې دا خبره نه ده، وینه څښونکی الوتل هم نه شي کولی!

پاتر مورفي ته وکتل او ویې ویل: څنګه امکان لری؟ موږ ته خو ویل شوی چې یوازې یو کس شتون لري، او موږ هم د هماغه یوه دانه د نیولو لپاره راغلي یو.
ډلګۍ مشر مورفي پاتر ته وکتل. داسې ښکارېده چې اوس تازه پوه شوی و چې زه څه وایم.

یوه شېبه غلی او په فکر کې پاتې شو، بیا یې وویل: که دا نجلۍ سمه وي، او موږ له هغه یو دانه ویمپایرس څخه زیات ولرو چې د انسانانو په وینه روږدي شوی وي، نو بیا موږ له لویې ستونزې سره مخ یو.

پاتر چیغه کړه:
— ستونزه؟ که موږ هغوی پیدا نه کړو، دا بدبختي به د یوې ساري ناروغۍ په شان هر ځای خپره شي!
مورفي خپل پښه په ځمکه ووهل او ویې ویل: دا موضوع تر هغه ډېره خطرناکه ده چې ما په لومړي سر کې فکر کاوه. تا مړی چېرته پیدا کړی و؟

- نقشه لرې؟

پاتر پرته له څه ویلو د مېز له ورق، یوه نقشه راواخیسته او پر مېز یې خلاصه کړه. ما نقشې ته وکتل او هغه ځای مې پیدا کړ چې زه هلته تللې وم. خپله ګوته مې پر نقشه تېره کړه او په هغه کرونده ودرېدم چې د هلال سپوږمۍ مېلمستون څخه شاوخوا یو نیم میله لرې وه.

- همدلته و. مړی همدلته پروت و.

مورفي خپل کوټ واغوست، لوېې څراغ يې راواخيست او له پاتر سره د پوليسو د اداري د دروازې پر لور روان شو، چې ما چيغه کړه: يو دقه صبر وکړئ!

پاتر راوګرځېد، ماته يې وکتل او ويې ويل: ولې؟

- لوک چېرته دی؟

هغوی یو بل ته وکتل. بیا مورفي خپل نظر زما لور ته راوګرځاوه او ویې ویل: هغه لاندې تللی دی.

زړه مې په تېزۍ درزا پیل کړه.
- کوم لاندې؟
مورفي زما پر لور راغی او ویې ویل: غارونو ته.
پوهه شوم چې د ځمکې لاندې ځای په اړه خبرې کوي. پوښتنه مې وکړه: کور ته تللی؟ خو ولې؟

مورفي- کله چې رام پوه شو هغه تاته هر څه ویلي نو لاندې ولېږه.
- خو هغه زما ژوند وژغوره.
پاتر مې خبره پرې کړه او ویې ویل: هغه زموږ قوانین مات کړل.
په غوسه مې وویل: کوم قوانین؟ دا چې باید له ما سره یې مرسته نه وای کړې؟ باید زه یې نه وای ژغورلې؟

مورفي- هغه حق نه درلود چې زموږ په اړه تاته کوم څه ووایې، هغه باید دا کار نه وای کړی.

هڅه مې وکړه چې د لوک څخه دفاع وکړم:
- خو هغه یوازې هغه څه وکړل چې فکر یې کاوه سم دي.
پاتر زما خواته راغی. سترګې یې پر ما ښخې کړې وې او په ارام غږ یې وویل: ځان په دې مه خطا باسه چې ګنې لوک پر تا مئین دی هاډسون!
نیغ مې د هغه سترګو ته وکتل او داسي حال کې چې کوښښ مې کاوه خپل ځان کنټرول کړم ومې ویل: ستا مطلب څه دی؟

هغه نیمه موسکا وکړه او ویې ویل: هغه ستا ژوند وژغوره، تر څو خپل د ګناه د احساس څخه خلاص شي.
په ګنګس انداز مې وویل: د څه شي د ګناه احساس؟

مخکې له دې چې پاتر کوم ځواب راکړي، مورفي ورباندې چيغه کړه:
— بنده کړه خوله دې پاتړ بس دی.

پاتر داسې په وېره زما څخه شاته شو لکه چا چې وهلی وي. د دروازې پر لور کوم ځاې کې چې مورفي ولاړ و روان شو، چې مورفي وویل: راځه، دا ګډوډي باید سمه کړو.

کله چې هغوی غوښتل د ادارې څخه ووځې ما غږ کړل: زه څه وکړم؟
مورفي- ته څه وکړې؟
- هو، یعنې زه هم درسره لاړه شم؟
مورفي- نه، ته زموږ تګ ورو کوی.
- خو زه کولی شم تاسو مستقیم هغه ځای ته بوځم چې مړی پکې و.

پاتر په شیطنت سترګه ووهله او ویې ویل: تخو د رښتیا دا فکر نه کوې چې موږ به په داسې یوه خرابه هوا کې ستا لپاره تر هغه ځایه پیاده ځو؟
خدایه، له دې سرې څخه مې ولې دومره کرکه راځې؟
- خو زه به دلته یوازې څه وکړم؟
— ټول څراغونه مړه کړه، دروازې او کړکۍ هم کلکې وتړه او کراره کښېنه.

پاتړ دا وویل او د شپې په تیاره کې ورک شو. له مېزه راوګرځېدم او په بیړه مې دروازه خلاصه کړه، خو کوڅه تشه وه. دواړه تللي وو. له لرې د تندر غوندې دوه پرله‌پسې غږونه مې اوریدل چې ورو ورو لرې کیدل. دروازه مې بېرته وتړله، له مېزه تېره شوم او د هغه اوسپنیز دروازې خواته ولاړم کوم چې د ځمکې لاندې ته یې لاره لرله.

د هغه سر ته ودرېدم او ښه مې ورته وکتل. په یوه زنګ وهلي قلف تړل شوی و. له ځانه سره مې وویل: رښتیا هم د دې پوښ لاندې بله نړۍ ده؟ هماغه پخوانۍ نړۍ چې ومپایرس یې د غارونو او تیارو سمڅو په ژورو کې ژوند کوي؟

یو ګام شاته شوم. هماغه وخت مې د دروازې ترځنګ پر ځمکه یو ځلاند شی ولید. ټيټه شوم او هغه وړوکی سپین فلزي شی مې راواخیست. لومړی مې فکر وکړ چې د سپینو زرو یو بل صلیب به وي، خو چې ښه مې ورته وکتل، زړه مې له وېرې ولړزېد. دا د فراشوټ بازانو د کنډک د دریشي فلزي نښه وه. ناڅاپه مې په یاد شول چې دا مې مخکې هم لیدلې ده. بدن مې یخ شو. دا د هماغه بوډا د کالو نښه وه، هماغه بوډا چې پرون مې په کوڅه کې لیدلی و او نن مې یې ټوټه ټوټه مړی په کرونده کې موندلی و.

خو د هغه د دریشي افتخاری نښه د پولیسو په دفتر کې څه کوله؟ هغه هم د همدې دراوازې ترځنګ، هغه دروازه چې ویل کېدل د غارونو او د ځمکې تل ته لاره لري. هماغه شېبه پوهه شوم چې د جرم د ځای د پلټنې پر مهال مې څه شی ورک احساساوه، همدا د دریشي نښه.خو دلته څنګه راغلې وه؟ چا راوړې وه؟او ولې؟

ځکه چې پوهېدم هغه څلور موجودات چې بوډا یې وژلی و، ټول ومپایرس وو، نو د شک ور کسانو شمېر مې ډېر اوږد نه شو، د دهلېز په منځ کې مې پښه ونښتله او نږدې و د ډېر وېرې څخه هملته ولوېږم. زړه مې داسې درزېده، لکه له سینې څخه چې مې غوارې راووځي، او نس مې راټولېده. اوس د جرم د ځای وروستۍ ورکه شوې نښه هم پیدا شوې وه. یوازې د بوډا د دریشي نښه نه وه ورکه شوې، بلکې هغه امسا هم ورکه وه چې پرون مې ورسره لیدلې وه او بوډا پرې تکیه کړې وه.

خو ولې باید یو څوک امسا له ځان سره ویسي؟ امسا خو یوازې هغه څوک اخلي چې د تګ لپاره ورته اړتیا ولري. ناڅاپه مې په ذهن کې چیغه شوه: هاډسون! د پښو نښو ته دې ولې پام ونه شو؟ همدا هغه عجیبه خبره وه چې د پښو په نښو کې مې لیدلې وه. د څلورم کس د ښي پښې نښه له نورو سره توپیر درلود، ځکه هغه سم نشو ګرځېدې او ګوډ تلو.

په همدې شېبه کې د مورفي تګ مې د سترګو وړاندې ودرېد. هر ځل چې به د پولیسو په دفتر کې روان و، د ښۍ پښې له امله به لږ ګوډ تلو. ټولې هغه صحنې یو

په بل پسې زما د سترګو مخې ته وګرځېدې.احساس مې وکړ، لکه ځمکه چې مې له پښو وځي.لاس مې پر دېوال کېښود او خپل د غورځیدو مخه مې ونیول، ټول بدن مې له ډېر وېرې څخه لړزېدې.

که مورفي پوه شي چې زه په حقیقت پوهه شوی یم نو څه به راسره وکړي؟ایا زما برخلیک به هم د هغو نورو پولیسو په شان وي چې مخکې دې ښار ته راغلي وو؟ حیرانه او وارخطا د کوټې په منځ کې وګرځېدم. یوازې دومره پوهېدم چې باید هر څومره ژر چې کېږي، له دې دفتره او له رګډ کوو څخه ووځم خو څنګه؟ نه مې موټر درلود، نه سړک خلاص و. ټیلیفونونه هم کار نه کول.حتی نه مې شوای کولی له بهر سره اړیکه ونیسم او چا ته ووایم چې دلته څه روان دي.

یوازینی ځای چې تللی شوم، هماغه مسافرخانه وه.او یوازینی کار چې مې له لاسه کېده، هماغه و چې پاټر ویلي وو، د کوټې ټولې دروازې او کړکۍ وتړم او خدای یاد کړم. خو خپله پاټر؟ ایا هغه هم په دې وژنو کې لاس درلود؟ فکر مې سمدستي لوک ته ولاړ. ایا هغه هم د دوی په شان و؟ یو قاتل؟ عقل مې لا هم شک درلود، خو زړه مې بل څه ویل. لوک زما ژوند ژغورلی و. که رښتیا یې د وژلو اراده لرله، نو ډېر فرصتونه یې درلودل، خو هېڅکله یې دا کار ونه کړ.

د پاټر خبرې مې د لوک په اړه جدي نه نیولې. زه پوهېدم چې لوک راسره مینه لري. هو، تېره شپه هر څه عجیبه وو، خو په عین وخت کې داسې ښکلې او جادویي هم وه چې هېڅکله مې نه وه تجربه کړې. کله چې مې سر د هغه پر سینه ایښودلې و او د هغه د وزرو په سیورې کې وم، نو داسې ارامي او خوندیتوب مې احساساوه چې تر اوسه هېڅکله مې نه و تجربه کړی.

خو اوس لوک زما د ژغورلو لپاره دلته نه و. نو مطلب دا ځل باید پخپله ځان وژغورم.

د رګډ کوو د پرېښودو هېڅ لاره نه وه. مجبوره وم همدلته پاتې شم او مقابله وکړم. خو د دي لپاره مې باید د هغو وینې څښوونکو په اړه ډېر معلومات پیدا کړي وای چې پر ښار یې برید کړی و، او هم د هغو ومپایرس په اړه چې د شپې یې خپل خونړی کار پیل کاوه. په بېړه د دفتر په دهلېز کې ګرځېدم. نه پوهېدم مورفي او پاټر به کله بېرته راشي. د مېزونو او الماریو درازونه مې یو په بل پسې خلاصولې. (باور کوی د دی لفظ لپاره مې پښتو لغت پیدا نکړ، ځیني کسان ورته دراز، ورق، قفسه یا خانه واي خو یو مستقل پښتو لغت ورته نشته، نو خپل پوه شې چې مطلب مې څشې ته دی)

نه پوهېدم څه لټوم، خو زړه مې راته ویل چې کله یې پیدا کړم، سمدستي به یې وپېژنم. دومره وخت نه و راسره چې بیځایه یې ضایع یې کړم. د مورفي د مېز دراز مې خلاص کړ. د نسواري پوښونو یوه ډله دوسیې مې پکې وموندلې. راویستل مې پر مېز مې کېښودې او په کتو مې پیل وکړ.
د لومړۍ دوسیې پر سر لیکل شوي وو: پلټونکی کوپر، دوسیه مې خلاصه کړه. د کاغذونو په سر یې یوه کوچنۍ عکس په سنجاق نښلول شوی و.

دننه د هغه د دندې راپورونه او اسناد وو.خو د دوسیې په وروستي مخ مې یوه پاڼه وموندله چې پرې په سره رنګ لوی ټاپه وهلې وه: ورک شوی.
دوهمه دوسیه مې خلاصه کړه. د یوه بل افسر، پلټونکي مونرو، په نوم اسناد پکې وو.د هغه پر دوسیه هم هماغه ټاپه وه: ورک شوی.
بله دوسیه د پلټونکي فورډ وه. چې عکس ته مې وکتل، داسې احساس مې وکړ چې دا څېره راته اشنا ده، خو له کومه؟ ناڅاپه د برېښنا په شان خبره ذهن ته راغله. او دوسیه مې له لاسه وغورځېده، همدا څېره مې تېره شپه لیدلې وه.

دا هماغه وینه څښونکې و چې پر ما یې برید کړی و، هماغه چې د پولیسو شلېدلې دریشي یې اغوستی و. په بیړه مې ټولې دوسیې راټولې کړې.غوښتل مې بېرته یې

هماغه ځای کېږدم چې ترې راویستې مې وې، خو سترګې مې پر یوې بلې دوسیې ولګېدې. پر سر یې لیکل شوي وو: پلټونکی ریوز

هغه مې راواخیسته او خلاصه مې کړه. تمه مې لرله چې د نورو په شان به پکې عکس، راپورونه او د دندې اسناد وي. خو حیرانه شوم، دوسیه په بشپړه توګه تشه وه.ټولې دوسیې مې بېرته هماغسې، لکه څنګه چې مې موندلې وې، په خپل ځای کې کېښودې.

راوګرځېدم او د ادارې د زړو اوسپنیزو الماریو خوا ته لاړم. الماری مې خلاصې کړې. نورې دوسیې هم پکې وې، خو د دې دوسیو پوښونه سره وو. لومړۍ دوسیه مې راواخیسته او پرانیسته. پکې د یوې ښځې ډېر دردونکي انځورونه وو. بدن یې ټوټې ټوټې شوی و او په یوه کنده کې پروت و. ویښتان یې د مخ شاوخوا خپاره وو او سترګې یې خلاصې پاتې وې، داسې ښکارېده لکه د عکس لپاره چې یې قصداً همداسې حالت نیولی وي.

په دوسیه کې یې د نوم، پتې او د زېږېدو د نېټې په اړه لږ معلومات لیکل شوي وو. د مړینې نېټه او هغه ځای هم پکې ثبت و چې قتل پکې شوی و. دویمه دوسیه د بل قرباني وه. دا ځل یو نږدې څلور دېرش کلن سړی و. بیا مې د هغه د مړینې نېټې او د پېښې ځای ته پام شو. ټولې درې ویشت دوسیې وې، په دومره کم وخت کې مې ټول نه شول لوستلې، نو د څنګ مېز څخه مې د کاغذ یوه ټوټه راواخیسته او د هر قرباني د مړینې نېټه او هغه ځای مې پکې ولیکل چې جسد یې پکې موندل شوی و. بیا مې دوسیې بېرته په هماغو الماریو کې کېښودې، کاغذ مې تاو کړ او له نقشې سره مې د کوټ په جیب کې واچاوه.

وروسته بېرته دهلېز ته راووتلم او د ښځینه پولیسو د جامو بدلولو کوټې ته ننوتم. هلته څو الماری ولاړې وې، خو له یوې پرته نورې ټولې له زړو موټرسایکلونو، بایسکلونو او ورک شویو شیانو ډکې وې. خپلې الماری ته ورغلم، غوښتل مې ډاډ ترلاسه کړم چې کوم شی مې نه وي هېر کړی، ځکه نور مې هېڅ اراده نه لرله چې

بېرته دې ځای ته راشم. د الماري ټولې خانې مې وکتلې. کله چې مې لاس د الماري یوه کونج ته ورساوه، یو څه مې احساس کړل. راکش مې کړو چې ګورم د ویښتیانو برس دی.

ځکه چې پوهېدم زما نه دی، بېرته مې هماغه ځای کې کېښود. فکر مې وکړ، ښایي د هغې ښځینه پولیسې وي چې زما نه مخکې دلته یې دنده ترسره کوله. وګرځېدم چې لاړه شم خو ناڅاپه ودرېدم. بېرته مې برس راواخیست، د څراغ رڼا ته مې پورته کړ او په غور مې ورته وکتل. د برس په غاښونو کې څو طلایي رنګ ویښتان بند پاتې وو.

په خپلو نوکانو مې یو ویښته راواخیست او له نږدې مې ورته وکتل. سمدستي پوهه شوم چې دا هم د هغه ویښته په شان دی چې مخکې مې د هنري بلیک په لاس کې موندلی و. دا ویښته هم روښانه طلایي رنګ شوی و، خو د ریښې نږدې نیم انچ برخه یې طبیعي توره وه. هماغه شېبه یو غږ راغی. زړه مې له وېرې تر خولې راورسېد او ټول بدن مې یخ شو. وېره مې دا وه چې مورفي او پاټر بېرته راغلي وي. برس مې هماغه ځای کې کېښود چې موندلی مې و. بیا د پښو پر څوکو ورو ورو د جامو بدلولو کوټې دروازې ته ورغلم.

دروازه مې وټېله، خو دومره مې خلاصه پرېښوده چې یوازې د یوې نرۍ درز له لارې بهر ولیدلی شم. سترګې مې د دهلیز پای ته واړولې. هغه غږ بیا راغی، خو دا ځل له بهر څخه نه و بلکې ډېر نږدې ځای څخه راتله. غوږ مې د دروازې د هغه نري درز سره کېښود او غوږ مې ونیو. غږ داسې و لکه اوسپنه چې له اوسپنې سره لګېږي، لکه د قلف د خلاصېدو غږ.

له درز څخه مې بهر وکتل او پوهه شوم چې غږ د هغې دروازې لخوا راځي کوم چې د ویمپایرس نرۍ ته لاره لري، غږ داسې و لکه یو څوک چې له هغه بلې خوا غواړي قلف خلاص کړي. او همداسې هم وشول څو شیبې وروسته قلف له دروازې جلا شو او په شرنګ سره پر ځمکې ولوېد. له خپل پټ ځایه مې په غور سره بهر وکتل. وړه

دروازه خلاصه شوه او د باد د زورِ په شان یو نرم غږ مې تر غوږ شو. او څو شیبې وروسته قومندان رام له دروازې راووت او دهلېز ته یې قدم کېښود.

پرته له یو پتلون څخه یې نور کوم څه نه وه اغوستوي او لوڅ و، د ملا څخه یې د لوک په شان وزرونه راوتلي وو او د وزرونو لاندې یې یوه شفافه پرده ښکاره کېده. خپل سپین رنګه ویښتان یې له تندي شاته کړي وو. د د دهلېز دواړو خواوو ته یې وکتل، لکه ګوري چې څوک خو به هلته نه وي، کله چې ډاډه شو یوازې دی، نو ښکته هغې ورې دروازې خواته یې وکتل او ویې ویل: راوخېژه څوک نشه.

خو ناڅاپه د هغه ځای خواته یې وکتل کوم ځای کې چې زه ولاړه وم. خپل لاس یې هغه چا ته پورته کړ چې لا دننه و او ویې ویل: یوه دقیقه انتظار وکړه.

څو لوی قدمونه یې واخیستل او د ښځینه جامو بدلولو کوټې خواته راغی.
ایا زه یې لیدلی وم؟ ایا زما شتون یې احساس کړی و؟ نه پوهېدم. خو باید ځان مې پټ کړې واې، د کوټې شاوخوا مې وکتل، سترګې مې پر خلاصې او تشې الماری ولګېدې. په منډه یې خواته ورغلم، دننه شوم او هماغه شېبه چې رام کوټې ته راننوت ما د الماری دروازه بنده کړه.

زړه مې په دومره تېز او په لوړ غږ درزېده چې وېرېدم رام به یې غږ واوري. ساه مې بنده کړه، له دې خوا د دروازې مې د هغه د قدمونو غږ اورېده چې د کوټې په اوږدو کې ګرځېده بیا ناڅاپه ودرېد نه پوهېدم چې ولې؟ خو دعا مې کوله چې کاش له دې ځایه غیبه شم، لومړی نظر تل یوه کوټه کې د الماری خواته ځي، موقعیت مې بیحد خراب وو. سترګې مې پټې کړې او دعا مې کوله چې لاړ شي.

په ذهن کې مې چیغې وهلې: خیر دې ... خیر دې ... د الماری خواته مه ګوره!
د هغه د قدمونو غږ رانږدې شو. ما بیا په زړه کې وویل: خیر دې ...
غږ نور هم نږدې شو. زړه مې په زوره، زوره درزېدې ساه مې نه اخیسته. هماغه

شېبه چې د الماری لاستی یې ونیو، د کوټې دروازه په جیر جیر غږ خلاصه شوه او له لرې ځایه یو غږ راغی: رام ... رام!

رام په غوسه ناک غږ د الماری له هغه بلې خوا وویل: ما درته وویل چې انتظار وکړه. د قدمونو غږ مې واورېد چې له کوټې څخه ووت. خوله مې په خپلو لاسونو پټه کړه، سترګې مې پټې کړې او د راحتی له امله مې لاسونه ښکته کړل. خو لا هم په ستونزه کې وم. باید مخکې له دې چې پاټر او مورفي بېرته راشي او له دوي سره یوځای شي، له ادارې څخه وتلی وای.

د جامو بدلولو کوټې د دروازې د بندېدو غږ مې واورېد. لږ مې انتظار وکړ، تر څو ډاډه شم چې رام له کوټې وتلی دی. کله چې ډاډه شوم چې تللی، له الماری راووتلم او پام مې و چې هېڅ غږ جوړ نه کړم. زړه مې په زوره، زوره درزېده. ورو ورو د کوټې دروازې خواته لاړم. د مخ یوه خوا مې پر دروازه کېښوده او غوږ مې ونیو.

له هغه بلې خوا څخه یو کمزوری غږ راتله. خپل اوږده تور ویښتان مې د غوږ شاته کړل او هڅه مې وکړه چې پوه شم څه وایي.

رام وویل: لوک هر څه ډېر پېچلي کړي دي.
یو ناشنا غږ وویل: هغه هم په دې موضوع کې ښکېل و؟
خپل غوږ مې د دروازې خواته لا جوخت کړې هیله مې لرله چې غږ وپېژنم.
رام په غوسه ناک غږ هغه کس ته وویل: هو، هغه هم لاس پکې درلود.
لږه چوپتیا شوه. بیا هغه ناشنا غږ وویل: که هغه نجلی په حقیقت پوهه شي، بیا به څه کېږي؟

رام- هغه ډېره هوښیاره ده، هغه همدا اوس هم په هر څه پوهېږي.
ناشنا غږ په ټیټ او پټ انداز وویل: زما مطلب دې موضوع ته نه دې. که پوهه شي چې په رښتیا څه پېښ شوي دي، بیا څه؟

له ځان سره مې وویل: هوښیارانو، زه پوهېږم چې تاسو هغه هلک او هغه بوډا وژلي دي.

خو د رام په خبره نږدې و له ډېر حیرات څخه په ځمکې ولوېږم.
— نه، د دې موضوع څخه بیغم اوسېږه. هاېسون به هېڅکله پوهه نه شي چې د هغې له مور سره څه شوي دي.

هغه ناشنا غږ چې د زندان د کوټو پر لور د تلو له امله ورو ورو لرې کېده، وویل: دا کار ماته پرېږده.
پر دروازې وښویېدم او پر ځمکې ولوېدم. زنګونونه مې راټول کړل او خپل زنه مې پرې کیخودل، د هغه څه له امله چې مې اورېدلي وو، بې‌حسه ناسته وم. داسې احساس مې کاوه لکه له یوه ژور خوب څخه چې راویښه شوی یم، ذهن مې ګډوډ و، سر مې کار نه کاوه. زما مور د رګډ کوو له پېښو سره څه تړاو لرې؟

هغه درې کاله مخکې، هغه وخت ورکه شوه چې زما د تولد د کیک اخیستو لپاره له کوره وتلې وه. نو څنګه د دې ټولو پېښو سره اړیکه لرلې شي؟ کېدای شي ما د رام خبرې سمې نه وي اورېدلې، نه پوهېدم، خو د زړه له تل څخه پوهېدم چې خبره داسې نه ده.

ولې زما مور رګډ کوو ته راغلې وه؟ چا هغه دلته راوستې وه؟ خو هغه پوښتنه چې تر ټولو ډېره یې زما زړه خوږو دا و چې: له هغې سره څه شوي دي؟
پر خپلو پښو ودرېدم. زړه مې بدېده او وېرېدم. خو خپل د ځان لپاره نه وېرېدم، بلکې د خپلې مور لپاره وېرېدم. اوس هغه چېرته ده؟

تر بل هر وخت مې ډېر غوښتل چې د رګډ کوو د پېښو رازونه رابرسېره کړم، که هر څومره خطرناک کار هم و. خو په دې هم پوهېدم چې تر هغې مخکې چې ومپایرس ویني څښونکي، یا ښایي دواړه، زما پسې راشي، ډېر وخت نه لرم. غوږ مې یو ځل

بیا په دروازی کیښود، تر څو ډاډه شم چې رام او ملګری یې د دروازې بلې خوا ته نه دي.

په ډېر احتیاط مې لاستی وڅرخاوه، دروازه مې لږه خلاصه کړه او د درز له لارې مې بهر وکتل. دهلېز خالي و. هغه وړه دروازه هم بېرته په زنګ وهلي قلف تړل شوې وه. د هغوی غړونه له لرې راتلل. دروازه مې یو انچ نوره هم خلاصه کړه او غوږ مې ونیو. د خبرو غږ یې اورېدل کېده، خو خبرې یې سمې نه اوریدل کېدې چې څه وايې؟ غړونه د زندان لخوا راتلل.

په پټه له دروازې راووتم او دهلېز ته داخله شوم. یو ځل مې د هغې وړې دروازې خواته وکتل. د دروازې له سوریو یوازې تیاره ښکاره کېده، داسې تیاره چې د هغې بلې خوا ته یې د جهنم لار پرانیستې وه. د اصلي دفتر پر لور لاړم. په پټه مې د مېز شاوخوا وکتل، دروازه مې خلاصه کړه او له ادارې څخه ووتم.

بیا واوره ورېده. بل انتخاب مې نه درلود، باید بېرته د هلال میاشت مسافرخانې ته تللی وای. نو د هغې پر لور روانه شوم. دعا مې کوله چې مخکې له دې چې ویمپایرس او وینې څښونکي مې پیدا کړي، مسافرخانې ته ورسېږم.

کله چې مې سترګې د هلال میاشت په مسافرخانې ولګېدې، نو په ټول ځواک مې د هغې پر لور منډه کړه. له ادارې څخه تر مسافرخانې پورې په رسېدو تر یوه ساعت ډېر وخت تېر شوی و، خو هره دقیقه یې راته د یوه عمر په شان اوږده ښکارېده. یوازې سارې او واوره نه وو چې تګ یې راته سخت کړی و، بلکې د وینې څښونکو د برید وېره او دا اندېښنه چې هره شېبه به کوم ویمپایرس راڅرګند شي، هم راسره وه.

لوک غارونو ته استول شوی و، او همدې خبرې زما د ناامنۍ احساس لا زیات کړی و. په ذهن کې مې یو فکر تاوېده: ایا پر لوک باور کولی شم که نه؟
که څه هم مخکې مې د پاټر خبره نه منله چې لوک د ګناه د احساس له امله زما ژوند

ژغورلی، خو اوس وېرېدم چې ښايي خبره يې رښتيا وي او لوک هم د کومې پټې ګناه له امله زما مرسته کوي.

د رام خبرې مې د خپلې مور په اړه اورېدلې وې او پوهېدم چې ښايي زما له مور سره د شويو پېښو تر شا هم د ويمپايرانو لاس وي. خو اوس مې دا وېره هم پيدا شوې وه چې ايا لوک هم په دې هر څه کې ښکېل دی که نه؟
مسافرخانې ته ورسېدم. دروازه مې ټېله کړه او دننه شوم. د تل په شان څو ځايي خلک د مېزونو شاوخوا ناست وو. په لاسونو کې يې د خالص ويسکي ګيلاسونه وو او د اور په تودوخه يې ځانونه ګرمول. کله چې زه دننه شوم، ټولو زما خوا ته وکتل او کوټه په چوپتيا کې ډوبه شوه.

زړه مې غوښتل چيغه کړم او ووايم: ولې ټول ماته ګورئ؟

خو ځان مې کابو کړ. سر مې ټيټ کړ او په ارامۍ د هوټل له منځه تېره شوم. يوازې مې غوښتل شپه په خپلې پورته کوټې کې تېره کړم.
کله چې د خپلې کوټې زينو ته ورسېدم، رونالډ ناڅاپه د هغه دفتر له دروازې راووت چې د مېز تر شا وه. د هغه ناڅاپي راڅرګندېدو دومره ووېرولم چې بې اختياره مې شاته ټوپ وواهه او ساه مې ونيوله.

هغه راته وکتل. مخ بند يې په وينو سور شوی و. داسې ښکارېده لکه د غوښې پرې کولو پر مهال يې خپل وينو لړلي لاسونه په هماغه داغدار مخ بند پاک کړي وي.
له شرمه موسکی شو او ويې ويل: بخښنه غواړم، نه مې غوښتل و دې وېروم.
ما هم يوه زورکې موسکا وکړه او ومې ويل: نه، کومه خبره نه ده.
رونالډ- ډاډه يې چې کومه خبره نشته؟
- هو، ډاډه يم.

يوازې مې غوښتل خپلې کوټې ته ولاړه شم.
رونالډ- خو رنګ دې ډېر ژېړ ښکاري. داسې ښکارې لکه ناروغه چې يې؟

- نه، نن هم د نورو ورځو په شان یوه عادي ورځ وه. ناروغه نه یم.
پوهېدم چې هغه غواړي راسره مهرباني وکړي، خو ما د خبرو هېڅ حوصله نه لرله.
رونالډ موسکا وکړه او ویې ویل: ښه، څه درته راوړم؟ مثلاً یو سینډویچ؟
- فکر مې کاوه چې ستا مور د خوړو د وخت په اړه ډېره سخته ده.

د خپل جمپر کشک مې خلاص کړ. بهر سخته یخ و، خو دلته د بل اور له امله هوا دومره ګرمه وه چې ساه یې رابندول.
رونالډ موسکی شو او ویې ویل: زما د مور خبرې دومره جدي مه نیسه.
بیا لږ رانږدې شو او په ټیټ غږ یې وویل: هغه لږ عجیب عادتونه لري.

له کومې ورځې چې رګډ ته راغلې وم، تر اوسه مې هېڅکله رونالډ دومره له نږدې نه و لیدلی. کله چې رانږدې شو، د هغه پر تندي مې د خولو ورې داني ولیدې چې تر پورتنۍ شونډې پورې بهېدلې او ځلېدې. سترګې یې لږ پړسېدلې وې او شونډې یې شنې ښکارېدې. د بدن حالت یې ښه نه و. داسې ښکارېده لکه یو پنځوس کلن سړی چې د زړه له حملې وروسته د مرګ په درشل کې ولاړ وي.

د هغه عمر اټکل کول اسانه نه وو. چاغ او غوښین مخ یې هر ډول ګونځې پټې کړې وې. تور او تاو تاو ویښتان یې ګډوډ وو، شا ته یې اړولي وو او د غوړوالي له امله چټل ښکارېدل. غټ لاسونه یې د خامې غوښې په وینو ککړ وو او بد بوی ترې پورته کېده. یوازې دا فکر چې هغه به پدې لاسونو راته خواړه جوړ کړي، زړه مې بدوه.
څو زینې ښېرته شاته ولاړم او ومې ویل: رونالډ، له مهربانۍ دې مننه، خو اوس یوازې خوب کول غواړم.

هغه زما له شا وویل: ښنګه چې ستا خوښه وي آغلې، خو زه داسې فکر نه کوم.
له اوږې مې ورته وکتل او ومې ویل: مننه خو ډاډه یم. شپه دې پخیر رونالډ.

د خپلې کوټې دروازه مې بنده کړه، جمپر مې وایست او د قتلونو د ځایونو او نېټو نقشه مې راواخیسته. پر ځمکه کښېناستم، نقشه مې مخې ته هواره کړه، قلم مې

راواخیست او هغه ځایونه مې په نښه کول پیل کړل چې ډېر قتلونه پکې شوي وو. پلار به مې تل د هغو درسونو په اړه راسره خبرې کولې چې د سریالي جرمونو په اړه یې لوستي وو. یوه مشهوره نظریه دا وه چې سریالي وژونکي ډېرې وخت خپلو کورونو ته نږدې قتلونه کوي. د ځینو لپاره دا اسانه وي، ځکه غواړي له جرم وروسته ژر تر ژره بېرته خپل پټنځای ته ستانه شي.

یوه ورځ مې پلار راته ویلې وه: که په نقشه کې دې داسې دوه ځایونه پیدا کړل چې ډېر قتلونه پکې شوي دي، نو شاوخوا یې دایره وباسه. ډېر احتمال شته چې قاتل هم د هماغې سیمې په شاوخوا کې وي. ما هم په نقشه کې یوه لویه دایره وکښله، خو پوهېدم چې زه له یوه قاتل سره نه، بلکې له څو قاتلانو سره مخ یم، ښایي شمېر یې تر دې هم ډېر وي. یوه نظریه مې په ذهن کې وه. لوک راته ویلي وو چې کله یې د وینې تنده پیدا شي، داسې احساس کوي لکه روح یې چې په اور کې سوځي. دا اور تر هغه نه مري، څو وینه ونه څښي یا بېرته غارونو ته ولاړ نه شي او تنده یې ارامه نه شي.

دا حالت د نشه‌يي توکو د روږدي کس یا د ډېر وږي انسان په شان و. نو پوښتنه دا وه: ایا یو روږدی سړی به د نشه‌يي توکو لپاره څو کیلومتره مزل وکړي، په داسې حال کې چې پوهېږي هماغه مواد ورته نږدې هم پیدا کېږي؟ یا یو ډېر وږی انسان به له څو رستورانتونو تېر شي، یوازې د دې لپاره چې تر لیرې رستوران پورې ځان ورسوي؟ همدا پوښتنه د وینې څښونکو په اړه هم زما په ذهن کې راګرځېده. همدا خبره د ویمپایرانو لپاره هم سمه وه. کله چې به له خوبه راویښ شول او د وینې تنده به پرې راغله، ډېر امکان و چې لومړی انسان به یې وواژه او وینه به یې وڅښله.

نو د قتلونو لېست مې راواخیست او هر هغه ځای او نېټه مې په نقشه کې په نښه کړه چې قربانیان پکې موندل شوي وو. کله چې کار مې پای ته ورسېد، لږ شاته شوم او نقشې ته مې وکتل. د هغې دایرې منځ، چې ما ایستلې وه، له نقطو ډک و. هماغه

ځیونه وو چې تر ټولو ډېر قتلونه پکې شوي وو. خو کله چې مې وروستیو قتلونو ته پام شو، نو ومې لېدل چې نقطي ورو ورو د دایرې څنډو ته رسېدلي دي. خو ولې؟

کله چې د لاندې طبقي بوډۍ ښځه د مقدسو اوبو د بوتلونو او د سپینو زرو د صلیبونو او د مسافرخانې په هره خوا کې ځوړند هوږې را په یاد شوې، سمدستي مې ځواب پیدا کړ. د هنری بلیک له وژل کېدو او د ویمپایرانو د اوازو له خپرېدو وروسته، د رګډ کو اوسېدونکي هوښیار شوي وو. خلکو له ځان سره مقدسي اوبه او د سپینو زرو صلیبونه ګرځول او د خپلو کورونو د دروازې مخې ت  یې هوږې کیځودلې وه.

هر څومره چې د هغوی احتیاط زیاتېده، ویمپایران او وینه څښونکې هم اړ کېدل چې له ښاره لرې ولاړ شي، هلته خپل ښکار پیدا کړي او د وینې تنده ماته کړي. کله چې ما خپل برید را په یاد کړ کوم چې د ښار په څنډه کې راباندې شوی و، نور هم ډاډه شوم چې زما اټکل سم دی.

دا ویمپایران به د لسګونو، ښايي سلګونو کورونو له څنګ تېر شوي وو؛ داسې کورونه چې دننه یې انسانان اوسېدل او وینه څښلې آسانه کار خو بیا هم هغوی تر ما پورې راغلل. هره شپه به لا نور هم له ښاره لرې کېدل، د ښکار په لټه کې به ګرځېدل، او په همدې توګه یې خپل جال د رګډ کو له شاوخوا بهر غوړاوه. له هر نوي قتل سره به یو بل وینې څښونکی هم پیدا کېده.

پوهېدم چې وخت په بېړه تېرېږي. خو زه باید څه وکړم؟ ځواب مې نه درلود، خو دومره پوهېدم چې که د دوی پټنځای ومومم، همدا به د هر څه پیل وي. بیا مې نقشې ته وکتل او د قلم څوکه مې د نقطو په منځ کې کېښوده. کله چې مې قلم پورته کړ او هغه ځای ته مې بیا وکتل، زړه مې ودرېد. د سینټ ماري کلیسا!
له حیرانۍ او نا باورۍ بې اختیاره شاته ولوېدم او پر ځمکه کښېناستم. لا مې ذهن د

دې موندنې مانا ته نه و رسېدلی چې ناڅاپه مې د خپلې کوټې د دروازې له لاندې د یوه کس سیوری ولید. داسې ښکارېده لکه څوک چې د دروازې شا ته ولاړ دی.

لومړی مې فکر وکړ چې رونالډ به زما خبره نه وي منلې او خواره به یې راته راوړې وي. نو ځکه له ځمکې پورته شوم، د دروازې خوا ته ولاړم، په بیړه مې دروازه پرانیسته او ومې ویل: ګوره، رونالډ؟ دا ستا ډېره مهرباني ده، خو زه ...

لا مې خپله خبره نه وه بشپړه کړې چې پوهه شوم د دروازې شا ته رونالډ نه بلکې هماغه خولې والا کس ولاړ دی، هماغه څوک چې هر ځل به یې راته د لیک پاکټ او د سپینو زرو صلیب راوړ. دواړو په یوه وخت ژوره ساه واخیسته. ما له حیرانتیا څخه او هغه له ورخطایي څخه، هغه ګومان نه کاوه چې زه به یې داسې لاس ترلې راګیر کړم.

بې له ځنډه مې ورباندې حمله وکړه او کلک مې ونیو. غوښتل مې پوهه شم چې څوک دی چې له هغې ورځې راهیسې، چې رګډ کوو ته راغلې یم هر وخت یې زما څارنه کوی؟ هغه هم په بیړه ځان شاته کش کړ، خو دومره چټک نه و. د خولۍ څنډه مې ونیوله. لاس یې زما پر سینه کېښود او په زور یې شاته ټېله وهلم. پر ځمکه ولوېدم خو هغه مې هم له ځان سره راکش کړ. ژر مې ځان وروارړاوه. هغه له ځمکې پورته شو او د دروازې پر لور یې منډه کړه.

خو لاسونه مې وغځول او د هغه دواړه پښې مې کلک ونیول، هغه هم تعادل له لاسه ورکړو او پر ځمکه راپرېوت. پر سینه مې ورته زنګون کېښود، ځمکې ته مې ټینګ کړ او خولۍ مې ترې لرې کړه. کله چې مې د هغه څېره ولیده، په حیرانتیا له ځایه پورته شوم او ومې ویل: ته؟ ته دلته څه کوې؟
قوماندان فلیپس د خپلې خولۍ له لاندې راوکتل او ویې ویل: د دې لپاره چې ستا ساتنه وکړم.
- څه؟

لا هم په دې حیرانه وم چې هغه پټ مخی سړی، چې دومره موده یې زما څارنه کوله، هماغه قومندان فلیپس و، زما د پوځي ښوونځي ښوونکی. باور مې نه راتلو، هغه له ځمکې راپورته شو او ویې ویل: فکر کوم ته به پخپل هم پوهه شوی اوسیږې چې دا ښار عادی نه دی!
د کټ پر غاړه کښېناستم او ومې ویل: نو بیا مو ولې زه دلته راولېږلم؟
هغه وویل: هیچا ته نه یې رالېږلې. تا خپله وغوښتل چې دلته راشې هېر دې دي؟
- سمه ده منم چې ما خپل غوښتل دلته راشم، خو تاسو راته دا وړاندېز وکړ او د دی ځای تعریفون او د ښه معاش خبری مو وکړل.
هغه اوږه پورته واچول او ویې ویل: هر څه چې وه اوس خو تېر شول. اوس ته دلته یې او په داسې خطر کې راګیره شوې یې چې تصور یې هم نه شې کولی.

- زه خپل هم پوهېږم چې په خطر کې یم.
هغه خپل غږ ټیټ کړ او ویې ویل: نه، ته یوازې په نیم حقیقت پوهه شوې یې.
- مطلب دې څه دې قومندان صیب؟
د هغه له خبرو وېرېدم چې اوس به څه راته وایې؟
هغه په خندا شو او ویې ویل: لومړی دا چې نور ماته قومندان مه وایه. ځکه موږ نور په پوځي ښوونځي کې نه یو، هاېسون!
- ښښه غواړم، کریګ.

د هغه اصلي نوم مې چې په خوله راوړ، ځان راته لږ نااشنا ښکاره شو. کریګ ډېر ښکلی سړی و. عمر به یې له دېرشو اوښتی و، خو ویښتان یې وختي سپین شوي وو. هماغه سپین ویښتان هغه لا نور هم باوقاره او پیاوړی ښکاره کاوه، کله چې لومړی ځل پولیسو ته ورغلې وم، هغه راته یوازې یو مشر افسر و. هېڅ ځانګړی احساس مې نه ورته درلود.

خو د پوځي ښوونځي یوه پېښه مې هېڅکله له یاده نه وځي. څو میاشتې مخکې له دې چې پولیسو ته شامله شم، پلار مې مړ شوی و. د هغه غم ډېر راباندې درووند و تر

دې چې یوه شپه په یوه مېلمستیا کې، چې ټول په رسمي جامو کې راغلي وو، ما شراب د لومړۍ ځل لپاره وڅښل او نشه شوم. نه پوهېږم ولې، خو ځان مې د کریګ غېږ ته واچاوه او کلک مې ونیو.

له هغې وروسته هر څه راته ګډوډ دي. یوازې دومره مې په یاد دي چې غوښتل مې هغه نڅا ته بوځم. کله چې هغه ونه منله نو ورته مې وویل چې په دریشي کې ډېر ښکلی ښکاري، بیا مې ترې وپوښتل چې واده یې کړی که نه؟
نور مې هېڅ د هغه شپې څخه نه دي په یاد، یوازې دا مې په یاد دي چې سبا سهار په خپلې کوټې کې له خوبه راویښه شوم. د شپې د جشن جامې مې لا هم پر تن وې او د پلار انځور مې په غېږ کې کلک نیولی و.

وروسته مې له همکارانو وپوښتل چې څه شوي وو. هغوی راته وویل، د نڅا په تالار کې پر ځمکه کښېناستم او د خپل پلار لپاره مې په ساندو، ساندو ژړل پیل کړل، دومره مې وژړل چې بې هوښه شوم او بیا کریګ په غېږ کې پورته کړې وم، کوټې ته یې رسولې وم او پر کټ یې ویده کړې وم. تر څو ورځو مې د ډېر شرم له امله د هغه سترګو ته نشو کتلې، خو هغه داسې چلند وکړ، لکه هېڅ شئ چې نه وي شوي. نه یې کله هغه پېښه یاده کړه او نه یې زه شرمنده کړم.

د هغه غږ له فکرونو راوویستم.
کریګ- ته تر اوسه په څه پوهه شوی یې؟
- یوازې دومره پوهېدلې یم چې دا ښار عادي نه دی.
هغه لږ رانږدې شو. او ویې ویل: یعنې څه؟

څو شېبې غلې پاتې شوم نه پوهېدم، که حقیقت ورته ووایم ایا زما خبره به ومنې کنه؟ ورو مې وویل: د دې ښار پولیس ..لږ ودرېدم بیا مې زیاته کړه: هغوی د نورو خلکو په شان نه دي .. د هغه سترګو ته مې وکتل او ومې ویل: هغوی زموږ په شان انسانان نه دي.

کریک په تریو تندی وویل: دا ته څه واې هاېسون؟ ښکاره خبره ده چې هغوی زموږ په شان انسانان دي. زه له څو کلونو راهیسې ډلګۍ مشر مورفي، پاتړ او لوک پېژنم.
- نه، ته یې هغومره نه پېژنې، څومره چې زه یې پېژنم.
لږ غلې شوم بیا مې ورزیاته کړه: که رښتیا پر لوک او مورفي دوي دومره باور لرې، نو بیا ولې دې په هغه خط کې لیکلې وه چې پر لوک باور مه کوه؟

غوښتل مې پوهه شم چې لوک د کومې ګناه بار پر اوږو وړي. خو تر هغه لا مهمه دا وه چې غوښتل مې پوهه شم، ایا پر هغه مې باور تېروتنه وه؟ ایا هغه مینه چې راته یې ښودله رښتینې وه که نه؟
کریک پر څوکۍ لږ وړاندې راغی. داسې یې راته کتل، لکه ډېر لوی راز چې غواړي راته وسپړي. خپل غږ یې دومره ټیټ کړ چې نږدې په پټه خوله یې وویل: دا هر څه ستا له مور سره تړاو لري.

ګومان مې وکړ چې سم مې نه دې اورېدلې.
- څه دې وویل؟
هغه زما سترګو ته وکتل، غوښتل یې زما غبرګون ووینې.
ورو یې وویل: لوک ستا د مور په ورکېدو کې لاس درلود.

دا خبره مې هېڅ نه شو منلې، په ټیټ غږ مې وپوښتل: څنګه؟
زه پوهېدم چې لوک ویمپایرس دی، نو لومړی فکر هماغه و چې په خوله مې راغې:
- یعنې لوک زما مور وژلې ده؟

کریک سر وخوځاوه.
— نه... خبره دومره ساده نه ده.
په یوه وار له کټه پورته شوم او ومې ویل: نو بیا راته روښانه وواېه! مور مې په دې ښار کې څه کول؟

هغه پوه شو چې حوصله مې ختمه شوې نو ځکه په ارام غږ یې وویل: هاډسون مهرباني وکړه، ته لومړۍ کراره کښېنه. زه به هر هغه خبرې باندې چې پوهېږم درته وایم.
د هغه په دې خبره کښېناستم. چې کریګ ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: له څو کلونو راهیسې په دې ښار کې پرلهپسې قتلونه کېږي. په پیل کې به کله ناکله یو څوک وژل کېده. د قربانیانو زخمونو ته په کتو، خلکو فکر کاوه چې دا به د ځنګلي حیواناتو کار وي. وروسته بیا قبرونه سپړېدل پیل شول او خلک هم بې درکه کېدل.

هر چا یوه کیسه جوړه کړې وه. رسنیو هم موضوع لا پسې توده کړه. ډېر ژر په ښار کې دا اوازه خپره شوه چې وینه څښونکو برید پرې کړی دی.
خو چا دا خبره جدي نه نیوله. ډلګۍ مشر مورفي او د هغه ډله هم د همدې لپاره دلته راولېږل شول، خو کومه پایله یې ترلاسه نه کړه. وروسته قوماندانۍ پرېکړه وکړه چې خپل تکړه او تجربه لرونکي افسران هم راواستوي، تر څو د جرمونو په څېړنه کې مرسته وکړي. خو یو په بل پسې ټول ورک شول.

داسې ورک شول، لکه له سره چې شتون یې نه درلود. نور نو قوماندانۍ هم نامیده شوې وه چې هماغه وخت یې ستا مور را په یاد شوه. هغې داسې یو پولیسې نوم ځانته ګټلی و او داسې سختې دوسیې حل کولې کوم چې ډېر تجربه لرونکو افسرانو لا نه شو حل کولای.

نو ځکه څو ځله ورته د فدرالي جنایي ادارو لخوا د کار وړاندیز وشو، خو ستا مور هر ځل هغه رد کاوه. که څه هم هغې له خپل کار سره ډېره مینه لرله، خو اصلي مینه یې ته او ستا پلار وې. نو ځکه نه یې غوښتل داسې څه وکړي چې اوږده موده له تاسو څخه لرې پاتې شي.

خو د رګډ کو د قتلونو د حل لپاره چې پر مور ځومره فشار و، بالاخره هماغه فشار پر هغې هم دومره زیات شو چې نظر یې بدل کړ.
په حیرانتیا مې وپوښتل: کوم فشار؟

کریګ سر ټیټ کړ او خپلو پښو ته یې وکتل. داسې ښکارېده لکه د هغې خبرې له ویلو شرمېږي. ورو یې وویل: ځینې نشه‌یي توکي چې پولیسو د یوې ډلې پر ضد په عملیاتو کې نیول شوی وه، څو اوونۍ وروسته ستا د مور په الماری کې پیدا شول.

د خپلې مور د دفاع لپاره مې چیغه کړل:
- خو زما مور هېڅکله نشه نه کول..
لا مې خبره نه وه بشپړه کړې چې کریګ مې خبره پرې کړه.
— اړتیا نشته چې ما قانع کړې. زه پوهېږم.
لږ شېبه غلی شو، بیا یې وویل: ستا مور ته د چوپ پاتې کېدو په بدل کې دا دنده ورکړل شوه چې رګډ کو ته ولاړه شي. ورته ویل شوي وو که لاړه شي نو هغه نشه‌یي توکي به ورک شي او موضوع به بیا هېڅکله راپورته نه شي. خو که انکار وکړي، وبه نیول شي، دنده او نوم به یې له منځه ولاړ شي.

ستا مور دومره هوښیاره وه چې پوهه شي، که د نشه‌یي توکو په جرم ونیول شي، یوازې د هغې نوم به خراب نه شي؛ ستا د پلار نوم او عزت ته به هم زیان ورسېږي، او ښایي ستا پر ژوند هم اغېزه وکړي. نو په حقیقت کې بله لار نه وه ورپاتې.
هغې ومنله چې رګډ کو ته ولاړه شي، خو شرط یې کېښود چې یوازې دوه اوونۍ به پاتې کېږي. مور هم ومنله، ځکه پوهېدو چې د پېچلو جرمونو د حل وړتیا یې دومره زیاته ده چې دوه اوونۍ به ورته بس وي. ستا مور ژمنه وکړه چې دا راز به ساتي. او هیچا ته به نه وایي چې چېرته ځي او ولې ځي؟

په حیرانتیا مې وپوښتل: ولې؟
کریګ- لکه څنګه چې ته خپل هم پوهېږې، هر پولیس چې دې ښار ته رالېږل شوی و، ورک شوی و. مور شک کاوه چې ښایي د مرکزي ادارې او د قاتلانو ترمنځ څوک اړیکه ولري. نو ځکه باید داسې ښکاره کړې مو وای چې ستا مور یوازې د خپل عادي کار لپاره راغلې ده. نوم او شمېره یې بدله کړه. بڼه یې هم بدله کړه. هېڅوک نه

پوهېدل چې هغه دلته د پلټنې د ډلې د غړې په توګه راغلې ده. همدا د دې لامل دی چې ستا مور له هغې ورځې تر اوسه، یعنې درې کاله کېږي چې ورکه ده.

سترګې مې له غوسې سرې شوې.
- که تاسې پوهېدئ چې زما مور په پټه توګه دندې ته تللې، نو بیا مو ولې زما پلار ونیو؟ ولې مو کور او باغ وپلټو؟

اوس چې پوهېدم درې کاله مې دروغ اورېدلي وو، هره شېبه مې غوسه لا زیاتېده.

کریګ- یوازې د مرکزي ادارې څو کسان په دې خبره پوهېدل، ځکه نو موږ مجبور وو چې ستا د مور ورکېدل هم د نورو پولیسو په شان عادي وښیو.

نږدې و چې د ډېرې غوسې څخه چیغه کړم.
- خو تاسې زما پلار ونیو! هغه بیا هېڅکله پخوانی انسان نه شو. زما پلار یو باعزته، خوشاله او ژوندی انسان و. خو کله چې پرې تور ولګېد نو د ټولو خلکو د پیغور شو، خپل ټول ژوند یې له لاسه ورکړو هغه د دې اندېښنې او فشار له امله چې د هغه له مېرمنې، یعنې زما له مور سره به څه شوي وي، په ځوانۍ کې مړ شو.
کریګ زما سترګو ته نه کتل. په ارام غږ یې وویل: هاډسون، ته باید پوهه شې دا زما پرېکړه نه وه.

هغه ټول درناوی چې تر دې مخکې مې ورته درلود، په یوه شېبه کې له منځه لاړ.
په غوسه مې غاښونه کلک سره ونیول او ومې ویل: نه، ستا پرېکړه نه وه خو ته پرې خبر وې، نو ته هم په دې کار کې شریک وې.
هغه ژر وویل: نه، هېڅوک نه پوهېدل چې ستا له مور سره به څه کېږي.
په قهر مې وویل: بس یې کړه. تاسو باید د دې موضوع په اړه فکر کړی وای. په هر حال هر پولیس چې دې لعنتي ښار ته رالېږل شوی و، ورک شوی و.
هغه راوکتل او په ټینګار یې وویل: خو موږ فکر کاوه دا ځل به حالت فرق ولري، ځکه ستا مور له نورو سره توپیر درلود.

زړه مې په درزيدو شو او ومې ويل: نو بيا زما د مور سره څه وشول؟
کريک- مورِ په ډاډه توګه نه پوهېږو.
په غوسه مې وويل: نه پوهېږئ؟ څومره ښه! هره شېبه خبره لا ښه کېږي.
کريک لږ چوپ شو، بيا يې وويل: مورِ شک کاوه چې لوک ښايي په دې موضوع کې لاس ولري.

- څنګه؟
يوه برخه زما د زړه نه غوښتل دا واوري چې لوک زما د مور په ورکېدو کې لاس لري.

کريک- هغه شپه چې ستا مور ورکه شوه، لوک ورسره و. له هغه پوښتنې وشوې خو هغه د پېښې لپاره کوم قانع کوونکی ځواب نه درلود. لوک ويل چې دواړه يو ځای د جرم د يوې صحنې د څېړلو لپاره تللي وو. هلته لوک د ځنګله له خوا يو غږ اورې او ستا مور د مړي تر څنګ يوازې پرېږدي او د غږ د معلومولو لپاره ځي، خو څو شېبې وروسته چې بېرته راځي ستا مور هلته نه وي.

کله چې مې هغه شپه را ياده کړه چې په هديره کې له لوک سره وم او ناڅاپه ورک شو، زړه مې مات شو او ومې ويل: هغه له ما سره هم همداسې چل کړي وو.
مورِ د سينټ ماري کليسا ته تللي وو تر څو هغه قبر وګورو چې سپړل شوی و،زه قبر ته کوزه شوم، تر څو ښه يې وګورم. خو کله چې بېرته پورته شوم، لوک ورک شوی و.د هغه پر ځای يوه ځوانه نجلۍ زما مخې ته ولاړه وه. ما په مخابره کې ورته ډېر غږ وکړ خو ځواب يې رانه کړ. بيا څو ځله مې ورته ناری کړل او مرسته مې ترې وغوښته، خو هغه رانغلو، تر دې چې هر څه پای ته ورسېدل.

کريک- تا ولې د هغه ښځه مرسته غوښتل؟
- ځکه هغه نجلۍ وينه څښونکې وه!
پروا مې نه کوله چې هغه زما په خبره باور کوی که نه.
کريک په حيرت وپوښتل: ايا ما سم واورېدل؟ تا وويل وينه څښونکې؟

- هو، سم دې واورېدل. باور پرې کوې که نه هغه ستا کار دی، خو دا ښار له همدوی څخه ډک دی.
کریګ- زما د زړه یوه برخه تل شکمنه وه چې ښایي دا اوازې رښتیا اوسی. نو ځکه مې هغه صلیبونه درته پرېښودل، خو ..

ناڅاپه یې غږ کمزوری شو. داسې ښکارېده لکه د خبرو لپاره د سمې کلمې په لټه چې وی، ما یې خبره پرې کړل او ومې ویل: پوهېږم، دا خبره د خوب یا ډارونکي فلم په شان ښکاري. زما هم په پیل کې باور نه پرې راتلو. خو کله چې یو څوک دې له پولیسو د موټر څخه راوباسي او هڅه وکړي تا ووژني نو بیا ستا نظر پر هر څه بدلېږي.

کریګ ښایي زما په سترګو کې هغه وېره ولیدله چې د هدیرې د پېښې په یاد راوړلو زما سترګو کې پیدا شوې وه. نو ځکه ورو یې وویل: تخو ټوکې نه کوې کنه؟
- ولې باید د داسې خبرې په اړه دروغ ووایم؟ په دې خبرو باندی زه یو لوی خطر په غاړه اخلم او امکان لری خپله دنده له لاسه ورکړم.

هغه پر څوکۍ لږ رانږدې شو او په غور یې زما مخ ته وکتل. هغه چوپتیا چې زموږ ترمنځ خپره شوه، داسې ښکارېده لکه هېڅکله به پای ته ونه رسېږي. ما فکر وکړ ښایي اوس به پورته شي او له کوټې به ووځي. خو هغه همداسې ناست پاتې شو او ویې ویل: هاډسون، که بل هر چا راته دا خبرې کړې وای، نو سمدستي به مې د پولیسو نښان ترې اخیستی وای او ورته به مې ویلي وو چې له یوه رواني ډاکټر سره خبرې وکړه. خو زه تا پېژنم او پوهېږم چې ستا ذهن څومره دقیق او منظم کار کوي. پوهېږم چې ته یوازې پر منطق او حقیقت باور کوې، پر هغو شیانو چې لیدلې او لمس کولای شې.

- زه اوس داسې شیان وینم او احساسوم چې خپله هم باور پرې نه شم کولی چې وجود لری. خو خبره یوازې همدا نه ده، زه د لوک په اړه یو احساس لرم.
کریګ هېڅ ونه ویل. هماغسې ناست و او تر پایه یې زما خبرو ته غوږ نیولی و.

چې ما دوام ورکړ: که تاسو پر لوک باور نه لرې، که فکر کوې هغه په هر ډول له قتلونو سره تړاو لري، نو بیا ولې تراوسه پولیس دی؟

کریک- ځکه موږ د هغه په وړاندی کوم مظبوط ثبوت نه لرو.
بیا یې نېغ زما سترګو ته راوکتل او ویې ویل: همدا لامل دی چې ته دلته راغلې یې.
په حیرانتیا مې وپوښتل: څنګه؟
کریک- ته رګېکوو ته یوازې د دې لپاره نه وې رالېږل شوې چې خپل د مور څخه دې یو عجیب د لیدلو وړتیا په میراث کې وړی ده.
- نو بیا د څه لپاره رالېږل شوی وم؟

کریګ راوکتل او ویې ویل: هاډسون، ته یوه ښکلې ښځه یې. ډېری نارینه به حاضر وي هر څه له لاسه ورکړي، یوازې د دې لپاره چې له تا سره واوسي. خپل ځان ته وګوره؛ جګ قد، تور او ځلېدونکي ویښتان، خرمایي سترګې او داسې شونډې چې ډېر نارینه به یې د یوه ښکلولو لپاره هر کار ته چمتو شي.

د هغه خبرو نه شرمنده کړم او نه مې مخ سور شو، برعکس غوسه یې راته زیاته کړه او په داسې حال کې چې غاښونه مې کلک سره نیولي وو، ومې ویل: نو ته دا وایې چې زه یوازې یو لومه وم؟ تاسې زه دلته راولېږلم تر څو هغه له خپل پټنځای څخه راوباسې؟ ستاسو پلان دا و چې موږ دواړه یو پر بل مینان شو او هغه خپل د زړه رازونه ماته ووایي؟

هغه لږ غلی شو، بیا یې وویل: هو، پلان همدا و او هغه خپل د زړه رازونه تاته وویل کنه؟ هغه درته وویل چې وینه څښونکې شتون لری او هغه پولیسان د هغوی لخوا ورک شوی، موږ خپل هدف ته ورسیدو. هاډسون.
په غمژن موسکا مې د هغه خوشحاله څېرې ته وکتل او ومې ویل: ګومان نه کوم ... منم چې هغه خپل د زړه رازونه ماته وویل. خو هغه څه نه دي چې ته یې فکر کوې.

داسي ښکاريدی چې زما د خبرو څخه ګنګس شوی وی.
— مطلب دې څه دې؟
په لوړ غږ مې وویل: لوک انسان نه دی، هغه ویمپایرس دی.
کریګ- دا بیا څه معنا لري؟ ایا یو بډول وینه څښونکی دی؟
- نه، هغه عادي ویمپایرس نه دی. لوک راته د خپل نسل لپاره یو نوم ویلی و، څه شی و، اوس مې سم نه دی په یاد. خو هر څه چې وي، مانا یې دا ده چې هغه د ویمپایرس یعنې له وینه څښونکو اسمان سرلکیانو له نسل څخه دی.

کریګ ودرېد او پخندا شو، د ښه شیبې خندا وروسته یې وویل: ټوکې کوې کنه؟ یعنې دا ټول خبری دې هسې له ځانه جوړ کړې؟
- ګوره زه دومره وخت نه لرم چې دلته ودرېږم او تاته د پیریانانو او ښاپیریانو کیسي وکړم. هغه خپل وزرونه راته وښودل.
کریګ- وزرونه؟

په قهر مې وویل: هو، وزرونه! واوره څه وایم. هغه په داسې سرعت الوتلی شي چې باور پرې سخت دی. ډېر پیاوړی دی. ما په خپلو سترګو لیدلي چې څنګه یې وینه څښونکې دوه ټوټې کړل، داسې لکه څوک چې کاغذ څیروي.

کریګ- په یوه خبره زما سر خلاص نه شو، د عادي ویمپایر او هغه څه چې ته یې د لوک په اړه وایې، توپیر څه دی؟
- ویمپایرس له ډېر پخوا راهیسې شتون لری، زما مطلب دا دی چې هغوی تر انسانانو مخکې هم دلته اوسېدل. د ځمکې لاندې، په غارونو او ژورو ځایونو کې ژوند کوي. هغوی هم د انسانانو وینې ته لېوالتیا لري، خو عموماً کله چې د وینې تنده پرې راشي، بېرته لاندې پټو ځایونو ته ستنېږي او انتظار کوي، تر څو هغه تنده یې ختمه شي.

کریګ- لکه هغه روږدي کسان چې غواړي نشه پرېږدي؟
- هو، همداسې خو ستونزه دا ده چې د هغوي څخه ځینې کسان خپل د تندې پر

وړاندې مات شول او د انسانان وژل او د هغوي وينه څښل يې پيل کړل. البته هغه انسانان چې دوی يې وژني، د رښتيا نه مري بلکې بېرته د ويمپايرانو په بڼه راګرځي. يوه مانا کې، هغوی د ويمپايرس بدله شوې نسخه ويمپاير وينه څښونکې دې.خو د لوک په شان وزرونه نه لري.

کريک- هاډسون زه ستا خبری نه شم منلې، ځکه ما تر اوسه لوک هېڅکله په وزرو کې نه دی ليدلی. ډاډه يم چې ته غلطه شو يـ ...

د ډېر بې وسۍ څخه مې خپل لاس کلک پر ورون وواهه او چيغه مې کړه:
ته ولې زما خبرو ته غوږ نه نيسې! هغوی تل خپل اصلي شکل نه ښکاره کوي. ته هر وخت د هغوی وزرونه نه شې ليدلی. ډېری وخت يې بڼه زموږ په شان ده.

هغه په حيرت وويل: يعنې خپل وزرونه پټوي؟
- هو، خپل وزرونه پټوي.
لږ شېبه غلې شوم بيا مې وويل: او لوک يوازينی ويمپايرس نه دی.
د هغه سترګې له حيرت پراخې شوې.
— يعنې نور هم شته؟

د کريک له څېرې ښکاريدل چې هڅه کوي زما خبرې هضم کړې. ما هم نامردی ونکړل او ومې ويل: هو، مورفي، پاټر او رام دا درې واړه د وينې څښونکو آسمان سرلکيانو له نسل څخه دي.

کريک ناڅاپه وارخطا شو او ويې ويل: رام؟ نه، دا يو امکان نه لری ضرور ته غلطه شوی يې.
په ټينګار مې وويل: نه، زه نه يم غلطه شوی همدا څو ساعته مخکې مې وليدل چې خپل وزرونه يې راويستې وه او په اداره کې ګرځېدي.
د کريک سترګې له حيرت پراخې شوې او ويې ويل: خو رام هماغه کس دی چې ستا

مور یې دلته د راتلو لپاره مجبوره کړه، هغه ستا د مور په الماری کې نشه یې توکي کیخودل او د هغه په بدل کې هغه دې ماموریت ته د راتلو لپاره وګواښوله او ...

ناڅاپه چوپ شو داسې ښکارېدل لکه ذهن کې چې دا ټولې ټوټې او خبرې سره یو ځای شوې وي.
- اوس دې زما په خبرو باور راغې؟
هغه ورو وویل: نه غوارم باور پرې وکړم، خو ..
- خو څه؟
مخ یې راواړاوه او ویې ویل: دا ټول خبری تر هغه ډېر بد دی چې ما یې فکر کاوه.
- خو زه د دې څخه لا بتره خبر درته لرم.
کریګ- د څه خبر؟

- فکر کوم د هغوي ځاله مې پیدا کړې چې چیرته ده؟ هغوې هلته په ...
لا مې خبره نه وه بشپړه کړې چې کریګ خبره راپرې کړه او ویې ویل: کلیسا؟
- ته له کومه پوه شوې؟
کریګ موسکۍ شو او ویې ویل: زه له تا یو ګام مخکې یم. هغه ورځ دې زه په هدیره کې ولیدم کنه؟
- هو، و مې لېدې.

کریګ- زه دلته اصل کې راغلی وم چې ستا ساتنه وکړم، خو بیا مې لږ تحقیق هم وکړ. کل ه چې مې د هغې نجلۍ د قبر سپړلو په اړه واورېدل، نو پرېکړه مې وکړه چې د ویمپایرانو په اړه ټولې اوازې پیدا کړم. پلار ټیلر(د کلیسا پاپ) په هدیره کې ولیدم او پوښتنه یې راڅخه وکړه چې هلته څه کوم؟ ما هم ورته وویل چې د کلیسا ودانۍ مې خوښه شوې او ترې مې وغوښتل که اجازه راکړي، لږ شاوخوا وګورم.
خو هغه وویل چې بد وخت کې راغلی یم، ځکه غواړي د عشای رباني مراسم ترسره کړي.

(عشای رباني (په انګلیسي کې Holy Communion یا Eucharist) د عیسویانو یو مهم مذهبي مراسم دی، په ځانګړې ډول د کاتولیک او ځینو نورو عیسوي کلیساوو کې. په دې مراسمو کې عیسویان د حضرت عیسیٰ (ع) د وروستۍ ډوډۍ (Last Supper) یاد تازه کوي. دوی عموماً: لږه ډوډۍ (چې د عیسیٰ(ع) د بدن سمبول ګڼل کېږي) او شراب (چې د هغه د وینې سمبول ګڼل کېږي) د عبادت په ډول استعمالوي. د دوی په باور دا مراسم د حضرت عیسیٰ د قربانۍ، مینې او د خدای سره د اړیکې نښه ده. خو موږ مسلمانان دا عقیده لرو چې عیسیٰ(ع) ژوندي اسمانو ته ختلې او اخره زمانه کې به بیرته ځمکې ته راځي او د امام مهدي(ع) په مرسته به دجال ته ماتې ورکوی، زموږ عقیده ده چې د پیغمبر(ص) د قبر مبارک پورته برخه چې کوم خالي پرېښودل شوې عیسیٰ(ع) به هملته دفن کیږي، او عیسیٰ (ع) به واده هم کوی تر دی حد په احادیثو شریفو کې معلومات راغلې، خو دا عیساویان خدای رانده کړې او دا نه ویني.)

په هر حال، هغه ومنله چې نن به د کلیسا شاوخوا راته وښیي. خو پیدا مې نکړی شو، څه کم یو ساعت یا تر هغه ډېر ورته منتظر وم. ماسپښین د کلیسا غړي یو یو د عشای رباني مراسمو لپاره راغلل، خو هغه رانغی وېرېږم چې د کوم وینه څښونکې ښکار نه وي ګرځېدلې.

- یا د ویمپایرس.
کریک- غواړې چې د هغه په اړه معلومات پیدا کړو؟
خپل جمپر مې راواخیست او ومې ویل: زه له تا یو ګام مخکې یم قومندانه! ستا له راتلو مخکې مې پرېکړه کړې وه چې د کلیسا خواته لاړه شم.

کله چې د هوټل سالون ته ننوتلم نو پوهه شوم هغه ډېری کسان چې هر ځل زه مسافر خانې ته راننوتلم ماته یې کتل اوس له مسافرخانې څخه وتلي دي او د باندې په یخ کې د خپلو کورونو خواته روان دي. یوازې څو شراب څښونکي د اور ترڅنګ ناست وو.

کریګ- پوهېږې، ما هېڅ وسله له ځان سره نه ده راوړي. که په کلیسا کې حالت خراب شو، مورې باید ..
خبره مې ورپرې کړه او ومې ویل: پرېږده یې. دلته توفنجه او برقي شاک ورکوونکی شیان هېڅ په درد نه خوری، دا شیان ویپمایرس ته ضرر نه رسوی.
کریګ- نو څه ضرر ورته رسوی؟ مورې خو بې دفاع هم نه شو تللی.

د هغې کوچني مېز خواته ورغلم چې بوډۍ ښځې پرې د مقدسو اوبو بوتلونه او صلیبونه ایښي وو. څو دانې مې راواخیستل کریګ ته مې ورکړل او ورته مې وویل: جیبونه دې په دې ډک کړه. که باور پرې کوې که نه، خو هغه صلیب چې تا راته راوړی و، زما په ډېر کار راغې.

کریګ په حیرانتیا وپوښتل: له ما سره ټوکې کوې؟

خپل لاسونه مې چې د کریسټې هال له پېښې وروسته هر ځل د هغه شپې په یاد راوړلو له وېرې رېږدېدل، پورته کړل او ومې ویل: زه داسې ښکارم چې ټوکې کوم؟
کریګ- نه، ښکارې خو نه.

د دې خبری وروسته هغه خپل جیبونه له مقدسو اوبو او صلیبو څخه ډک کړل. ما هم د بوډۍ ښځې ټول بوتلونه او صلیبونه واخیستل، د خپل جمپر جیبونه مې پرې ډک کړل او د دروازې پر لور روانه شوم. د باندې یخ باد زما پر مخ ولګېد. سر مې ټیټ کړ او لاسونه مې د پتلون جیبونو ته دننه کړل. کریګ ته مې وکتل او ومې ویل: چمتو یې؟

کریګ- اهوم چمتو یم.
خپل خولۍ یې پر سر کېښوده او د کلیسا پر لور روان شو. واوره په ډېره چټکۍ او زور ورېده، داسې ښکارېده لکه د واورین توپان منځ ته چې روان یو. هغه شپه مې را په یاده شوه چې د کروندو ترمنځ ورکه شوې وم او وینه څښونکو راباندې برید کړی و. بیا مې د لوک په اړه فکر وکړ او زړه مې په درد شو. سره له دې چې کریګ هر څه

ویلې وه خو بیا هم زما یوه برخه نه غوښتل له لوک څخه لاس واخلم. ټول فکر مې دا و چې هغه شپه یې څنګه زما ژوند وژغوره.

کله چې مې د هغه ساتنه، وزرونه او هغه د امنیت احساس چې د هغه غیږ کې مې درلود رایاد شو، په ټول وجود کې مې ښه احساس خپور شو، نه مې شوای کولای یا نه مې غوښتل چې باور وکړم لوک زما د مور په ورکېدو کې لاس لري. که داسې وای هغه بابد ماته چل راکړې وای او له ما یې ګټه اخیستې وای نه دا چې زما ساتنه وکړي او خپل راز راته ووایې. کریګ د باد د شور له منځه پوښتنه وکړه: د څه په اړه فکر کوی؟

نه مې غوښتل د خپل ګډوډ ذهن او د لوک په اړه د شک خبرې ورسره شریکې کړم، نو دروغ مې وویل: د دې خبرې په اړه فکر کوم چې تا نن شپه زما د کوټې مخې ته څه کول؟

واوره یې د سترګو له مخې لرې کړه او ویې ویل: یوازې مې غوښتل ډاډ ترلاسه کړم چې ښه یې. ځینې شپې به د مسافرخاني په سالون کې کښېناستم او شراب به مې څښل، بیا به مې داسې ښودله چې ګواکې تشناب ته ځم. وروسته به په پټه له زینو پورته راتلم او ستا د کوټې شاته مې غوږ نیوه. دا کار مې یوازې په دې خاطر کاوه تر څو ډاډه شم چې ستا حالت ښه دی.

- نو ولې په پټه راتلې او خپل ښه دې بدله کړه؟

کریګ- زه د رام له دې پرېکړې سره موافق نه وم چې ته یې دلته راولېږې. له هغه مې وغوښتل که امکان ولري، زه هم درسره راشم چې پام دې وساتم، په ځانګړې ډول ستا د مور له پېښې وروسته. خو هغه ونه منله. نو څو اوونۍ مې له خپلې کلنۍ رخصتۍ څخه استفاده وکړه او دلته راغلم، ما نه شوای کولای دا خطر ومنم چې څوک مې وپېژني، ځکه که رام ته خبر رسېدلی وای چې ما یې له امر څخه سرغړونه کړې، نو په ستونزه کې به لوېدلی وم.

کله چې پوهه شوم زما د راتګ شاته د رام لاس وو او کریګ زما لپاره دومره خطر منلی و، په نرمۍ مې د هغه لاس ونیو او مننه مې ترې وکړه. هغه په داسې حال کې چې کوښښ کاوه واوره له خپل کوټ څخه لرې کړې موسکی شو او ویې ویل: د منني ور نه ته.

یو څه وخت مو په چوپتیا کې مزل وکړ. یوازې د باد شور اورېدل کېده. که مې ویلې وای چې د هغه څه څخه چې زموږ مخې ته راتلل نه وېرېږم، نو دروغ به مې ویلي وای. خو پوهېدم هره خطره چې وي، باید ورسره مخ شم. ما خپل پلار ته ژمنه ورکړې وه او نه مې غوښتل خپله ژمنه ماته کړم. بیا مې د خپلې مور په اړه فکر وکړ او ومې ویل: زما د مور جعلي نوم څه و؟

هغه مخ د واورې له ورېدو واړاوه، یو اړخ ته یې راته وکتل او ویې ویل: د پولیس افسره جسیکا ریوز.

کله چې مې د ریوز نوم د هغه له خولې واورېد، هغه تش دوسیه رایاده شوه چې د ورک شویو کسانو د دوسیو ترمنځ مې پیدا کړې وه. نورې دوسیې له راپورونو او عکسونو ډکې وې، خو د مور دوسیه مې تشه وه. خو ولې؟ ښایي ځکه چې هېڅ راپور نه و چې واستول شي. سربېره پر دې، د پولیس افسره جسیکا ریوز په نوم هېڅوک په حقیقت کې موجوده نه وه. خو که د هغې په اړه یې یو دروغجن راپور جوړ کړی وای، نو ایا دا ټوله کیسه به لا د باور ور نه وای شوې؟

که رام هغه څوک و چې زما د مور په الماري کې یې نشه‌يي مواد ایښي وو، نو هغه کولای شول لږ وخت ولګوي او یو جعلي راپور جوړ کړي. خامخا یې باید همدا کار کړی وای، کریګ ته مې وکتل او ومې ویل: تا وویل چې زما مور اړ شوې وه چې خپل ظاهري بڼه بدله کړي.
سر یې وخوځاوه او ویې ویل: هو.
- ویښتان یې طلايي رنګ کړي وه کنه؟
کریک راوکتل او ویې ویل: ته له کومه پوهه شوې؟

هغه برس رایاد شو چې په الماری کې مې پیدا کړی و، هغه برس چې پرې طلایي ویښتان د تور ربښو سره پاتې وو. فکر مې وکړ او ومې ویل: مهمه نه ده.

خو برس یوازینی ځای نه و چې ما د هغې ویښتان پکې موندلي وو. د هنري بلیک په ورو لاسونو کې مې هم هغه ویښتان لیدلي وو. یوازې دوه ورځې تېرې شوې وې او دا خبره یې ثابتوله چې مور مې ژوندی ده او د رګډکوو په کوم ځای کې ده. د دې په پوهېدو سره مې زړه غوښتل چیغه ووهم، له خوشحالی نڅا وکړم او له ډېرې خوښی په هوا کې والوزم.

خو ناڅاپه یو بل فکر ذهن ته راغی او زړه مې ودرید. د مور ویښتان مې د یوه مړي په لاسونو کې څه کول؟ لا مې دا فکر نه و بشپړ کړی چې د مور ویښتان هلته څنګه تللي، چې کریګ زما د چمپر لستوڼی ونیو او یوه ځای ته یې اشاره وکړه.

کریګ- کلیسا وینې؟

مخکې مې وکتل. د واورې او توپان له منځه مې د کلیسا برجونه ولیدل چې د تورو پنجو په شان یې اسمان ته سرونه پورته کړي وو. کریګ خپل هغه جیب وواهه چې صلیبونه او د سپېځلو اوبو بوتلونه پکې وو او ویې ویل: فکر کوې دا به کار وکړي؟ زما غاښونه د یخ له امله له یو بل سره لګېدل. ورو مې وویل: تېر ځل خو یې ښه کار وکړ.

هغه د کلیسا پر لور روان شو او ویې ویل: ښه ده نو.

زه هم ورپسې شوم. له دروازې تېر شوو او هدیرې ته ننوتو. د کلیسا مخکینی دروازې ته ورسېدو. کریګ د دروازې لاستی ښکته کړ او دروازه یې شاته ټېله کړه. دروازه د یوه دردناک غږ سره خلاصه شوه او موږ کلیسا ته دننه شوو. هغه باد چې له خلاصې دروازې دننه راتلو، د شمعو لمبې یې رپولې او د کلیسا دننه یې اوږدې تورې سیورې جوړولې. د کلیسا دننه چوپتیا او سکون و. د هغه غټ ډېرین دېوالونو د

باندې د باد شور کم کړی و. خو د کلیسا دننه د باد غږ داسې ښکارېده لکه د ماشومانو ژړا او سلګۍ. د شمعو خوږ او نشه کوونکی بوی خپور و.

لاسونه مې له جیبونو راوویستل او د یو بل په منځ کې مې وموښل. ګوتې مې وخوځولې، هغه مې کوله ببرته یې احساس پیدا کړم. پوزه او غوږونه مې له یخنۍ بېحسه شوي وو، او ویښتان مې هم د وېلې شوې واورې له امله لوند شوي وو.

د کتار شوی څوکیو ترمنځ روانه وم. بوټونه مې د کلیسا پر ډېرین فرش باندې ورو انګازه کول، له اوږې مې شاته وکتل چې کریګ چیرته دی. هغه دوه شمعې په لاس کې نیولې وې، دا شمعې هغه د حضرت مریم د مجسمې د لاندې څخه رااخیستې وې. یوه شمعه یې زما خواته ونیوله او ویې ویل: واخله.
که څه هم په ورو یې وویل، خو غږ یې زموږ شاوخوا په کلیسا کې انګازه وکړل.
وکړه، د کتار شوی څوکیو ترمنځ تېره شوم او د هغه خواته ورغلم. یوه شمعه مې واخیسته او ومې ویل: اوس کولای شې خپله خولۍ لرې کړې.

کریګ- ټوکې کوې؟ دلته ډېر یخ دی.
بیا یې شمعه خپل ومخ ته ونیوله او ویې ویل: راځه وګورو چې لاندې څه روان دي.
د کریګ پسې هغه ډبرینو تاوېدونکو زینو خواته روانه شوم چې د کلیسا لاندې برخې ته تللې. هغه له اوږې شاته راوکتل او ویې ویل: څه فکر کوې؟
- د څه په اړه؟
کریګ- ستا په نظر د وینه څښونکو پټ ځای همدلته دی؟
- زه له کومه پوهه شم؟ ما یوازې یو اټکل کړې.
کریګ- ما فکر کاوه ته په دې کار کې تجربه لرې.

له هغه مخکې شوم او د تاوېدونکو زینو پر لور روانه شوم او ومې ویل: که ستا مطلب دا وي چې ته وېرېږې، نو زه به لومړۍ لاره شم.
کریګح نه زما مطلب دا نه و.

غږ يې په زينو کې انګازه وکړل او ورپسې د هغه د ګامونو غږ راغی چې په چټکۍ زما پسې را روان و. يو ګام مې واخيست او د زينو تياره لارې ته ننوتم. سره له دې چې شمعه مې په دواړو لاسونو کلکه نيولې وه، بيا هم د دې وېرې له امله چې لاندې به څه پټ وي، شمعه مې په لاسونو کې رپېده او يوې خوا بلې خوا ته خوځېده.
داسې ښکارېده چې زينې هېڅ پای نه لري.

کريګ زما شاته رارون و د هغه لنډه او کمزورې ساه مې اوريدلې شوه. ګومان مې کاوه چې د زينو لاندې يوې ستنې لرونکې خونې ته رسېدلي يو، ځکه نه يوازې هوا لا سړه شوې وه، بلکې درنه او خفه کوونکې هم وه. د شمعې په رڼا کې مې د دېوالونو په لاندې برخه کې په ګچو باندی جوړ نقشونه وليدل. له لرې ځايه د اوبو د څاڅکو غږ هم راتلو.

لاندې مې وکتل ومې لېدل چې د زينو وروستۍ برخه د يو تنګ دهلېز خواته تللې دا دهلېز هم د شاوخوا ځايونو په څېر د ځمکې لاندې له تيږو او خاورو جوړ شوی و. دهلېز دومره تنګ و چې دواړه پکې په يو وخت اوږه په اوږه نه شو روان کېدلې. نو مجبور يو د بل پسې شا په شا روان شو زه مخکې وم او کريګ راپسې وو.

لا ډېر نه وو تللي چې د شمعې رڼا ورو ورو کمه شوه. شمعه مړه نه شوه، خو رڼا يې دومره کمزورې شوه چې په سختۍ مې مخې ته کوم څه ليدلې شول، څو قدمه نور هم مخکې ولاړم او ناڅاپه پوهه شوم چې له هغه تنګ دهلېزه وتلي يو او اوس يوې ډېرې غټې کوټې ته ننوتي يو. کوټه بيحد لويه او تياره وه، داسې ښکارېده لکه د هغه ځاې تيارې چې زموږ د شمعو رڼا خوړلې وي. کريګ زما ترڅنګ ودرېد. دواړو شمعې نيولې وې، خو بيا هم رڼا دومره نه وه چې د کوټې بل سر يا دېوالونه ښکاره کړي.

تياره داسې احساس راکوه لکه ورو ورو چې زموږ پر لور رانږدې کېږي. داسې ښکارېده چې غواړي موږ په خپله غېږ کې ورک کړي او ساه مو بنده کړي. هر خوا چوپتيا وه. يوازينی غږ چې اورېدل کېده، زما د زړه چټکه درزا وه.
په ورو غږ مې وويل: کريګ.

هغه هم زما په شان په ورو غږ ځواب راکړ: هان؟!
- مورې چېرته راغلي یو؟

– زما پېنځای ته ..

دا غږ د کریګ نه وو، دا د یو ناشنا کس غږ و چې زما له مخې راغی، دومره نږدې چې ښايي یوازې څو قدمه رانه لرې و. له وېرې مې چیغه کړه، شاته مې ټوپ کړل او په لوړ غږ مې وویل: کریګ! ته چېرته یې؟
لاس مې په تیاره کې د هغه د پیدا کولو پسې وخوځاوه او سمدستي مې خپل ځانته نږدې د هغه غږ واورید: زه دلته یم هاډسون!

بیا يې زما لاس ونیو تر څو ډاډ راکړې، په لړزېدلي غږ مې وپوښتل: تا هم دا غږ واورېد؟

هغه نااشنا غږ بیا وویل: هو، هغه هم واورېد بچیه!

غږ یې دومره نرم او ارام و، لکه یو مهربان سپین‌ږیری چې ماشوم ته د خوب پر وخت کیسه کوي. په وېره او رېږدېدلي غږ مې وپوښتل: څوک یې؟ هلته څوک دی؟ لا مې خبره نه وه خلاصه کړې چې د اورلګیت د بلېدو غږ پورته شو. په تیاره کې د یوې شېبې لپاره کوچني رڼا وځلېده. او زما د سترګو دید یې د لږ وخت لپاره بند کړو، بیا هغه کوچنۍ لمبه لږه وښورېده او یوه شمعه یې بله کړه.

شمعه روښانه شوه او ژېړه رڼا یې ورو ورو د کوټې تیاره لمینځه ویوړل، د شمعې د نارنجي رڼا په ځلېدو کې مې د یوه سړي مخ ولید چې له تیارو یې ماته کتل. هماغه شني تېزې، ځلېدونکې او د ښکار کوونکي په څېر سترګې وې، هماغه سترګې چې لومړۍ ځل رګډ کوو ته د راتګ پر مهال مې لیدلې وې. پاپ ټېلر په ارام غږ وویل: ښه راغلې، کیرا هاډسن! زما کلیسا ته ښه راغلې.

په حیرانتیا مې وپوښتل: تاسو دلته څه کوئ؟

کله چې پوهه شوم هماغه کشیش دی چې لومړی ځل مې له لوک سره په هدیره کې لیدلی و، لږه وېره مې کمه شوه. خو هغه زما پوښتنه بېخي له پامه وغورځوله او ویې ویل: ښښه غوارم، دلته ډېره تیاره ده. راځه، وګورو نورې شمعې هم بلولی شو که نه.

د شمعې لمبه وښورېده. کشیش څو قدمه مخکې لاړ او نورې شمعې یې هم بلې کړې. ورو ورو مې ولیدل چې د هغه شاوخوا پر دېوالونو اوږده سپین‌زرین شمعدانونه لګېدلي دي. پاپ ټیلر په یوې لوړې لرګینې څوکۍ ناست و. که څه هم ډېرې شمعې بلې وې، خو بیا هم د هغوی رڼا دومره نه وه چې د هغه شاوخوا تیاره په بشپړه توګه لرې کړي. هغه تکیه پر څوکۍ ولګوله او په موسکا یې وویل: اوس ښه شوه.

بیا مې خپله پوښتنه تکرار کړه: تاسو دلته لاندې څه کوئ؟
هغه موسکی شو او ویې ویل: ستا انتظار مې کاوه.

مخ یې له پخوا هم زیات ژېړ او نری شوی و. حتا د هغه شپې څخه لا ډېر ستړی او زوړ ښکارېدي چې په هدیره کې مې د لوک سره لیدلې وو. په حیرانتیا مې وپوښتل: د څه شي انتظار؟

کریګ ته مې وکتل. هیله مې لرله چې هغه د کشیش د خبرو په مطلب پوه شې او راته ووایې چې څه خبره ده؟
خو کشیش بیا موسکی شو او ویې ویل: ستا انتظار.

ناڅاپه مې زړه ته ولوېدل چې دلته یو څه سم نه دي. د کریګ لاس مې خوشې کړ او ورو ورو شاته د دهلېز پر خوا روانه شوم. کشیش بیا موسکۍ شو خپل لاس یې زما پر لور وغځاوه او ویې ویل: مه وېرېږه. دا خو کلیسا ده. له دې ځایه به بل کوم ځای خوندي وي؟

په ورو غږ مې کریګ ته وویل: کریګ! دلته یو څه سم نه دي.
هغه هم په ورو ځواب راکړ: زما په نظر خو هر څه عادي دي، هغه یوازې یو بوډا

کشیش دی، ولې دومره وېرېږي؟
کشیش په خندا سر وخوځاوه او په مانداره لهجه يې وويل: قوماندان فليپس!
ښکارې چې لا دې هم ورته نه دي ويلي چې ولې دلته راغلې ده؟

زړه مې يو ځل بيا په زور په سينه کې په درزېدو شو.
- کريګ؟ دا څه وايي؟ څه شی دې رانه پټ کړی؟
کريګ زما خواته راوګرځېد او په ټيټ غږ يې وويل: بخښنه غواړم هاډسون، ما نه غوښتل دا کار وکړم.
په حيرت مې وپوښتل: د څه کار؟ د څه بخښنه غواړې؟
خو له کريګ مخکې پاپ ځواب راکړ: هغه هېڅ هم پښېمانه نه دی او بخښنه يې هم د دروغو ده، باور مه کوه.

د کريګ څخه مې نظر واخيست او کشيش ته مې وکتل. هغه له خپلې څوکۍ ورو راپورته شو، لږ وخوځېد او نږدې و چې ولوېږي، بيا يې ځان برابر کړ. هماغه شېبه مې هغه ورځ رایاده شوه چې په هديره کې مې په پټه کريګ او کشيش څارل. هغه وخت هم کشيش په ګوډه ګوډه روان و او له کريګ څخه لرې کېده. وروسته يې خپله لکړه چې د څوکۍ ترڅنګ ولاړه وه، راواخيسته او په ګوډه ګوډه زما پر لور راروان شو. ناڅاپه زړه مې ودرېد. معده مې له وېرې څخه راټوله شوه.

سره له دې چې شاوخوا تياره وه، خو پوهه شوم همدا د هغه بوډا لکړه ده، هماغه بوډا چې ټوټه ټوټه شوی جسد يې څو ساعت وړاندې ما په کرونده کې موندلی و. د لکړۍ د سپينو زرو سر د شمعې په رڼا کې ځلېدې. په حيرانتيا مې ورو وويل: نو د مورفي کار نه و ..

پاپ رانږدې شو، موسکی شو او ويې ويل: څه دې وويل، لورې؟
ساه مې په سينه کې بنده شوه.په ربړدېدلي غږ مې وپوښتل: نو دا ټول ستا کار و؟
ورو ورو شاته شوم او د غاښونو ترمنځ مې وويل: رانږدې کېږه مه.
کريګ ژر زما خواته راوګرځېد او ويې ويل: هاډسون لږ صبر وکړه.

د تنګې لارې پر لور په شاتګ مې پیل کړ او ومې ویل: د څه لپاره؟
هغه نیمه موسکا وکړه او ویې ویل: د دې لپاره چې ووینې په څه بدلېږې؟
په حیرانتیا مې وپوښتل: څه ووینم؟

هماغه وخت یو عجیبه شی مې ولید، د پاپ تر شا یو شمېر سیورې ولاړ وو. حیرانه شوم. دا څنګه ممکنه وه؟ د هغه تر شا خو یوازې تیاره وه، داسې تیاره چې هېڅ شی پکې نه ښکارېده. نو زه څنګه د هغې تیارې هاخوا شیان لیدلای شم؟ داسې احساس مې کاوه لکه په ژوند کې چې لومړي ځل یو شې وینم. ناڅاپه د پلار خبرې مې رایادې شوې: تا ته یوه ځانګړې ډالۍ درکړل شوې ده. ته هغه څه لیدلای شې چې نور خلک یې نه شي لیدلای.

د کشیش تر شا تیارو ته مې وکتل. ناڅاپه مې پام شو چې یو څو سیورې ورو ورو رانږدې کېږي. انسانان وو، سترګې مې کلکې پټې کړې او بیا مې بېرته خلاصې کړې. داسې ښکارېدل لکه په تیاره کې چې د کوټې څراغونه بلېږي او مړه کېږي، د هر څراغ په رڼا کې به مې یوه شېبه د هغوی څېرې لیدلې. رنګونه یې د مړو په څېر تک سپین اوښتي وو، سترګې یې بې‌روحه او ساړه ښکارېدل، او له اوږدو نیشونو یې لارې څڅېدې. پوهه شوم چې وینو ښونکو راڅخه کړې، تاو کړې او کلابنده کړې یم.

څومره چې هغوی رانږدې کېدل، هماغومره د څراغ رڼا کمه کېده، تر دې چې هر څه یو ځل بیا په تیاره کې ورک شول. له وېرې او حیرانتیا هماغسې بې‌حرکته د تنګې لارې په خوله کې ولاړه وم. پاپ او کریګ ورو ورو زما پر لور راتلل. شمعې یې د خپلو مخونو مخې ته نیولې وې، او د شمعو رڼا یې څېرې دومره وېرونکې کړې وې، لکه د بلا والا فلم.

کریګ ته مې وکتل او په قهر مې ورته وویل: ما پر تا باور کړی و، فکر مې کاوه زما ملګری یې. هغه صلیبونه چې به دې زما د کوټې مخې ته اېښودل، ګومان مې کاوه

زما د ساتنې لپاره دې ابښي دي. خو اوس پوهه شوم چې تا دا کار د دې لپاره کاوه تر څو کوم بل وینه څښونکې ضرر را ونه رسوی او ته پخپل زما وینه وڅښې.

نور مې انتظار ونه کړ، راوګرځېدم او د تنګې لارې پر لور په منډه شوم. لا څو شېبې نه وې تېرې شوې چې شمعه مې مړه شوه. ټوله لاره په تیاره کې مې منډې وهلې. له شا مې د منډو او چیغو غږونه اورېدل. له اوږې مې یو ځل شاته وکتل، خو بیا هم هېڅ نه ښکارېدل، یوازې تورې تیارې وې. بېرته مې مخ ته وکتل او لا تېزه منډه وهل مې پيل کړل. لاسونه مې مخکې نیولي وو چې له کوم دېوال سره ونه لګېږم. د هغوی د منډو او چیغو غږ هره شېبه رانږدې کېده.

د هر چغي سره ما هم خپل منډه وهل تېزول، ساه مې بنده بنده کېده، سږې مې داسې سوځېدې لکه اور چې پکې بل وي، او زړه مې په زور په سینه کې درزېده. په زړه کې ځانته مې چغه وهل: تېزه، لا تېزه وځغله.

خو یوازې د هغوی چیغې نه وې چې په دهلېز کې انګازې کولې. یو بل ډارونکی غږ هم اورېدل کېده، د نوکانو د ګرولو غږ. داسې ښکارېدل لکه ځینې وینه څښونکې چې پر دیوالونو نوکان کښوی او زما پسې راروان دی. ناڅاپه مې پښه په یوه شي ولګېده او پر ځمکه راولوېدم. په تیاره کې مې لاسونه مخکې وغځول. لاس مې د تاوېدونکو زینو په لومړۍ زینې ولګید، پوهه شوم چې همدا زینه مې د لوېدو لامل شوې دې.

سمدستي په څلورو لاسونو او پښو پر زینو مې ختل شروع کړل. همغه حال کې لاسونه مې د زینې څنګ ته په دیوال هم راکشول تر څو په تیاره کې خپل توازن له لاسه ور نه کړم. په بیړه پر زینو وختلم، خو د هغو د ګامونو غږ چې زما پسې راتلل، اوس تر بل هر وخت ډېر رانږدې شوی و.

په یوه وار مې له دوو زینو ټوپ واچو. د ټوپ له زور څخه مې د پښې بند وربږدېدې او منډه مې ورو شوه. وینو څښونکو هم سمدستي دا احساس کړ او هماغه شېبه یې

لا تېزه راپسې منډه کړه. ناڅاپه چا زما د پښې بجلکه کلکه ونیوله او په زور يې شاته راکش کړم. په درز سره د تیږو پر زینو راولوېدم. ساه مې د څو شېبو لپاره بنده شوه. د تیارې له منځه د کریګ غږ مې تر غوږونو راورسېد.

– هاډسون!

په وارخطایۍ مې په لغتو وهل پیل کړل. غوښتل مې چیغه ووهم، خو ساه مې بنده شوې وه. له خولې مې یوازې یو مات او بند غږ راووت. یوه لغته مې په ټول زور ووهله. د هغه سره سم د کریګ د درد څخه ډکه چیغه پورته شوه او لاس يې زما له پښې څخه خوشې شو، همدا چې د خلاصون فرصت په لاس راغلو په خاپوړو باندې پر زینې وختم. ناڅاپه مې د زینو په سر کې یو کمزوری، رېږدونکی رڼا ولیده. زړه مې له هیلې څخه په زوره ودرزېد. دا د کلیسا رڼا وه.

خپب ټول زور مې راټول کړ او لا تېزه پورته وختم. هره زینه چې مې شاته پرېښوده، هماغومره مې وېره هم کمېده. له اوږې مې شاته وکتل. کریګ په بیړه پر زینو راختې او تر شا يې وینه څښونکې هم راختل. ځینو يې په پښو منډې وهلې، خو ځینې نور يې د غټو غټو په شان پر دېوال او چت راروان وه. خولې يې پرله‌پسې خلاصېدې او بندېدې، له تېرو نیشونو څخه يې لاړې څڅېدې او پر دېوالونو شیندل کېدې.

ویښتان يې ګډوډ، په وینو او چټلیو ککړ وو، او سرې سترګې يې په هغو بدرنګو مخونو کې د اور د سکروټو په څېر ځلېدې. هر ځل چې به يې زما پر لور راټوپ کړ، تېرې پنجې به يې یوازې څو ګوتې زما له بدن څخه لرې تېرېدې. په یوه ساه وروستۍ څو زینې هم وختلم او کلیسا ته ننوتم. بې له ځنډه د دروازې پر لور په منډه شوم. له شا مې د هغوی د راختلو غږونه اورېدې. چې د کلیسا کتار شوی څوکۍ يې یوې خوا ته غورځول، ماتول او ټوټې ټوټې کول.

چیغې يې دومره زوروري وې چې غوږونه يې راکاڼه کول. په منډه دروازې ته ورسېدم. په وارخطایۍ مې لاس د دروازی دلاستې پر لور وغځاوه. د بدن ټول پاتې

زور مې راټول کړ، دروازه مې پرانیسته او په یوه ټوپ هدیرې ته ووتم. له اوږې مې شاته وکتل. کریګ او نور ټول وینه څښونکې د کلیسا د دروازې په خوله کې ولاړ وو. هغوی تر دروازې راورسېدل، خو بهر راونه وتل. ما هم نور شاته ونه کتل. پښې مې لا تېزې کړې او په ټوله زور مې منډه کړه، هڅه مې کوله چې هرڅومره امکان لری د هغوي څخه لرې لاړه شم.

خو ناڅاپه مخکې له دې چې پوهه شم څه خبره ده؟ او یا څه شوی؟ یو چا کلکه ونیولم مخ مې په وحشت او وېرې د هغه کس خواته وګرځو او د پاټر مخ مې ولید. داسې حال کې چې یو سګریټ یې د شونډو څنګ ته ایښودلې و په ریشخندې خندا یې وویل: دومره تلوار د څه لپاره؟

سترګې مې پټې کړې. کله چې مې بېرته خلاصې کړې، نو د هنري بلیک د جسد تر څنګ د ونې لاندې پراته د سګرټو سوځېدلي پاټې شوني مې سترګو ته ودرېدل. نظر مې د پاټر خولې خواته واوښت. د شونډو ترمنځ یې د سګرټ لوګی پورته کېده. کلک یې نیولې وم. پر شونډو یې سپکه، مانادارە موسکا خپره وه، داسې ښکارېده لکه پوهېږي چې زه د کوم موضوع په اړه فکر کوم.

په قهر مې په سوک وواهه او چیغه مې کړه:
ـ خوشې مې کړه!

خو هغه د برېښنا په شان تېز و. مړوند یې راڅخه ونیو لاس یې را تاو کړ او بېرته یې زما د بدن ترڅنګ راځوړند کړ. بیا یې د سګرټ لوګی زما پر مخ راوپو کړو او په ریشخند یې وویل: له خپل ملګري او همکار سره څوک داسې چلند کوي؟
په غوسه مې ځواب ورکړ:
ـ ته نه زما ملګری یې او نه هم زما همکار.

هڅه مې وکړه ځان د هغه له منګولو خلاص کړم، خو بې ګټې وه. هماغه وخت مې پام شو چې د پولیسو دریشي یې اغوستی ده. دریشي یې داسې پر تن برابر وو، لکه

همداسې ورته ګنډل شوي وي. ناڅاپه يې له ما سترګې واړولې، د اوږې له پاسه يې شاته وکتل او ويې ويل: که زه دې ملګری نه يم، نو هغه به دې ملګری وي؟

ما هم شاته وکتل، کريګ د کليسا په دروازه کې ولاړ و، او شاته يې شل يا تر شلو ډېر وينه څښونکې ولاړ وو. له ځان سره مې ورو وويل: ما هم ګومان کاوه چې ملګری مې دی خو ..

هماغه وخت يو غږ زما خبره پرې کړل او ويې ويل: قومندان فليپس ستا ملګری نه دی، هاډسون.
مخ مې د هغه غږ خواته وګرځو مورفي و. هغه په سړه لهجه وويل: او يقيناً زموږ ملګری هم نه دی.
حيران شوم. نظر مې د مورفي، پاتر او کريګ ترمنځ وګرځېد او ومې پوښتل: دا څه روان دي؟ اصلاً خبره څه ده؟
مورفي وويل: فليپس درې کاله مخکې ورک شو. هغه زموږ يو تکړه پلټونکی و.
په حيرانتيا مې وويل: دا ناشونې ده، هغه خو د پوځي اکاډمۍ پر مهال زما ښوونکي او قومندان و.

مورفي کريګ ته په لوړ غږ وويل: نو هلته دې ځان پټ کړې وو؟
پاتر هم د اوږې له پاسه کريګ ته غږ کړ:
ـ چا دې هلته ساتنه کوله کريګ؟!

کريګ د کليسا له مخې څخه زموږ خواته رانږدې شو په شونډو يې سپکه موسکا خپره شوه او ويې ويل: ساتنه نه... غوره به دا وي چې وواې لارښوونه يې راته کوله، راته يې وښودل چې هر څه بايد څنګه پر مخ ولاړ شي.

مورفي وپوښتل: له هغه سره دې څه وکړل؟ د هغه له امله خو درې کاله مخکې ورک شوی.
په حيرانۍ مې وپوښتل: د چا په اړه خبره کوئ؟

پروا مې نه لرله چې څوک ځواب راکوي، يوازې غوښتل مې پوهه شم دلته څه روان دي. ناڅاپه د شا له لوري يو بل غږ راغی چې ويې ويل: ستا د مور په اړه خبرى کوى هاېسون.

ور وګرځېدم. لوک و. د يوې سترې ونې له سيوري راووت او د واورې او توپان منځ ته راغی.د هغه په ليدو مې زړه په درزا شو. يوې شېبې لپاره مې زړه غوښتل خواته يې ورمنډه کړم، خو ځان مې کابو کړ. له دې ټولو کسانو څخه يوازې پر لوک مې باور درلود، خو ايا دا باور صحيح و کنه؟ د کريګ خبرې راپه ياد شوې. هغه ويلي وو چې زما د مور د ورکيدو شاته د لوک لاس دې.

په لوړ غږ مې ترې وپوښتل: کريګ وايي، زما د مور د ورکېدو لامل ته وې. دا رښتيا ده؟
لوک ورو ورو زما پر لور راغی او په ارامه لهجه يې وويل: زه بايد هغه شپه ستا له مور سره د پېښې په ځای کې پاتې شوی واې، خو د ادارى لخوا يو دروغجن مأموريت راکړی شو او زه يې د ځمکې لاندې ولېږلم. اوس پوهېږم چې دا کار همدغه ستا د ملګري و.

په سترګو يې کريګ خواته اشاره وکړل بيا يې وويل: کله چې پوه شوم دوکه شوی يم، سمدستي بېرته راغلم، خو ناوخته شوی و. کريګ ورک شوی و او ستا مور يې هم له ځان سره وړې وه.

سر مې تاو شو. نه پوهېدم د چا خبره ومنم او په چا باور وکړم.
کريګ ته مې وکتل او ومې پوښتل: دا خبرې رښتيا دي؟
هغه وخندل او په ريشخند يې وويل: بېچاره هاېسون، لکه چې لومړى ځل دې خپل د ځواک څخه کار نشي اخيستلې او رښتيا نشې پيدا کولای.

په قهر مې چيغه کړه:
ـ زما پوښتنې ته ځواب راکړه.

کریګ د موسکا په حال کې وویل: ستا مور یو بیحد هوښیاره ښځه وه. د حقیقت د لیدلو وړتیا یې له تا څخه څو برابره زیات وه. که له هغې سره تا پرتله کرم نو ته په حساب رنده راځې، ته دومره شیان نشې لیدلی، هغې خپل د راتلو سره سم په څو ورځو کې یې نړدې د دې ښار ټول رازونه کشف کړل، نو مور نه شو کولی هغه پرېږدو چې دا رازونه افشا کړي.

په حیرانۍ مې وپوښتل: موږ یعنې څوک؟

ناڅاپه د اسمان له پاسه د تندر درز شو. ټولو سرونه پورته کړل. یو وزر لرونکی موجود د اسمان له لوړو څخه د کاڼي په څېر لاندې راولوېد. واوره یې شاوخوا تاوېده او نه معلومېده چې څوک دی. ستر، تور او درانه وزرونه یې ورو ورو راټول شول او د اوږدې چینې په څېر یې دوارو غاړو ته وغوړېدل. او رام راښکاره شو.

کریګ یو ګام مخکې لاړ او د هغه تر څنګ ودرېد. هماغه شېبه پوهه شوم چې د شپې په پیل کې مې د اداري په دهلېز کې همدا د دوی دوارو غږونه اورېدلي وو. کریګ خپل کوټ وایست، بیا یې دریشي په یوه کش څیرې کړل، اوږې یې شاته وغځولې. لا یې بدن سم نه و کش کړی چې له شا یې لوی، تور وزرونه راوټوکېدل. هغه مهال راته هر څه روښانه شول. پوهه شوم چې کریګ څومره بې‌رحمانه دوکه راکړې وه او غوښتل یې ما هغه دام ته راکاږي چې په کلیسا کې یې راته ایښی و.

په غوسه مې ځان د هغه پر لور ورواچاوه، غوښتل مې ووهم یې خو پاټر له اوږی ونیولم شاته یې کش کړم او د غوږ تر څنګ یې ورو وویل: په کراره وحشي پیشو! هر څه خپل وخت لري.

مورفي ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: رام ...
د هغه له څېرې معلومېده چې سخت حیران او مات شوی دی. ورو یې وویل: نو ته هم د هغوی سره یې؟

رام په خپل ارام، خو دروند غږ ځواب ورکړ:
— که مطلب دې هغه ویمپایرس دي چې کلونه کلونه د ځمکې لاندې ژوند کوي او انسانان یې له پاسه ګرځي او تر پښو یې لاندې کوي، نو هو، زه هم یو له همدوی یم.
مورفي هغه وینو څښونکو ته اشاره وکړه کوم چې د رام او کریګ تر شا ولاړ وو او په غوسه یې وویل: خو تاسې د انسانانو وینه وڅښله! خپل کار ته وګوره، وګوره څه مو وکړل!

لوک وویل: ته چې ځمکې سر ته راغلې، د ویمپایرس ټول قوانین دې مات کړل.
رام په بې‌پروایۍ وویل: هغه قوانین له سره احمقانه او ریشخند دي.
کریګ په ریشخند وخندل او ویې ویل: ولې زموږ له ډلې سره نه یوځای کېږئ؟ باور وکړئ، نه پوهېږئ چې څه شی له لاسه ورکوئ.

پاتر، چې زما تر شا ولاړ و، د هغه په شان په ریشخند یې ځواب ورکړ:
— نه، مننه! ما خو د وینې له لیدلو څخه لا کرکه راځي.

بې له دې چې شاته وګورم پوهېدم هماغه ځیرک او ملنډې وهونکې موسکا یې پر شونډو خوره ده. رام په غوسه وویل: ته د رحم وړ یې پاتر، تاسې ټول د رحم وړ یاست. فکر کوئ انسانان به تر کومه وخته د ځمکې لاندې نه راکوزېږي؟ پورته د دوی ژوند ته وګورئ. هره خوا جګړې، ګډوډي او وراني ده.
لوک په ارامه، خو جدي لهجه وپوښتل: نو ستا په اند، د انسانانو وینه څښل او هغوی په نیمه ویمپایرس بدلول دا هرڅه سموي؟

رام د خپلو کارونو د سپیناوي لپاره وویل: له پېړیو راهیسې هغه څه چې انسانان یې «وینه څښونکې» بولي، شتون لري. له هماغه وخته چې انسانان پیدا شوي، ویمپایرس به ځمکې ته راتلل، د انسانانو وینه به یې څښله او نوي وینه څښونکې به یې جوړول.

مورفي سر وخوځاوه او ویې ویل: همدا لامل دی چې باید هغوي راګیر او ووژنو، څکه زموږ تاریخ ثابته کړې چې دا لاره سمه نه ده. موږ باید له انسانانو سره د جګړې پر ځای د یوځای ژوند کولو لپاره لاره پیدا کړو.

کریګ په غوسه غاښونه سره وچیچل او ویې ویل: څنګه یوځای ژوند وکړو هان؟ تل باید په پټه وګرځو؟ د هغوی په منځ کې په وېره ژوند وکړو؟ او هر ځل چې د انسانانو وینې ته مو زړه وشو نو منډه ووهو او د ځمکې لاندې پټ شو؟ که همدا ستا فکر دې او ته دیته لاره واې. نو ته د ویمپایرانو لپاره یو ننګ او شرم یې. موږ آزاد مخلوق یو باید ازاد واوسو، باید په اسمانونو کې الوت وکړو او خپل ژوند په ازادۍ تېر کړو، نه دا چې د ځمکې لاندې په غارونو او تیارو کې ژوند وکړو، دا زموږ حق نه دې.

لوک د رام تر شا ولاړو وینه څښونکو ته اشاره وکړه او پوښتنه یې وکړه:
— هغوي نو څنګه؟ ته وایې هغوي ازاد دي؟
رام په ډاډه لهجه وویل: موږ دوی ته نوی ژوند ورکړی. اوس تر پخوا ډېر ښه دي، زموږ په خبر شوي دي.
مورفي په کلکه وویل: نه، دوی زموږ په څېر نه دي. دوی بېعقله او بېشعوره او د حیواناتو په شان دې او یوازینی څه چې غواړي، وژنه او ورانې ده. موږ له دوی ډېر توپیر لرو.

رام په قهر وویل: نو زموږ له ډلې سره یوځای شې، راځې چې د دې نړۍ تر ټولو ځواکمن نسل شو، راځې هغه ټول دروغجن قوانین مات کړو او ځمکه خپل کور وګرځو، دا ځمکه یوازې د انسانانو نه ده.
مورفي خپل د کمېس تنۍ خلاصې کړې، غاښونه یې سره وچیچل او ویې ویل: نه، مننه.

رام او کریګ چې پوه شول مورفي د جګړې لپاره چمتو کېږي، سمدستي یې خپل لوی تور وزرونه وغوړول او جګ یې ونیول. رام په لوړ غږ وویل: موږ ستاسو سره

جنګ نه لرو، هاېسون مورِ ته راوسپارئ بیا تاسې آزاد یاست په خپله لار لاړ شئ. داسې ښکارېده لکه غوارېِ اوربند وکړي او ما د سولې د معاملې په توګه وکاروي.

لوک په غوسه وویل: هېڅکله هم نه ..

د دې خبرې سره سم په منډه د هغوي خواته ور روان شو. په یوه کش یې خپل کمیس وشلاوه، ملا یې کږه کړه او له شا یې لوی وزرونه راووتل. وزرونه یې دوارِو غاړِو ته وغوړېدل او په یوه شېبه کې اسمان ته پورته شو. د برق په شان یې د رام پر لور برید وکړ. لا مې سترګې نه وې رپولې چې رام یې له ځمکې پورته کړ او دواړه د اسمان خواته والوتل. نظر مې د مورفي خواته واوښت. تر ملا پورته لوڅ ولاړ و او په ارامۍ یې خپل کمیس تاوه. په وارخطایۍ مې چیغه کړه:

- ته نه ځې چې مرسته ورسره وکړې؟ یو کار وکړه ولې ولاړ یې؟
مورفي په نارضایتۍ وویل: سمه ده، ځم دومره بیړه مه را باندې کوه، زه نور د پخوا په شان ځوان نه یم.

سره له دې چې عمر یې ډېر و، خو لا هم د رام په څېر ښه اندام او ښکلې بڼه یې لرله. بدن یې د غټو عضلو څښتن نه و، خو له هم پیاوړی ښکارېده. یوازې هغه سپین ویښتان چې پر سینه یې راټوکېدلي وو، د پورته عمر نښه یې بلل کېدل. خپل کمیس یې هماغلته پر یوه ډبره کېښود، ماته یې وکتل او ویې ویل: زما کالو ته پام کوه چې خیرن نه شي.

لا مې د ځواب ویلو فرصت نه و موندلی چې په یوه ټوپ هوا ته پورته شو. ستر، تور او هډوکین وزرونه یې وغوړېدل او د شپې په تیاره اسمان کې د لوک او رام پر لور والوت. هماغه شېبه له شا څخه مې یو بل دروند غږ هم واورېد. ور وګرځېدم. پاتر و.
هغه هم په یوه ټوپ هوا ته پورته شو، کوټ او کمیس یې یوې خوا ته وغورځو او له شا یې وزرونه راووتل. په چټکۍ سره یې ځان کریګ ته ورساوه. دوارِو یو بل کلک

ونیول په هوا کې سره ونښتل او د جګړې په حال کې دې خوا او هغې خوا تاوېدل. ناڅاپه مې د اسمان له لوري د یو څه د راغورځېدو غږ واورېد. سر مې پورته کړ. رام و.

په تېزۍ راښکته کېده او یو څوک یې له ځان سره کلک نیولی و. لومړی نه معلومېدې چې څوک دی، خو ښکاره وه چې د رام پر وړاندې یې ماتې خوړلې ده. کله چې لږ رانږدې شول نو پوهه شوم چې مورفي دې، هماغه وخت لوک له بلې خوا راښکاره شو. یو ځل بیا د تندر په څېر درز پورته شو. لوک په هوا کې تاو شو او د باز په شان یې ځان د رام پر لور وروغورځاوه. وزرونه یې شاته تاو کړي وو، ځکه یې الوتنه د ښکار کوونکي باز په څېر ښکارېده.د رام وزرونه یې په دواړو لاسونو ونیول، په زور یې شاته کش کړل او دواړه بېرته د اسمان لوړو ته وختل.

رام په غوسه سوکان وهل. همدا زور وهل یې د دې سبب شول چې مورفي یې له منګولو خلاص شي.مورفي د کاڼي په شان د ځمکې پر لور راولوېد. زړه مې له وېرې ودرید. تر ټولو لویه وېره مې دا وه چې د هدیرې پر ډبرو به ولګېږي. خو لا د قبرونو تر ډبرو څو ګوتې پورته و، چې ناڅاپه یې وزرونه د فراشوټ په شان وغوړول. د لوېدلو څخه ودرېد او بېرته په چټکۍ د اسمان خواته پورته شو. شاوخوا مې وکتل.

وینه څښونکې زما پر لور را روان وو. یو څو ګامه شاته لاړم. پوهېدم چې د فکر کولو لپاره یوازې څو شېبې وخت لرم. سمدستي مې د جمپر له جېبه د مقدسو اوبو دوه کوچني بوتلونه راوایستل.سرپوښونه مې ترې لرې کړل او په دواړو لاسونو کې مې ونیول، کله چې دوه وینه څښونکې رانږدې شول نو ټولې اوبه مې د هغوی پر مخونو وشیندلې. دوی دومره په تېزۍ را روان وو چې نه یې د درېدو فرصت درلود او نه یې د ځان د ژغورلو.

د مقدسو اوبو له لګېدلو سره سم، دواړو خپلې پنجې پر مخونو کېښودې او په زوره یې چیغې کړې. د چیغو تر منځ مې د هغوی د سوځېدونکې پوستکي د جز،جز غږونه هم اورېده. صحنه دومره کرکجنه وه چې خوا یې راوګرځول.

له مخونو یې یو غلیظ، تور او بدبویه مایع راوتله او د ګوتو له منځه یې لاندې بهېده.یوه یې لاس له مخه لرې کړ. ومې لیدل چې چپه سترګه یې له کاسې راوتلې وه او پر غومبرې یې راښوېده. په زړه بوږنوونکي غږ یې چیغه کړه:

– تا څه وکړل؟!
چیغه مې کړه:
- نور هم غواړې؟
د بوتل پاتې اوبه مې هم پر مخ وروشیندلې.

یوازې په څو شېبو کې یې مخ، غوږونه او پوزه ټول ویلي شول. له سر او غاړې یې وینې او خوسا غوښه روانه وه او پر سینه یې بهېده.لاسونه یې هوا ته وغځول، بیا پر زنګنو پرېوت او هماغلته له منځه ولاړ. سر مې پورته کړ. دویم وینه څښونکې لا هم دواړه لاسونه پر مخ ایښي وو. فرصت مې غنیمت وګاڼه او د دویم بوتل پاتې مقدسې اوبه مې هم ورباندې تویې کړې.

پوستکی یې په سوځېدو شو، وپړسېد او دانې پرې راوختې. دواړه لاسونه یې پر سر کلک نیولي وو، لکه سر یې چې له تنه جلا کېده او غوښتل یې بېرته یې ونیسي. خو یوازې څو شېبې وروسته یې ټول بدن له دننه ویلي کېدل پیل کړل. یو څو ګامه په لړزېدلو روان شو، بیا پر ځمکه راولوېد او لمینځه لاړ. خو خطر لا نه و ختم شوی. نور وینه څښونکې هم د هدیرې پر قبرونو زما پر لور رامنډې وهلې. تش بوتلونه مې وغورځول او ژر مې دوه نور بوتلونه له جیبه راوایستل.

په لوړ غږ مې چیغه کړه:
- راشئ!

هماغه وخت یو وینه څښونکې زما ترڅنګ پر یوه قبر راټوپ کړل او په لوړ غږ یې وویل: ډېر وږی یم!

لاسونه یې راوغځول او په اوږدو، ژېړو نوکانو یې غوښتل زما مخ ونیسي، خو لا یې برید نه و بشپړ کړی چې ناڅاپه له خپل ځایه والووت. سر مې پورته کړ. وینه څښونکې په هوا کې تاوېده. زما ژغورونکی زما مخې ته پر ځمکه راښکته شو. هغه پاتر و.

په لوړ غږ یې وویل: هاډسون له دې ځایه وتښته، که نه وژل کېږې!
لا یې خبره نه وه ختمه کړې چې بېرته هوا ته وخوت. خو هماغه شېبه کریګ ورباندې له اسمانه راوغورځېد او د ځمکې او اسمان ترمنځ یې ورسره نښته پیل کړه. ما هم فرصت له لاسه ور نه کړ او د قبرونو ترمنځ په منډه شوم. خو وینه څښونکې ډېر سرزوري وو. بیا راپسې شول د هغوی ډارونکې چیغې مې تر شا اوریدل، په منډه کې لار رانه ورکه شوه او د دې لځایه چې د هدېرې څخه د وتلو دروازی خواته لاړه شم د هدیرې تر شا ورسېدم هلته چې شاوخوا یې یو لوړ د تیږو څخه جوړ دېوال راتاو شوی و. زړه مې داسې په تېز درزېده چې هره شیبه مې فکر کاوه اوس به مې له سینې راووځي.

په وارخطایۍ مې له ځان سره وویل: خامخا به دلته کومه دروازه یا د وتلو لاره وي.

خو ژر پوه شوم چې د تېښتې هېڅ لاره نشته. شاته مې وکتل. څو وینه څښونکې په ډېر وحشتناک چټکۍ زما پر لور رامنډې وهلې پوهېدم که همداسې ولاړ اوسېږی دا ځل به ترې ژوندی ونه وځم. دومره تېز راپسې راتلل چې نه مې وخت درلود له جیبه صلیب راوباسم او نه هم د مقدسو اوبو بوتل، پوهېدم چې د هغه د راویستو مخکې به راورسېږي. دومره راته نږدې شوي وو چې د خولو لاړې یې زما پر مخ شیندل کېدې.

له وېرې مې سترګې پټې کړې. خو ناڅاپه مې احساس کړل چې له ځمکې پورته شوم. داسې ښکارېده لکه څوک مې چې اسمان خواته وړي. زړه مې په درزا شو. سترګې مې پرانیستې. لاندې مې وکتل. کلیسا راته د پښو لاندې کوچنۍ ښکارېده.

بیا مې پورته وکتل. فکر مې وکړ، ښايي پاتر، مورفي یا لږ تر لږه لوک به وي. خو کله چې د پاپ مرداره څېره او شیطان موسکا مې ولېده له وېرې مې چیغه کړه.

د پاپ بڼه دومره ډارونکې وه چې بدن مې له وېرې ولړزېد. بدن یې سپین نری او هډوکین و. رګونه او هډوکي یې د پوستکي له لاندې ښکاره معلومېدل. له ملا یې توري وزرې راوتلې وې، خو وزرې یې زړې، شلېدلې او څیرې وې. هغه زه په دواړو لاسونو کې کلکه نیولې وم او د شپې یخ اسمان ته یې پورته وړلم. د واورې دانې لکه واړه کاڼي په شان پر مخ مې لګېدلې.

د باد د شور ترمنځ مې چیغه کړه:
- له ما څه غواړې؟
په درونډ غږ یې وویل: ته بېخي ځانګړې یې.
سترګې یې له چلبازي او مکارۍ څخه ډکې وې.
- ولې؟
پاپ- ځکه چې د خپلې مور په شان یې.
زړه مې په درزا شو. په بېړه مې ترې وپوښتل: مور مې چېرته ده؟

په خندا شو غوښتل یې خوب راکړي، خو ناڅاپه یې د درد څخه یوه زوروره چیغه له خولې ووتل، لا نه وم پوهېدلې چې څه شوي، چې زه یې له لاسه خوشې شوم. په ډېر زور د ځمکې پر لور راولوېدم. کالي مې په هوا کې رپېدل او ویښتان مې هرې خوا ته خوره وه. په هوا کې څو ځل تاو راتاو شوم، هماغه وخت مې ولیدل چې مورفي د پاپ پر لور په زور ورغی او په وزرو یې سخت ګوزار وکړ.

پاپ خپل توازن له لاسه ورکړ. وزرې یې بېوسه راځوړندې شوې. بیا په شا واوښت او د هدیرې پر لور په زور راولوېد.

چیغې مې وهلې او شاته په ځمکه راښکته کېدم. د هوا زور مې پر سینه فشار راوړه. سترګې مې د کلیسا پر منارو ولګېدې، هماغه لور ته په ډېر سرعت روانه وم. مناره

هره شېبه راته لوی او لوی کېده. تر وروستۍ شېبې پورې مې فکر کاوه چې اوس به پرې ولګېږم، خو ناڅاپه مې دوه قوي لاسونه احساس کړل چې زما ملا یې رانیولې وه.

سر مې واړاوه. هغه څوک چې زه یې نیولی وم، لوک و. پورته وخوت او له مناره لرې شو. سر یې ښکته کړ، مسکا یې وکړه او نیشونه یې په تیاره کې وځلېدل.

— ښه یې؟

هغه زه کلکه نیولې وم، او بالاخره مې ځان خوندي احساس کړ.
مخ ته مې وکتل او ومې ویل: ښه به شم، ما فکر کاوه چې تا پرېښودلې یم.
لوک- هېڅکله نور دا فکر ونکړې.

هغه ناڅاپه ښي لوري ته تاو شو، زما نس راټول شو او زړه مې خراب شو.
لوک-  موږ پوهېدو چې کریګ به یوازې هغه وخت ځان راښکاره کړي چې ته هلته تللې وې. تر هغه چې زه ستا شاوخوا ګرځېدم، هغه به تا ته نه رانږدې کېده.
د باد له شور سره مې چیغه کړه: ولې ټول خلک له ما څخه د ښکار په توګه کار اخلي؟

هغه وخندل او ویې ویل: ښایي ستا د همدغو ښکلو سترګو له امله.
- هغه شپه چې ما د مخابرې له لارې مرسته وغوښته، ته چېرته وې؟
لوک- هغه شپه چې کرسټي حال وینه څښونکې شوی وه؟
- هو، همغه شپه.
لوک- ما ولیدل چې پاپ د کلیسا پر لور د بېړته تلو پر وخت ولوېد. ورغلم چې مرسته ورسره وکړم، هماغه وخت کریګ له تیارې راووته. ما باور نه شو کولی چې هغه دې کریګ اوسېږي، مخکې ورغلم چې له نږدې یې وګورم، بیا مې هغه لعنتي غږونه واورېدل. نو ستا مرستې ته راغلم. کله چې مې پیدا کړې، نو ته په یوه خراب شوي موټر کې پرته وې.

ما خپل مخ د هغه پر سينه کېښود. ځان مې خوندي احساساوه. هماغه تود او عجيبه احساس مې بيا وکړ، کوم چې هغه شپه مې د هغه ترځنګ احساس کړی و. بدن مې ورېږدېد. ناڅاپه مې زړه غوښتل ورته ووايم چې مينه درسره لرم. خو ولې؟ زه لا هغه سم نه پېژنم. لوک انسان نه و. هيڅوک دومره ژر مينه نه شي کولی، په ځانګړې ډول زه. خو زما د زړه په ژوره برخه کې، هغه ځای چې يوازې د شپې او د انسان د يوازيتوب په شېبو کې احساسېږي، يو بل ډول احساس و. داسې احساس چې مخکې مې هېڅکله نه و تجربه کړی.

ناڅاپه لوک ښکته شو او د يوې لوړې ونې د څانګو ترځنګ ودرېد. په احتياط يې زه پر څانګو کېنولم او ويې ويل: همدلته پاتې شه، دلته به خوندي يې.
- ما مه پرېږده.
هغه ښکل کړم او ويې ويل: بېرته راځم.
ورو ورو لرې شو او ويې ويل: بايد خپلو ملګرو سره مرسته وکړم. زما انتظار وکړه.
د دې خبرې وروسته وزرې يې په هوا کې وښورولې او په تاو راتاو کيدو پورته شو.
ساه مې واخيسته او ورو مې وويل: زه خو د تلو ځای نه لرم.

ورته کتل مې چې په ډېر سرعت د مورفي پر لور روان شو، چې له رام سره په جګړه کې و. له ونې پورته مې لوک او مورفي وليدل چې د تيارو سيورو په شان د رام پسې روان وو. دوی دومره تېز حرکت کاوه چې نه لوک ښه ښکارېده او نه مورفي.
بل لور ته مې وکتل، پاتر او کريګ مې وليدل چې په هوا کې له يو بل سره جنګېدل.
ناڅاپه دواړه د کليسا د چت پر لور ولوېدل. ساه مې ونيوله. چت مات شو او د تيږو ټوټې هوا ته والوتې.څو شېبې وروسته د کليسا دروازه ماته شوه او کريګ له دننه بهر وغورځېد.

هغه د نږدې يوه قبر پر تيږه ولګېد. د قبر تيږه د هغه د زور له امله په منځ کې ماته شوه. پاتر د دروازې په خوله کې ښکاره شو. بې له ځنډه يې پر کريګ بريد وکړ چې

لا د څو شېبو لپاره پر واورو بېهوښه پروت و. کله چې کريګ پورته شو، پاتر هم ورورسېد. د کليسا د شمعو په کمزورې رڼا کې د هغه تور وزرونه ځلېدل.

خپل مخ يې ورنږدې کړو کولاې مې شول د هغه د غاښونو غږ واورم چې کريګ يې په غاښ کاوه او ټوټه ټوټه کاوه. کريګ د هغه لاندې چيغې وهلې. د پاتر بريد ډېر سخت او بې رحمه و. تور رنګ وينه د کريګ له ټپونو راووتله او شاوخوا واورې يې ککړې کړې. سترګې مې واړولې. که څه هم کريګ راته دروغ ويلي وو او زما د مور په ورکېدو کې يې لاس درلود، بيا هم زړه مې نه غوښتل چې هغه په دې سره او تشه هديره کې داسې ووينم. له خپل پټ ځايه مې وليدل چې وينه څښونکې په تېزۍ د قبرونو ترمنځ د پاتر پر لور روان دي.

پاتر هغوې ته شا وه او نه يې ليدل. پوهه شوم چې يوازې څو ثانيې وخت لري. نو په لوړ غږ مې چيغه کړه: پاتر .. پام کوه.

پاتر له کريګ څخه جلا شو او سر يې پورته کړ. د مخ له نيمايي برخې يې وينې څڅېدې. کله چې يې وليدل وينه څښونکې يې خواته نږدې کېږي، الوتنه يې وکړه او د کريګ بېسده بدن يې پر وينو لړلو واورو پرېښود. په هوا کې يې يو څرخ وواهه او بيا په ډېر سرعت د وينه څښونکو پر لور ښکته ورغی.

هماغسې لکه پاتر چې زما چيغه اورېدلې وه، ځينو وينه څښونکو هم اورېدلې وه او پام يې زما خواته راوښتې وو. له ډلې يې درې تنه جلا شول او په ډېر سرعت د ونې پر لور چيرته چې زه وم را په منډه شول. د غښو په څېر د ونې څخه راپورته شول. د هغوې د اوږدو نوکانو له امله د ونې پوستکې ګراشه کېدې.

څو ثانيې وروسته هغه واورين ښاخ ته راوسېدل په کوم چې زه ولاړه وم. په ډېر سرعت زما خواته را روان شول. ما لاس جېب ته کړ، غوښتل مې صليب او د مقدسو اوبو بوتلونه راوباسم، خو کله چې مې وليدل هلته نشته له ډېر وېرې نږدې و له ونې څخه وغورځېږم.

چیغه مې کړه:
- نو چېرته دي؟

د ډاډ لپاره مې په دواړه لاسونو جېبونه وپلټل، خو دواړه تش وو. یوه شوم چې ښايي کله چې له اسمانه لوېدم، له جېبونو مې غورځېدلي وي. په وارخطايۍ شاته شاته لاړم او له هغو وینه څښونکو څخه مې فاصله واخیسته چې رانږدې کېدل. هغوی داسې حال کې چې لاړې یې له خولې بهېدې او سترګې یې په سور او نارنجي رنګ ځلا ځلېدې. زما خواته راروان وه. شاته ښکته شوم یوه ته مې لغته ورکړه او چیغه مې کړه:
- ورک شئ له دې ځایه!

زما د بوټ پونده د مخکني وینه څښونکې پر زنه ولګېده. د زنې د ماتېدو غږ یې پورته شو او زنه یې په عجیبه ډول کږه شوه. خو هغه یوازې یو کږه موسکا وکړه، خپله زنه یې بېرته سمه کړه او ویې ویل: همدا دې ټول زور و؟

هغه ورو ورو زما خواته راتلې او هوا یې بویوله، لکه یو وحشي ځناور چې د ښکار بوی اخلي. د تېښتې هېڅ لاره نه وه. دعا، دعا مې کوله چې کاش یو ویمپایرس راشي او ومې ژغورې. د دعا حال کې مې د لوک او مورفي د وزرو او چغو غږ واورید چې د رام پسې روان وو. لاندې مې وکتل. د ونې له منځنیو ښاخونو مې پاتر ولید چې په ډېرې سختۍ او زور سره له هغو وینه څښونکو سره جګړه کوله چې ورپسې راغلي وو.

یوه شوم، که غواړم ژوندۍ پاتې شم، نو باید په خپل عقل او زړورتیا تکیه وکړم. همغه شېبه یوه خبره ذهن ته راغله. لاس مې پورته کړ او د ونې دوه کلکې څانګې مې ماتې کړې. دواړه نږدې یو فوټ اوږدې وې او سرونه یې تېره وو. یوه څانګه مې د بلې پر سر کېښوده او د صلیب بڼه مې ترې جوړه کړه. خپل لاسې جوړ شوې صلیب مې د وینه څښونکو مخې ته ونیو او په ناهیلۍ مې ورته وخوځاوه.

هغه سمدستي یو ګام شاته شو. شونډې یې پورته شوې او تېره دارې یې ښکاره شول.

په زړه کې مې د ځان سره وویل: لکه چې کار یې وکړ!
خو ناڅاپه وینه څښونکې په مکارۍ موسکا راوکتل او ویې ویل: دا خو مقدس صلیب نه دی!

لا خبره یې نه وه خلاصه کړې چې پر ما یې برید وکړ. له وېرې شاته شوم او دواړه لاسونه مې د ځان د ساتنې لپاره د سینې مخې ته ونیول. د لرګي څانګې لا هم زما په لاسونو کې وې. هغه په چټکۍ راورسېد. تېره دارې یې زما له غاړې څو ګوتې لرې وو او تاوده نفسونه یې زما پر غاړه لګېدل. خو ناڅاپه یې بدن ولړزېد.

په درد یې چیغه کړه: نه!

یو دم څو ګامه شاته شو. د مړو غوندې د سترګو څلا یې ورکه شوه لاندې مې وکتل. تازه پوه شوم چې د لرګي یوه تېره څانګه کوم چې زما په لاس کې وه او صلیب مې ترې جوړ کړې و د هغه د سینې له منځه راوتلې ده. هغه هم سر ټیټ کړ او هغه لرګي ته یې وکتل چې په زړه کې یې ننوتی و. کله چې مې ولیدل زما له لاسې جوړ شوي وسلې څخه وېرېدلې دی زړه مې نور هم قوي شو. ورمخته شوم او لرګی مې لا ژور د هغه په زړه کې ورټېله کړه، هغه په وارخطایۍ خپلې پنجې په لرګي ټینګې کړې او په چیغه یې وویل: له ما لرې شه.

ما هم په چیغه ورته وویل: مړ شه ..

او لرګی مې د هغه په زړه کې وخرخاوه. هماغه شېبه یې د لاسو پنچې د ایرو په شان رژېدل پیل کړل. ګوتې یې یو د بل پسې ابرې کېدې او باد د دوړو په څېر له ځان سره هوا ته وړل. هغه خپل ورکېدونکو ګوتو ته وکتل او په حیرانۍ یې وویل: وګوره، څه دې راسره وکړل.

ما نور هم زور ورکړ. لرګی مې لا ژور د هغه په زړه کې ننویست، تر دې چې ټول پکې ورک شو. ورو ورو یې مخ هم د لاسونو په څېر رژېدل پیل کړل. لومړی یې زنه ولوېده، بیا یې توره او پړسیدلې ژبه پر سینه راولوېده او کرکجن غږ یې وکړ. نور مې د لیدو وس نه درلود. سترګې مې پټې کړې او خپل د ګوتو د منځ څخه مې ورته وکتل. لا مې هم دویمه څانګه په لاس کې نیولې وه. څو شېبې وروسته هغه په بشپړه توګه ټوټې ټوټې شو او د ایرو په یوه ډېره کپه بدل شو. باد هغه ایرې د واورې له ورو ذرو سره پورته کولې او په هوا کې یې تاوولې.

دویم وینه څښونکې بې له کومې وېرې زما پر لور راغی او منډه یې راواخیسته. ما هم دویمه څانګه په هوا کې وښوروله او چیغه مې کړه:
- راشه ... راشه ته هم راشه.

هغه د وینې د تندې له امله لېونی شوی و، په یوه ټوپ یې پر ما برید وکړ. ما هم د ونې له څانګو څان کلک ونیو او خپل جوړ کړې لاسې وسله مې د هغه په سینه کې ننوېسته. پوه شوم چې د هغوی د مړه کولو لار د هغوی زړه په نښه کول دي. او اټکل مې سم و همدا چې لرګي په زړه کې ننوت د درد له امله یې یوه زوروره چیغه کړه او دومره شاته وغورځېد چې له ونې څخه ولوېد. لاسونه یې په هوا کې ښورول، خو د پوره لوېدلو مخکې د خپلو ژېړو نوکانو په وسیله زما د پتلون پایڅه ونیوله او زه یې هم له څان سره لاندې کش کړم.

چیغه مې کړه:
- ما خوشې کړه، زه نه غواړم مړه شم.

لاسونه مې د ونې پر یوې څانګې کلک تاو کړل او غاښونه مې سره ټینګ کړل. لاندې مې وکتل وینه څښونکې زما له پښو څوړند و.

ـ ما پرېږده ..

د هرې خبرې تر منځ مې په زور لغتې وهلې او ځان مې خوځاوه، غوښتل مې هغه مجبور کړم چې خوشې مې کړي. هغه د درد له امله چغه کړه او خپل په هغه ازاد لاس يې هڅه وکړه چې لرګی له سينې وباسي. خو هماغه شېبه يې ګوتې ورو ورو اېرې کېدل پيل کړل. ذره ذره، لکه د شګو کلا چې د اوبو څپې پرې ولګېږي، هغه ورو ورو ورانېده او ټوټې ټوټې کېده. هغه لاس چې زه يې نيولی وم، له مړوند څخه جلا شو. وينه ځمکې لاندې ولوېد او کله چې د قبرونو پر تيږو ولګېد، په دوړو او ايرو بدل شو. ما خپله پښه وخوځوله او د وينه ځښونکې لاس مې هم له ځان لرې وغورځاوه.

په ستمې کولو مې وويل: خدايه، مننه.

په ډېر زحمت مې ځان ببرته پورته کړو، خو لا مې ساه نه وه جوړه شوې چې درېيم وينه ځښونکې د ونې له منځه په چټکۍ زما پر لور راغی. زړه مې درد وکړ او سترګې مې له اوښکو ډکې شوې. ځکه هغه څوک چې زما خواته راروان و هنري بليک و .. د هغه کوچنی غاړه او د بدن پاسنۍ برخه څېرې شوې وه او بدن يې ټوټې ټوټې شوی و.

په ټيټ غږ مې وويل: هنري ...
تر شونډو لاندې مې بيا ورو وويل: هنري ..

خو هغه هېڅ زما غږ نه اورېد او نېغ زما پر لور راروان و. سرې سترګې يې په تياره کې ځلا کول. خوله يې خلاصه کړه او تېرې داړې يې راښکاره کړې.
بيا مې په زارۍ وويل: خير دې هنري، مه رانږدې کېږه.

نه مې غوښتل هغه ووژنم، خو هغه بيا هم رانږدې کېده. ښه پوهېدم چې هغه زړه‌سوی چې ما د هغه لپاره درلود هغه زما سره هيڅکله نه لري. زما مخ ته راورسېد په زور يې ټېله راکړه او د ونې په ماتو څانګو کې يې وغورځولم. پر مخ پرېوتم او د

ځانګو لاندې بند پاتې شوم. په ټول زور مې هغه کوله مخ او غاړه مې د هغه له داړو لرې وساتم.

په چیغه مې وویل: نه، هنري ..
خو هغه زما غږ نه اورېده. لکه عقل یې له لاسه ورکړی وي. ناڅاپه یې له ما لاس واخیست او شاته کش شو. په خپلو ورو ماتو لاسونو یې د یو شئ د نیولو هڅه وکړل خو هوا کې ځورېند شو او یوې او بلې خوا ته زنګېده. همغه وخت مې پاټر ولید. هغه هنری چې لاس او پښې یې په هوا کې وهل او د ځان خلاصولو هڅه یې کول له دواړو اوږو نیولې و.

په ویاړ یې وویل: افسر هاډسون ډېره ورو یې، یوه افسره باید چالاک اوسیږي.
- له قصد مې نه غوښت چې ویې وژنم. هغه یوازې یو ماشوم دی.
پاټر- هغه یو بلا دی، نه ماشوم.
- زه دا نه شم لیدلای.
پاټر په بې‌پروا یې وویل: نو مه یې ګوره.

بلې خوا ته مې مخ واړاوه. آن غوږونه مې هم په دواړو لاسونو پټ کړل، خو بیا هم د هنری، یا هم د پاټر په خبره د هغه بلا د درد څخه ډکې چیغې مې اورېدې، ځکه پاتر په مینځ کې دوه نیم کاوه او وژلو یې.
کله چې هر څه پای ته ورسېدل، وا مې ورېدل چې ویې ویل: راځې یا که غواړې ټوله شپه همدلته د دې ونې شاوخوا تېره کړې؟

د اورې له پاسه مې شاته وکتل. پاتر د ونې بلې غاړې ته په هوا کې ځورېند ولاړ و، وزرونه یې بې‌درېغه رپېدل. لاسونه یې د بدن دواړو غاړو ته راځورېند وو، ځواکمن بدن او غښتلې وزرونه یې درلودل په زړه کې مې وویل: منم چې بدن یې د ستاینې وړ دی، خو چلند یې د شرم.

یو لاس مې پر بل کېښود، ځان مې د ونې په څانګو پورته کړ او د هغه خواته ورغلم. هغه هم په غېږه کې ونیولم او ځان خواته یې نږدې کړم بیا یې په ډېر سرعت د ځمکې پر لور الوتنه وکړه. دومره تېز روان و چې د ساه اخیستلو فرصت یې لا نه راکاوه. چیغه مې کړه: لږ ورو!

له ډېرې وېرې څخه مې زړه خولې ته راغی، ځکه لیدل مې چې په ډېر سرعت د ځمکې پر لور راکوزېږو. په وروستۍ شېبه کې یې خپل لوی تور وزرونه وغوړول او د بڼکې په شان په نرمه پر ځمکه کېناستو. کله چې یې زما وارخطا او حیرانه څیره ولیده نو موسکی شو او ویې ویل: دومره مه حیرانه کېږه.
په غوسه یې له غېږې راووتم، ورته مې وکتل او ومې ویل: پاتر، درسره شرط وهم په دې دنیا کې داسې هېڅ کار نشته چې ته یې وکړې او زه پرې حیرانه شم.
هغه په موسکا سګرټ ځانته بل کړ، بیا یې سترګکه راته ووهله او ویې ویل: وبه ګورو اغلې هاډسون!

د دې خبرې د کولو سره سم هوا ته پورته شو او والوت. تر هغو مې ورته کتل چې د لوک او مورفې خواته ورسېد. هغوې دواړه لا هم د رام سره په جګړه بوخت وو.
باور مې نه راتلو رام په هغه عمر دومره ځواکمن و چې په یو وخت کې د درې ویماپیرس سره جګړه کول، ناڅاپه مې د شا له لورې یو غږ واورېد. مخ مې ورواړاوه. فکر مې وکړ وینې‌څښوونکې به وې خو د هغوې پر ځای مې پاپ ولید چې په ګوډه پښه د کلیسا له سیورې راووت زخمي شوې وزرونه یې پر واورو راکشېدل. ژر د یوه قبر تر شا پټه شوم. له هماغه ځایه مې ولیدل چې د کریګ وینو لړلې جسد ته ورغی. څنګ ته یې په ګونډو کېناست او ورباندې ورټیټ شو. داسې ښکارېده چې خپل د ملګرې زخمونه ګورې.

زړه مې غوښتل له خپل پټ ځایه ووځم او ترې وپوښتم چې ستا مطلب د هغه لفظ څخه چې و دې ویل: ته بې‌سارې یې. څه دې؟

خو تر دې هم زيات مې غوښتل د خپلې مور په اړه ترې وپوښتم چې څه پرې تېر شوي دي. لا مې جرئت نه و کړی چې ورشم، ناڅاپه مې د وزرونو د رپېدو غږ واورېد. سر مې پورته کړ. لوک، مورفي او پاتر مې وليدل چې رام يې کلک نيولی و او له اسمانه يې ښکته راکاږه. ښايي پاپ هم دا غږ اورېدلی و، ځکه دويم ځل چې مې ورته وکتل، نو کريګ يې په غېږ کې پورته کړی و. بيا يې په سختۍ خپل ټيي وزرونه وخوځول، څو وارې يې بې‌نظمه رپ ورکړ او د شپې په تياره کې ورک شو. زه هم د قبر له شا راووتلم او د مورفي او لوک خواته ورنږدې شوم. هغوی رام راګير کړی و.

هر څومره چې هغه ځان خلاصولو ته زور واهه نه شو خلاصېدې. کله چې پوه شو د خلاصون لاره نه لري نو ويې ويل: ما ووژنئ، خو دا درک کړئ چې زما په شان نور هم شته.
لوک په غوسه وپوښتل: نور څوک دي؟

رام د ځواب ورکولو پر ځای موسکی شو. ورته نږدې شوم مورفي چې زه وليدم نو ويې ويل: هاډسون له دې ځايه لاړه شه. دا ستا کار نه دی.
- هر څه له ما سره تړاو لري. هغه پوهېږي چې زما پر مور څه تېر شوي.
بيا د رام خواته ورنږدې شوم، د هغه سترګو ته مې وکتل او ومې پوښتل: هغه چېرته ده؟

رام راوکتل موسکی شو او ويې ويل: که هغه نه شې ليدلی، نو د رښتيا هم درباندې خواشينی يم.
په حيرانۍ مې وپوښتل: څه مطلب؟
رام- ورپسې وګرځه هاډسون پيدا به يې کړې، خو پام کوه چې د څه شي په لټه کې يې، ځکه ښايي هغه څه چې پيدا يې کړې خوښ به دې نه شي.

همدومره يې وويل، بيا يې سر ټيټ کړ او خپل برخليک ته يې غاړه کېښوده. پوهېدم چې نور به هېڅ ونه وايي. داسې ښکارېده چې د ژوند وروستۍ خوند يې همدا و

چې ما وکړوي. لوک زما پر اوږو لاسونه کېښودل، ژور یې راته وکتل او ویې ویل: هاډسون ارټیا نشته چې دا ووینې.

- خو...

لوک خبره راپرې کړه.

— هغه د انسانانو وینه څښلې نه رغېږي او نه هم بدلېږي.

بیا له ما لرې شو او د مورفي او پاتر تر څنګ ودرېد. درې واړو خپل وزرونه وغوړول، څو زه ونه وینم چې څه کوي. خو بیا هم مې د رام د بدن د ټوټې ټوټې کېدو غږونه مې اورېدل.

مورفي وپوښتل: دا یې اخرې وو؟

ورته مې وکتل، خپل د لاس پر شا یې خپل زنه پر کوم چې د رام وینه شیندل شوی وه پاکه کړه. ما لا هم مخ د رام د جسد له پاتې شونو اړولی و. نه مې شو ورته کتلې. پاتر یو ګام مخکې راغی او ویې ویل: د کریګ جسد هلته پروت دی.

بیا یې زما خواته راوکتل او خپل ژبه یې پر شونډو تېره کړه او د شونډو پر سر لګېدلې د وینې سره داغونه یې پاک کړل.

- ما پاپ ولېد چې کریګ یې له ځان سره واخیست او والوت.

لوک مخکې راغی، خو ماته یې نه کتل. داسې ښکارېده چې فکر کوي زه به د هغه له کارونو کرکه کوم. له یوې خوا رښتیا هم دا کار راته کرکجن و، خو د هغه دلیل مې هم درک کاوه رام د لوک، مورفي او پاتر په خبر نه وو. که له منځه نه وای تللې، نو د انسانانو وینه به یې څښله او نور وینې‌څښوونکي به یې هم پیدا کول. له همدې امله د هغه شرمندګي مې درک کړه. ورنږدې شوم او لاسونه مې په خپل لاسونو کې ونیو.

مورفي خپل کمیس د ډبرې له سر راواخیست او ویې ویل: دا ښه کار ونشو باید ټول مو له منځه وړي وای.

پاتر بل سګرټ بل کړ او ويې ويل: غواړې چې پاپ پسې لاړ شم؟
مورفي- نه.

بيا يې ملا کږه کړه. د ملا د هډوکو د چرق چرق غږ پورته شو. وزرونه يې شاته لاړل او د بدن لاندې پټ شول. کميس يې واغوست او ويې ويل: لمر به ژر راوخېژي بايد له هر هغه څه ځان خلاص کړو چې پاتې دي. بايد په دې هم ځان ډاډه کړو چې ټول وينې‌څښوونکي له منځه تللي دي.

پاتر له جېبه لايټر راوويست، بل يې کړ لمبه يې خپل مخې ته وخوځوله. مورفي ته يې وکتل او ويې ويل: د تل په شان له هماغې لارې؟
مورفي د هو په معنا سر وخوځاوه. د کميس وروستی تنۍ يې وتړله، بيا يې کورتۍ واغوسته. لوک ته يې وکتل او ويې ويل: هاډسون بېرته مسافرخانې ته ورسوه او ژر بېرته راشه. زموږ سره مرسته وکړه چې دا ګډوډي سمه کړو.

- خو زه غواړم پاتې شم.
مورفي په کلک وويل: نه.
— خو ..
دا ځل نو په غوسه شو او ويې ويل: افسرې دا خبره تل ياد کې ساته، چې د دې ټولو پيښو باوجود زه لا هم ستا مشر يم، او درته امر کوم چې له دې ځايه لاړه شه.

غوښتل مې ځواب ورکړم چې لوک خپل لاسونه زما د ملا شاوخوا تاو کړل او هوا ته يې پورته يې کړم. لاندې مې وکتل. يوازې د مورفي او پاتر د بدنونو سيوري ښکارېدل چې د کليسا پر لور روان وو. لږ وروسته له سترګو مې پناه شول او د وريځو تر شا ورک شول. باد مې د ويښتانو په منځ کې چلېده. لوک خپل وزرونه پورته او ښکته خوځول او د رګډکوو پر سر يې الوتنه کوله. د ښار له پاسه الوتل عجيبه اراموونکی و. زما وارخطا اعصاب يې ورو ورو ارامول.

لوک زه ځان خواته لا نږدې کړم احساس یې داسې و، لکه یوه فرښته چې زت په غېږ کې نیولې وم، هغه په اسمان کې تاوېده، د وریځو ترمنځ پورته کېده او بیا به بېرته ښکته راکوزېده.

له پورته څخه مې ښار ته وکتل ډېر ارام ښکارېده. د شین دریا ناهموارو تپو او شنو ځنګلونو له امله ډېر ښکلی معلومېده. باور مې نه شو کولای چې دا دومره کوچنی ښار دې دومره ډېرې وېرونکې پېښې او رازونه په ځان کې پټ کړې وي. سترګې مې لرې لاړې. د کلیسا منارونه ته مې وکتل چې د اور په لمبو کې سوځېدل، له مسافرخانې لږ لرې پر ځمکه راښکته شو لوک خپل وزرونه زما له شاوخوا لرې کړل، خو لا یې هم زه نه وم خوشې کړې. په نرم، خو اندېښمن غږ یې وپوښتل: ښه یې؟

د هغه شنو او ځلېدونکو سترګو ته مې وکتل او ومې ویل: ښه به شم.
غېږ کې ونیولم. خپل مخ یې زما له مخ سره ولګاوه. د هغه د لنډې ږیرې ویښتیان مې پر مخ احساس کړه. زما د غوږ ترڅنګ یې ورو وویل: بېرته راځم.
ما هم ورو وویل: ښه ده چې بېرته راشې.
لوک- همدا نن شپه راځم، کله چې په کلیسا کې هر څه سم کړو، بېرته راګرځم.
- نور کسان؟

لوک- کوم کسان؟
- هماغه چې رام ویل، زما په شان دي.
لوک- هغه به وروسته ګورو. مورفي پوهېږي چې څه وکړي.
نه مې غوښتل له هغه جلا شم. ومې ویل: نو ژر بېرته راشه.
موسکی شو او ویې ویل: همدا چې سترګې پټې او خلاصې کړې زه به بېرته راغلی یم.

بیا یې زه ځان ته نږدې کړم او ښکل یې کړم. خو دا ځل یې فرق درلود. پخوانی ښکلول یې نرمې وه، خو دا ځل یې په زور او ډېرې مینې سره ښکل کړم. په دې کې داسې تنده وه چې د هغه د لوږې له امله وه. ما هم په هماغه احساس ځواب ورکړ. د

خوښۍ او ارامۍ یو عجیب احساس راته پیدا شو. نه مې غوښتل دا شېبه ختمه شي، خو نه مې غوښتل خپل د ځان کنټرول له لاسه ورکړم. نو ورو ورو ترې شاته شوم، د هغه سترګو ته مې وکتل او ومې ویل: د اوس لپاره خدای پامان.

هغه موسکی شو، ملا یې ټیټه کړه، خپل تور وزرونه یې وغوړول او والوت.
زه بېرته د مسافرخانې پر لور وګرځېدم له لرې مې د تندر غږ واورېد.

رونالډ د میز تر شا ولاړ و او په یوه چټل ټوکر یې ګیلاسونه وچول. همدا چې مسافرخانې ته ننوتم، نو په بیړه زما خواته راغی او په اندېښمن غږ یې وویل:
هاډسون ډېر بد حال دې دی.
په سترې موسکا مې وویل: مننه.
غومبرې یې له شرمه سره شول او ویې ویل: نه، مطلب مې دا نه و.
بیا یې له سره تر پښو وکتلم. زما پر جامو، لاسونو او مخ یې د وینېڅښوونکو وچه شوې وینه ولیده، او ویې ویل: ته خو داسې ښکارې لکه له دوزخه چې راوتلې یې، بېچاره ګې.

- څومره نږدې مثال دې راکړو، زه د رښتیا هم له دوزخ راغلې یم.

مسافرخانې ته د راتلو وروسته تازه د نن شپې د ټولو پېښو دردونه یو یو راڅرګندېدل. رونالډ موسکی شو او ویې ویل: څه، ځان لږ سم کړه. زه درته یو ګیلاس ګرم قهوه او د خوړلو څه راوړم. ته خو داسې ښکارې لکه څو ورځې دې څه نه وي خوړلي.

له سترګو یې معلومېده چې په رښتیا هم غوارې مرسته راسره وکړي. زړه مې ونه شو چې دا ځل یې هم خبره رد کړم. په موسکا مې وویل: رونالډ ډېره مننه ته ډېر مهربانه یې.

هغه په منډه پخلنځي خواته لاړ، او زه خپلې کوټې ته وختم. له درد نه مې مخ راټول شو. کالي مې وایستل او خپل بدن ته مې وکتل. کله چې مې پر بدن ټپونه او شنه

داغونه ولیدل، حیرانه شوم. جان‌پاک مې راواخیست او په بیړه حمام ته ننوتم. ټبل ته ورښکته شوم او انتظار مې کاوه چې له اوبو ډک شي. سترګې مې پټې کړې او د اوبو د بهېدو غږ ته مې غوږ ونیو. چې لوک رایاد شو په دې فکر کولو چې هغه به بېرته راځي، زړه مې بې اختیاره په درزا شو. هم خوشحاله وم هم بې‌قراره.

هڅه مې وکړه هغه له خپل ذهنه وباسم. کله ناکله چې مې د هغه په اړه څه احساسول، خپله هم ترې وېرېدم. له ځان سره مې ویل، ولې دومره د هغه د تاثیر لاندې ځم؟ ولې دومره د هغه څخه اغیزمنه کېږم؟ د نن شپې ټولې پېښې مې یو ځل بیا په ذهن کې تېرې کړې. بیا د پاپ خبره رایاده شوه. هغه ویل: ته بې‌سارې یې. هدف یې د دې خبرې څخه څه و؟ موږ ټول انسانان ځانګړي یو داسې نه ده؟ هر انسان ځانته یو ځانګړتیا لرې بیا ولې هغه دا خبره ماته وکړل؟

بیا د رام خبرې مې په ذهن کې راوګرځېدې: د خپلې مور پسې وګرځه، خو ښایي هغه څه چې پیدا کوې، خوښ دې نه شي.

هماغه شېبه مې د هنري بلیک په کوچنیو لاسونو کې د ویښتانو انځور سترګو ته ودرېد. ورسره سم مې هغه ویښتان هم رایاد شول چې د ادارې په کوټې کې د الماری دننه پر برس مې موندلي وو. هماغه الماری چې ګومان مې کاوه یو وخت به د جېسیکا ریوز وه، یا په بل عبارت، زما د مور. ایا رښتیا هم هغه د جرم پر مهال هلته موجوده وه؟

په ذهن کې مې هغه کسان وشمېرل چې د پېښې پر ځای کې وو. پاپ، کریګ او هغه سړی چې سګرټ یې څکاوه. هغه سړی څوک و؟ فکر نه کوم پاتر اوسیږی، که هغه نه دې نو بیا څوک و؟ همدا وخت مې د کوټې پر دروازه د ټک ټک غږ واورېد او له سوچونو راووتم. جان‌پاک مې پر ځان کلک تاو کړ او ورغلم دروازه مې خلاصه کړه. رونالډ د دروازې مخې ته ولاړ و. د زینو له ختلو یې ساه لنډه شوې وه او ستمې کاوه.

په خپلو چاغو لاسونو کې یې یو پتنوس نیولی و. په پتنوس کې یو ګیلاس ګرم قهوه چې بخار ترې پورته کېده، او یو قاب چې څو سینډویچونه پکې په پاکه او ښکلې توګه ایښودل شوی وه نیولې وه. له دروازې یوې غاړې ته شوم او په لاس مې دننه خواته اشاره وکړه. هغه پتنوس پر مېز کېښود.

- رونالډ، ته ډېر مهربان یې.
را وې وکتل او ویې ویل: دا خو هېڅ زحمت نه و.

د هغه سترګو ته مې پام شو چې ښکته یې کتل، ما هم سترګې ورپسې واړولې، نو ومې لیدل چې جان‌پاک مې لږ ښویېدلی او د ښۍ پښې ورون مې ښکاره کېږي.
ژر مې جان‌پاک سم کړ. هغه هم پوه شو چې زه وارخطا شوم. بې له دې چې بېرته راوګرځي، ورو ورو د دروازې خوا ته ولاړ او ویې ویل: ښه شپه، هاډسون.
- ښه شپه، رونالډ.

دروازه مې ورپسې بنده کړه او د مېز خواته راغلم. د قهوې یو غړپ مې وڅښه. لا هم ګرم او تریخ وو. له ځان سره مې حمام ته یووړ، نل مې بند کړ، ویښتان مې شاته ټول کړل او کلک مې وتړل. بیا خپلې کوټې ته ننوتم، ناځاپه مې له وېرې چیغه کړه. رونالډ، چې ما ګومان کاوه تللی دی، لا هم په کوټه کې ولاړ و. شا یې دروازې ته وه. له وېرې مې ټول بدن ولړزېد. په وارخطا غږ مې ترې وپوښتل: ته دلته څه کوې؟
راته یې وکتل او ویې ویل: غواړم درسره خبرې وکړم.

جان‌پاک مې نور هم کلک پر ځان تاو کړ او ومې ویل: اوس وخت نه لرم رونالډ. د یوه ملګري په تمه یم، هره شېبه را رسېدلی شي.
هغه یو ګام نور هم رانږدې شو او ویې ویل: هغه څه چې درته ویل غواړم، ډېر وخت نه نیسي.

ورو ورو ورځخه شاته شوم او ومې ویل: مهرباني وکړه رونالډ. که ډېره مهمه خبره نه وي، سبا ته یې پرېږده.

هغه د خپل کمیس تنۍ خلاصول پیل کړل او همغه حال کې وویل: دا خبره تر سبا نه شي پاتې کېدای.

کله چې پوه شوم په څه لوی مصیبت کې راګیره شوی یم، لاسونه مې موټ کړل او په غوسه مې وویل: زما له کوټې ووځه رونالډ ...

خو رونالډ خپل کمیس وایست او پر ځمکه یې وغورځاوه. یوه شېبه یې هم سترګې له ما نه اړولې. سپینه سینه یې په ګڼو، تورو او ببر ویښتانو پټه وه. چې کمیس یې وایست، غټه ګېډه یې پر پتلون راولوېده. ما سمدستي مخ واړاوه او د حمام د دروازې خوا ته لاړم. سترګې مې هرې خوا ته ګرځولې، هر څه مې لټول چې د ځان د دفاع لپاره یې وکاروم. ناڅاپه مې سترګې پر ځمکه ولګېدې. د هغه د کمیس له جېبه یو څه لوېدلي وو، خو د هغه پام نه و ورته شوی.

په پوره پام مې د هغه شئ خواته وکتل، هغه د مارلبورو د سګرټو پاکټ و.
په هماغه شېبه د ځنګله هغه یوازینۍ ونه مې سترګو ته ودرېده، هماغه چې د هنري بلیک جسد ورسره پروت و. بیا مې هغه د سګرټو پاتې شوني راياد شول چې قاتل د نورو په تمه پر ځمکه غورځولي وو.

اوس نو ډاډه شوم چې شک مې بېځایه نه و. رونالډ سر شاته واچاوه او د حیوان د غږ په شان یې یو غږ وکړ. ورته مې وکتل. ټول بدن یې ولړزېد. ناڅاپه یې له ملا څخه تور وزرونه راووتل. خو دا وزرونه د نورو په شان نه وو. په تورو، غوړو او ګڼو وړیو پوښلي وو او د څراغ په رڼا کې ځلېدل.

بیا یې سر راټیټ کړ او ماته یې وکتل. هغه ژېړ برابر غاښونه یې نور نه وو. پر ځای یې بدرنګه داړې راوتلې وې. په دروند غږ یې وویل: حیرانه شوې کنه؟

- لوک هره شېبه امکان لري چې را ورسېږي.
بیا مې ورزیاته کړه:
- مورفي او پاتر هم ورسره دي.

په شیطان موسکا یې را وکتل او ویې ویل: د لوک پر نوم ما نه شي وېرولای.
په ذهن کې مې هر هغه خبره راګرځوله چې ښایي رونالډ پرې و وېرېږي.
هغه خپله غټه ګېډه په دوارو لاسونو ونیوله په لوړ غږ یې وخندل او ویې ویل: ته خو اوس د رښتیا هم ډېره وېرېدلې یې!
په رپېدلي غږ مې وویل: ته باید ووېرېږې. ما په خپلو سترګو ولیدل چې نن شپه هغوې رام څنګه لمینځه ویوړ.
رونالډ وخندل او ویې ویل: رام؟ رام د هغو په پرتله هېڅ هم نه دی کوم چې د دې وروسته راځي. موړ خو یوازې د دې لپاره رالېږل شوي یو چې هغوی ته لاره هواره کړو.

په حیرانۍ مې وپوښتل: موړ؟
د حمام په ټبل کې بنده پاتې وم. نه د تېښتې لار وه او نه د پټېدو ځای.
رونالډ موسکی شو او ویې ویل: رام، پاپ، کریګ او زه موړ یوازې شاګردان یو.
ومې پوښتل: د چا شاګردان؟

د رونالډ د کوم ځواب راکولو مخکې د هغه له شا څخه د یوې ښځې چیغه پورته شوه.
— رونالډ!

رونالډ سمدستي شاته وګرځېد. ومې لیدل چې مور یې د کوټې په دروازه کې ولاړه ده. له غوسې یې مخ تک سور اوښتی و. رونالډ په غوسه ورباندې چیغه کړه:
— مورې! دا ستا کار نه دی، ځان پکې مه اچوه.
هغې هم په چیغه ځواب ورکړ:
— بس دې نور رونالډ، تر کله غواړې بیګناه خلکو ته زیان ورسوی هان؟
رونالډ زما خواته مخ راواړاوه او ویې ویل: دا خو لا پیل دی.

لاس یې راوغځاوه او زه یې ونیولم. خو هماغه شېبه یو زورور غږ پورته شو رونالډ شاته وغورځېد او د کوټې له بل دیوال سره ولګېد. زړه مې په درزا شو. فکر مې وکړ

چې لوک راغلی. له حمامه راووتلم او کوټې ته راغلم خو لوک نه و. یوازې رونالډ او مور یې ولاړ وو. رونالډ له ځمکې راپورته شو، وزرونه یې وغوړول او په غوسه د خپلې مور خوا ته ورغی.

د هغې مخې ته ودرېد او ویې ویل: مورې! ښکته لاړه شه. خپل کار کوه دا خبره ماته پرېږده.
بوډۍ خپله کړه ملا سمه کړه، د زوی مخې ته ودرېده او ویې ویل: رونالډ، دومره کلونه مې ستا هره ګناه پټه کړه. هر څه مې ولیدل خو غلې پاتې شوم. کتل مې چې د خپلې وینې د تندې ماتولو لپاره بېګناه خلک وژنې. خو څه مې ونه ویل، خو نور بس دي، همدا شپه به دا هر څه پای ته رسوی.

رونالډ بیا په چیغه وویل: مورې دویم ځل نه وایم. همدا اوس ښکته لاړه شه او خپل کار کوه.
بوډۍ سر وخوځاوه او ویې ویل: همدا زما کار دی. موږ کولای شو دلته د نورو خلکو په شان ژوند وکړو. کله چې دې ځای ته راغلو، ښه ژوند مو پیدا کړ. خو تا خپل هوس او د وینې تندی ته ځان تسلیم کړو او د دې لځایه چې د ځمکې لاندی لاړ شې د بیګناه انسانانو وژل دې پېل کړل زه ستا په شان کمزوی زوی په درلودو شرمېږم.

رونالډ په غوسه غاښونه سره وچیچل.
— مورې...

بوډۍ په کلک غږ وویل: نه، رونالډ نور بس دی. ستا او هغو وینېځښوونکو له لاسه چې ته یې جوړوې، زه سترې شوې یم. څو کاله کېږي د دې ښار خلکو ته مقدسې اوبه او صلیبونه ورکوم، په دې هیله چې له تا او ستا له ملګرو خوندي پاتې شي. خو نور مې وس نه رسېږي. رونالډ خیر دې بس یې کړه. که زما خبره یو څه هم درته ارزښت لري نور دا کار پرېږده.

رونالډ د خپلې مور سترګو ته وکتل. له ځان سره مې وویل: خدای مهربان دې شاید د مور خبرې زړه په رحم راوړي.
خو هغه ناڅاپه په غوسه وویل: نو ته وایې چې زه کمزورې او بې‌ارزښته یم؟

د دې خبرې سره سم خپل مور یې په زوره د دیوال خواته ټېله کړل او زما خوا ته راوګرځېد. خو لا یې یو ګام نه و اخیستی چې مور یې په یو ټوپ د ځمکې څخه را پورته شوه. له شا نه یې تور، زړېدلي وزرونه راووتل او په منډه د رونالډ خواته راغلل د شالخوا یې پر هغه منګولې ښخې کړې او پر ځمکه یې وغورځاوه.

رونالډ پر خپلو وزرونو راولوېد. بوډۍ وخندل خو رونالډ دواړه پښې راټولې کړې او په زور یې لغته ورکړه. بوډۍ په هوا کې والوته او د کوټې له دیوال سره وجنګېده. دیوال ولړزېد چاودې پکې پیدا شوې او دوړې هوا ته پورته شوې. بوډۍ هم په درز سره پر ځمکه ولوېده. ما فکر وکړ، چې لاړه مړه شوه یا به یې لږ تر لږه ټول هډوکي مات شوي وي. خو لا لږه شېبه نه وه تېره شوی چې بوډۍ را پاڅېده.

په بیړه د خپل زوی خوا ته ورغله او په چیغه یې د هغه پر مخ منګولې راکش کړې.
رونالډ خپل مخ په دواړو لاسونو پټ کړ او په غوسه یې وویل: مورې پرېږده مې ..
بوډۍ هم په غوسه ناک غږ وویل: نه، هېڅکله هم نه ..

بوډۍ خپل کمزوري وزرونه ووهل د رونالډ پر سر تاوه شوه او بیا یې په مخ ورته یو یو کلک ګوزار ورکړ، چې د رونالډ پر مخ اوږد زخم جوړ شو.
رونالډ خپل د لاس په شا خپل د مخ وینه پاکه کړه او په کرکه یې خپلې مور ته وکتل. بیا پاڅېد او په ټول زور یې ځان پرې ورواچاوه. بوډۍ یو ځل بیا له دیوال سره ولګېده. د دیوال ګچ پرې راولوېدل خو دا ځل مخکې له دې چې راپاڅیږي رونالډ چالاکې وکړه ورغی او د خپلې مور سر یې په دواړو لاسونو کې ونیو او په زور یې یوې خوا ته تاوو کړو ..

ټـــــک!

د غارې د ماتېدو د غږ سره سم رونالډ په ټيټ غږ وويل: وبخښه، مورې ...
د بوډۍ ښځې بدن بې‌حرکته او سست د رونالډ په غېږه کې پاتې شو، غاړه يې داسې ماته شوې وه چې نور يکې د ژوند هېڅ نښه نه ښکارېده.

رونالډ د خپلې مور بدن داسې پر ځمکه وغورځاوه، لکه هېڅ ارزښت چې ورته نه لري. بيا پاڅېد، زما خوا ته راوګرځېد او په موسکا يې وويل: ښه نو چېرته وو؟ هان رایاد شول.

بيا يې ناڅاپه زما پر لور راټوپ کړ. پر ځمکه ولوېدم او رونالډ هم په خپل درووند وزن راباندې راولوېد. ساه مې سينه کې بنده شوه، د هغه پړسېدلي مخ ته مې وکتل او په سختۍ مې ساه اخيسته او ومې ويل: ما مه وژنه!

رونالډ- زه نه غواړم تا ووژنم هاډسون، ته تر دې ډېر ارزښت لرې چې مړه شې.
په بنده، بنده ساه مې وپوښتل: ستا مطلب څه دی؟
رونالډ- تا د رښتيا هېڅ شی ذهن ته نه راځي؟ مور دې هېڅ نه دي درته ويلي؟
- د څه په اړه؟

زه د هغه لاندې بنده وم او په ډېر کمزوري غږ مې دا پوښتنه وکړه. وروستۍ ساه مې هم له سږو ووتله او شاوخوا هر څه ورو ورو راته تياره شول، هڅه مې کوله چې بې‌هوښه نه شم. هماغه وخت چې نور مې سترګې بندېدې، ناڅاپه د کوټې کړکۍ په زوره ماته شوه او د ښيښې ټوټې ټوله کوټه ونيول. سر مې پورته کړ. لوک مې وليد چې د کړکۍ پر څنډه ناست و، لکه يو لوی ښکارکوونکی مرغه.

په غوسه يې چيغه کړه:
— ترې لرې شه!

ما مخکې هېڅکله د هغه غږ دومره غوسه ناک نه و اورېدلی. رونالډ سر وګرځاوه، د اوږې له پاسه يې هغه ته وکتل او ويې ويل: که زه ستا پر ځای وای نو ځان به مې د ځمکې تر ټولو ژور ځای کې پټ کړی وای هلکه! هسې هم ته په پټېدو کې نوم لرې.

لوک پرته له دې چې دویم ځل خپل خبره تکرار کړي، لاس یې وغځاوه د رونالډ د غاړې شا یې ونیوله او د کوټې بلې خوا ته یې وغورځاوه. رونالډ داسې والوت، لکه د کاغذ یوه ټوټه چې وي. د هغه د لرې کیدلو سره سم مې ژوره ساه واخیسته کېناستم او رونالډ ته مې وکتل. هغه د حمام او کوټې تر منځ دیوال سره په زور ولګېد. دیوال ونړېد او د خښتو او ګچونو یوه لویه غونډۍ پر زړې غالۍ راولوېده. د دیوال پورته برخه هم مخکې راکړه شوه، داسې ښکارېده لکه هره شېبه به راولوېږي. خو څو ثانیې وروسته رونالډ بیا کوټې ته راوګرځېد.

دارې یې راووېستې. لوک د کړکۍ له څنډې ټوپ کړ او د رونالډ پر لور یې ورمنډه کړه. دواړو خپل لاسونه سره کلک نیولي وو او یو بل یې د کوټې له یوې خوا بلې خوا ته غورځول د دوو وحشي حیواناتو په شان یې یو بل په غاښ کول او د یو بل غوښې یې شکولې.

په سختۍ د هغوي له مخې لرې شوم او د کوټې په لرې کونج کې کښیناستم.
رونالډ چې لوک پرې ورټوپ کړ، ځان یې ترې خلاص کړ او د هغه له لاسه ووت. بیا یې په دواړو لاسونو لوک ته زور ورکړ او د کوټې له دروازې سره یې وجنګاوه. دروازه له ځایه ووتله او ټوټې ټوټې شوه. لوک د لرګیو ټوټې له ځانه لرې کړې، پاڅېد او په بېړه بېرته کوټې ته راغی. په هوا کې پورته شو او په اوږه یې د رونالډ پر سینه زورور ګوزار ورکړ.

بیا یې رونالډ له ځمکې پورته کړ او د کوټې د هغې کړکۍ خوا ته یې وغورځاوه، له کومه چې لوک پخپل دننه راغلی و. رونالډ د کړکۍ څخه لاندې وغورځې، لوک په بېړه د کړکۍ څنډې ته ورغی او په تیاره کې یې سترګې وګرځولې. زه هم په خاپوړو د کوټې له کونجه ورو ورو ورغلم. د هغه تر څنګ ودرېدم او ومې ویل: وینې یې؟ څه شو؟

لوک زما ځواب ته انتظار ونه کړ، لاس یې زما د ملا څخه راچاپېر کړ او ویې ویل: کلک مې ونیسه.

څو شېبې وروسته بیا موږ دواړه د رګډکوو پر سر په هوا کې وو. شاوخوا مو واورې تاوېدې، باد شور کاوه. ما جان‌پاک پر ځان کلک تاو کړی و او زړه مې غوښتل کاش وخت راسره وای چې کالي بدل کړم. د لوک مخ ته مې وکتل. څېره یې جدي او کلکه وه. لاندې مې وکتل. رونالډ مې ولید چې وزرونه یې دواړو خواوو ته غوړولي وو او په ډېر سرعت زموږ پسې را روان و.

چیغه مې کړه:
- زموږ شاته دی.

لوک زه لاندې ونیولم، وزرونه یې وغوړول او ځان یې مخ ته وغورځاوه. بیا هماغه غږ راغی د تندر په شان زورور غږ. هماغه غږ چې مخکې مې هم ډېر اورېدلی و. د غږ له زور بدن مې ولړزېد په ډار مې وپوښتل: دا د څه غږ و؟
لوک- د غږ چاودنه.
له ځانه سره مې وویل: د غږ چاودنه؟ یعنې موږ د رښتیا دومره په چټک اولوتلو؟ د غږ چاودنه ډېرې وخت د ډېر سرعت له امله رامنتځه کېږي.
لوک ناڅاپه ښي لوري ته سخت تاو شو. کله چې پوه شوم له رونالډ لرې کېږي او د سمندر خوا ته ښکته روان دی، ځان مې ورسره کلک ونښلاوه او لاسونه مې ترې راتاو کړل. موږ په ډېر سرعت د سمندر د لویو تورو څپو پر لور روان وو.

یوازې څو ګامه د اوبو له سطحې پورته وو.د سمندر اوبه زموږ شاته داسې پورته کېدې، لکه د تېز موټر کښتۍ له تېرېدو وروسته چې څپې جوړېږي. زما ویښتان او جان‌پاک ټول لوند شو، له اوږې مې شاته وکتل. رونالډ مې ولید چې څو ګامه لرې لا هم زموږ پسې را روان و.

لاسونه یې هوا ته غځولي وو او هڅه یې کوله ما ونیسي. خو لوک ناڅاپه یو ځل بیا تاو شو، چپ لوري ته وګرځېد او بېرته د وچې خوا ته روان شو. څو شېبې وروسته مخې ته مو لوړې غونډۍ او تېره ډبرې راښکاره شوې. دومره په سرعت د هغه خواته

روان و چې ډاډه وم د لارې بدلولو لپاره نور وخت نه لرو. سترګې مې پټې کړې، غاښونه مې کلک سره ونیول او ځان مې د ټکر لپاره تیار کړ خو هېڅ هم ونه شول.

سترګې مې خلاصې کړې، ومې لیدل چې لوک نېغ پورته روان دی او د غونډۍ له څنډې پورته کېږي. د غونډۍ له پاسه مې د سنت ماري کلیسا منارونه ولیدل چې په اور کې سوځېدل. له مونږ نه به درې یا څلور میله لرې وو، خو په څو شېبو کې ورته ورسېدو. د لوګي منځ ته ننوتو او ناڅاپه ودرېدو. لوګی دومره ډېر او تور و چې له خپل مخې نه مې دوه ګامه لرې هم نه شو لیدلای. تود و او ساه اخیستل پکې سخت وو. لوګي مې پوزه ډکه کړه، سترګې یې راته وسوځولې او اوښکې مې روانې شوې.

ومې پوښتل: ولې ودرېدو؟
لوک ورو وویل: هیس... غلی شه.
بیا یې په چټکۍ ښي او چپ لورې ته وکتل او ویې ویل: اوس راځي.

رونالډ د مخې له لورې د لوګي له منځه راښکاره شو. داسې ښکارېده چې وارخطا دې، کله چې مونږ ولیدو نو ویې ویل: نجلۍ ماته راکړه، هغه وخت اجازه درکوم هر چېرته چې غواړې لاړ شې.

لوک په غوسه وخندل او ویې ویل: همدا غواړې؟ راشه، واخله یې.

او ناڅاپه یې زه خوشې کړم. له وېرې مې چیغه کړه او لکه یوه بې‌وسه ټوټه د ګرم لوګي او اور په منځ کې ښکته ولوېدم.
چیغه مې کړه: لوک ...

باور مې نه کېده چې هغه دې زه پرېښودلې اوسېږم لاندې مې وکتل؛ د کلیسا منارونه مې ولیدل چې په لمبو کې سوځېدل. یو ځل بیا مې پورته وکتل. هیله مې لرله چې کومه تېروتنه شوې وي او لوک به راشي او وبه مې ژغوري، خو یوازې مې د رونالډ ژېړې داړې ولیدې چې زما پر لور را روانې وې. زړه مې غوښتل چې تر رونالډ مخکې د اور لمبو ته ولوېږم سترګې مې پټې کړې.

ناڅاپه مې احساس کړل چې څوک مې په زوره کش کوي او له اوره مې لرې کوي. سترګې مې خلاصې کړې. لوک مې مخې ته و. ښکل یې کړم بیا یې ناڅاپه بل لوري ته په هوا کې وغورځولم او چیغه یې کړه: ونیسه یې.
هماغه شېبه پاتر له تور لوګي څخه راښکاره شو او زه یې ونیولم.
سر مې واړاوه او د رونالډ مخ ته مې وکتل. کله چې پوه شو چې دوکه شوی دی، ویره یې پر مخ خپره شوه. په وروستۍ شېبه کې لوک زه د هغه له مخې لرې کړې وم.

رونالډ دومره تېز روان و چې د درېدلو وخت یې نه درلود. د مرمۍ په شان د اور لمبو ته ننوت. خو په وروستۍ شېبه کې یې لاس وغځاوه او لوک یې هم له ځان سره هغه اور ته کش کړ. زړه مې له وېرې ودرېد او چیغه مې کړه:
- نـــــه ...

پاتر ته مې لغتې ونیول او کوښښ مې وکړ ځان ترې خلاص کړم، خو هغه په کلک خپل په لاسونو کې نیولې وم. په هدیره کې راکوز شو او زه یې پر ځمکه کېښودم. ورته مې وکتل او چیغه مې کړه: ته باید لاړ شې، لوک وژغورې! باید ورپسې ولاړ شې.

خو داسې ښکارېده چې زما خبرې نه اوري. پر ځای د دې چې ماته وګوري، د کلیسا هغو منارونو خواته یې کتل چې په اور کې سوځېدل. اوښکې مې له سترګو روانې او پر مخ مې راښکته شوې، د هغه د سترګو لورې مې تعقیب کړ او رونالډ مې ولید چې زموږ د سر له پاسه د اور له لمبو راووت. وزرونه یې د نارنجي اور په رڼا کې ځلېدل.
خو د اور له زور څخه یې ځان نه شو ساتلی. په هوا کې وارخطا تاوېده، یوه خوا بلې خوا ته تللو او هڅه یې کوله چې ځان ترې خلاص کړي. له لاندې نه مې د هغه د درد چیغې اورېدې چې غوښتل یې اور مړ کړي.

ښي او چپ لوري ته يې وزرونه وهل، تر دې چې بالاخره ورو ورو له پښو ولوېد او بیا لکه یو سوځېدلی ستوری له اسمانه راولوېد. له یخنۍ مې جان‌پاک نور هم پر ځان کلک تاو کړ. د پاتر لاس مې ونيو ومې خوځاوه، سترګو ته مې وکتل او په زارۍ مې ورته وويل: ته باید لاړ شې او لوک وژغورې، هغه لا هم هلته دی.

پاتر را وکتل او ویې ویل: تا خو ویل هېڅکله نه حیرانه کېږې؟ خو اوس ډېر ښه خپل رول لوبوې.

د هغه له خبرو حیرانه شوم. بیا مې وخوځاوه او چيغه مې کړه: ستا ملګری هلته دی.

پاتر سګرېټه د شونډو تر منځ کېښود، موسکی شو او ویې ویل: ارامه شه وحشي پیشو. هر څه زموږ په لاس کې دي.

ومې پوښتل: زموږ؟ یعنې څوک؟
هغه شاته اشاره وکړه. ما هم سر واړاوه او مورفي مې ولید چې لوک يې پر خپلو لاسونو نیولی و او د کلیسا له دروازې بهر را روان و. په بېړه زما خوا ته راغی، پر ځمکه راکوز شو او لوک يې په احتیاط زما مخې ته پر واورو کېښود. وزرونه يې د کمپلې په شان چاپېره تاو شوي وو. د هغه وزرونه ورو ورو سوځېدل او ترې لوګی پورته کېده. مورفي ته مې وکتل او وپوښتل: ښه به شي؟

هغه خپل ملګري ته وکتل او ویې ویل: نه پوهېږم. کله چې مې ولید چې اور ته ولوېد، سمدستي ورپسې ورغلم، خو تودوخه او لوګی دومره ډېر وو چې لیدل يې ډېر سخت وو.

پر ځمکه کښیناستم. په ډېر احتیاط مې د هغه د وزرونو څنډې پورته کړې او هغه مې ولید. مخ يې د لوګي له امله تور شوی و. د هغه ګڼ ویښتان مې له تندي لرې کړل. ښکل مې کړ او په ورو غږ مې ورته وويل: پاڅه لوک ...
خو هېڅ ځواب يې را نه کړ.

په ژړا شوم او په زارۍ مې وویل: خیر دې لوک پاڅیږه ...ته ما داسې نه شې پرېښودلای. هېر دې دي چې نن شپه مو غوښتل یو ځای واوسو؟ زه په دې یخنۍ کې یوازې یو جان‌پاک پر ځان لرم، ویښتان مې خیرن او ګډوډ دي، پښې مې هم له یخنۍ نه بې‌حسه کېږي. ما کور ته یوسه چې ځان برابر کړم، سمه ده؟ پاڅیږه ..

خو هېڅ ځواب یې رانکړو، سر مې پورته کړ پاتر او مورفي ته مې وکتل.
په زارۍ مې ورته وویل: تاسو ولې همداسې هلته ولاړ یاست؟ یو څه خو وکړئ.

زما د ژړا څخه په ډک غږ د یوې شېبې لپاره مې د پاتر په سترګو کې اندېښنه ولیده. مورفي زما اوږه ونیوله او ورو یې وویل: موږ هېڅ نه شو کولای.

خپل لاس مې ترې راکش کړ، نه مې غوښتل چې ما ته ډاډ راکړي، ما لوک غوښت نه د هغوی تسلیت. بیا لوک ته ورنږدې شوم، غېږ کې مې ونیو. بدن مې د ډېر غم له امله لړزېده.

په تندي مې ښکل کړو او په ژړا مې وویل: زړه به مې درپسې تنګ شي لوک.
ناڅاپه د لوک شونډې وخوځېدې او په کمزوري غږ یې وویل: پوهېږم.
بیا یې پر شونډو کمزورې موسکا راښکاره شوه. د حیرت او خوشحالۍ څخه مې سترګې پراخې شوې او بې اختیاره مې چغه کړل:
- لوک ته ژوندی یې ...

***

لوک دومره سخت ټپي شوی و چې د مرګ تر پولې رسېدلی و. هغه شپه زه او لوک یو ځای پاتې نه شو. مورفي ویل چې یوازې هغه وخت به ښه شي چې هغه د ځمکې ژورو برخو ته یوسي. نو لوک یې پر خپلو لاسونو واخیست او ادارې خوا ته یې یووړ. پاتر هم زه لځان سره یوړم. د لومړي ځل لپاره مې د هغه په چلند کې نه ملنډې ولیدې او نه غرور. کله چې زما د شیانو راټولولو لپاره مسافرخانې ته ولاړو نو پاتر غلی او نږدې خواشینی یو کونج کې ولاړ و.

تر څو چې ما خپل کالي بدلول او خپل شیان مې راټولول پاټر د بوډۍ ښځې بې‌ساه بدن واخیست او په هغه اور کې واچو چې لا هم د سنت ماري کلیسا یې سوځوله. کله چې پاتر بېرته راغی، ما خپل ټول شیان راټول کړي وو، داسې لکه هېڅکله چې دلته اوسېدلې نه وم. پاټر لځان سره کړم او د شپې اسمان خواته پورته شو او په ډېر سرعت د ادارې خواته روان شو. لوک د بندې خانې په پر یوه کوچني کټ پروت و او ویده و.

مورفي یې هم سر ته ناست وو، کوټې ته ننوتلم او ومې پوښتل: څنګه دې؟ ښه دی؟ مورفي مخ راوګرځو او ویې ویل: اوس ښه دی، خو باید ژر یې د ځمکې لاندې یوسو.

تخت ته ورنږدې شوم او څنګ ته یې پر ګونډو کېناستم. د لوک رنګ تښتېدلی و او مخ یې له داسې پړسوبونو ډک و چې ډېر دردناک ښکارېدل. وزرونه یې دواړو خواوو ته غوړولي وو او لاسونه یې پر سینه ایښي وو. پر اوږه مې د چا لاس احساس کړ. سر مې پورته کړ. مورفي و. ویې ویل: تر هغه وخته چې زه او پاټر خپل شیان راټولوو، تا به ورسره یوازې پرېږدو.
حیرانه شوم او ومې پوښتل: ستا مطلب څه دی؟ تاسو بېرته ځئ؟

مورفي- هو، زموږ کار دلته خلاص شو. اوس د تلو وخت دی باید پاپ او کریګ پیدا کړو، که هغوي ژوندی پاتې شي خطرناکه دي. هغوی نور دې ښار ته نه راځې، بل ښار ته به ولاړ شي او بیا به همدا کارونه له سره پیل کړي. موږ هم باید ژر ورپسې لاړ شو او د هغوی مخه ونیسو.

- خو ...
مورفي مې خبره پرې کړه او بیا یې وویل: هېڅ "خو" نشته هاډسون موږ باید ورپسې لاړ شو. پاپ او هغه نور کسان چې ورسره کار کوي، هغوي د انسانانو وینه څښلې نه درملنه کېږي او نه یې څوک قانع کولای شي چې بدل شي. د دې کار د ختمولو یوازینۍ لار دا ده چې .... ګومان کوم پاتې خبره یې ته خپله ښه پوهېږې.

د دروازې خوا ته وګرځېد. هلته ودرېد او ویې ویل: پنځه دقیقې وخت لرې چې ورسره خدای پامانې وکړې.

دا یې وویل او لاړ. پاتړ ته یې هم وویل چې هر هغه ثبوت له منځه یوسي چې ښیي دوی په دې اداره کې وو. بېرته د لوک خوا ته مې مخ وګرځو، ویښتان مې ورته له تندي څخه لرې کړل. سترګې یې لږ وخوځېدې. ورو ورو یې خلاصې کړې او ماته یې وکتل. یوه کمزورې موسکا یې وکړه او زما نوم یې واخیست: هاډسون ..
بیا یې ورو وویل: زه باید بېرته لاړ شم.

- پوهېږم، زه به دلته ستا انتظار کوم، هر کله چې ښه شوی راشه.
یوه شېبه یې د درد له امله سترګې پټې کړې. بیا یې خلاصې کړې او ویې ویل: زه نور بېرته دې ځای ته نه راګرځم. کله چې ښه شوم له مورفي او پاتړ سره ځم چې پاتې کسان پیدا کړو.

ومې پوښتل: چېرته ځئ؟

ناڅاپه یو سخت د افسوس احساس رابانديې راغی. فکر مې وکړ ښایي بیا هېڅکله هغه ونه وینم.
لوک- هر ځای چې هغوی لاړ شي، موږ هم ورپسې ځو، تر هغه چې دا هر څه ختم شي. نه پوهېږم څومره وخت به ونیسي او نه پوهېږم هغوی به موږ کوم ځای ته بوځي. خو ته له موږ سره راشه. ته یوه ډېره ښه پلټونکې افسره یې داسې شیان وینې چې موږ یې نه شو لیدلای. ته زموږ سره ډېره مرسته کولای شې.

ټول وجود مې هغه کوله چې د هغه غوښتنه ومنم. زړه مې غوښتل ورته ووایم: هو، سمه ده درځم درسره ..

نه د دې لپاره چې پاپ او کریګ ونیسم، بلکې یوازې د دې لپاره چې له لوک سره پاتې شم. ورته ورنږدې شوم، لاس مې ونیو او ورو مې وویل: نه ...
لوک لږ حیران شو او زما ځواب یې له ځان سره تکرار کړو: نـــه؟

سر مې وخوځاوه او ومې ویل: که څه هم ډېر مې زړه غواړي چې درسره راشم لوک، خو نه شم کولای.

د دې خبرې د کولو پر وخت مې زړه درد کاوه.
لوک ورو وویل: ولې؟
- ما یو چا ته ژمنه ورکړې ده، باید خپله ژمنه پوره کړم.
په ذهن کې مې پلار راغی.
لوک بیا سترګې پټې کړې او په کمزوري غږ یې وپوښتل: چا ته دې ژمنه ورکړې؟
- مهمه نه ده.

خو ذهن کې مې د هنري بلیک هغه ورې ګوتې را په یادې شوې چې هغه ویښتان یې په کلکه خپل په ګوتو کې نیولې وه، ورو مې وویل: زه باید خپله مور پیدا کړم.
لوک- خو کېدای شي هغه مړه شوې وي.

سترګې یې لا هم پټې وې، داسې ښکارېده چې هڅه کوي خپل درد د سترګو په پټو له ما څخه پټ کړي.
- خو زه فکر نه کوم چې هغه دې مړه وي.
لوک- څنګه دومره ډاډه یې؟
په ورو غږ مې وویل: ځکه ما یو څه لیدلي دي.

هماغه وخت مورفي د کوټې په دروازه کې راښکاره شو او ویې ویل: د تلو وخت دی.

مخکې راغی لوک یې په خپلو لاسونو پورته کړ او له کوټې څخه ووت. زه هم ورپسې روانه شوم، د هغه زیرزمینې دروازه خلاصه وه. د دوسیو الماری، روقونه او مېزونه ټول خلاص او تش وو.

- پاتر چېرته دی؟
مورفي مخ راوګرځو او ویې ویل: یو کار یې درلود چې له تلو مخکې یې باید ترسره کړی وای.

لوک یې د خلاصې کوچنې دروازې تر څنګ پر ځمکه کېښود. ماته یې وکتل او ویې ویل: له ځانه ښه ساتنه وکړه پلټونکې هاډسون، له تا سره کار کول زما لپاره ویاړ و.

د هغه له دې خبرې څخه مې بېحد حیرت وکړ، لا هغه مې نه و هضم کړې چې رامخکې شو لاسونه یې راباندې راتاو کړل او کلکه یې غېږ کې ونیولم. ما هم هغه غېږ کې ونیو او ورو مې ورته وویل: تاسو هېڅ یو هم رښتیني پولیس نه وئ کنه؟ زما د غوږ ترڅنګ یې ورو وویل: نه، ستاسو د نړۍ پولیسان نه و، خو خپل په نړۍ کې موږ هم ساتونکي یو ستاسې په شان غواړو چې مجرمان ونیسو او خپل نړۍ خوندي وساتو.

راڅخه جلا شو خپل له شا جېبه یې خپل پایپ راوویست د خولې په کونج کې کېښود، بیا خپل په جېبونو کې د لایټر په لټه کې لاس وواهه او ویې ویل: پاټر چېرته پاتې شو؟ تر اوسه خو باید تللي واې ناوخته شوه.

یو غږ راغی: دومره اندېښنه مه کوه ډلګۍ مشره.
سر مې واړاوه. پاټر مې ولید چې د ادارې له لوري دهلېز ته را روان و. د ویښتانو او اوږو واوره یې وڅنډله او لږ یې ځان وخوځاوه. نه د یخ له امله بلکې واوره یې د خپل وزرونو څخه لرې کړل او وزرونه یې وتړل. مورفي هغه کوچني او تیاری لارې ته ننوت. لاسونه یې بهر راوایستل او پاټر ته یې وویل: لوک راښکته کړه.

پاټر ته مې وکتل. هغه لوک پورته کړ او هغه تیاری لارې ته یې دننه کړ. زړه مې داسې احساس کاوه، لکه په سینه کې چې مات او ټوټه ټوټه شوی وي. لوک سترګې خلاصې کړې. ماته یې وکتل او ویې ویل: مینه درسره لرم.
موسکۍ شوم او ومې ویل: پوهېږم.

لوک ښکته لاړ. پاټر هم هغه تیارې لارې ته ننوت. خو د تلو مخکې ژر مې ورته وویل: نو زه څه؟
پاټر را وکتل او ویې ویل: نو ته څه؟

- زه څنګه له دې ښاره ووځم؟ ټیلیفونونه کار نه کوي، موټر مې په لاره کې بند پاتې دې او ...

لا مې خبره نه وه ختمه کړې چې پاتر مې خبره پرې کړه:
— دا ستا ستونزه ده هاډسون، خپله یې حل کړه.
د دې خبرې د کولو سره سم یې دروازه ځان خوا ته کش کړه او کلکه یې وتړل، بیایې لاس د دروازې له سوري راوایست، قلف یې کړ او کیلي یې هم له ځان سره یووړه.
زه د دروازې پر سر ولاړه وم او لاندې مې کتل. ناڅاپه مې یو زوروړ غږ واورېد. لکه لاندې د غار دېوالونه چې نړېږي او هر ډول نښې له منځه وړي.

د څو شیبو دربدلو وروسته وګرځېدم او د ادارې دفتر خوا ته لاړم. هغه چوکۍ مې سمې کړې چې لوېدلې وې او د الماري هغه روقونه چې خلاص پاتې وه ومې تړل. هیڅ نه پوهېدم چې باید څه وکړم. یوازې دومره پوهېدم چې تر هغه چې هوا بدله نه شي، زه به په رګډ کوو کې بنده یم. د کړکۍ خوا ته لاړم او د لمر ختو ته مې وکتل. کله چې مې ولیدل بالاخره واوره دربدلې ده زړه مې لږ ډاډه شو. بیا مې یو څه ولیدل چې لا یې هم هیله راباندې زیاته کړه.

په بیړه له ادارې ووتم او خپل د زوړ خراب موټر خوا ته ورغلم چې اوس د سړک د غارې تر څنګ ولاړ وو، په حیرانتیا مې له ځان سره وویل: دا چا دلته راوړی؟

سترګې مې پر هغه تاو شوې کاغذ ولګېدې چې د موټر د ښیښې پاکوونکي لاندې ایښودل شوی و. کاغذ مې واخیست، خلاص مې کړ او دننه لیکل شوې خبرې مې ولوستې: ته رښتیا هم یو نوي موټر ته اړتیا لرې، دا موټر یو زوړ کباړ دی. "پاټر"
په خندا شوم کاغذ مې تاو کړ بیرته د ادارې خوا ته روانه شوم او دروازه مې تر شا وتړله ...

#د_وینه_ښښونکې_ناول_د_لومړي_پړاو_پای.

#لیکوال_ټیم_اوروک.

#ژباړن_خواجه_زي_لیکوال

دا خبرې ضرور ولولئ

دا زما ۲۲ ناول و چې ما نشر کړو نهه ناول مې پخپل لیکلي او پاتي نور مې ژباړلي، ما دوه نیم کال زحمت وویستلو او دومره ناولونه مې منظم کړل او وړیا توګه مې نشر کړل، ځکه مالي لګښت مې نه درلود او نه هم کوم چا پیژندلم نو آنلاین نشر مې وکړو، کله چې د دوه نیم کالو وروسته یو څو کسانو وپیژندلم نو هغوې دومره نامرده او بیغرت کسان وختل چې حتا حاضر نشول زما یو ناول چاپ کړي یا چاپ کړی کتاب یې واخلي.

نو هېڅکله د پښتو ادبیاتو لپاره لیکنه مه کوئ دا زما نصیحت دی، په دی لاره کې نه حمایت شته، نه تشویق او نه هم ملاتړ. البته یو شي پکې بیحد ډېر شته، سپکاوی او بې احترامي کله چې ناول وړیا توګه نشرول پیل کړې نو خلک ګومان کوي چې دا د هغوی حق پر تا باندی دي. دیته نه ګوری چې تا زحمت ویستلي او د تشویق حق لری نــه هغوی واي دا زموږ حق پر ده دي او دا زموږ نوکر دي، نو ځکه د پښتو لوستونکو څخه مې بد راځي هو بد مې راځي ځکه وفاداری نه لری او یوازی مفت خوران دی.

یوازی غواړي ته ولیکي وژباړی او دویته ورکړې بس، او کله چې ورڅخه د همکاری غوښتنه وکړې بیا واي موږ خو ډېر بدبخت او غریب خلک یوو هېڅ مرګ نه لرو، څه وکړو مرسته نشو کولای، دا ټول د هغوي دروغ دي، هغوي اصل کې ستا زحمت او کار ته هېڅ ارزښت نه لری ستا کار ورته ناچیز ښکاري. دا ماته په دلیل ثابت شوی، سمه ده وبه منو چې مالي توان نه لری، خو همدا کسان زر ډول اجتماعي صفحات لکه فسبوک، وټساپ، ټیک ټاک او انسټاګرام لری په دي دوه نیم کالو کې یو پوسټ لا ونکړو چې ووايي د دي لیکوال لیکنې ما لوستلي او دا حق لری چې لیکنې چاپ شي ملګرو همکاری وکړی، حتا دومره پوسټ لا د دروغو د یو لیکوال لپاره نه کوی، حتا

زما شخصي چینل لا خلکو ته نه معرفي کوي نو ښکاره خبره ده چې بنې اسرائیل اولاده ده.

زه هره ورځ دا وینم او بیا هم باور کوی لیکم او ژباړم یعنې هیڅ نه رارسیږی پرته له اعصاب خرابیدو، حتا یو خپروندوي ټولني لا زما ناول چاپ نکړو، هغوي ویل پیسي راکړه، یعنې زموږ ادب پال او هنر پال هم یوازی پیسي غواړي، نو څه ګیله د مفت خور لوستونکو څخه؟ کله چې با سواده طبقه مو پول پرسته دې؟

زه دې مینځ کې یوازی ځان ولاړ یم او لیکم، څومره ریشخند پروسه ده کنه؟ لومړۍ کې هم هیڅ اخر کې هم هیڅ، او د دې ټولو مسئول همدا تاسو مفت خوران یاست چې حتا حاضر نه یاست د یو کتاب د اخیستلو او چاپ کولو لپاره یوه افغانۍ مصرف کړې له خدایه غواړم تاترینه جهنم دې ستاسو ټولو ځاې کړې، هو دقیقا همدغه ستاسو لپاره غواړم نور هیڅ هم نه ... ځکه دومره چې ما زحمت وویستلو د هغه بدل کې تاسو حتا یو غږ لا زما لپاره پورته نکړو یوازی کښیناستلې او ناول غواړم ناول غواړم چغي مو ووهلې، واخلې دا هم ناول ښه یې ولولئ خو پوه شې چې خپل یو توری د ناول مې لا هیڅا ته نه دې حلال کړې.

په احترام مفت خور او نمک حرام لوستونکو.
خواجه زي لیکوال.